وَأَنَّ هَٰذَا صِرَاطِي مُسْتَقِيمًا فَاتَّبِعُوهُ وَلَا تَتَّبِعُوا السُّبُلَ فَتَفَرَّقَ بِكُمْ عَن سَبِيلِهِ
(الانعام، ۱۵۳)

# شرح

پښتو

# العقيدة الطحاوية

للامام الجليل أبي جعفر الطحاوي الحنفي رحمة الله عليه
(المتوفى سنة ۳۲۱)


**تألیف**

خادم الأحاديث النبوية مولوي محمد محمدي ابن العلامة مولانا نور محمد غفرلهما الله تعالى

في المدرسة النورية دار العلوم علامه ابو الفيض - كندهار

باسمه تعالی

د کتاب ټول حقوق په مؤلف اړه لري!

**د کتاب پېژندنه**

❖ د کتاب نوم : **شرح العقيدة الطحاوية**

للامام الجليل أبي جعفر الطحاوي الحنفي رحمه الله

❖ تأليف : خادم الأحاديث النبوية مولوي محمد محمدي

❖ خپرندوی : **صداقت خپرندويه ټولنه/ کندهار**

❖ کمپوز/ ډيزاين : صداقت د کتاب چاپولو اداره

❖ چاپ کال : ۱۳۹۵ ش ۲۰۱٦ع.

❖ چاپ شمېر : ۱۰۰۰ ټوکه

**د تر لاسه کولو ځای:**

**صداقت خپرندويه ټولنه**

کندهار - افغانستان

**تليفون: ۰۷۰۰۳۰۵۴۰۷**

**ايميل: sadaqat.books@gmail.com**

بسم الله الرحمن الرحیم

# فهرس


۱. د امام طحاوي رحمه الله لنډه پېژندنه ........................ ۱۴
۲. د العقيدة الطحاوية اړوند معلومات ........................ ۱۶
۳. د علم العقائد اړوند لنډ معلومات ........................ ۱۸
۴. زموږ د شرحې ترتيب او طريقه ........................ ۲۰
۵. د شرحې مقدمه ........................ ۲۲
۶. د متن مقدمه ........................ ۲۴
۷. د توحيد عقيده او د شرک نفي ........................ ۲۹
۸. د توحيد دلائل ........................ ۳۱
۹. د توحيد اقسام ........................ ۳۲
۱۰. د توحيد د مبارکې کلمې څخه غلطه استفاده ........................ ۳۳
۱۱. د شرک مفهوم او قسمونه يې ........................ ۳۵
۱۲. د شرک لفظ بې ځايه استعمالول ........................ ۳۹
۱۳. الله تعالی لره مثل نشته ........................ ۴۱
۱۴. الله تعالی د عجز څخه پاک دی ........................ ۴۷
۱۵. د توحيد کلمه ........................ ۴۸
۱۶. الله تعالی ازلي او ابدي دی ........................ ۵۰
۱۷. د الله تعالی ذات نه فاني کيږي ........................ ۵۱
۱۸. اراده د الله تعالی ازلي صفت دی ........................ ۵۲
۱۹. اراده کونيه او اراده شرعيه ........................ ۵۴
۲۰. د ارادې کونيې او ارادې شرعيې څه فرق دی ........................ ۵۵

۲۱. د تقدیر مسئله........................................ ۵٦
۲۲. د تقدیر مسئله د معتزله ؤ په آند ........................................ ۵۹
۲۳. د معتزله ؤ له خوا څو شبهات او د هغو جوابونه ........................................ ٦۰
۲۴. د الله تعالی ذات ته د چا عقل نه سي رسېدلای........................................ ٦۵
۲۵. الله تعالی د مخلوق سره هیڅ مشابهت نه لري ........................................ ٦٦
۲٦. الله تعالی حَی او قَیُّوم دی ........................................ ٦۷
۲۷. الله تعالی د حاجت او مشقت څخه پاک دی ........................................ ٦۹
۲۸. الله تعالی له بېري څخه پاک دی ........................................ ۷۰
۲۹. الله تعالی پخپلو کمالیه صفتونو کي ازلي او ابدي دی ........................................ ۷۲
۳۰. ذاتیه او فعلیه صفتونه........................................ ۷۵
۳۱. سوال او جواب ........................................ ۷۵
۳۲. د الله تعالی صفات نه عین ذات د الله جل جلاله دي او نه غیر دي ........ ۷٦
۳۳. الله تعالی ته هغه صفتونه او نمونه ثابت دي چي ........................................ ۷۷
۳۴. د الله تعالی د نومونو په الله جل جلاله باندي د اطلاق ډول ........ ۷۸
۳۵. د الله تعالی لپاره د (خدا) د لفظ استعمالولو حکم ........................................ ۷۹
۳٦. اسماء الحسنٰی ته یو معلوم شمېر نسته ........................................ ۸۰
۳۷. سوال او جواب ........................................ ۸۱
۳۸. الله تعالی تر مخلوق د مخه هم خالق او باریٔ ؤ ........................................ ۸۲
۳۹. الله تعالی په ازل کي په ربوبیت او خالقیت سره متصف ؤ........................................ ۸۳
۴۰. د (محیی الموتی) په شان (خالق) هم د الله تعالی ازلي نوم دی ..... ۸۳
۴۱. الله تعالی پر هر شي قادر او هر شی ده ته محتاج دی ........................................ ۸۴
۴۲. سوال او جواب ........................................ ۸٦
۴۳. علم د الله تعالی صفت دی........................................ ۸۷
۴۴. سوال او جواب ........................................ ۸۸
۴۵. ټولو شیانو ته مقدار ټاکل سوی دی ........................................ ۸۹
۴٦. د تقدیر مرتبې........................................ ۸۹

۴۷. د تقدير اړوند څو ضروري مسئلې ........................ ۹۰
۴۸. د مخلوق لپاره اجل معلوم سوی دی ........................ ۹۳
۴۹. مقتول پخپل اجل سره مړ دی ........................ ۹۴
۵۰. مقتول د معتزلهؤ په نظر کي ........................ ۹۴
۵۱. اعتراض او جواب ........................ ۹۷
۵۲. الله تعالی تر خلق د مخه هم پر ټولو مخلوقاتو عالمؤ ........................ ۹۸
۵۳. پر شرع ایمان واجب دی ........................ ۹۸
۵۴. ټوله شیان د الله تعالی په اراده او تقدیر سره دي ........................ ۱۰۰
۵۵. هدایت او ضلالت هم د الله تعالی په اراده دي ........................ ۱۰۰
۵٦. هیڅ شی د الله تعالی له عدل څخه وتلی نه دی ........................ ۱۰۲
۵۷. الله تعالی لره هیڅ شریک نسته ........................ ۱۰۳
۵۸. یوازي د الله تعالی قضاء او حکم چلیږي ........................ ۱۰۴
۵۹. موږ پر ټولو ذکر سوو عقائدو ایمان لرو ........................ ۱۰۵
٦۰. د نبي ﷺ پر رسالت ایمان فرض دی ........................ ۱۰۵
٦۱. د نبي او رسول فرق ........................ ۱۰۸
٦۲. نبي ﷺ خاتم الانبیاء او سید المرسلین دی ........................ ۱۱۱
٦۳. سوال او جواب ........................ ۱۱۴
٦۴. سوال او جواب ........................ ۱۱٦
٦۵. تر محمد ﷺ وروسته د نبوت دعوه ګمراهي ده ........................ ۱۱٦
٦٦. نبي ﷺ ټولو پیریانو او ټولو انسانانو ته مبعوث دی ........................ ۱۱۸
٦۷. آیا له پیریانو څخه رسولان سته؟ ........................ ۱۲۰
٦۸. قران کریم د الله تعالی کلام دی ........................ ۱۲۲
٦۹. د قران کریم اړوند د امام رباني رحمه الله وینا ........................ ۱۲۵
۷۰. د قران کریم اړوند د امام المسلمین ابوحنیفه رحمه الله وینا ........................ ۱۲٦
۷۱. الله تعالی ته د مخلوق یو صفت ثابتول هم کفر دی ........................ ۱۲۸
۷۲. په آخرت کي د جنتیانو لپاره د الله تعالی دیدار حق دی ........................ ۱۲۹

۷۳. د الله تعالی د دیدار مسئله د معتزله ډلي په آند ..................... ۱۳۳
۷۴. کوم شی چي له پېژندلو څخه يې منعه راغلې وي د هغه پلټنه ........ ۱۳۵
۷۵. الله تعالی شیطان ته د انسان په زړه کي د وسوسې ..................... ۱۳۷
۷۶. د شیطاني وسوسې علاج ................................................ ۱۳۷
۷۷. د وسوسې معنا او مرتبې ................................................ ۱۳۹
۷۸. د معتزله ډلي په شان د الله تعالی د رؤیت (لیدلو) تاویل نه کوو .... ۱۴۰
۷۹. الله تعالی په تنزیهي او جلالي صفتونو سره موصوف دی ........... ۱۴۲
۸۰. اسراء او معراج حق دی.................................................. ۱۴۴
۸۱. آیا نبي ﷺ د معراج په شپه الله تعالی لیدلی دی که نه .............. ۱۴۸
۸۲. حوض کوثر حق دی ایمان ورباندي لازم دی ............................ ۱۴۹
۸۳. د ګنهکاره مؤمنانو لپاره د نبي ﷺ شفاعت حق دی .................... ۱۵۲
۸۴. د نبي ﷺ د شفاعت ډولونه ............................................. ۱۵۵
۸۵. سوال او جواب ............................................................ ۱۵۷
۸۶. میثاق (د عالم الذر عهد) حق دی ....................................... ۱۵۹
۸۷. د ذکر سوي عهد د اخیستلو ځای ....................................... ۱۶۱
۸۸. سوال او جواب ............................................................ ۱۶۱
۸۹. د الله تعالی علم چي د ده ازلي صفت دی پر هر شي محیط دی ....... ۱۶۲
۹۰. د بنده په حق کي خاتمه اعتبار لري ..................................... ۱۶۴
۹۱. د قدر مسئله د الله تعالی له اسرارو څخه یو سِر دی .................. ۱۶۸
۹۲. د شرعي احکامو اصول دي که فروع منل يې فرض دي ................ ۱۷۰
۹۳. آیا علم غیب له پیغمبرانو څخه ماسیوا بل چاته نه ورکول کېږي؟ .... ۱۷۳
۹۴. پر لوح محفوظ او قلم باندي ایمان فرض دی ............................ ۱۷۴
۹۵. د تقدیر پر مسئله ایمان په اصل کي د الله تعالی پر توحید .......... ۱۷۷
۹۶. پر عرش او کرسي باندي ایمان فرض دی................................ ۱۸۱
۹۷. الله تعالی پر عرش استواء لري خو عرش ته محتاج نه دی ........... ۱۸۳
۹۸. د الله تعالی علم پر هر شي محیط او الله تعالی تر هر شي لوړ دی .... ۱۸۴

۹۹. محبت او کلام د الله تعالی له صفتونو څخه دي........................ ۱۸٦
۱۰۰. په ملائکو، انبیاؤ او نازل سوو کتابونو باندي ایمان فرض دی...... ۱۸۸
۱۰۱. د ملائکو اړوند څه معلومات ........................ ۱۹۰
۱۰۲. د ځینو ملائکو نومونه په قران کریم او احادیثو کي راغلي دي...... ۱۹۲
۱۰۳. په ملائکو کي الله تعالی ته نژدې ملائکي ........................ ۱۹۳
۱۰۴. سوال او جواب ........................ ۱۹۳
۱۰۵. سوال او جواب ........................ ۱۹۵
۱۰٦. د انبیاؤ علیهم السلام اړوند څه معلومات ........................ ۱۹۷
۱۰۷. د انبیاؤ او رسولانو علیهم السلام شمېر........................ ۱۹۸
۱۰۸. انبیاء علیهم السلام له هر قسم ګناه څخه پاک دي ........................ ۱۹۹
۱۰۹. سوال او جواب ........................ ۲۰۰
۱۱۰. د الاشباه و النظائر یوه عبارت ته کتنه........................ ۲۰۲
۱۱۱. نبوت او رسالت کسبي شی نه دی ........................ ۲۰۳
۱۱۲. آیا خضر علیه السلام نبي ؤ که ولي؟........................ ۲۰۴
۱۱۳. آیا خضر علیه السلام ژوندی دی که وفات سوی دی........................ ۲۰۵
۱۱۴. انبیاء علیهم السلام پخپلو قبرنو کي ژوندي دي........................ ۲۰٦
۱۱۵. د آسماني کتابونو په اړوند څه معلومات ........................ ۲۰۹
۱۱٦. پر آسماني کتابونو باندي د ایمان څرنګوالی ........................ ۲۱۰
۱۱۷. له قرانکریم څخه پرته بل هیڅ آسماني کتاب ........................ ۲۱۳
۱۱۸. موږ ټوله اهل القبله مسلمانان بولو ........................ ۲۱۴
۱۱۹. د الله تعالی په ذات کي غور او فکر کول جواز نه لري ........................ ۲۱٦
۱۲۰. په قران کریم کي مجادله (اختلاف کول) جواز نه لري........................ ۲۱۸
۱۲۱. مسلمان یوازي په ګناه کولو سره نه کافر کېږي ........................ ۲۲۱
۱۲۲. ګنهکاره مسلمان د معتزله ډلي په آند ........................ ۲۲۳
۱۲۳. ګنهکاره مؤمن د خوارجو له نظره........................ ۲۲۵
۱۲۴. ګنهکاره کس ته ګناهونه لوی ضرر لري........................ ۲۲۷

۱۲۵. آیا احناف مرجئه دي ........................ ۲۲۹
۱۲۶. د یو معلوم شخص په باره کي موږ له خپله ځانه ........ ۲۳۲
۱۲۷. ایمان د خوف او رجا په منځ کي........................ ۲۳۵
۱۲۸. مسلمان په کوم شي سره کافر کېږي.......................... ۲۳۷
۱۲۹. سوال او جواب ........................ ۲۳۷
۱۳۰. د ایمان حقیقت څه شی دی ........................ ۲۳۸
۱۳۱. اعمال د ایمان په حقیقت کي داخل نه دي ........................ ۲۴۰
۱۳۲. ایمان د نورو فقهاؤ له نظره........................ ۲۴۳
۱۳۳. د دغو فقهاؤ دلائل ........................ ۲۴۴
۱۳۴. د احنافو لخوا جوابونه........................ ۲۴۵
۱۳۵. آیا په ایمان کي ذکر سوی اختلاف حقیقي دی که لفظي ............ ۲۴۶
۱۳۶. آیا په ایمان کي د دلائلو پېژندل ضروري دي که نه ............ ۲۴۸
۱۳۷. آیا د اسلام او ایمان په منځ کي فرق سته که نه ............ ۲۴۹
۱۳۸. ټول هغه څه چي له نبيﷺ څخه په ثبوت رسېدلي دي ایمان ......... ۲۵۰
۱۳۹. په اصل ایمان کي زیادت او نقصان نسته ........................ ۲۵۲
۱۴۰. د نورو فقهاؤ په آند بیا ایمان بالا کېږي او کمېږي ........................ ۲۵۴
۱۴۱. د احنافو لخوا جواب ........................ ۲۵۴
۱۴۲. دا اختلاف هم د اکثرو علماؤ په نظر لفظي دی........................ ۲۵۶
۱۴۳. آیا مؤمن داسي ویلای سي (انا مؤمن ان شاء الله) که نه؟ .......... ۲۵۸
۱۴۴. د کفر اقسام ........................ ۲۵۹
۱۴۵. د الله تعالٰی ولي څوک دی ........................ ۲۶۰
۱۴۶. د ایمان شپږ ارکان........................ ۲۶۲
۱۴۷. موږ پر ټولو رسولانو ایمان لرو ........................ ۲۶۴
۱۴۸. ګنهکاره کس که په ایمان باندي مړ سي په دوزخ کي........................ ۲۶۶
۱۴۹. لوی او واړه ګناهونه ........................ ۲۶۹
۱۵۰. د لویو ګناهونو د مغفرت اسباب ........................ ۲۷۱

۱۵۱. د وړو ګناهونو د مغفرت اسباب ........................ ۲۷۲
۱۵۲. له ټولو ګناهونو څخه توبه واجب ده........................ ۲۷۴
۱۵۳. د فاسق د امامت اړوند د اهل سنت والجماعت عقیده ........................ ۲۷۶
۱۵۴. موږ يوازې د ګمان له مخې پر يو کس د کفر فیصله نه کوو ........................ ۲۷۹
۱۵۵. د مسلمانانو په منځ کې قتل او قتال حرام دی ........................ ۲۸۲
۱۵۶. د مشروع امام اطاعت واجب دی ........................ ۲۸۳
۱۵۷. ذکر سوې عقیده مطلقه نه ده ........................ ۲۸۷
۱۵۸. له اهل السنة والجماعة څخه بیله لار اختیارول ګمراهي ده ........................ ۲۸۹
۱۵۹. د عادلانو خلګو سره محبت او د ظالمانو سره بغض لرو ........................ ۲۹۳
۱٦۰. هر هغه شی چې زموږ تر ادراک لوړ وي د هغه ........................ ۲۹۷
۱٦۱. اهل السنة والجماعة پر موزو باندې مسحه روا بولي........................ ۲۹۸
۱٦۲. سوال او جواب ........................ ۳۰۲
۱٦۳. حج او جهاد د فاجر او ظالم امام په ملګري کې هم مشروع دی........................ ۳۰۴
۱٦۴. په لیکونکو ملائکو باندې ایمان لرل فرض دی ........................ ۳۰۸
۱٦۵. پر ملک الموت باندې ایمان لرو........................ ۳۱۰
۱٦٦. د روح اړوند عقیده ........................ ۳۱۲
۱٦۷. د قبر عذاب او په قبر کې سوال حق دی........................ ۳۱۴
۱٦۸. ځینو ګنهکاره مؤمنانو ته هم عذاب القبر ثابت دی ........................ ۳۱۸
۱٦۹. نېکانو خلګو ته په قبر کې راحت او نعمتونه سته ........................ ۳۱۹
۱۷۰. په عالم برزخ کې ثواب او عذاب روح او بدن دواړو ........................ ۳۲۰
۱۷۱. د بدن سره د روح تعلقات........................ ۳۲۱
۱۷۲. تر مرګ وروسته بیا د قیامت تر ورځې پورې ارواح چیرې وي ........................ ۳۲۲
۱۷۳. د قبر کښېکښل هر چا ته سته ........................ ۳۲۳
۱۷۴. د قبر ځینې احوال ځینو هغو کسانو ته کشف کېدای سي........................ ۳۲۴
۱۷۵. آیا مړی د ژوندو خبرې اورې؟........................ ۳۲۵
۱۷٦. سوال او جواب ........................ ۳۲٦

۱۷۷. د زيارة القبور مسئله ........ ۳۲۹
۱۷۸. د نېکانو خلګو د قبرونو زيارت ته سفر جائز بلکې مستحب دی ..... ۳۳۱
۱۷۹. آيا ښځو ته د قبرونو زيارت جائز دی که نه؟ ........ ۳۳۷
۱۸۰. د قبرونو د زيارت کولو طريقه ........ ۳۳۹
۱۸۱. د زيارت کولو لپاره غوره ورځ ........ ۳۴۱
۱۸۲. د توسل مسئله ........ ۳۴۲
۱۸۳. اول قسم توسل ........ ۳۴۲
۱۸۴. دوهم قسم توسل ........ ۳۴۳
۱۸۵. دريم قسم توسل ........ ۳۴۵
۱۸۶. پر توسل باندې د اسلامي امت تعامل ........ ۳۵۱
۱۸۷. په نيکو اشخاصو سره توسل د ديوبندي علماؤ له نظره ........ ۳۵۳
۱۸۸. سوال او جواب ........ ۳۵۵
۱۸۹. سوال او جواب ........ ۳۵۷
۱۹۰. د تبرک مسئله ........ ۳۶۱
۱۹۱. د نبي ﷺ په مبارکو وربښتانو سره تبرک ........ ۳۶۱
۱۹۲. د نبي ﷺ په مبارکه چپنه او نورو جامو سره تبرک ........ ۳۶۴
۱۹۳. د نبي ﷺ په عَرَق (خوله) سره تبرک ........ ۳۶۶
۱۹۴. د نبي ﷺ په ګڼ شمېر آثارو سره تبرک ........ ۳۶۷
۱۹۵. د نبي ﷺ د اوداسه څخه په پاته سوو اوبو سره تبرک ........ ۳۶۹
۱۹۶. د نبي ﷺ په مبارکو لاسونو سره تبرک ........ ۳۷۰
۱۹۷. د نبي ﷺ په مبارکو نارو سره تبرک ........ ۳۷۱
۱۹۸. د نبي ﷺ د مبارکې پزې په اوبو سره تبرک ........ ۳۷۳
۱۹۹. د نبي ﷺ د حضور او لمانځه په ځايونو سره تبرک ........ ۳۷۳
۲۰۰. په نېکانو خلګو سره تبرک ........ ۳۷۶
۲۰۱. له يوه وطن څخه بل وطن ته د تبرکاتو انتقال جائز دی ........ ۳۷۶
۲۰۲. کوم کسان چې له تبرک څخه انکار کوي د هغوی دليل ........ ۳۷۸

۲۰۳. پر بعث، جزاء او د قیامت په نورو احوالو باندي ایمان لرو ......... ۳۸۳
۲۰۴. د قیامت په ورځ تله څنګه ده........................ ۳۸۷
۲۰۵. د قیامت په ورځ څه شی تلل کېږي ..................... ۳۸۷
۲۰٦. د کافرانو اعمال هم تلل کېږي ........................ ۳۹۰
۲۰۷. سوال او جواب ........................................ ۳۹۰
۲۰۸. د اعمالو په وزن کي څه حکمت دی ..................... ۳۹۱
۲۰۹. جنت او دوزخ همدا اوس موجود او د همېشه لپاره به باقي وي ...... ۳۹۲
۲۱۰. ټول شیان د الله تعالي په تقدیر سره دي .................. ۳۹۸
۲۱۱. د بنده قدرت په دوه ډوله دی .......................... ۳۹۸
۲۱۲. د بندګانو د افعالو خالق الله تعالی دی .................. ۴۰۱
۲۱۳. الله تعالی هیڅوک د هغه تر طاقت بالا نه دی مکلف کړی ......... ۴۰۱
۲۱۴. په عالم کي چي هر شی جاري دی هغه د الله تعالی په اراده ......... ۴۰۳
۲۱۵. د ژوندیو کسانو په عمل سره مړو ته نفعه رسېږي ................ ۴۰۵
۲۱٦. سوال او جواب ........................................ ۴۰۷
۲۱۷. الله تعالی د بندګانو دعاوي قبلوي ....................... ۴۰۸
۲۱۸. سوال او جواب ........................................ ۴۰۹
۲۱۹. د دعاء د قبلېدو موانع .................................. ۴۱۰
۲۲۰. په دعاء کي لاسونه پورته کول ........................... ۴۱۳
۲۲۱. په اجتماعي ډول سره دعاء کول........................... ۴۱۳
۲۲۲. آیا دا ویل جائز دي چي د کافر دعاء قبلېږي ................. ۴۱۵
۲۲۳. الله تعالی د هر شي مالک دی ........................... ۴۱٦
۲۲۴. غضب او رضا د الله تعالی له صفتونو څخه دي .................. ۴۱۷
۲۲۵. د صحابه کرامو رضي الله عنهم په شان کي د اهل السنة والجماعة طریقه......... ۴۱۸
۲۲٦. تر نبي ﷺ وروسته خلفاء راشدین ......................... ۴۲۳
۲۲۷. لومړی خلیفه حضرت ابوبکر رضي الله عنه ..................... ۴۲۴
۲۲۸. دوهم خلیفه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه ..................... ۴۲۷

۲۲۹. دریم خلیفه حضرت عثمان رضي الله عنه ........................ ۴۲۸
۲۳۰. څلرم خلیفه حضرت علي رضي الله عنه ........................ ۴۲۹
۲۳۱. د نبوت خلافت دېرش کاله ؤ ........................ ۴۳۰
۲۳۲. هغه لس کسان چي د جنت زېرې ورباندي سوی دی ........................ ۴۳۱
۲۳۳. له نفاق څخه د پاکوالي علامه ........................ ۴۳۳
۲۳۴. د نبي ﷺ مبارکي بیبیاني ........................ ۴۳۵
۲۳۵. د نبي ﷺ مبارک اولادونه ........................ ۴۳۷
۲۳۶. د امت د علماؤ احترام واجب دی ........................ ۴۳۸
۲۳۷. هیڅ یو ولي د نبي ﷺ مرتبې ته نه سي رسېدای ........................ ۴۱۴
۲۳۸. د اولیاء کرامو کرامتونه ........................ ۴۴۴
۲۳۹. د قیامت پر علامو باندي ایمان فرض دی ........................ ۴۴۸
۲۴۰. د کاهن او عراف خبري د منلو نه دي ........................ ۴۵۳
۲۴۱. موږ د سلفو طرېقه حق بولو ........................ ۴۵۷
۲۴۲. د الله تعالی دین په آسمان او ځمکه کي یو دی ........................ ۴۵۸
۲۴۳. د اسلام دین یوه میانه لاره ده ........................ ۴۶۰
۲۴۴. ددې کتاب ټوله عقائد زموږ دین او زموږ عقیده ده ........................ ۴۶۲
۲۴۵. په آخر کي پر ایمان باندي د ثابت پاته کېدو دعاء ........................ ۴۶۳
۲۴۶. د ګمراه ډلو اړوند معلومات ........................ ۴۶۴
۲۴۷. د بدعت مسئله ........................ ۴۶۶
۲۴۸. په بدعت کي حسنه (ښه) بدعت سته........................ ۴۷۰
۲۴۹. د بدعت د تقسیم اړوند د څو علماء کرامو اقوال........................ ۴۷۲
۲۵۰. د بدعت اقسام ........................ ۴۸۴
۲۵۱. سوال او جواب ........................ ۴۷۵
۲۵۲. هر هغه فعل چي نبي ﷺ نه وي کړی وهابیان یې بدعت بولي ........ ۴۷۸
۲۵۳. د شرحي مراجع ........................ ۴۸۳

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ○

# د امام طحاوي رحمه الله لنډه پېژندنه

**د امام طحاوي رحمه الله نوم او نسب:** - أحمد بن محمد بن سلامة بن سلمة بن عبد الملک الأزدي المصري الطحاوي، د ده کنيه نوم أبو جعفر دی/ دی په سنه (۲۳۹) په "طحا" نومي کلي کي چي په "مصر" کي موقعيت لري پيدا سوی دی او په سنه (۳۲۱) کي وفات سوی دی او په "قرافه" کي خاورو ته سپارل سوی دی.

امام طحاوي رحمه الله يو جليل القدر او په اطرافو کي مشهور امام دی. امام طحاوي رحمه الله په اول وخت کي شافعي مذهبه ؤ خو وروسته حنفي مذهبه سو سبب يې دا ؤ چي ده پر خپل ماما فقيه مزني شافعي رحمه الله باندي درسونه ويل او د امام ابو حنيفه رحمه الله کتابونه يې ډېر مطالعه کول يوه ورځ فقيه مزني رحمه الله داسي ورته و ويل: (وَاللهِ لَا يَجِيءُ مِنْكَ شَيْءٌ) يعني- زما په الله جل جلاله قسم دی چي ستا څخه به شی هم جوړ نه سي. د دغي خبري په اورېدلو سره امام طحاوي رحمه الله په غضب سو د خپل ماما د مجلس څخه ولاړی او د امام ابو حنيفه رحمه الله پر مذهب يې فقاهت حاصل کړ ترڅو چي امام سو، وروسته چي به يې کله درس کاوه يا به يې د يو مشکل شي جواب ورکاوه داسي به يې ويل (رَحِمَ اللهُ خَالِيْ لَوْكَانَ حَيًّا لَكَفَّرَ عَنْ يَمِيْنِهِ). يعني- الله جل جلاله دي زما پر ماما باندي رحم وکړي که چيري دی ژوندی وای ضرور به يې د خپل قسم کفاره

ورکړې وای.

پر امام طحاوي رحمه الله باندي ډېرو علماؤ ثناء ويلې ده خو دلته د مثال په ډول د څو علماؤ اقوال وګورئ:

۱:- امام ابوسعيد بن يونس رحمه الله ويلي دي: (كَانَ الطَّحَاوِيُّ ثِقَةً ثَبَتًا فَقِيهًا عَاقِلًا لَمْ يُخَلِّفْ مِثْلَهُ). يعني- امام طحاوي ثقه اعتمادي فقيه او عاقل شخص ؤ د خپل ځان په مثال يې څوک خلف نه دی پرې ايښی.

۲:- سمعاني رحمه الله هم د امام ابوسعيد رحمه الله په شان عبارت ويلی دی.

۳:- ابن عبدالبر رحمه الله ويلي دي: (كَانَ مِنْ أَعْلَمِ النَّاسِ بِسِيَرِ الْقَوْمِ وَأَخْبَارِهِمْ لِأَنَّهُ كَانَ كُوْفِيَّ الْمَذْهَبِ وَكَانَ عَالِمًا بِجَمِيْعِ مَذَاهِبِ الْفُقَهَاءِ). يعني- په خلکو کي امام طحاوي رحمه الله د امام ابوحنيفه رحمه الله او د ده د اصحابو په سيرتونو او اخبارو ډېر ښه خبر ؤ ځکه چي دی حنفي مذهبه ؤ او دی د ټولو فقهاؤ په مذاهبو عالم ؤ.

۴:- امام ذهبي رحمه الله ويلي دي: (الْإِمَامُ الْعَلَّامَةُ الْحَافِظُ الْكَبِيْرُ مُحَدِّثُ الدِّيَارِ الْمِصْرِيَّةِ وَفَقِيْهُهَا وَقَالَ مَنْ نَظَرَ فِيْ تَوَالِيْفِ هٰذَا الْإِمَامِ عَلِمَ مَحَلَّهُ مِنَ الْعِلْمِ وَسَعَةَ مَعَارِفِهِ). يعني- امام طحاوي رحمه الله امام علامه لوی حافظ او د مصري وطنونو محدث او فقيه دي. امام ذهبي رحمه الله داسي هم ويلي دي. کوم کس چي د دغه امام په تأليفاتو کي نظر وکړي نو به د ده علمي رتبه او د ده د علومو فراخي ورته معلومه سي.

۵:- حافظ ابن کثير رحمه الله ويلي دي: (الْفَقِيْهُ الْحَنَفِيُّ صَاحِبُ الْمُصَنَّفَاتِ الْمُفِيْدَةِ وَالْفَوَائِدِ الْعَزِيْزَةِ وَهُوَ أَحَدُ الثِّقَاتِ الْأَثْبَاتِ وَالْحُفَّاظِ الْجَهَابِذَةِ). يعني- امام

طحاوي رحمه الله فقيه حنفي او د ګڼورو تصنيفاتو خاوند دی، دی د معتمدو او باوري کسانو څخه يو کس دی او د هغو حافظانو څخه دی چي احاديث سره بېلولای سي[1].

## د (العقيدة الطحاوية) اړوند معلومات

(العقيدة الطحاوية) په عقائدو کي د امام طحاوي رحمه الله مشهور تأليف دی په دغه تأليف کي ذکر سوي عقائد امام طحاوي رحمه الله د امام ابوحنيفه رحمه الله او امام ابويوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله څخه را نقل کړي دي لکه څنګه چي يې د (العقيدة الطحاوية) په شروع کي يادونه سوې ده دا د ټوله اهل السنة والجماعة عقائد دي دا هغه عقائد دي چي صحابه کرام او د دوی تابعين وربانديي تېر سوي دي همدغه وجه ده چي دغه کتاب ټوله امت قبول کړی دی. په (شرح مختصر الطحاوي) اول جلد (۴۱) مخ کي دا سي راغلي دي:

(وقد حظى هذا الكتاب بالقبول والاستحسان بين أهل السنة والجماعة على اختلاف مذاهبهم وفى هذا يقول الإمام السبكي رحمه الله – وهذه المذاهب الأربعة ولله الحمد فى العقائدو احدة إلامن لحق منها بأهل الاعتزال والتجسيم وإلا فجمهور ها على الحق

[1] د امام طحاوي رحمه الله دغه پېژندنه د لاندي کتابونو څخه اخيستل سوې ده:
الارشاد فى معرفة علماء الحديث، ١/ ٤٣٢، وجامع بيان العلم ٢/ ٧٨، والأنساب ٤/ ٧٣ و ٩/ ٥٣، و تاريخ دمشق ٥/ ٣٦٩، و وفيات الأعيان ١/ ٧١، وسيرأعلام النبلاء ١٥/ ٢٧، والبداية والنهاية ١٥/ ٧٢، والجواهرالمضية ١/ ٢٧١، ولسان الميزان ١/ ٤١٥. د امام طحاوي رحمه الله په اړوند نور معلومات د (شرح مختصر الطحاوي) اول جلد څخه ترلاسه کړئ.

يقرون عقيدة أبي جعفر الطحاوي التى تلقاها العلماء سلفا وخلفا بالقبول[1].

**يعني**- د اهل سنت و الجماعت که څه هم مذهبونه مختلف دي خو دا کتاب (العقيدة الطحاوية) د دوی په منځ کي په قبول او ښه ګڼلو سره برخه مند سوی دی (يعني ټولو په اتفاق قبول کړی دی) په همدغه موضوع کي امام سبکي رحمه الله وايي: دغه څلور مذهبونه (لله الحمد) په عقائدو کي يو دي مګر هغه څوک چي له دغو څلورو مذاهبو څخه وتلي دي او په معتزله ډلي او مجسمه ډلي پوري تړل سوي دي که نه نو د دغو مذاهبو ډېر خلګ (يعني هغه خلګ چي په دغو مذاهبو کي پاته دي) پر حق دي د امام طحاوي په عقيده (العقيدة الطحاوية) سره اقرار کوي مني يې دا يوه داسي عقيده ده چي ټولو علماؤ مخکنيو او ورستنيو په قبول سره اخيستې ده.

نو (العقيدة الطحاوية) بېله شکه د دې لياقت لري چي هر طالب العلم يې حفظ کړي، په دې وروستيو وختونو کي د مکتبة البشرىٰ له خوا د (العقيدة الطحاوية) متن په ډېر ښه کيفيت سره چاپ سوی دی او پر (۱۰۵) عقيدو باندي يې تقسيم کړی دی مورږ د خپلي شرحي لپاره همدغه نسخه غوره کړې ده.

امام طحاوي رحمه الله د (العقيدة الطحاوية) ترڅنګ نور هم ګڼ شمېر او لوی لوی تأليفات لري چي نومونه يې په لاندي ډول دي:-

۱: احكام القرآن، ۲: بيان مشكل الآثار، ۳: التسوية بين حدثنا وأخبرنا، ۴: شرح معاني الآثار، ۵: صحاح الآثار، ۶: احكام القرَان، ۷: اختلاف الروايات على مذهب الكوفيين، ۸: اختلاف العلماء، ۹: الأشربة، ۱۰: حكم اراضى مكة، ۱۱: شرح الجامع الصغير، ۱۲: شرح الجامع الكبير، ۱۳: الشروط الأوسط، ۱۴: الشروط الصغير، ۱۵: الشروط الكبير، ۱۶: العزل. ۱۷:

[1] معيد النعم ومبيد النقم)، (۲۵ مخ).

الفرائض، ۱۸: قسم الفئ و الغنائم، ۱۹: المحاضر و السجلات، ۲۰: المختصر فی الفقه، ۲۱: النحل، ۲۲: النوادر الفقهية، ۲۳: الوصايا، ۲۴: التاريخ الكبير، ۲۵: الرد علي ابي عبيد فيما أخطأ فيه فی (کتاب) النسب، ۲۶: الرد علی کتاب المدلسين، ۲۷: مناقب أبي حنيفة النعمان بن ثابت، ۲۸: النوادر و الحكايات، ۲۹: الرد علي عيسى بن أبان، ۳۰: الرزية. د دې ټولو تفصيل په (شرح مختصر الطحاوي) اول جلد کي وګورئ.

## د علم العقائد اړوند لنډ معلومات

په عقائد سره مراد هغه احکام او مسائل دي چي د هغو څخه مراد يوازي اعتقاد او يقين کول وي د مثال په ډول- الله تعالی يو دی، (الله تعالی عالم دی)، (الله تعالی قادر دی)، تر مرګ وروسته ژوندون حق دی، جنت حق دی، دوزخ حق دی، ښکاره خبره ده چي د دغسي مسائلو څخه مراد يوازي اعتقاد او تصديق دی دغسي مسائلو ته اعتقاديه او اصليه مسائل هم ويل کېږي اما هغه مسائل چي د هغو څخه مقصود عمل وي د بېلګي په ډول- لمونځ فرض دی، زکات فرض دی، دغسي مسائلو ته عمليه او فرعيه مسائل ويل کېږي دا چي زموږ د شرحي متن (العقيدة الطحاوية) په علم العقائد کي دی نو بايد د علم العقائد چي علم الکلام او علم التوحيد هم ورته ويل کېږي، تعريف موضوع او غرض وپېژندل سي ترڅو طالب العلم د ښه بصيرت او پوهي له مخي په دې فن کي شروع وکړي- د علم العقائد تعريف ملا علي القاري رحمة الله عليه په داسي ټکو کي کړی دی: علم يبحث فيه عما يجب الاعتقاد، يعني- علم العقائد يو داسي علم دی چي په هغه کي د داسي شيانو څخه بحث کېږي چي اعتقاد وربانديواجب

دی[1].

مطلب دا دی چي په علم العقائد کي اعتقادیه او أصلیه مسائل بیانېږي، او د علم العقائد موضوع د مخکنیو علماؤ په آند د الله تعالی ذات او د الله تعالی صفات دي ځکه چي د علم العقائد څخه اصلي مقصود د الله تعالی او د ده د صفاتو پېژندل دي، او د ځینو علماء کرامو په آند بیا هغه معلومات دي چي اعتقاد ورباندي لازم دی، او د علم العقائد عمده غرض په دیني او دنیوي سعادت سره مشرف کېدل دي، له دغه بیان څخه دا ښکاره معلومه سوه چي علم العقائد په علومو کي اشرف علم دی ځکه چي علم العقائد د شرعي احکامو اساس او د دیني علومو رئیس دی او مسائل یې اسلامي عقائد دي چي د کتاب او سنت څخه اخیستل سوي دي او غرض یې هم تاسو ولوستی چي د دنیا او آخرت سعادت او کامیابي ده نو دا چي علم العقائد په علومو کي اشرف اهم او بهتر علم دی یو ښکاره او روښانه حقیقت دی.

د علم العقائد اکثره عقیدې قطعي دي یعني په قطعي دلائلو سره ثابتي دي د دغسي عقیدو منل ضروري دی د یوې عقیدې څخه یې هم انکار کفر دی او په علم العقائد کي ځیني ظني عقیدې یعني داسي عقیدې چي په ظني دلائلو سره ثابتي وي هم سته د دغسي عقیدو منل هم ضروري دی که چیري په دغسي عقیدو کي له یوې څخه ثوک منکر سي نو هغه د اهل سنت والجماعت د کړۍ څخه وتلی دی، د دې خبري د اثبات لپاره چي په عقائدو کي ځیني ظني عقائد هم سته وګورئ (المسامرة) (۲۱ مخ)، والنبراس ۲۴ مخ).

[1] شرح الفقه الاکبر (۱۹۴ مخ).

# زموږ د شرحې ترتيب او طريقه

لږ دمخه دا خبره تېره سوه چې موږ د شرحې لپاره د (العقيدة الطحاوية) د متن هغه نسخه غوره کړې ده چې مكتبة البشرىٰ چاپ کړې ده د متن دغه نسخه پر (۱۰۵) عقيدو باندې تقسيم سوې ده زموږ د شرحې ترتيب او طريقه دا ده چې د هرې عقيدې سره مو يو مناسب عنوان ليکلی دی، وروسته مو هره عقيده لمبر داره ليکلې ده بيا مو د هرې عقيدې پښتو ژباړه کړې ده وروسته مو د ضرورت په اندازه د هرې عقيدې شرحه کړې ده په شرحه کې مو د لويو علماء کرامو د اقوالو څخه کار اخيستی دی بيا مو د هرې عقيدې دلائل راوړي دي خو په ځينو ځايونو کې داسې سوي دي چې د عقيدې دلائل په شرحه کې درج سوي دي داسې ځايونه هم ډېر سته چې د يوې عقيدې سره مو نور مناسب مبحثونه او مضمونونه هم ليکلي دي امام طحاوي رحمة الله عليه په ځينو عقائدو کې د تاکيد لپاره تکرار کړی دی نو چې کله موږ د يوې عقيدې شرحه وليکو او وروسته بيا هغه عقيده مکرره سي دغه د تکرار په ځای کې موږ په لنډ ډول څه ليکو او د تفصيل حواله يې په همهغې عقيدې باندې ورکوو چې موږ يې دمخه شرحه کړې ده او په شرحه کې چې کوم آيتونه او حديثونه موږ ليکلي دي د هغو مو تخريج کړی دی همدا شان مو د علماؤ د اقوالو مأخذونه هم معلوم کړي دي په ډېرو کمو ځايونو کې مو د بل چا پر تخريج او حواله اکتفاء کړې ده او په شرحه کې مو د عمده او اعتمادي کتابونو څه کار اخيستی دی لکه څنګه چې به يې تاسې د کتاب په آخر کې وګورئ، د کمزورو اقوالو د راوړلو څخه مو ډډه کړې ده همدا شان مو د ضعيفو حديثونو د راوړلو څخه هم تر ډېره حده پورې ډډه کړې ده په ځينو ځايونو کې چې موږ ځينې ضعيف روايتونه راوړي دي هغه مو د مسئلې د

اثبات لپاره نه بلکي د تاکید او تائید لپاره راوړي دي خو دغسي ځایونه ډېر کم دي نور نو د شرحي په لیکلو کي ما خپل ټوله قدرت ښندلی دی په دې باره کي مي ډېر کوښښ کړی دی چي شرحه په ساده او آسانه الفاظو سره ولیکل سي ترڅو عام مسلمانان استفاده ورڅخه وکړي خو بیا هم انسان د خطاء څخه خالي نه دی (وَمَا أُبَرِّئُ نَفْسِي) یعني – زه د خپل ځان تبریه او پاکي نه کوم چي زما څخه په دې شرحه کي هیڅ خطا نه ده سوې کېدای سي چي زما څخه خطاوي او غلطي سوي وي نو کوم عالم چي زما په ژوند کي په دې شرحه کي یوه خطا یا غلطي وویني هغه دي د مهربانۍ له مخي ماته اطلاع راکړي ترڅو یې په راتلونکي چاپ کي اصلاح کړم.

هُوَاللّٰهُ الْهَادِي إِلَىٰ سَوَاءِ السَّبِيْلِ.

# د شرحي مقدمه

بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ○

رَبِّ اشْرَحْ لِي صَدْرِي، وَيَسِّرْ لِيْ أَمْرِيْ، وَ احْلُلْ عُقْدَةً مِّنْ لِّسَانِيْ، يَفْقَهُوْا قَوْلِي– اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ وَاجِبِ الْوُجُوْدِ الْإِلٰهِ الْمَعْبُوْدِ خَالِقِ كُلِّ مَوْجُوْدٍ جَامِعِ النَّاسِ لِيَوْمِ الْمَوْعُوْدِ ذِي الْكَرَمِ وَالْفَضْلِ وَالْجُوْدِ الْأَوَّلِ الْقَدِيْمِ بِلَاإِبْتِدَاءٍ وَالْآخِرِ الْكَرِيْمِ بِلَاإِنْتِهَاءٍ لَمْ يَزَلْ وَلَايَزَالُ صَاحِبِ نُعُوْتِ الْكَمَالِ مِنْ صِفَاتِ الْجَلَالِ وَالْجَمَالِ الْمُنَزَّهِ عَنْ سِمَاتِ النُّقْصَانِ وَالْحُدُوْثِ وَالزَّوَالِ وَعَمَّا يَقُوْلُهُ الظَّالِمُوْنَ مِنْ أَهْلِ الزَّيْغِ وَالضَّلَالِ وَالصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى عَبْدِهٖ وَرَسُوْلِهٖ مُحَمَّدٍ سَيِّدِ الرُّسُلِ وَخَاتَمِ النَّبِيِّيْنَ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ وَشَفِيْعِ الْأُمَّةِ وَعَلٰى آلِهٖ وَأَصْحَابِهٖ هُمْ أَصْفَى الْأَصْفِيَاءِ وَخَيْرُ الْأَوْلِيَاءِ وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الدِّيْنِ مِنْ عِبَادِهِ الصُّلَحَاءِ. وَبَعْدُ:–

په دې کې شک نسته چې اسلامي عقائد د ټولو نېکو اعمالو اساس او بنیاد دی د خرابي او فاسدي عقیدې په صورت کي هیڅ یوعمل د الله تعالیٰ په نزد مقبول نه دی همدغه وجه ده چې په ګڼ شمېر آیتونو او حدیثونو کي د عقیدو په اصلاح او سمون ډېر ټینګار سوی دی د عقیدې خرابي د اعمالو تر خرابي په څو چنده زیاته ده ځکه چې د عقیدې خرابي تر کفر پوري رسېدای سي او یوازې د عمل خرابي کفر نه دی کېدای سي چې الله تعالیٰ عفوه ورته وکړي د اسلام د دښمنانو هم اول یرغل د مسلمانانو پر عقائدو دی د دوی اول مقصد هم دغه دی چې د مسلمانانو عقائد ور خراب کړي په دې باره کي دوی له هري وسیلې څخه کار اخلي لکه څنګه چې یې تاسو وینئ نو د خپلي عقیدې سمون د هر

مسلمان سړي او مسلماني ښځي لومړی کار دی او دا د هر مسلمان دنده ده چي خپلو اولادونو ته تر ټولو شيانو دمخه سمه عقيده وښيي سمه عقيده د اهل السنة والجماعت عقيده ده دا عقيده به له مذهبي او باوري علماؤ څخه اخيستل کېږي يا به له هغو اعتمادي کتابونو څخه اخيستل کېږي چي په عقائدو کي ليکل سوي دي د دغسي کتابونو له جملې څخه يو هم (العقيدة الطحاوية) ده چي د امام طحاوي رحمه الله تأليف دی دغه کتاب په عربي کي ډېري شرحي لري چي په ځينو کي يې څه ناڅه تشدد هم سته او په پښتو کي يې ما تر اوسه پوري شرحه نه ده ليدلې او دا يو داسي کتاب هم دی چي اوس يې ډېر خلګ په مدرسو او پوهنتونونو کي تدريس ته لېواله دي نو له همدغي وجهي څخه ډېرو ملګرو زما څخه غوښتنه وکړه چي د دغه کتاب پښتو شرحه وليکم داسي شرحه چي د اهل سنت والجماعت د عقائدو نمايندګي وکړي نو ما هم د ډېرو مصروفيتونو او مشکلاتو سره سره د دوی غوښتنه ومنله او د (العقيدة الطحاوية) پښتو شرحه مي د الله تعالی په توفيق وليکله.

الله تعالی دي زموږ دغه کوښښ قبول کړي او الله تعالی دي په دغه شرحه سره عامو مسلمانانو ته نفعه ورسوي او الله تعالی دي دا شرحه زما او زما د مور او زما د پلار او استاذ علامه مولانا نور محمد صاحب رحمه الله او زما د ټولو مخلصينو قريبانو لپاره صدقه جاريه وګرځوي آمين– (وَمَا تَوْفِيقِي إِلَّا بِاللَّهِ عَلَيْهِ تَوَكَّلْتُ وَإِلَيْهِ أُنِيبُ).

# د متن مقدمه

بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِيۡمِ○

هٰذَا مَارَوَاهُ الۡاِمَامُ اَبُوجَعۡفَرِ الطَّحَاوِيُّ رحمة الله عليه فِي ذِكۡرِ بَيَانِ اِعۡتِقَادِ اَهۡلِ السُّنَّةِ وَالۡجَمَاعَةِ عَلٰى مَذۡهَبِ فُقَهَاءِ الۡمِلَّةِ اَبِيۡ حَنِيۡفَةَ النُّعۡمَانِ بۡنِ ثَابِتِ الۡكُوۡفِيِّ وَاَبِي يُوۡسُفَ يَعۡقُوبَ بۡنِ اِبۡرَاهِيۡمَ الۡأَنۡصَارِيِّ وَاَبِيۡ عَبۡدِاللّٰهِ مُحَمَّدِ بۡنِ الۡحَسَنِ الشَّيۡبَانِيِّ (رِضۡوَانُ اللّٰهِ تَعَالٰى عَلَيۡهِمۡ اَجۡمَعِيۡنَ) وَمَا يَعۡتَقِدُوۡنَ مِنۡ اُصُوۡلِ الدِّيۡنِ وَيَدِيۡنُوۡنَ بِهِ لِرَبِّ الۡعَالَمِيۡنَ.

ژباړه: دا هغه مضمون دی چي امام ابوجعفرطحاوي رحمة الله عليه د اهل سنت و الجماعت د اعتقاد په بيان كي د امام ابوحنيفة النعمان بن ثابت الكوفي او امام ابويوسف يعقوب بن ابراهيم الأنصاري او امام ابوعبدالله محمد بن الحسن الشيباني رضي الله عنهم چي د ملت فقهاء دی پر مذهب رانقل كړي دي همدا راز دا مضمون د دوی د اعتقادي مسئلو په بيان كي دی چي هغه د دين اصول بلل كېږي او د هغې اعتقادي طريقې په بيان كي دی چي د هغې په ذريعه دوی د الله جل جلاله طاعت كاوه.

**شرح**: د امام ابو حنيفه او امام ابو يوسف او امام محمد رحمهم الله په باره كي د څه ويلو ضرورت نسته ځكه چي په ذكر سوي عبارت كي تاسو ولوستل چي دوی د ملت فقهاء دي ټوله اسلامي نړۍ د دوی د مباركو نومونو سره آشنا ده د امت لويو علماؤ د دوی په اړوند مستقل كتابونه ليكلي دي د دوی مناقب د

جهان په هر طرف کي شهرت ته رسېدلي دي او بله خبره دا ده چي د دوی د ژوند تړوله مناقب بيانول زما عاجز په توان کي نسته نو له همدغي وجهي څخه زه د دوی په باره کي نور څه نه ليکم- په (اهل السنة والجماعة) کي درې لفظونه دي:

اول: لفظ د "اهل" دی معنا يې د اشخاصو افرادو او ډلو ده.

دوهم: لفظ د "سنت" دی معنا يې په لغت کي د طريقې ده او د شريعت په اصطلاح کي د دين هغې طريقې ته ويل کېږي چي موږ ته د نبيﷺ په واسطه معلومه سوې وي که څه هم په قرآن کريم کي د هغې ذکر راغلی وي- کوم شی چي په قرآن کريم او حديث دواړو کي راغلی وي هغه شی په دې حيث چي په قرآن کريم کي راغلی دی د الله تعالی حکم دی او په دې حيث چي په حديث کي راغلی دی سنت دی.

دريم: لفظ د "جماعت" دی د دې لفظ څخه د صحابه کرامو جماعت مراد دی نو اهل سنت والجماعت هغي ډلي ته ويل کېږي چي د نبيﷺ پر طريقو او سنتونو همدا راز د صحابه کرامو پر طريقو روان وي فقهاء کرام او حضرات محدثين او متکلمين اولياء او عارفين دا ټوله اهل سنت والجماعت دي حضرات فقهاء د دين په اصولو کي يو متفق دي يوازي په څو فروعي مسئلو کي د دوی اختلاف سته دا په دين کي څه نقصان نه دی ځکه چي د دوی اختلاف حق ته د رسېدو لپاره وو نو د دوی اختلاف پردې امت د الله ﷻ رحمت دی او کوم اختلاف چي وروستنيو فقهاؤ کړی دی دا د هغه اختلاف تابع دی چي په صحابه کرامو کي موجود وو نو د حضراتو مجتهدينو اختلاف بېله شکه مشروع او ګټوررردی.

دغه اهل سنت و الجماعت هغه ډله ده چي نبيﷺ په مشهور حديث کي

(الفرقة ناجية) يعني د الله ﷻ د عذاب څخه خلاصه ډله بللې ده- په اوسني زمانه کي اهل سنت والجماعت په څلورو مشهورو مذهبونو کي حصر سوي دي نو په اوس وخت کي د څلورو مشهورو مذهبونو څخه وتل بدعت او ضلالت دی راسئ دا خبره له علامه سید احمد طحطاوي رحمه الله څخه واورو:

(فعليكم معاشر المؤمنين باتباع الفرقة الناجية المسماة باهل السنة والجماعة فان نصرة الله وحفظه وتوفيقه فی موافقتهم وخذلانه وسخطه ومقته فی مخالفتهم وهذه الطائفة الناجية قد اجتمعت اليوم فی مذاهب اربعة وهم الحنفيون والمالكيون والشافعيون والحنبليون رحمهم الله ومن كان خارجا عن هذه الاربعة فی هذه الزمان فهو من اهل البدعة والنار) [1].

ژباړه: ای د مسلمانانو ټولګي! تاسي پر اتباع (پیروي) د هغې ډلي چي د الله ﷻ د عذاب څخه خلاصه ده ټینګ ودرېږئ د دغي ډلي نوم اهل سنت والجماعت دی. ځکه چي د الله ﷻ نصرت حفظ توفیق د دوی په موافقت کي دی او د الله ﷻ خذلان، غضب، قهر د دوی په مخالفت کي دی دغه ډله چي د الله ﷻ د عذاب څخه خلاصه ده په اوس وخت کي په څلورو مذهبونو کي راټوله سوې ده دغه د څلورو مذهبونو خلګ په لاندي لیک کي دي:

۱: حنفي مذهبه، ۲: مالکي مذهبه، ۳: شافعي مذهبه، ۴: حنبلي مذهبه، هر هغه څوک چي په اوس وخت کي د دغو څلورو مذهبونو څخه وتلي وي هغه د مبتدعینو او دوزخیانو څخه دي.

کوم کس چي مجتهد نه وي پر هغه د یو مجتهد تقلید لازمي دی ځکه چي دی عامي دی د عامي لپاره یوازینی لاره د یو مجتهد اتباع او تقلید دی که

---

[1] حاشية الطحطاوي على الدر المختار څلورم جلد (۱۵۳مخ).

چيري دغسي کس هم د مذهب پيروي نه کوي مثال يې د هغه مريض دی چې په علاج کي د يو طبيب لار ښووني نه مني بلکي پخپله د ځان علاج کوي ښکاره خبره ده چي ددغسي مريض آخري انجام به مرګ وي.

په دې موضوع کي موږ يو کتاب (زبدة التحقيق فی الاجتهاد والتقليد) ليکلی دی د لا زياتو معلوماتو لپاره هغه ته رجوع وکړئ، نو هغه کسان چي مذهب بدعت يا شرک بولي مذهبي خلګ مبتدعين يا مشرکين بولي د خلفاء راشدينو سنت او طريقه حجت نه بولي لکه د اوس وخت وهابيان او سلفيان يقيناً دغه کسان د اهل سنت والجماعت څخه وتلي دي، کوم کسان چي شل رکعته تراويح سنت نه بولي او په يوه وخت کي درې طلاقه معتبر نه بولي چي پردې د صحابه کرامو اجماع سوې ده نو دوی لره په کار ده چي د صحابه کرامو جمعه سوی قرآن هم حجت ونه بولي او پخپله رأيه بايد قرآن جوړ کړي، لکه څنګه چي د الله ﷻ او رسول ﷺ اتباع فرض ده همدا شان د صحابه کرامو اتباع هم لازمي ده لاندي دوه دليلونه وګورئ:

۱:- الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَعَدَ اللّٰهُ الَّذِيۡنَ اٰمَنُوۡا مِنۡكُمۡ وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَيَسۡتَخۡلِفَنَّهُمۡ فِى الۡاَرۡضِ كَمَا اسۡتَخۡلَفَ الَّذِيۡنَ مِنۡ قَبۡلِهِمۡ ۖ وَلَيُمَكِّنَنَّ لَهُمۡ دِيۡنَهُمُ الَّذِى ارۡتَضٰى لَهُمۡ﴾[1]. [النور- ۵۵].

ژباړه: وعده کړې ده الله ﷻ له هغو کسانو سره چي ايمان يې راوړی دی له تاسي او کړي يې دي ښه عملونه چي قسم دی خامخا به خليفګان کړي الله ﷻ دوی په ځمکه کي لکه چي خليفګان کړي يې ؤ هغه کسان چي پخوا ؤ له دوی نه او خامخا ثابت قوي به وګرځوي دوی ته دين د دوی هغه دين د اسلام چي غوره

[1]. الحديث- حديث صحيح رواه ابو داؤد برقم (۴۶۰۷) والترمذی برقم (۲۶۷۶).

کړی دی الله ﷻ دوی ته.

په دې آيت کريمه کې الله تعالی د صحابه کرامو سره د خلافت وعده کړې ده چې زه به تاسې د خپل نبي خليفه ګان جوړ کړم د دې خلافت مطلب يې دا بيان کړی دی چې د دغو خلفاؤ پر لاس به موږ خپل خوښ کړی دين محکم وګرځوو نو دا خبره معلومه سوه چې د خلفاء راشدينو پر لاس چې کومه طريقه ښکاره سوې ده هغه د الله تعالی دين دی او د الله تعالی خوښه ده.

۲-: همدا راز رسول الله ﷺ فرمايلي دي: (فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِيْنَ الْمَهْدِيِّيْنَ)

ژباړه: زما پر سنت ټينګ ودرېږئ همدا شان د خلفاء راشدينو پر سنت چې دوی ته لاره ښوول سوې ده هم ټينګ ودرېږئ.

تاسو وګورئ نبي ﷺ په دې حديث کې د خپل ځان د اتباع سره يو ځای د صحابه کرامو اتباع هم لازمي ګرځولې ده. نو کوم کسان چې د صحابه کرامو اتباع لازمي نه بولي هغوی په اصل کې د نبي ﷺ اتباع نه کوي. (أَعَاذَ نَااللهُ مِنْ سُوْءِ إِعْتِقَادِهِمْ).

# د توحید عقیده او د شرک نفي

قَالَ الْإِمَامُ وَبِهِ قَالَ الْإِمَامَانِ الْمَذْكُورَانِ (رحمة الله عليهم) نَقُوْلُ فِيْ تَوْحِيْدِ اللهِ مُعْتَقِدِيْنَ بِتَوْفِيْقِ اللهِ تَعَالٰى (۱) إِنَّ اللهَ تَعَالٰى وَاحِدٌ لَاشَرِيْكَ لَهُ.

ژباړه: امام اعظم ابوحنیفه رحمة الله علیه ویلي دي موږ د الله تعالی په توفیق د الله جل جلاله د توحید په موضوع کي په ژبه سره د زړه له اعتقاده وایو چي یقیناً الله تعالی په ذات صفاتو افعالو او خپلو احکامو کي یو دی او ده لره هیڅ شریک نسته. همدغه د امام ابویوسف رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه قول هم دی.

**شرح**:- د (ان الله تعالی) څخه شروع د کتاب تر پایه پوري (۱۰۵) عقیدې دي دا ټولي د امام ابوحنیفه رحمة الله علیه اقول دي امام ابوجعفر الطحاوي رحمة الله علیه یې نقل کړی دی همدغه د امام ابویوسف رحمة الله علیه او امام محمد رحمة الله علیه اقول هم دي.

**په لغت کي د توحید معنا**: پر یو شي د واحد حکم کول، او په شریعت کي دا اعتقاد کول چي الله جل جلاله پخپل ربوبیت آلهیت اسماؤ او صفاتو کي یو دی شریک نه لري، نو توحید د بنده اعتقاد او فعل دی اما وحدانیة چي دی هغه د الله جل جلاله صفت دی لکه څنګه چي د الله جل جلاله د نامه واحد او احد څخه دا ښکاره معلومېږي د مؤلف رحمة الله علیه په دې کلام کي (نقول فی توحید الله معتقدین) دې طرف ته اشاره ده چي په توحید همدا راز په نورو عقائدو کي اعتقاد واجب دی اعتقاد هغه محکم حکم دی چي هیڅ شک په کي نه وي او دې طرفته هم اشاره

ده چي په توحيد كي د زړه اعتقاد او د ژبي اقرار دواړه ضروري دي يو يې بسنه نه كوي.

او په (بتوفيق الله) كي دې طرفته اشاره ده چي موږ ته ايمان د الله ﷻ په توفيق او هدايت حاصل سوى دى نه زموږ په قوت، د توفيق معنا په اصطلاح كي بنده ته د خير او طاعت لاره آسانه كول، پردې كار يوازي الله ﷻ قادر دى، توحيد د دين د اصولو څخه يو لوى اصل دى د ټولو احكامو لپاره اساس دى د اعمالو لپاره د زړه حيثيت لري د ټولو اعمالو صحت پر توحيد باندي موقوف دى د الله ﷻ د رسولانو اول دعوت خلكو ته توحيد دى لكه څنګه چي الله تعالى فرمايلي دي:

﴿ لَقَدْ أَرْسَلْنَا نُوحًا إِلَىٰ قَوْمِهِ فَقَالَ يَا قَوْمِ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ﴾.

[الاعراف: ٥٩].

ژباړه: قسم دى په تحقيق لېږلى ؤ موږ نوح په لوري د قوم د ده نو و ويل نوح اې قومه زما عبادت كوئ تاسي د الله ﷻ نشته تاسي ته هيڅ معبود بېله دغه الله ﷻ.

همدا شان هود عليه‌السلام خپل قوم ته ويلي: ﴿ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ﴾.

[الاعراف: ٦٥].

همدا شان صالح عليه‌السلام خپل قوم ته ويلي: ﴿ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ﴾.

[الاعراف: ٧٣].

همدا شان شعيب عليه‌السلام خپل قوم ته ويلي: ﴿ اعْبُدُوا اللَّهَ مَا لَكُم مِّنْ إِلَٰهٍ غَيْرُهُ ﴾.

[الاعراف: ٨٥].

او داسي نور آيتونه.....

لکه څنګه چي توحيد د رسولانو اول دعوت دی او د دوی د دين اصل دی همدا شان توحيد سره د دې شاهدي چي محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی پر مکلف کس اول واجب دی لکه څنګه چي نبي ﷺ فرمايلي دي: (أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلَهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ)(١).

ژباړه: زه امر سوی يم چي د خلګو سره جګړه وکړم ترڅو چي دوی دا شاهدي اداء کوي چي د الله ﷻ څخه ماسيوٰی بل څوک د عبادت لائق نسته او محمد ﷺ د الله ﷻ رسول دی.

کله چي توحيد دغسي اهم شیٔ او پر الله ﷻ ايمان تر ټولو ارکانو دمخه وو همدغه وجه ده چي امام طحاوي رحمه الله دغه عقيده د کتاب په سر کي راوړې ده.

د دې عقيدې آخرنی جمله (لاشريك له) د مخکني جملې (ان الله تعالیٰ واحد) لپاره تاکيد ده ځکه چي وحدت (يو والی) د شريک سره ضد دی نو په کوم ذات کي چي وحدت وي هلته به ضرور شريک نه وي.

# د توحيد دلائل

اوس راسئ د توحيد څو دليلونه وګورئ:

١:- ﴿وَإِلَـٰهُكُمْ إِلَـٰهٌ وَاحِدٌ ۖ لَّا إِلَـٰهَ إِلَّا هُوَ الرَّحْمَـٰنُ الرَّحِيمُ﴾. [البقرة: ١٦٣].

ژباړه: او معبود ستاسي معبود يو دی نشته بل څوک لائق د عبادت مګر هم دی ډېر مهربان پوره رحم لرونکی دی.

٢:- ﴿وَهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ﴾. [الرعد: ١٦].

---

(١) رواه البخاري (٢٥) و مسلم (٢٢) من حديث ابن عمر رضي الله عنهما.

ژباړه: او هم دی دی یو قوي غالب (پر هر شي او هر چا).

۳: - ﴿وَمَا مِنْ اِلٰهٍ اِلَّآ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ﴾. [المائدة: ۷۳].

ژباړه: حال دا چي نشته بل هیڅ لائق د عبادت مگر خوشته معبود یو چي الله ﷻ دی.

۴: - ﴿لَا شَرِيْكَ لَهٗ وَبِذٰلِكَ اُمِرْتُ وَاَنَا اَوَّلُ الْمُسْلِمِيْنَ﴾. [الانعام: ۱۶۳].

ژباړه: نشته هیڅ شریک ده لره او هم په دې توحید امر سوی دی ماته او زه اول د مسلمانانو څخه یم.

او داسي نور آیتونه چي په قرآن کریم کي ډېر دي. یو روغ عقل هم دا شاهدي ورکوي چي الله ﷻ یو دی هیڅ شریک نه لري ځکه چي شراکت عیب دی او الله تعالی له هر عیب څخه پاک دی همدا شان د شریک ضرورت په هغه وخت کي وي چي یو څوک کافي او مستقل نه وي او الله ﷻ پخپله کافي او مستقل دی نو دا خبره یقینا ثابته ده چي الله تعالی یو دی شریک يې محال (ناشونی) دی. (وَبِاللّٰهِ التَّوْفِيْقُ وَبِهٖ نَسْتَعِيْنُ).

## د توحید اقسام

د اهل سنت والجماعت علماء کرامو توحید درې قسمه ته وېشلي دي:

۱: توحید الربوبیة، ۲: توحید الالهیة، ۳: توحید الاسماء والصفات.

د توحید الربوبیة معنا: - الله تعالی پخپلو افعالو لکه خلق تدبیر احیاء اماتة کي یو بلل یعني دا اقرار کول چي الله تعالی لره پخپلو افعالو کي شریک نسته.

د توحید الالهیة معنا: - یوازي الله تعالی د عبادت لائق بلل یعني دا اقرار کول چي د الله تعالی څخه ماسوٰی بل څوک د عبادت لائق نسته.

د توحيد الاسماء والصفات معنا: الله تعالی پخپلو نومونو او صفتونو کي يو بلل يعني دا اقرار کول چي الله تعالی پخپلو نومونو او صفتونو کي يو دی د ده هيڅ نوم او صفت په مخلوق کي نه سي پيدا کېدلای.

د سورة النمل (٦٠) آيت څخه تر (٦٤) پوري دا ښکاره معلومېږي چي له توحيد الربوبية او توحيد الاسماء والصفات څخه اصلي هدف توحيد الإلٰهية دی دا ځکه چي په توحيد الربوبية او توحيد الاسماء سره مشرکينو هم اقرار کاوه يوازي توحيد الإلٰهية يې نه مني دوی داسي ويل:

﴿أَجَعَلَ الْآلِهَةَ إِلَٰهًا وَاحِدًا ۖ إِنَّ هَٰذَا لَشَيْءٌ عُجَابٌ﴾. [ص: ٥].

ژباړه: آيا ده ګرځولي دي دغه (٣٦٠) معبودان الله يو بېشکه دغه ګرځول د ډېرو معبودانو يوه ته خامخا يو شيز ډېر عجيب دی.

همدغه وجه ده چي د ټولو انبياؤ عليهم السلام رالېږل د توحيد الإلٰهية د تعليم لپاره وو او د اسلام کلمه هم (لااله الاالله محمدرسول الله) مقرره سوې ده لاموجود الاالله (يا) لاموجود الاهو – نه ده مقرره سوې.

## د توحيد د مبارکي کلمې څخه غلطه استفاده

د مسلمانانو په ټولنه کي څو بې علمه کسان چي د وهابيانو يا سلفيانو يا اهل حديثو يا غير مقلدينو په نامه يادېږي د توحيد له کلمې څخه غلطه استفاده کوي دا کلمه دوی د خپلو ځانونو لپاره شعار ګرځولي ده پخپلو خبرو او مجلسونو کي يې ډېره استعمالوي حتّی د خپلو مسجدونو، کورونو، دکانونو او نورو ځايونو په نمونو کي هم دا کلمه کاروي دا خو بېله شکه د حق کلمه ده ځکه چي توحيد د ټولو احکامو لپاره اساس دی هر مسلمان يې د اورېدلو څخه

خوشحالېږي لېکن د دوی د دغسي خبرو په باطن کي وژونکی زهر دي ځکه چي د دوی له دغسي خبرو څخه مطلوب دا دی چي زموږ څخه ماسېوٰی نور ټوله خلګ مشرکين دي دغه مطلوب له دوی څخه پخپله اوربدل سوی او په رسالو کي يې ليکلي دي په دې کار کي دوی د خوارجو پر مسلک روان دي ځکه چي هغوی هم دغسي د حق کلمې استعمالولې خو مراد به يې باطل وو د مثال په ډول دوی به ويل (لَا حُكْمَ اِلَّا لِلهِ) يعني- د الله تعالی څخه ماسېوٰی بل چاته حکم نسته، کله چي حضرت علي ﷺ له دوی څخه دغه خبره واورېدل نو يې داسي وفرمايل: دا خو ښېله شکه د حق کلمه ده ځکه چي د دې آيت سره برابره ده ﴿اِنِ الْحُكْمُ اِلَّا لِلهِ﴾. [الانعام: ۵۷]. لېکن په دې کلمه سره د دوی مراد باطل دی هغه دا چي هيچا لره امارت نسته او نه په ديني امورو کي يو څوک حَکَم (منصف) ټاکل جواز لري حال دا چي يو څوک حَکَم (منصف) ټاکل په شريعت کي وجود لري الله تعالی فرمايلي:

﴿وَاِنْ خِفْتُمْ شِقَاقَ بَيْنِهِمَا فَابْعَثُوْا حَكَمًا مِّنْ اَهْلِهٖ وَحَكَمًا مِّنْ اَهْلِهَا﴾.

[النساء: ۳۵].

ژباړه: او که وېرېږئ تاسي له مخالفت څخه په منځ د مېړه او ښځي کي نو ور ولېږئ يو منصف له خپلوانو د دې سړي او بل منصف له خپلوانو د دې ښځي.

لکه څنګه چي خوارجو دغسي حق خبري کولې او مراد به يې باطل وو همدغسي وهابيان هم څه ناڅه د حق خبري کوي خو مراد يې باطل وي يو مثال يې تاسي وليدی نوري خبري يې هم دغسي سته وګورئ (الملتقط) (۱۵) مخ، مولانا عبدالستار ﷫ په دغه کتاب کي د (کشف الارتياب) په حواله د خوارجو او وهابيانو مشابهت په (۱۲) وجهو سره بيان کړی دی وګورئ

(الملتقط) (۱۵) مخ الی (۲۱) او علامه ابن عابدين رحمه الله په ردالمحتار دريم جلد (۳۰۹) مخ کي وهابيان کټ مټ خوارج بللي دي، خوارج يوه ګمراه ډله ده چي څه ناڅه عقائد به يې د شرحي په جريان کي راسي[1].

## د شرک مفهوم او قسمونه يې

**د شرک لغوي معنا**– په يوه صفت کي د دوو شيانو شراکت يا په يو شي يا يو کار کي د دوو يا ډېرو کسانو شراکت– او په شريعت کي د شرک معنا– دا عقيده درلودل چي د الله تعالی سره په ذات يا صفت يا په يو داسي فعل کي چي يوازي تر الله تعالی پوري خاص وي يو مخلوق برابر دی د مثال په ډول د الله تعالی په شان يو کس عالم الغيب بلل يا د الله تعالی څخه ماسېوا بل څوک معبود بلل يا د الله تعالی څخه ماسېوا له بل چا څخه پخپلو مشکلاتو او حاجاتو کي په دې عقيده کومک غوښتل چي دی حقيقي متصرف دی يا مخلوق ته داسي قدرت ثابتول لکه څنګه چي د الله تعالی صفت دی يا د الله تعالی په شان پر بندګانو بل څوک حاکم ګڼل. لوی محدث شاه عبدالعزيز دهلوي رحمه الله په تفسير عزيزي کي د شرک لس ۱۰ اقسام د مشرکينو د هغو ډلو په بيانولو سره ذکر کړي دي چي په دنيا کي وجود لري:

۱:– د هغو کسانو شرک دی چي عالم ته د دوو پيداکونکو عقيده لري يو يې حکيم چي د خير پيدا کونکی دی او بل يې سفيه چي د شر پيدا کونکئ دی د مشرکينو دغي ډلي ته ثنويه وايي.

۲:– د يوې داسي ډلي شرک دی چي دوی وايي الله تعالی د عالم ټوله کارونه ستورو ته حواله کړي دي د خير او شر تدبير يې د دوی په واک کي

[1] همدا راز وګورئ زموږ تأليف (زبدة التحقيق فی الاجتهاد والتقليد) (۳۶۹) مخ.

ورکړی دی نو موږ باید د ستورو د ارواحو عبادت وکړو ترڅو کارونه مو را اصلاح کړي د مشرکینو دغې ډلي ته صائبین ویل کېږي.

٣:- د هندوانو شرک دی دوی وایي غیبي ارواح سته د دې عالم تصرف کوي ډول ډول صورتونه لري خو موږ یې نه وینو نو موږ باید د دغو ارواحو صورتونه د ښو او ښکلو جسمونو څخه لکه سره او سپین زر جوړ کړو او عبادت یې وکړو.

۴:- د پیر پرستانو شرک دی دوی وایي چي یو نېک او پرهېزګار سړی د ډېر ریاضت او عبادت په وجه د الله تعالی په نزد مقبول الشفاعة او مستجاب الدعوة وګرځي او مړ سي نو یې روح ته لوی قوت پیدا کېږي هر څوک چي د ده د ناستي او ولاړي پر ځای یا د ده پر قبر سجده وکړي نو یې روح په ده خبرېږي په دنیا او آخرت کي یې شفاعت کوي.

۵:- د هغو جاهلانو شرک دی چي دوی وایي الله تعالی پخپل ذات کي له دې څخه پاک دی چي یو کس دي د ده د عبادت توان ولري نو د عبادت لاره دا ده چي الله تعالی لره یو مخلوق د توجه قبله وګرځول سي ترڅو زموږ توجه دغي قبلې ته عین الله تعالی ته وي کوم مخلوق چي د دغه کار قابلیت لري هغه یو خاص جنس نه دی بلکي هر شی چي عجیبه او غریبه خواص ولري هغه قبله جوړېدلای سي هغه که درخته وي، حیوان وي، نبات وي، غر وي یا نور داسي شیان- دا د عوامو هندوانو مذهب دی.

۶:- د هغو کسانو شرک دی چي د الله تعالی له نوم سره د مخلوق نوم برابر بولي او د ثواب حاصلولو په نیت د مخلوق نوم داسي ذکر کوي لکه د الله تعالی نوم.

۷:- د هغې ډلي شرک دی چي د څارویو په ذبحه او نذر او قربانیو کي د الله

تعالٰی سره مخلوق برابر بولي يعني هغه کارونه چي يوازي د الله تعالٰی د رضا لپاره کېږي دوی يې د مخلوق د خوښي لپاره کوي- دا خبره ياد وساتئ چي نذر به يوازي د الله ﷻ لپاره وي بل د هيڅ مخلوق لپاره نذر نه دی روا مړ وي که ژوندی لکه څنګه چي علامه حصکفي رحمه الله ويلي دي: (واعلم ان النذر الذى يقع للاموات من اكثر العوام وما يؤخذ من الدراهم والشمع والزيت ونحوها الى ضرائح الاولياء الكرام تقربا اليهم فهو بالاجماع باطل و حرام مالم يقصدوا صرفها لفقراء الانام وقد ابتلى الناس بذالك ولاسيما فى هذه الاعصار)[1].

ژباړه: پوه سه هغه نذر چي د ډېرو عوامو لخوا د مړو لپاره کېږي او هغه دراهم شمع او زيت او داسي نور شيان چي د بزرګانو د قبرونو لپاره دوی ته د تقرب په نيت اخيستل کېږي دا د علماء کرامو په اجماع باطل او حرام کار دی مګر که نذر الله تعالٰی ته د تقرب لپاره وي او د يو شيخ يادول د دې لپاره وي چي د صرفولو ځای يې د ده مسکينان وي بيا دا کار روا دی او يقيناً په دغه حرام کار سره خلک اخته دي خاص بيا په اوسنيو زمانو کي[2].

۸:- د هغو کسانو شرک دی چي د نوم په ايښودلو کي د عبد الله په ځای عبد فلان وايي لکه: عبدالحسين، عبدالرسول، عبدالمصطفٰی دا يوازي په نوم ايښودلو کي شرک دی. حقيقي شرک نه دی ځکه چي په دغسي ځای کي عبد د مطيع او تابع په معنا دی په عربي لغت کي دغسي استعمال مشهور دی، لوی استاذ مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمه الله فرمايلي دي د عبد اضافه د الله څخه ماسوٰی بل چاته په درې قسمه ده:

---

[1] الدر المختار علي هامش رد المحتار. دوهم جلد (۱۲۸) مخ.
[2] د دې مسئلې د تفصيل لپاره وګورئ فتاوٰی خيرية د تنقيح الحامدية پرهامش اول جلد (۳۰) مخ.

۱- داسي شي ته اضافه ده چي هغه خلګو د الله تعالی څخه بغیر معبود ګرځولی وي لکه (عبدالعزی) "عزی" د یو بت نوم دی د مکې مکرمې مشرکینو یې عبادت کاوه دغسي نوم ایښودل حرام دی.

۲- اضافه داسي چاته ده چي هغه خلګو د الله تعالی څخه بغیر معبود نه وي ګرځولی لیکن د غیر الله د عبادت توهم ورڅخه کیږي لکه (عبدالنبی) دغسي نوم ایښودل مکروه دی.

۳- اضافه داسي چاته چي نه هغه خلګو د الله تعالی څخه بغیر معبود ګرځولی وي او نه د غیرالله دعبادت توهم ورڅخه کیږي لکه (عبدالمطلب) دغسي نوم ایښودل جائز دی هیڅ کراهت په کي نسته اوس نو د هغو بې علمه کسانو خبري مه اورئ چي دوی وایي فقهاء ولي داسي وایي عبید فلان او عبد فلان[1].

۹:- د هغو کسانو شرک دی چي د مصیبتونو په دفع همدا شان د منافعو په راجلبولو کي مخلوق ته رجوع کوي د توسل په ډول نه بلکي مستقل یې ګڼي. یعني د الله تعالی څخه ماسوی بل څوک مستقل او حقیقي متصرف ګڼي، او که چیري یو څوک مستقل او حقیقي متصرف یوازي الله تعالی بولي خو پخپلو ښو عملونو او ذواتو فاضله ؤ سره الله تعالی ته توسل کوي دا نه شرک او نه حرام دی بلکي مشروع او د اسلامي امت وربانديي تعامل دی.

۱۰:- د هغو کسانو شرک دی چي د عام علم او عام قدرت په ځای کي د الله تعالی د نوم سره د بل چا نوم برابر ګرځوي لکه چي امام نسائي رحمة الله علیه او ابن ماجه رحمة الله علیه د ابن عباس رضي الله عنه څخه روایت کړی دی چي یوه ورځ یو کس نبي ﷺ ته و ویل (مَاشَاءَاللهُ وَمَاشِئْتَ) یعني- هغه شی چي الله تعالی یې د

---

[1] الکوثر البخاري (۲۵۵) مخ.

کولو اراده ولري او ته يې وغواړې هغه به کېږي نبيﷺ ورته وفرمايل (جَعَلْتَنِيْ لِلّٰهِ نِدًّا بَلْ مَاشَاءَ اللهُ وَحْدَهُ) يعني- تا زه د الله تعالی سره شریک وګرځولم بلکي هر هغه شی چي يوازي الله تعالی يې اراده وکړي هغه به کېږي. دا د شاه عبدالعزيز رحمه الله عليه د عبارت خلاصه ده[۱].

## د شرک لفظ بې ځايه استعمالول

زموږ په زمانه کي وهابيان او سلفيان د شرک لفظ ډېر او بې ځايه استعمالوي په مذهب کي دا خل خلګ مشرکين بولي تقليد، توسل، تعويذ، تصوف، تبرک، د يو چا لاس مچول يو چاته د هغه د اکرام په وجه ولاړېدل او داسي نور حرام او شرک بولي حال دا چي دا ټوله د شريعت څخه ثبوت لري دلائل يې په هغو کتابونو کي وګورئ چي خاص په دغسي موضوعاتو کي ليکل سوي دي لکه (البصائر) د مولانا حمدالله جان رحمه الله عليه تأليف او داسي نور. نو دغه کسان د شرک لفظ دومره ډېر او بې ځايه کاروي چي دغسي مشروع کارونو ته هم شرک وايي (نعوذبالله) خو دا کار له دوی څخه ډېر عجيب نه ښکاري ځکه چي د دوی امام او مؤسس محمد بن عبدالوهاب هم دغه کار کاوه راسئ دا خبره له لوی محدث محمد انور شاه کشميري رحمه الله عليه څخه واورئ:

(أَمَّا مُحَمَّدُ بْنُ عَبْدِ الْوَهَّابِ النَّجْدِيُّ فَإِنَّهُ كَانَ رَجُلًا بَلِيْدًا قَلِيْلَ الْعِلْمِ فَكَانَ يَتَسَارَعُ إِلَى الْحُكْمِ بِالْكُفْرِ اه)[۲].

ژباړه: محمد بن عبدالوهاب النجدي يو ناپوه او بې علمه کس وو په کفر سره

---

[۱] د لا زياتو معلوماتو لپاره وګورئ: تفسير عزيزي طبع دهلي (۱۲۶) مخ. نعوذبالله من جميع انواع الشرک.

[۲] فيض الباري لومړی ټوک (۱۷۱) مخ.

حکم کولو ته یې تلوار کاوه.

د دې خلکو همدغه لویه غلطي ده چې خپل ځانونه پر حق بولي قطعا او نور مسلمانان پر باطل بولي قطعاً دا د خوارجو مسلک دی خوارجو هم خپل ځانونه پر حق بلل او د حق خلک حضرت علي رضي الله عنه او د ده ملګري یې پر باطل بلل هغه آیتونه چې د مشرکینو په باره کي نازل سوي دي هغه یې پر دوی ور اړول لکه څنګه چې د حضرت ابن عمر رضي الله عنه څخه نقل راغلی دی:

(وَكَانَ ابْنُ عُمَرَ رضي الله عنه يَرَاهُمْ شِرَارَ خَلْقِ اللهِ وَقَالَ إِنَّهُمُ انْطَلَقُوا إِلَى آيَاتٍ نَزَلَتْ فِي الْكُفَّارِ فَجَعَلُوهَا عَلَى الْمُؤْمِنِينَ)[1].

ژباړه: حضرت ابن عمر رضي الله عنه د الله تعالی په مخلوق کي خوارج ډېر بد خلک بلل او داسي یې فرمایلي دي چې دوی هغو آیتونو ته متوجه سوي چې د کفارو په باره کي نازل سوي او هغه یې پر مسلمانانو باندي ور اړولي دي.

عجیبه خبره خو دا ده چې دا خلک خپلو ځانو ته اهل حدیث هم وایي حال دا چې په صحیح حدیث کي د هغه چا په اړوند چې مسلمان ته د شرک نسبت کوي داسي فیصله راغلې ده:

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنَّ رَسُولَ اللهِ ﷺ قَالَ إِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِأَخِيهِ يَا كَافِرُ فَقَدْ بَاءَ بِهِ أَحَدُهُمَا)[2].

ژباړه: د حضرت ابوهریره رضي الله عنه څخه نقل راغلی دی چې نبي ﷺ وفرمایل کله چې یو کس خپل ورور ته و وایي (ای کافره!) نو یقیناً په دوی کي یوه یې دغه کفر واخیست.

[1] صحیح البخاري دوهم جلد (۱۰۲۴) مخ.
[2] رواه البخاري رقم الحدیث (۶۱۰۳).

يعني په دغو دوو کسانو کي يو کافر دی وجه يې دا ده که چيري د دغه لفظ ويونکی صادق وي نو بيا خو هغه کس چي ده د کفر نسبت ورته وکړ هغه کافر دی او که چيري ويونکی درواغجن وي نو بيا خو ده پر ايمان باندي د کفر فيصله وکړه ځوک چي ايمان کفر وبولي هغه کافر دی دا د امام بخاري رحمه الله عليه تحقيق دی که څه هم نورو علماؤ دغه حديث پر زجر او تغليظ باندي حمل کړی دی[1].

## الله تعالیٰ لره مثل نسته

**۲ :– وَلَاشَيْءَ مِثْلُهُ.**

ژباړه: د الله تعالیٰ په مثل هيڅ شی نسته.

**شرح**– دا جمله او څو را رواني جملې د مخکني جملې لپاره لکه تفصيل داسي ښکاري مطلب يې دا دی چي په عالم کي هيڅ شی نه د الله تعالیٰ د ذات اقدس سره مشابهت لري او نه يې د صفاتو او افعالو سره مشابهت لري د الله تعالیٰ قياس پر هيڅ يو مخلوق نه سي کېدای موږ يوازي دومره خبر يو چي الله تعالیٰ په ټولو کمالاتو سره موصوف دی له هر عيب او نقصان څخه پاک دی.

**دلائل ۱:–** ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ﴾.[الشوریٰ: ۱۱]..

ژباړه: نسته په شان د دغه الله هيڅ ځيز.

۲:– ﴿ وَلَمْ يَكُنْ لَّهُ كُفُوًا اَحَدٌ ﴾.[الاخلاص: ۴].

ژباړه: او نسته دغه الله جل جلاله لره برابر سيال هيڅوک.

[1] والله اعلم. ارشاد الساري شرح صحيح البخاري (۱۰) جلد (۲۸۶) مخ.

۳:- ﴿ فَلَا تَجۡعَلُوۡا لِلّٰهِ اَنۡدَادًا وَّاَنۡتُمۡ تَعۡلَمُوۡنَ ۝ ﴾.[البقرة: ۲۲].

ژباړه: نو مه ګرځوئ د الله تعالی سره شریکان حال دا چي تاسي پوهېږئ چي الله ﷻ شریک نه لري.

ذکر سوې عقیده پر مشبهه ډلي رد دی دا یوه داسي ګمراه ډله ده چي د الله ﷻ تعالی صفات د مخلوق د صفاتو په شان ګڼي همدغه وجه ده چي دوی ته مشبهه، ممثله او مجسمه ویل کېږي دوی وایي الله تعالی لره جسم اندامونه او جهت سته لکه څنګه چي یو باچا پر یو ځانګړي تخت کښېني الله تعالی هم دغسي پر عرش ناست دی (نعوذبالله) د وهابیانو او سلفیانو د کتابونو د مطالعې څخه دا ښکاره معلومېږي چي د دوی همدغه عقیده ده نو د دغي عقیدې پر بناء دوی د مشبهه ډلي څخه بلل کېږي. دوی له هغو نصوصو څخه استدلال کوي چي په هغو کي د (وجه) ذکر سته لکه: ﴿ كُلُّ شَيۡءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجۡهَهٗ ﴾.[القصص: ۸۸]. او د (ید) ذکر سته لکه ﴿ يَدُ اللّٰهِ فَوۡقَ اَيۡدِيۡهِمۡ ﴾.[الفتح: ۱۰]. او د نفس ذکر سته لکه ﴿ تَعۡلَمُ مَا فِيۡ نَفۡسِيۡ وَلَاۤ اَعۡلَمُ مَا فِيۡ نَفۡسِكَ ﴾. [المائدة: ۱۱۶]. او د عین ذکر سته لکه ﴿ وَلِتُصۡنَعَ عَلٰى عَيۡنِيۡ ۝ ﴾. [طه: ۳۹]. او پر عرش د استواء ذکر سته لکه ﴿ اَلرَّحۡمٰنُ عَلَى الۡعَرۡشِ اسۡتَوٰى ۝ ﴾.[طه: ۵]. او د اصابعو ذکر سته لکه په دې حدیث کي: (إِنَّ قُلُوبَ بَنِي آدَمَ كُلَّهَا بَيْنَ إِصْبَعَيْنِ مِنْ أَصَابِعِ الرَّحْمٰنِ الحدیث)[1].

او همدغه شان له هغو نصوصو څخه استدلال کوي چي له هغوی څخه په

[1] صحیح مسلم (۲۶۵۴).

سطحي نظر جهت ورڅخه فهمېږي لكه: ﴿ اِلَيۡهِ يَصۡعَدُ الۡكَلِمُ الطَّيِّبُ ﴾.[فاطر: ۱۰]. او دې ته ورته نور آيتونه او حديثونه دوی وايي له دغسي آيتونو او حديثونو څخه دا ښكاره معلومېږي چي الله تعالی ته د مخلوق په شان جسم، اندامونه، مكان او جهت سته.

جواب: تاسي د مخه هغه تنزيهي آيتونه ولوستل چي ښكاره مطلب يې دا دی چي د الله تعالی په مثل هيڅ شی نسته نه په ذات نه په صفت نه په يو فعل او نه په يو حكم كي اوس نو كه څيري د الله تعالی صفتونه د مخلوق د صفتونو په څير سي لكه څنګه چي مشبهه ډله وايي نو بيا خو مخلوق د الله تعالی مثل سو دا خو په ښكاره ډول د هغو تنزيهي آيتونو څخه انكار دی چي موږ لږ د مخه ذكر كړه، اما كوم صفات چي دوی په استدلال كي ذكر كړي دي هغه خو متشابهات دي د دغسي صفاتو په اړوند د اهل سنت والجماعت عقيده دا ده چي دا دي الله تعالی ته ثابت او تسليم كړل سي پخپله رأيه او قياس كشف او الهام سره دي د دغسي صفاتو د حقيقت معلومولو هڅه او كوښښ نه كېږي يعني اصل صفات الله تعالی ته ثابت دی خو كيفيت (څرنګوالی) يې موږ ته نه دی معلوم دا د ټولو سلفو صالحينو عقيده ده په هم دغه عقيده سره الله تعالی لوی علماء دا سي ستايلي دي:

﴿ وَالرّٰسِخُوۡنَ فِى الۡعِلۡمِ يَقُوۡلُوۡنَ اٰمَنَّا بِهٖ كُلٌّ مِّنۡ عِنۡدِ رَبِّنَا ۚ وَمَا يَذَّكَّرُ اِلَّاۤ اُولُوا الۡاَلۡبَابِ ۝﴾. [آل عمران: ۷].

ژباړه: او هغه كسان چي پاخه دي په علم كي وايي دوی چي ايمان راوړی دی موږ په دې (متشابه چي په معنٰی يې نه پوهېږو په مثل د ايمان زموږ په محكم باندي چي دواړه حق دي).

دا ټول محکم او متشابه له طرفه د رب زموږ دي او پند نه اخلي په دې مګر خو پند اخلي خاوندان د عقلونو.

اما هغه کسان چې د دغسي متشابه صفتونو پلټنه کوي او يوازي د ظاهري معنا پر بناء يې الله تعالی ته ثابتوي لکه مشبهه ډله الله تعالی دغه کسان اهل زيغ يعني د کږې لاري خلک بللي دي الله تعالی داسي فرمايلي دي:

﴿فَأَمَّا الَّذِينَ فِي قُلُوبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُونَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَاءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَاءَ تَأْوِيلِهِ﴾. [آل عمران: ۷].

ژباړه: نو هر څه هغه کسان چې په زړونو د دوی کي کوږوالی دی پس پيروي کوي د هغو کلماتو چې متشابه وي (په معنا يې موږ نه پوهېږو). له دې قرآنه لپاره د طلب د فتنې او ګمراهي او دپاره د طلب د معنا د هغو[1].

همدا شان ملا علي قاري رحمة الله عليه ليکلي دي، امام اعظم ابوحنيفه رحمه الله په کتاب الوصية کي داسي ويلي دي موږ اقرار لرو چې الله تعالی پر عرش استواء لري خو عرش ته محتاج نه دی او نه پر عرش استقرار لري الله تعالی د عرش او نورو شيانو حافظ دی که چيري عرش ته محتاج وای نو به د مخلوق په شان د عالم پر پيدا کولو قادر نه وای همدا شان که الله تعالی د عرش ناستي او قرار ته محتاج سي نو د عرش تر پيدا کېدو دمخه چيري ؤ (فهو منزه عن ذلك علوا كبيرا) همدا راز د امام مالک رحمه الله څخه د استواء اړوند سوال سوی دی ده يې په جواب کي داسي فرمايلي، استواء معلومه ده خو کيف يې

---

[1] د لا زياتو معلوماتو لپاره وګورئ: شرح العقائد (۳۴) مخ، او شرح کتاب الفقه الاکبر للامام علي القاري رحمه الله (۶۶) مخ الی (۷۰).

مجهول دی او سوال یې بدعت دی ایمان ورباندي واجب دی[1].

معتزله ډله یا د مشبهه ډلي په خلاف د الله تعالی څخه هغه صفات نفي کوي چي الله تعالی پخپله خپل ذات په موصوف کړی دی دوی د نصوصو د ښکاره معناؤ نفي کولو او د حقیقت څخه د مجاز خوا ته د ګرځولو دومره بې پروایي کړې ده چي د تعطیل (د الله تعالی څخه د صفاتو نفي کولو) تر حده رسېدلي دي دا کار یې د کوم دلیل له مخي نه دی کړی بلکي صرف په شبهاتو پسي روان دي دوی وایي که چیري الله تعالی ته صفات ثابت سي نو به د مخلوق سره مشابه سي د مثال په ډول مخلوق په علم، قدرت، سمع او اراده سره موصوف دی که چیري دغه صفات الله تعالی ته هم ثابت سي نو به تشبیه راسي (یعني الله تعالی به له مخلوق سره مشابه سي) او الله تعالی خو د تشبیه څخه پاک دی.

جواب: دا خبره حق ده چي الله تعالی د تشبیه څخه پاک دی خو دا عقیده درلودل چي الله تعالی ته د صفاتو ثابتول تشبیه ده جهالت او ضلالت دی الله تعالی په ټولو هغو صفاتو سره موصوف دی چي په قطعي دلائلو ثابت دي خو د الله تعالی صفات د مخلوق د صفاتو په شان نه دي چي تشبیه راسي د مثال په ډول زموږ علم د الله تعالی له طرفه موهوب دی او یوازي په یو څو شیانو د آلاتو او هغو صورتونو په واسطه دی چي زموږ په ذهنونو کي دي او د الله تعالی علم په ټولو شیانو کلیاتو او جزئیاتو ذاتي ازلي او ابدي دی نو د علم اطلاق د الله تعالی پر علم او زموږ پر علم یوازي د لفظي اشتراک په وجه دی نور یې هیڅ مشابهت نسته د علم څخه ماسېوا نور صفتونه هم دغسي دي لکه څنګه چي امام اعظم ابو حنیفه رحمه الله په الفقه الاکبر کي فرمایلي دي: (وصفاته کلها بخلاف

---

[1] شرح الفقه الاکبر (۷۰) مخ.

صفات المخلوقين يعلم لاكعلمنا ويقدر لاكقدرتنا ويرى لاكرؤيتنا ويسمع لاكسمعنا).

ژباړه: د الله تعالى ټوله صفتونه د مخلوق د صفتونو په خلاف دي الله تعالى په علم سره موصوف دی خو داسي نه لکه زموږ علم الله تعالى په قدرت سره موصوف دی خو داسي نه لکه زموږ قدرت الله تعالى په رؤيت (ليدلو) سره موصوف دی خو داسي نه لکه زموږ رؤيت الله تعالى په سمع (اورېدلو) سره موصوف دی خو داسي نه لکه زموږ سمع[1].

د قونوي په شرح کي داسي راغلي دي: (قال نعيم بن حماد من شبه الله بشئ من خلقه فقد كفر ومن انكر ما وصف الله به نفسه فقد كفر).

ژباړه: نعيم بن حماد رحمه الله ويلي دي که چيري يو کس الله تعالى د ده له يو مخلوق سره مشابه کړي نو هغه کس کافر دی او که چيري يو کس د الله تعالى د يو داسي صفت څخه منکر سي چي الله تعالى پخپله خپل ذات اقدس په موصوف کړی وي نو هغه هم کافر دی.

(وقال اسحق بن راهويه من وصف الله فشبه صفاته بصفات احد من خلق الله فهو كافر بالله العظيم)[2].

ژباړه: اسحق بن راهويه رحمه الله ويلي دي هغه څوک چي الله تعالى په صفاتو سره موصوف کړی او صفات يې د يو مخلوق له صفاتو سره مشابه وګرځوي نو دغه کس په الله تعالى سره کافر دی.

(فَسُبْحَانَهُ وَتَعَالَى مِنْ إِلَهٍ لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ الْمُتَعَالِ).

---

[1] تفصيل يې د ملا علي القاري رحمه الله په شرح (۵۷) مخ کي وګورئ.
[2] شرح الفقه الاكبر (۳۲) مخ.

# الله تعالی د عجز څخه پاک دی

## ۳ :- وَلَا شَيْءَ يُعْجِزُهُ.

ژباړه: داسي یو شی نسته چي الله تعالی د خپلي ارادې څخه عاجز کړي.

**شرح**- یعني هیڅ یو شی نه سي کولای چي الله تعالی د خپلي ارادې څخه منع کړي دا که څه هم د الله تعالی یو سلبي صفت دی خو مطلب د الله تعالی د کامل قدرت بیانول دی همدا شان د الله تعالی هر سلبي صفت چي په قرآن کریم یا سنت کي راغلی دی هغه د دغه صفت د ضد د کمال د ثبوت لپاره دی لاندي دوه مثالونه وګورئ:

۱ : ﴿وَلَا يَظْلِمُ رَبُّكَ أَحَدًا﴾. [الكهف: ۴۹].

ژباړه: او نه کوي ظلم رب ستا پر هیچا.

په دې آیت کي د الله تعالی څخه ظلم سلب سوی دی خو په حقیقت کي د الله تعالی د کامل عدل بیانولو لپاره دی.

۲ : ﴿لَا يَعْزُبُ عَنْهُ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ﴾. [سبأ: ۳].

ژباړه: نه پټېږي د الله تعالی څخه په اندازه د یوې ذرې شئ په آسمانونو کي او نه په ځمکه کي.

دا هم د الله تعالی یو سلبي صفت دی مګر د الله تعالی د کامل علم بیانولو لپاره دی.

دلائل ۱ :- ﴿وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُعْجِزَهُ مِنْ شَيْءٍ فِي السَّمٰوٰتِ وَلَا فِي الْأَرْضِ ۚ إِنَّهُ كَانَ عَلِيمًا قَدِيرًا﴾. [فاطر: ۴۴].

ژباړه: او نه دی الله ﷻ داسي چي عاجز يې کړي کوم شئ نه په آسمانونو او نه په ځمکه کي بېشکه چي الله ﷻ دی ښه عالم (په احوالو د مخلوقاتو) ښه قادر (په اجراء د ارادې خپلي).

۲: - ﴿ وَلَا يَـُٔودُهُۥ حِفۡظُهُمَاۚ ﴾. [البقرة: ۲۵۵].

ژباړه: او نه ستومانه کوي الله ساتنه د آسمانونو او ځمکي.

۳: - ﴿ وَلَقَدۡ خَلَقۡنَا ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ وَمَا بَيۡنَهُمَا فِي سِتَّةِ أَيَّامٖ وَمَا مَسَّنَا مِن لُّغُوبٖ ﴾. [ق: ۳۸].

ژباړه: او په تحقيق پيدا کړي دي موږ آسمانونه او ځمکه او هغه نور مخلوقات چي په منځ د دغو آسمانونو او ځمکه کي دي په شپږو ورځو کي او نه وه رسېدلې موږ ته هيڅ ستوماني.

## د توحيد کلمه

### ۴: - وَلَا إِلٰهَ غَيْرُهُ.

ژباړه: د الله تعالیٰ څخه ماسویٰ بل هيڅ د حق معبود نسته.

**شرح**- دا هغه کلمه ده چي د ټولو انبياؤ (عليهم الصلاة والسلام) د دعوت شعار ؤ مطلب يې دا دی لکه څنګه چي د الله تعالیٰ سره د قدرت په صفت کي هيڅ شريک نسته همدغه شان د معبوديت په صفت کي هم ده لره هيڅ شريک نسته په دې کلمه سره د توحيد اثبات د نفي او اثبات په طريقه سره دی چي دا حصر فائده کوي او هر شيطاني احتمال د منځه وړي دلته د حصر معنا دا ده چي د عبادت لائق يوازي الله تعالیٰ دی (وبس) همدغه ته توحيد الالهية ويل کېږي

تفصیل یې په اوله عقیده کې تېر سوی دی هلته یې مطالعه کړئ.

**دلائل۱:-** ﴿ وَاِلٰهُكُمۡ اِلٰهٌ وَّاحِدٌ‌ۚ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا هُوَ الرَّحۡمٰنُ الرَّحِيۡمُ ﴾.[البقرة: ۱۶۳].

ژباړه: او معبود ستاسي معبود یو دی نسته بل څوک لائق د عبادت مګر هم دی خورا ډېر مهربان پوره رحم لرونکی دی.

۲:- ﴿ فَاعۡلَمۡ اَنَّهٗ لَاۤ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ ﴾. [محمد: ۱۹].

ژباړه: نو پوه سه اې مخاطبه! شان دا دی چي نسته هیڅ برحق معبود مګر یوازي الله جل جلاله دی.

دې ته ورته آیتونه ډېر دي، عبدالرحمٰن بن ناصر البراک د دې عقیدې په شرحه کي داسي لیکلي دي کوم کس چي د الله تعالی د ذکر اراده ولري هغه به داسي وایي: (لا اله الاالله- سبحان الله- والحمدلله) اما کوم ذکر چي صوفیه یې په الله الله سره کوي مبتدع (له ځانه څخه جوړ سوی) ذکر دی د لغت عقل او شرعي له مخي باطل دی ځکه چي (الله) مفرد لفظ دی نسبت بنده ته هیڅ حکم نه فائده کوي. نو یوازي په (الله الله) ویلو کي نه ذکر سته او نه ایمان او نه کفر[1].

جواب: (الله) که څه هم ظاهراً مفرد لفظ دی مګر په حقیقت کي مرکب دی (الله) مبتدأ ده خبر یې (معبودي) یا (حسبي) محذوف دی اصلي عبارت داسي دی- الله معبو دی) یا (الله حسبي) د خبر حذف په عربي لغت کي ډېر مشهور دی زه نه پوهېږم چي پر دغه عالم دغسي مشهور شی ولي پټ سو، اوس نو یوازي په (الله) ویلو کي هم ذکر سته او هم ایمان، همدا راز یوازي (الله الله)

[1]شرح العقیدة الطحاویة، تألیف عبدالرحمٰن بن ناصر البراک (۳۶) مخ.

ويل د شرعي څخه هم ثبوت لري.

نبي ﷺ داسي فرمايلي دي: لَا تَقُوْمُ السَّاعَةُ عَلٰى أَحَدٍ يَقُوْلُ (اللهُ اللهُ) [۱].

ژباړه: پر هيڅ يو داسي کس به قيامت رانه سي چي دی (الله الله) وايي.

## الله تعالی ازلي او ابدي دی

**۵: – قَدِيْمٌ بِلَا ابْتِدَاءٍ دَائِمٌ بِلَا انْتِهَاءٍ.**

ژباړه: الله تعالی همېشه ؤ وجود لره يې ابتداء نسته همېشه به وي وجود لره يې پای نسته.

**شرح**– امام طحاوي رحمه الله دمخه څو هغه شيان ذکر کړه چي د هغو څخه د الله تعالی پاکي واجب ده لکه شريک مثل او عجز او س څو هغه شيان ذکر کوي چي الله تعالی ته يې اثبات واجب دی لکه قدم او دوام د الله تعالی په حق کي قدم د ازليت په معنا دی. الله تعالی قديم دی يعني وجود لره يې ابتداء نسته د (بلا ابتداء) له زيادت څخه دغه معنا ښکاره معلومېږي همدغه د قديم اصطلاحي معنا ده د الله تعالی په حق کي قدم د ډېري زمانې د تېرېدلو په معنا نه دی ځکه چي قدم په دغه معنا سره د مخلوقاتو صفت دی لکه په دې آيت کي:

﴿وَالْقَمَرَ قَدَّرْنٰهُ مَنَازِلَ حَتّٰى عَادَ كَالْعُرْجُوْنِ الْقَدِيْمِ﴾. [يس: ۳۹].

ژباړه: او سپوږمۍ ته اندازه کړې دي موږ منزلونه تر هغه پوري چي وګرځي (په نظر کي). لکه زړه وچه څانګه د خرما (چي کلکه کږه ژېړه او نری سي) [۲].

همدا شان دائم په دې معنا نه دی چي ډېره زمانه موجود وي نور نو که ابدي

---

[۱] رواه مسلم، مشکوة دوهم جلد (۴۸۰) مخ.

[۲] المسامرة (۳۴) مخ.

وي او که نه بلکي دائم په دې معنا دی چې وجود لره یې پای نسته دغه معنا هم د (بلا انتهاء) له زیادت څخه ښکاره معلومېږي.

**(دلیل)** ﴿هُوَ الْأَوَّلُ وَالْآخِرُ﴾. [الحدید: ۳].

ژباړه: همدغه الله ﷻ اول دی (له هر شي څخه چې ابتداء نه لري) او آخر دی (له هر شي ځني چې انتهاء نه لري). د دې آیت تفسیر په لاندي حدیث کي وګورئ:

(اَللّٰهُمَّ أَنْتَ الْأَوَّلُ فَلَيْسَ قَبْلَكَ شَيْءٌ وَأَنْتَ الْآخِرُ فَلَيْسَ بَعْدَكَ شَيْءٌ)[1].

ژباړه: ای الله ته تر ټولو شیانو اول یې چې ترتا دمخه هیڅ شی نه ؤ او ته تر ټولو شیانو آخر یې چې ترتا وروسته به شی نه وي. یعني ستا وجود لره نه شروع سته او نه پای.

نو د امام طحاوي رحمه الله دا قول (قدیم بلا ابتداء) د الله تعالی د دې اسم (الاول) معنا ده او (دائم بلا انتهاء) د الله تعالی د دې بل اسم (الآخر) معنا ده. هُوَاللهُ الْمُسْتَعَانُ.

## د الله تعالی ذات نه فاني کېږي

### ۶: – لَا يَفْنٰى وَلَا يَبِيْدُ.

ژباړه: د الله تعالی ذات نه فاني کېږي او نه هلاکېږي.

**شرح**– یعني د الله تعالی ذات نه پخپله بیله سببه فاني کېږي او نه ده لره یو داسي سبب سته چې د هغه په ذریعه سره هلاک سي.

---

[1] صحیح مسلم: ۲۷۱۳.

**دلائل** ۱:- ﴿ كُلُّ مَنْ عَلَيْهَا فَانٍ ۝ وَّيَبْقٰى وَجْهُ رَبِّكَ ذُو الْجَلٰلِ وَالْاِكْرَامِ ۝ ﴾.
[الرحمٰن: ۲۶، ۲۷].

ژباړه: ټول هغه څوک چې په دې ځمکه کې دي فاني کېدونکي دي او باقي به پاته سي ذات د رب ستا چې خاوند د لويي او عزت ورکولو دی.

۲:- ﴿ كُلُّ شَيْءٍ هَالِكٌ اِلَّا وَجْهَهٗ ۝ ﴾. [القصص: ۸۸].

ژباړه: هر شی فاني کېدونکی دی مګر ذات د ده (چې تل باقي دی).

د امام طحاوي رحمه الله ذکر سوی قول د دمخه قول (دائم بلا انتهاء) لپاره تاکید دی.

# اراده د الله تعالی ازلي صفت دی

## ۷:- وَلَا يَكُوْنُ اِلَّا مَا يُرِيْدُ.

ژباړه: هیڅ شی نه سي پیدا کېدای مګر هغه شی چې الله تعالی یې د پیدا کولو اراده وکړي.

**شرح**- اراده او مشیت د الله تعالی یو داسې ذاتي او ازلي صفت دی چې په هغه سره په یو خاص وخت کې د یو شي د کولو یا نه کولو طرفته ترجیح ورکول کېږي حال دا چې قدرت یې ټولو موجوداتو ته یو شان دی دغې ارادې ته اراده کونیه ویل کېږي یعني هغه اراده چې د مخلوق تر ایجاد (پیدا کولو) پوري تعلق نیسي، د ذکر سوي جملې څخه مطلب دا دی چې په عالم کې هیڅ شی د الله تعالی د ارادې او تقدیر څخه وتلی نه دی یعني هغه شیان چې دمخه پیدا سوي دي او یا وروسته پیدا کېږي د دې ټولو الله تعالی په ازل کې پخپلو وختونو کې

د پیدا کولو اراده کړې ده او هر شي ته يې اندازه معلومه کړې ده چې دې ته تقدير ويل کېږي همدا راز ټوله شيان د الله تعالى مخلوق دى الله تعالى يې خالق دى بل څوک خالق نه سي کېدلاى د دې عقيدې د اثبات لپاره چې ټوله شيان د الله تعالى په اراده دي لاندي څو آيتونه د مثال په ډول وګورئ:

۱: ﴿وَمَا تَشَآءُونَ إِلَّآ أَن يَشَآءَ ٱللَّهُ رَبُّ ٱلۡعَٰلَمِينَ﴾. [التكوير: ۲۹].

ژباړه: او نه سئ اراده کولاى تاسي مګر د هغه چې اراده وفرمايي الله ﷻ (د ارادې ستاسي) چې رب د ټولو عالميانو دى.

د دې آيت څخه دا ښکاره معلومه سوه چې بنده د الله تعالى د ارادې څخه ماسېوىٰ د يو شي اراده هم نه سي کولاى نو د الله تعالى د ارادې څخه پرته يو کار خو بېخي نه سي کولاى.

۲: - ﴿كَذَٰلِكَ ٱللَّهُ يَفۡعَلُ مَا يَشَآءُ﴾. [آل عمران: ۴۰].

ژباړه: همدا رنګه (خلاف العادة) الله ﷻ کوي هغه کار چې اراده يې وکړي.

۳: - ﴿فَعَّالٞ لِّمَا يُرِيدُ﴾. [البروج: ۱۶].

ژباړه: ډېر ښه کونکى دى د هر هغه شي چې اراده يې وفرمايي.

۴: - ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يَحۡكُمُ مَا يُرِيدُ﴾. [المائدة: ۱].

ژباړه: بېشکه الله ﷻ حکم کوي د هر هغه څه چې اراده يې وفرمايي.

۵: - ﴿وَأَنَّ ٱللَّهَ يَهۡدِي مَن يُرِيدُ﴾. [الحج: ۱۶].

ژباړه: او بېشکه چې الله سمه لاره ښيي هر هغه چاته چې اراده وکړي د هغه د هدايت.

۶: - ﴿وَلَوۡ شَآءَ ٱللَّهُ لَجَعَلَكُمۡ أُمَّةٗ وَٰحِدَةٗ وَلَٰكِن يُضِلُّ مَن يَشَآءُ وَيَهۡدِي مَن يَشَآءُ﴾.
[النحل: ۹۳].

ژباړه: او که اراده فرمايلې واى الله ﷻ نو خامخا ګرځولي به يې واى تاسي يو امت لېکن الله ﷻ ګمراه کوي هر هغه څوک چي اراده وکړي د ضلالت يې او پر لاره د حق برابروي هر هغه څوک چي اراده وفرمايي د هدايت يې.

۷:- ﴿فَمَنْ يُّرِدِاللهُ اَنْ يَّهْدِيَهٗ يَشْرَحْ صَدْرَهٗ لِلْاِسْلَامِۚ وَمَنْ يُّرِدْ اَنْ يُّضِلَّهٗ يَجْعَلْ صَدْرَهٗ ضَيِّقًا حَرَجًا كَاَنَّمَا يَصَّعَّدُ فِي السَّمَآءِؕ﴾. [الانعام: ۱۲۵].

ژباړه: پس هر هغه چي اراده وفرمايي الله ﷻ چي هدايت وکړي ده ته نو پراخوي سينه د ده لپاره د قبلولو د اسلام او هر هغه چي اراده وفرمايي الله د ګمراه کولو د هغه نو ګرځوي الله ﷻ زړه د ده تنګ نهايت تنګ ګواکي پورته درومي دى په زحمت سره آسمان ته.

ذکر سوي آيتونه په ښکاره ډول د دې شاهدي ورکوي چي هيڅ يو شی خير وي که شر د الله تعالی له ارادې څخه وتلی نه دی بلکي ټوله شيان د ده په اراده کونيه سره دي د امام طحاوي رحمه الله هم په ذکر سوي عقيده کي له ارادې څخه همدغه اراده کونيه مراد ده.

# اراده کونيه او اراده شرعيه

د ارادې کونيې په اړوند مو تحقيق ولوستی اوس د ارادې شرعيې په اړوند څه بيان وګورئ:

اراده شرعيه د رضا او محبت په معنا ده لکه څنګه چي په قرآن کريم کي الله تعالی ته د ارادې کونيې نسبت سوی همدغه شان الله تعالی ته د ارادې شرعيې نسبت هم سوی دی د دې لپاره هم څو لاندې شواهد وګورئ:

۱:- ﴿تُرِيْدُوْنَ عَرَضَ الدُّنْيَاۖ وَاللهُ يُرِيْدُ الْاٰخِرَةَؕ﴾. [الانفال: ۶۷].

ژباړه: اراده کوئ تاسي ای مؤمنانو! اسباب د دنیا او الله ﷻ اراده لري تاسي لره ثواب د آخرت. یعني الله تعالی ستاسي لپاره د آخرت ثواب خوښوي.

۲:- ﴿ یُرِیۡدُ اللّٰہُ بِکُمُ الۡیُسۡرَ وَلَا یُرِیۡدُ بِکُمُ الۡعُسۡرَ ﴾. [البقرة: ۱۸۵].

ژباړه: اراده لري الله ﷻ په تاسي د آسانتیا او اراده نه لري په تاسي باندي د سختي. یعني الله تعالی ستاسي لپاره آسانتیا خوښوي په تاسي باندي سختي نه خوښوي.

۳:- ﴿ وَاللّٰہُ یُرِیۡدُ اَنۡ یَّتُوۡبَ عَلَیۡکُمۡ ﴾. [النساء: ۲۷].

ژباړه: او الله ﷻ اراده لري چي رجوع وکړي په رحمت سره پر تاسي، یعني الله تعالی پر تاسي رحمت کول خوښوي.

## د ارادې کونیې او ارادې شرعیې څه فرق دی

د ارادې کونیې او ارادې شرعیې په منځ کي دوه لاندي فرقونه وګورئ:

اول:- اراده کونیه د الله تعالی یو داسي صفت دی چي ټولو شیانو ته عام دی که د الله تعالی خوښ وي لکه ایمان او طاعت او که یې خوښ نه وي لکه کفر او معصیت یعني هیڅ یو شی د الله تعالی د ارادې کونیې څخه وتلی نه دی. اما اراده شرعیه چي ده هغه یوازي تر هغو شیانو پوري خاصه ده چي د الله تعالی خوښ وي تر هغو شیانو پوري تعلق نه لري چي د الله تعالی خوښ نه وي. لکه څنګه چي امام ابوحنیفه رحمه الله په (الفقه الاکبر) کي فرمایلي د بندګانو ټوله افعال د الله تعالی په مشیت (اراده کونیه) علم، قضاء او قدر سره دي او د بنده ګانو ټوله طاعتونه د الله تعالی په امر محبت، رضا، علم، مشیت، قضاء او تقدیر سره دي. اما د بنده ګانو ګناهونه د الله تعالی په علم، قضا، تقدیر او

مشيت سره دي خو په محبت رضا او امر سره يې نه دي ځکه چي الله تعالى فرمايلي: ﴿ وَاللّٰهُ لَا يُحِبُّ الظّٰلِمِيْنَ ○ ﴾. [آل عمران: ٥٧]. ژباړه: او الله نه خوښوي ظالمان. ﴿ وَلَا يَرْضٰى لِعِبَادِهِ الْكُفْرَ ﴾. [الزمر: ٧]. ژباړه: او نه خوښوي الله دپاره د بندګانو خپلو کفر. ﴿ قُلْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يَاْمُرُ بِالْفَحْشَآءِ ﴾. [الاعراف: ٢٨]. ژباړه: و وايه اې محمده! دوی ته چي بېشکه الله نه کوي امر په ناکاره کارونو سره[1].

دوهم:- د ارادې کونيې سره خپل مراد د همېشه لپاره لازم دی يعني هر هغه شی چي الله تعالى يې د پيدا کولو اراده کړې وي هغه به خامخا پيدا کېږي، او د ارادې شرعيې سره خپل مراد لازم نه دی د مثال په ډول هغه بدبخته کس چي پر کفر مړ وي لکه ابوجهل ايمان يې د الله تعالى مراد ؤ لېکن يوازي په اراده شرعيه سره خو ايمان يې نه دی راوړی په دې ځای کي اراده شرعيه سته او مراد يې نسته. او د کافر کفر همدا شان د ګنهکاره کس معصيت هم د الله تعالى مراد دی لېکن يوازي په اراده کونيه سره همدغه وجه ده چي کافر په کفر او ګنهکار په ګناه کي روان دی ځکه چي دلته اراده کونيه تعلق لري د ارادې کونيې څخه خو خپل مراد نه جلا کېږي. او د مسلمان ايمان او طاعت بيا د الله تعالى هم په اراده کونيه سره مراد دی او هم په اراده شرعيه سره نو دلته هم اراده او مراد دواړه سته.

## د تقدير مسئله

د دې خبري د اثبات لپاره چي ټوله شيان خير دي که شر د الله تعالى په قضا او قدر سره دي چي دا دواړه پر راجح قول د ازلي تقدير په معنا دي لاندي څو دلائل

[1] شرح الفقه الاکبر (٩۴) مخ.

وګورئ:

۱:- ﴿قُلۡ كُلࣱّ مِّنۡ عِندِ ٱللَّهِ﴾. [النساء: ۷۸].

ژباړه: و وایه ای محمده! دوی ته دا ټول خیر او شر له جانبه د الله دي. (یعني د ټولو شیانو خیر او شر خالق الله دی او د ده په تقدیر او تدبیر دي).

۲:- ﴿إِنَّا كُلَّ شَيۡءٍ خَلَقۡنَٰهُ بِقَدَرࣲ﴾. [القمر: ۴۹].

ژباړه: بېشکه موږ هر شی پیدا کړی مو دي په (ړومبنی ازلي) اندازه سره.

۳:- ﴿وَكُلُّ صَغِيرࣲ وَكَبِيرࣲ مُّسۡتَطَرٌ﴾. [القمر: ۵۳].

ژباړه: او هر وړوکی او لوی عمل (که خیر وي که شر) لیکل سوی دی (په لوح محفوظ کي).

همدا شان په یو حدیث کي چي امام بخاري رحمه الله او امام مسلم رحمه الله یې دواړو روایت کړی دی داسي راغلي دي چي جبرئیل علیه السلام د نبي ﷺ څخه د ایمان په اړه سوال وکئ نو نبي ﷺ یې په جواب کي داسي وفرمایل: (أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ)[1].

ژباړه: ایمان دا دی چي ته په الله جل جلاله او د الله جل جلاله په ملائکو او د الله جل جلاله په رالیږل سوو کتابونو او د الله جل جلاله په رسولانو او په آخره ورځ باندي ایمان ولرې او په دغه هم ایمان ولرې چي خیر او شر د الله تعالی په تقدیر دي.

حضرت علي رضي الله عنه د وترو په دعاء کي د نبي ﷺ څخه داسي روایت کړی دی (وَقِنِي شَرَّ مَا قَضَيْتَ)[2].

ژباړه: ای الله! ما د هغه شي د شر څخه وساته چي تا قضا وباندي کړې ده.

---

[1] مشکوة اول جلد (۱۱) مخ.

[2] اخرجه ابوداؤد ۱۴۲۵، والنسائی ۱۷۴۶، والترمذي ۴۶۴، وصححه ابن خزیمة ۱۰۹۵.

له دغه حديث څخه دا خبره هم معلومه سوه چي د الله تعالىٰ قضاء ته د شر نسبت جائز دی يعني د شريعت له مخي دا ويل جائز دي چي شر د الله تعالىٰ په قضا سره دی، په دې باره کي آيتونه او حديثونه ډېر دي خو کوم ايتونه او حديثونه چي موږ يې يادونه وکړه هغه کفايت کوي.

لکه څنګه چي ټوله شيان د الله تعالىٰ په تقدير دي همدغه شان د الله تعالىٰ مخلوق هم دی الله تعالىٰ يې خالق دی بل خالق نسته د دې لپاره هم څو دليلونه وګورئ:

۱: - ﴿قُلِ اللّٰهُ خَالِقُ كُلِّ شَيْءٍ وَّهُوَ الْوَاحِدُ الْقَهَّارُ○﴾. [الرعد: ۱۶].

ژباړه: و وايه (ای محمده! دوی ته) خاص الله پيدا کونکی د هر څيز دی او هم دی يو قوي غالب پر هر څيز او هر چا دی.

۲: - ﴿هَلْ مِنْ خَالِقٍ غَيْرُ اللّٰهِ﴾. [فاطر: ۳].

ژباړه: آيا شته بل کوم پيدا کونکی بېله الله (بلکي نسته).

۳: - ﴿وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُوْنَ○﴾. [والصفٰت: ۹۶].

ژباړه: حال دا چي الله پيدا کړي يې تاسي او هغه عمل چي کوئ يې تاسي.

د ذکر سوو آيتونو او حديثونو څخه دا ښکاره معلومېږي چي ټوله شيان که په دنيا کي دی که په آخرت کي کوچني دی که لوی، لږ دي که ډېر، خير دي که شر، همدا شان هر هغه څه چي خلګ يې کوي او چي پر دوی باندي تېرېږي ښه دی که بد ګڼه ده که تاوان ايمان دی که کفر طاعت دی که عصيان حتىٰ هغه خبري چي خلګ يې کوي دا ټوله د الله تعالىٰ په علم اراده تقدير او خلق سره دي او په لوح محفوظ کي ليکل سوي دي که چيري ټوله خلګ پر دې کار باندي اتفاق وکړي چي له الله تعالىٰ د ارادې څخه پرته په عالم کي يوې ذرې ته حرکت ورکړي يا يې ودروي دا کار به دوی هيڅکله ونه کړي همدغه د اهل سنت والجماعت عقيده ده.

# د تقدير مسئله د معتزله ؤ په آند

د تقدير په مسئله کي معتزله چي قدريه هم ورته ويل کېږي اختلاف لري دوی دا گمان کوي چي د خير او شر تقدير نسته د بنده افعال د الله ﷻ په اراده نه دي او نه د الله ﷻ مخلوق دي بلکي بنده د خپلو افعالو خالق دی دوی د دې خبري د اثبات لپاره چي شر د الله ﷻ په تقدير او خلق سره نه دی بلکي بنده يې خالق دی دا آيت ذکر کړی دی:

﴿ مَآ اَصَابَكَ مِنۡ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ‌ۚ وَمَآ اَصَابَكَ مِنۡ سَيِّئَةٍ فَمِنۡ نَّفۡسِكَ‌ؕ ﴾.[النساء: ۷۹].

جواب: د دې آيت معنا دا ده هر هغه شی چي ورسېږي تاته ای انسانه! له نېکي څخه نو هغه د الله تعالی د فضل او احسان څخه وګڼه او هر هغه شی چي ورسېږي تاته له بدي څخه، نو هغه د خپلو عملونو له شأمته وبوله. يعني د هغې ګناه لکبله چي تا يې کسب کړی دی تاته دغه بدي رسېدلې ده.

دا يې معنا نه ده چي بدي پخپله بنده پيدا کوي ځکه چي هغه آيتونه مو لږ دمخه ولوستل چي په هغو کي د ټولو شيانو خالق يوازي الله تعالی بلل سوی دی. د دې تفسير تائيد له دې آيت څخه واورئ:

﴿ وَمَآ اَصَابَكُمۡ مِّنۡ مُّصِيۡبَةٍ فَبِمَا كَسَبَتۡ اَيۡدِيۡكُمۡ ﴾.[الشورى: ۳۰].

ژباړه: او هغه څه چي رسېږي تاسي ته له کوم مصيبته پس له شامته د هغو اعمالو دی چي کړي دي لاسونو ستاسي.

معتزله ډلي ته تعجب دی چي دوی د ذکر سوي آيت د دې برخي ﴿ وَمَآ اَصَابَكَ

مِنۡ سَيِّئَةٍ فَمِنۡ نَّفۡسِكَ ﴾ تفسیر داسي کوي: کومه بدي چي تاته ورسېږي هغه ستا مخلوق دی.

او بیا یې د دې عقیدې لپاره چي بنده د خپلو بدو افعالو خالق دی دلیل ګرځوي اوس نو د دوی د دغه تفسیر پر بنا د آیت د دې برخي ﴿ مَآ اَصَابَكَ مِنۡ حَسَنَةٍ فَمِنَ اللّٰهِ ﴾.

معنا دا ده چي تاته کومه نېکي ورسېږي هغه د الله تعالی مخلوق دی.

حال دا چي د دوی په آند بنده د خپلو ټولو افعالو نېک وي که بد خالق دی. نو بیا خو دا آیت د دوی لپاره دلیل نه بلکي پر دوی باندي حجت سو[1].

معتزله ډله په ټولو اختلافي مسائلو کي له قرآن او سنت څخه کوم ښکاره دلیل نه لري دوی د خپلو فاسدو تأویلاتو او فکري شبهاتو پر بنا صریح آیتونه او حدیثونه شاته غورځوي لکه څنګه چي په دې مسئله کي تاسي ولیدل.

## د معتزلهؤ له خوا څو شبهات او د هغو جوابونه

**اوله شبهه**:- د بنده بد افعال د الله تعالی په اراده او تخلیق سره نه دي ځکه چي د بد شي اراده او تخلیق خو بد دی؟

جواب: کوم آیتونه او حدیثونه چي مخکي یې یادونه وسوه د هغوی څخه دا ښکاره ثابتېږي چي ټوله شیان خیر دي که شر د الله تعالی په اراده تقدیر او تخلیق سره دي نو تردې وروسته دغسي شبهات که د شیطان لخوا نه دي نو څه دي د الله تعالی څخه پخپلو کارونو کي سوال نه کېږي.

﴿ لا یُسۡـَٔلُ عَمَّا یَفۡعَلُ وَهُمۡ یُسۡـَٔلُوۡنَ ۝﴾. [الانبیاء: ٢٣].

---

[1] المعتمد فی المعتقد (٥٠) مخ.

ژباړه: سوال نه کېږي د الله څخه د هغو شیانو چي کوي يې او له دوی څخه سوال کيږي.

(د دوی د افعالو احوالو او اقوالو).

که چيري معتزله ؤ ته و ویل سي چي شیطان شر دی که نه؟ دوی به ضرور و وايي چي شر دی، بیا چي دا سوال ورڅخه وسي چي شیطان چا پیدا کړی دی دوی به ضرور و وايي چي الله پیدا کړی دی نو بیا خو کومه شبهه چي دوی د بنده د بدو افعالو په باره کي درلوده هغه دلته هم سته نو بیا يې ولي دا اقرار وکئ چي شیطان د الله ﷻ مخلوق دی. خو د اصلي شبهي څخه علامه تفتازاني رحمه الله علیه داسي جواب ورکړی دی.

د بد شي اراده او تخلیق بد نه دی بلکي د بد شي کسب او هغه د ځان لپار صفت ګرځول بد دی یعني خلق او اتصاف فرق لري خلق که د خیر وي که د شر کمال دی اما په شر سره اتصاف یعني خپل ځان په شر سره موصوف ګرځول چي دا د بنده کار دی بد دی د مثال په ډول که یو کس بیت الخلاء ته ورسي او خپل ځان په نجاست ولړي نو دا يې بد کار دی او که چیري بناء (آبادي جوړونکی) په یو قصر "ماڼۍ" کي د نورو ځایونو ترڅنګ د قضاء حاجت لپاره بیت الخلاء هم جوړه کړي نو دا خو د ده نقصان نه بلکي کمال يې دی[1].

**دوهمه شبهه:** - که چیري کفر د الله تعالی په قضاء او قدر سره وي نو بیا خو په کفر سره رضا واجب ده ځکه چي په قضا سره رضا واجب ده حال دا چي په کفر سره رضا کفر دی؟

جواب: کفر لره دوه اعتباره دي یو اعتبار يې دا دی چي الله تعالی د خپل حکمت سره سم پیدا کړی دی او د ده په قضاء او ازلي اراده سره دی په دې

[1] شرح العقائد - ۶۳ مخ.

اعتبار باید رضا وي که نه نو د الله تعالی پر قضاء او اراده به اعتراض راسي دا خو هيڅ مسلمان نه قبلوي.

بل اعتبار يې دا دی چي کفر د خپل ذات په حيث واخيستل سي يا په دې حيث واخيستل سي چي د يو کس لپاره د ده پخپل اختيار او کسب سره صفت جوړېږي په دغه اعتبار سره کفر بد دی او رضا يې کفر دی[1].

**دريمه شبهه:-** که چيري د بنده افعال د الله تعالی په تقدير او تخليق سره سي نو بيا خو چي بنده څه کوي په هغه کي مجبور سو کافر په کفر، فاسق په فسق کي مجبور سو بيا خو په ايمان او طاعت سره د دوی تکليف صحيح نه دی او نه دوی ته پر کفر او فسق عذاب ورکول جائز دی؟

جواب: دا خو د جبريه ډلي مذهب دی چي بنده پخپلو کارونو کي مجبور دی ده ته هيڅ قسم قدرت او اختيار نسته د ده حرکات او سکنات د درختي او ډبري د حرکاتو او سکناتو په شان دی. دا مذهب د نقل او عقل دواړو په خلاف دی دا خبره حق ده چي ټوله شيان د الله تعالی په اراده تقدير او تخليق سره دی خو له دې څخه دا نه لازمېږي چي بنده ته هيڅ قدرت او اختيار نسته او دی پخپلو ټولو کارونو کي مجبور دی بلکي الله تعالی بنده ته هم څه اختيار او قدرت ورکړی دی خو دغه اختيار يې مستقل نه دی لکه څنګه چي معتزله وايي بلکي غير مستقل دی يعني د الله تعالی په اراده سره دی دغه اختيار ته د شريعت په اصطلاح کي کسب او عمل ويل کېږي نو بنده چي کوم افعال کوي د هغوی خالق الله جل جلاله دی بنده يې کاسب فاعل او عامل دی د جزاء او سزاء مرتب کېدلو لپاره همدغه کسب کافي دی.

د دې خبري د اثبات لپاره چي بنده ته اختيار او اراده سته لاندي څو دليلونه

---

[1] شرح العقائد – ۶۲ مخ.

وګورئ:

١:- ﴿وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ رَبُّ الْعٰلَمِيْنَ ۝﴾.[التكوير: ٢٩].

ژباړه: نه سي اراده کولای تاسي مګر هغه چي اراده وفرمايي الله چي رب د عالميانو دی.

له دې آيت څخه دا ښکاره معلومېږي چي بنده ته ميشت او اراده سته خو د الله تعالی تر ارادې او ميشت لاندي.

٢:- الله تعالی په قرآن کريم کي خلق خپل لوري ته او عمل يې د بندګانو لوري ته منسوب کړی دی لکه په دې آيت کي:

﴿وَاللّٰهُ خَلَقَكُمْ وَمَا تَعْمَلُوْنَ۝﴾.[والصفت: ٩٦].

د دې آيت هم ښکاره مفهوم دا دی چي د بندګانو او د دوی د افعالو الله تعالی خالق دی مګر بنده ته يې هم څه ناڅه قدرت او اختيار ورکړی دی چي په هغه سره بنده کولای سي چي خپل کارونه وکړي.

٣:- نبي ﷺ د اهل بدر په باره کي داسي فرمايلي دي:

(لَعَلَّ اللهَ اطَّلَعَ إِلَى أَهْلِ بَدْرٍ فَقَالَ اعْمَلُوْا مَا شِئْتُمْ فَقَدْ وَجَبَتْ لَكُمُ الْجَنَّةُ)[1].

ژباړه- يقينا الله تعالی د اهل بدر په احوالو خبر دی نو يې د دوی په باره کي داسي فرمايلي دي تاسو هغه کارونه وکړئ چي خوښ مو وي بېله شکه تاسي ته جنت واجب سوی دی.

له دې حديث څخه هم دا ښکاره معلومېږي چي بنده ته اراده سته. همدا شان هر کس پوهېږي چي زما حرکات د ډبري په شان نه دي د ډبري حرکت غير اختياري دی او زما حرکت اختياري دی نو چي کله دا ثابته سوه چي بنده ته

---

[1] صحيح البخاري دوهم جلد (٥٦٧) مخ. رقم الحديث (٣٩٨٣).

اختيار او اراده سته نو بنده پخپلو کارونو کي مجبور نه دی بلکي هر کار پخپل اختيار سره کوي همدا راز د کافر او فاسق تکليف په ايمان او طاعت سره صحيح دی او هم ده ته پر کفر او فسق عذاب ورکول جائز دی لنډه دا چي بنده پخپلو افعالو کي نه صرف مجبور دی لکه څنګه چي جبريه ډله وايي او نه مستقل فاعل دی لکه څنګه چي قدريه ډله وايي بلکي د قدر او جبر په منځ کي دی يعني ده ته پخپلو کارونو کي د کسب (عمل کولو) قدرت او اختيار سته دغه قدرت ته په اصطلاح کي قدرت کاسبه ويل کېږي همدغه د اهل سنت والجماعت عقيده ده.

**څلورمه شبهه**:- که چيري د بندګانو افعال د الله تعالی مخلوق او د بندګانو په کسب سره سي نو بيا خو يو فعل دوو فاعلانو ته منسوب سو دا کار خو د سره ممکن نه دی.

جواب: الله تعالی ته د بندګانو د افعالو نسبت په دې معنا دی چي د الله تعالی مخلوقات دي او بندګانو ته يې نسبت په دې معنا دی چي د دوی په کسب سره دي د يوه شي نسبت دوو فاعلانو ته په جلا معناوو سره روا دی لکه څنګه چي الله تعالی د خلګو د مرګ نسبت خپل ذات ته کړی او هم يې ملائيکو ته کړی، خپل ذات ته يې په دې وجه نسبت کړی دی چي دی يې خالق دی او د ده په تقدير او تدبير سره دی او ملائيکو ته يې په دې وجه نسبت کړی چي دوی يې روح قبضوي همدا شان د يو کس نسبت الله تعالی ته په دې وجه کېږي چي د ده مخلوق دی او مور او پلار ته يې بيا له دې کبله نسبت کېږي چي د دوی په کسب سره دی. دا يو ښکاره حقيقت دی چي هيڅ يو داسي څوک چي متعصب يا جاهل نه وي انکار نه سي ورڅخه کولای[1].

---

[1] المعتمد فی المعتقد. (۵۴ مخ).

## د الله تعالى ذات ته د چا عقل نه سي رسېدلای

**٨ : - لَا تَبْلُغُهُ الْأَوْهَامُ وَلَا تُدْرِكُهُ الْأَفْهَامُ .**

ژباړه: د الله تعالى ذات ته د خلكو ګمانونه نه سي رسېدلای او نه د الله تعالى پر ذات د خلګو عقلونه احاطه کولای سي.

**شرح** - يعني بنده ګان نه سي كولای چي د الله تعالى د ذات حقيقت ته په عقل وهم يا تخيل سره ورسېږي د الله تعالى د پېژندلو ذريعه يوازي د الله تعالى صفات، افعال او د انبياؤ عليهم السلام تعليمات دي.

(**دلائل**) ١ : - ﴿لَا تُدْرِكُهُ الْأَبْصَارُ﴾. [الانعام: ١٠٣].

ژباړه: او احاطه نشي كولای پر الله ستر ګي.

٢ : - ﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِهِ عِلْمًا ○﴾. [طه: ١١٠].

ژباړه: او نه شي احاطه كولای دوی په ذات او معلوماتو د دغه الله ﷻ له جهته د علم.

٣ : - ﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِشَيْءٍ مِّنْ عِلْمِهِ إِلَّا بِمَا شَآءَ﴾. [البقرة: ٢٥٥].

ژباړه: او نه شي احاطه كولای دوی په هيڅ شي له معلوماتو د ده مګر احاطه كولای سي په هغه شي چي اراده وكړي الله ﷻ د هغه شي د معلومولو دوی لره.

# الله تعالی د مخلوق سره هيڅ مشابهت نه لري

**٩ :- وَلَا يُشْبِهُ الأَنَامَ .**

ژباړه: الله تعالی د مخلوق سره هيڅ مشابهت نه لري.

**شرح**- دا عقيده فرض ده چي الله تعالی د دوه ډوله تشبيه څخه پاک دی:

١ : د مخلوق تشبيه له خالق سره.

يعني د خالق صفتونه مخلوق ته ثابتول لکه څنګه چي مشرکانو خپل معبودان له خالق سره په الوهيت کي مشابه ګرځولي دي د دغه تشبيه نفي امام طحاوي رحمه الله په مخکنی جمله (ولاشئ مثله) سره کړې دی.

٢ : د خالق تشبيه له مخلوق سره.

يعني د مخلوق صفتونه خالق ته ثابتول لکه څنګه چي مشبهه ډله الله تعالی ته جسميت جهت او مکان ثابتوي امام طحاوي رحمه الله دا عقيده د دغي تشبيه د نفي لپاره ذکر کړې ده که څه هم د دغي تشبيه نفي په مخکنی جمله سره هم سوې ځکه چي د اولي تشبيه له نفي سره د دوهمي تشبيه نفي لازمي دی لېکن هغه نفي ضمني دي اما په دې جمله کي دا نفي صريحي "ښکاره" دی د همدغي فائدي لپاره امام طحاوي رحمه الله دغه جمله راوړې ده نو په دې عقيده کي پر مشبهه ډلي ښکاره رد دی تفصيل يې په دوهمه عقيده کي وګورئ.

**(دلائل)** ١:- ﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۚ وَهُوَ السَّمِيعُ الْبَصِيرُ﴾. [الشورى: ١١].

ژباړه: نسته په شان د دغه الله جل جلاله هيڅ شی او همدغه الله جل جلاله دی ښه اورېدونکی ښه ليدونکی.

٢ :- ﴿سُبْحَانَهُ وَتَعَالَىٰ عَمَّا يَصِفُونَ﴾. [الانعام: ١٠٠].

ژباړه: پاکي ده الله ﷻ لره له ګردو عیبونو او ډېر پورته دی شان د ده له هغو بدو خبرو چي بیانوي یې ورته دوی.

٣: - ﴿ وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ ﴾. [الاخلاص: ۴].

ژباړه: او نسته دغه الله ﷻ لره برابر سیال هیڅوک.

## الله تعالیٰ حَیّ او قَیُّوم دی

١٠: - حَيٌّ لَايَمُوتُ قَيُّومٌ لَايَنَامُ.

ژباړه: الله تعالیٰ همېشه ژوندی دی هیڅکله مرګ نه ورته راځي او قائم کامل تدبیر والا دی هیڅکله خوب نه ورته راځي.

**شرح**- امام طحاوي رحمه الله په مخکنی عقیده کي د تشبیه نفي وکړې اوس یې هغو شیانو ته اشاره کړې چي په هغو سره د الله تعالیٰ او مخلوق فرق کېږي د هغو شیانو له جملې څخه د (حي لایموت) صفت دی دا صفت یوازي تر الله تعالیٰ پوري خاص دی ځکه چي ابدي حیات یوازي الله ﷻ لره دی مخلوق ته خو مرګ راځي همدا شان د (قیوم لاینام) صفت هم یوازي تر الله تعالیٰ پوري خاص دی ځکه چي مخلوق ته خو خوب ورځي په دې عقیده کي دې طرفته هم اشاره ده چي د تشبیه د نفي څخه د صفاتو نفي مطلوب نه دی لکه څنګه چي معتزله وایي بلکي الله تعالیٰ په ټولو کمالیه صفتونو سره موصوف دی تفصیل یې په دوهمه عقیده کي وګورئ.

(الحي) او (القیوم) چي د الله تعالي له نهه نیوي(٩٩) نومونو څخه دي د قرآن کریم په درو سورتونو کي دواړه یو ځای سره ذکر سوي دي:

١: - ﴿ ٱللَّهُ لَآ إِلَٰهَ إِلَّا هُوَ ٱلۡحَيُّ ٱلۡقَيُّومُۚ لَا تَأۡخُذُهُۥ سِنَةٞ وَلَا نَوۡمٞۚ ﴾. [البقرة: ٢٥٥].

٢: - ﴿الٓمٓ ۝ اللهُ لَآ إِلٰهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّوْمُ ۝﴾. [آل عمران: ١، ٢].

٣: - ﴿وَعَنَتِ الْوُجُوْهُ لِلْحَيِّ الْقَيُّوْمِ﴾. [طه: ١١١].

ابن القيم ويلي دي (الحى القيوم) د الله تعالى ټولو صفتونو ته شامل دى ځکه چي (الحي) د الله تعالى ټولو ذاتيه صفتونو ته لکه: علم، سمع، بصر، قدرت او داسي نورو ته شامل دى او (القيوم)

ييا ټولو فعليه صفتونو ته لکه خلق تدبير احياء اماتت او داسي نورو ته شامل دى[١].

همدا شان شارح ابن ابي العز په شرح العقيدة الطحاوية (٧١ مخ) کي همدغسي ليکلي دي تفصيل يې هلته وګورئ. نو (الحى القيوم) د الله تعالىٰ د لويو اسماؤ څخه دى حتىٰ په يوه روايت کي دا دواړه اسم اعظم بلل سوي دي.

(عَنْ أَبِيْ أُمَامَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ قَالَ إِنَّ اسْمَ اللهِ الْأَعْظَمَ لَفِي ثَلَاثِ سُوَرٍ مِنَ الْقُرْآنِ فِي سُوْرَةِ الْبَقَرَةِ وَآلِ عِمْرَانَ وَطٰهٰ)[٢].

ژباړه: د حضرت ابي امامه رضي الله عنه په روايت نبي ﷺ فرمايلي دي د الله تعالى اسم اعظم د قرآن کريم په درو سورتونو کي دي: (١) سورة البقرة، (٢) سورة آل عمران، (٣) سورة طه.

حضرت هشام رحمة الله عليه له دغو درو سورتونو څخه ذکر سوي درې آيتونه ښودلي دي چي په هغو کي (الحى) او (القيوم) دواړه راغلي دي[٣].

---

[١] بدائع الفوائد / ٢/ ٦٧٨/.

[٢] رواه ابن ماجه (٣٨٥٦) والطحاوي في شرح مشكل الآثار /١/ ١٦٢/ والطبراني فى الكبير (٧٧٥٨) والحاكم /١/ ٥٠٥/.

[٣] وګورئ صفوة التفاسير اول جلد (١١٣ مخ).

# الله تعالی د حاجت او مشقت څخه پاک دی

## ١١: - خَالِقٌ بِلَا حَاجَةٍ رَازِقٌ بِلَا مُؤْنَةٍ.

ژباړه: الله تعالی بېله حاجته د مخلوق پیدا کونکی دی او بېله مشقته مخلوق ته رزق ورکونکی دی.

**شرح**- کله چي يو انسان د يو شي د ايجاد اراده وکړي نو يې اول د خپلي فائدي فکر کوي وروسته يې پخپل کسب سره ايجاد کوي ځکه چي انسان محتاج دی همدا شان خپلو اولادونو او نورو قريبانو ته د دوی لازمي نفقه تر ډېرو تکليفونو او مشقتونو وروسته برابروي خو الله تعالی له دغسي نواقصو څخه پاک دی الله تعالی د ټولو مخلوقاتو خالق دی خو مخلوقات يې د دې لپاره نه دي پيدا کړي چي په دوی سره عزت يا غنا حاصله کړي ځکه چي الله تعالی له ټولو مخلوقاتو څخه پوره غني دی هيڅ يوه ته هم احتياج نه لري همدا شان ټولو مخلوقاتو ته رزق ورکوي خو په دغه رزق ورکولو کي پر الله تعالی هيڅ تکليف او مشقت نسته.

**(دلائل)** ١:- ﴿ مَآ أُرِيْدُ مِنْهُمْ مِّنْ رِّزْقٍ وَّمَآ أُرِيْدُ اَنْ يُّطْعِمُوْنِ○ ﴾.[الذاريات: ٥٧].

ژباړه: او اراده نه لرم زه له دوی څخه د هيڅ رزق (ما لره او ځانونو خپلو ته) او اراده نه لرم زه د دې چي طعام راکړي مالره دوی او ځانونو خپلو ته.

٢:- ﴿اِنَّ اللّٰهَ هُوَ الرَّزَّاقُ ذُو الْقُوَّةِ الْمَتِيْنُ○﴾.[الذاريات: ٥٨].

ژباړه: بېشکه الله جَلَّ جَلَالُهُ هم دی ښه زرق ورکونکی دی خاوند د قوت محکم

مضبوط دی.

۳: - ﴿وَاللّٰهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۝﴾. [فاطر: ۱۵].

ژباړه: او الله ﷻ هم دی دی غني بې پروا ښه حمد ثناء ویلی سوی.

۴: - ﴿وَلَا تَقْتُلُوْٓا اَوْلَادَكُمْ خَشْيَةَ اِمْلَاقٍ ۭ نَحْنُ نَرْزُقُهُمْ وَاِيَّاكُمْ ۭ﴾. [الاسراء: ۳۱].

ژباړه: او مه وژنئ تاسي اولاد خپل د ویري د فقره ځکه چي هم دا موږ روزي ورکوو دوی ته او تاسي ته هم.

۵: - ﴿وَمَا مِنْ دَآبَّةٍ فِي الْاَرْضِ اِلَّا عَلَى اللّٰهِ رِزْقُهَا﴾. [هود: ۶].

ژباړه: او نسته هیڅ تلونکی ذي روح په ځمکه کي مګر چي دی پر الله رزق د هغه تفضلا نه وجوبا.

## الله ﷻ له بېري څخه پاک دی

### ۱۲: - مُمِيتٌ بِلَا مَخَافَةٍ بَاعِثٌ بِلَا مَشَقَّةٍ.

ژباړه: الله تعالی بېله هیڅ ویري د مخلوق وژونکی دی او بېله هیڅ مشقته د امواتو دوهم ځل ژوندی کونکی دی.

**شرح**: یعني الله تعالی د یو چا په هلاکولو وژلو کي د هیڅ چا څخه نه وېرېږي د هر شي اراده چي وکړي هغه کوي د هر چا د وژلو اراده چي وکړي هغه وژني له عکس العمل څخه یې نه وېرېږي ځکه چي تر الله تعالی لوړ هیڅوک نسته بلکي الله ﷻ د هر شي مالک دی. اما که چیري یو کس د بل چا د وژلو اراده وکړي ضرور به ډېر خطرونه په نظر کي نیسي بیا به اقدام کوي خو الله تعالی له دغسي

نواقصو څخه پاک دی همدا شان لکه څنګه چي الله تعالی ټوله مخلوقات په اول کي بېله هیڅ زحمته او مشقته پیدا کړي دي همدغسي د قیامت په ورځ د ټولو امواتو ژوندی کوونکی دی.

(**دلائل**) ١:- ﴿ فَدَمْدَمَ عَلَيْهِمْ رَبُّهُمْ بِذَنْۢبِهِمْ فَسَوّٰهَا ۝ وَلَا يَخَافُ عُقْبٰهَا ۝﴾. [الشمس: ١٤، ١٥].

ژباړه: نو سخت عذاب یې ولېږه په دوی باندي رب د دوی په سبب د ګناه د دوی نو برابر یې کړل سره دغه ټول په هلاک کي او نه وېرېږي الله له عقوبت او هلاکت د دوی څخه.

٢:- ﴿ قُلْ اِنَّ الْاَوَّلِيْنَ وَالْاٰخِرِيْنَ ۝ لَمَجْمُوْعُوْنَ ۙ اِلٰى مِيْقَاتِ يَوْمٍ مَّعْلُوْمٍ ۝﴾.

[الواقعة: ٤٩، ٥٠].

ژباړه: و وایه ته ای محمده! دوی ته بېشکه چي ړومبني خلق او وروستني خلق به خامخا ګرد به ټول کړل شي وخت د ورځي معلومي ته چي قیامت دی.

٣:- ﴿ اَوَلَمْ يَرَوْا كَيْفَ يُبْدِئُ اللّٰهُ الْخَلْقَ ثُمَّ يُعِيْدُهٗ ؕ اِنَّ ذٰلِكَ عَلَى اللّٰهِ يَسِيْرٌ ۝﴾.

[العنكبوت: ١٩].

ژباړه: آیا نه وینئ دغه منکران له بعثه چي څرنګه اول پیدا کوي الله دا خلق بیا به یې دوهم ځلي هم خلق کړي بېشکه دغه اعاده د مخلوق پر الله ﷻ آسانه ده.

٤:- ﴿ مَا خَلْقُكُمْ وَلَا بَعْثُكُمْ اِلَّا كَنَفْسٍ وَّاحِدَةٍ ؕ ﴾. [لقمان: ٢٨].

ژباړه: نه دي پیدا کول ستاسي او نه بیا را پاڅول ستاسي مګر داسي دی لکه پیدا کول او ژوندی کول د یوه نفس (یعني آسانه دی.)

## الله تعالی پخپلو کمالیه صفتونو کي ازلي او ابدي دی

۱۳:– مَازَالَ بِصِفَاتِهِ قَدِيمًا قَبْلَ خَلْقِهِ لَمْ يَزْدَدْ بِكَوْنِهِمْ شَيْئًا لَمْ يَكُنْ قَبْلَهُمْ مِنْ صِفَتِهِ وَكَمَا كَانَ فِي صِفَاتِهِ أَزَلِيًّا كَذَلِكَ لَايَزَالُ عَلَيْهَا أَبَدِيًّا).

ژباړه: الله تعالی همېشه په ازل کي د مخلوقاتو تر پيدا کولو دمخه پخپلو کماليه صفتونو سره موصوف ؤ او د مخلوقاتو د پيدا کولو په وجه يې يو داسي زائد صفت نه دی حاصل کړی چي تر دوی دمخه نه ؤ لکه څنګه چي الله تعالی پخپلو صفتونو کي ازلي دی همدغسي د همېشه لپاره پخپلو صفتونو باندي ابدي هم دی.

**شرح**– (مازال) په تېره سوي زمانه کي پر دوام دلالت کوي او (لايزال) بيا په راتلونکې زمانه کي پر دوام دلالت کوي مطلب دا دی لکه څنګه چي الله تعالی ازلي او ابدي دی همدغسي صفتونه يې هم ذاتيه دي که فعليه دي ټوله ازلي دي اول نه لري او ابدي دي پای نه لري[1].

د الله تعالی هيڅ يو صفت نوی نه دی پيدا سوی او نه له ده څخه يو صفت ليري کېدای سي ځکه چي الله تعالی پخپل ذات او صفاتو کي کامل دی نو که چيري ده ته يو صفت نوی پيدا سي يا يو صفت ورڅخه ليري سي نو به د هغه صفت تر پيدا کېدو دمخه او د دا بل صفت تر ليري کېدو وروسته کامل نه وي دا

[1] بدائع الصنائع دريم جلد ۹ مخ.

د الله تعالیٰ په شان کي امکان نه لري نو د الله تعالیٰ ټوله صفتونه ازلي او ابدي دي لکه څنګه چي امام ابو حنيفه رحمه الله علیه فرمايلي دي:

(لم يزل ولايزال باسمائه وصفاته لم يحدث له اسم ولا صفة لم يزل عالما بعلمه والعلم صفة فى الازل قادرا بقدرته والقدرة صفة فى الازل و متكلما بكلامه والكلام صفة فى الازل وخالقا بتخليقه والتخليق صفة فى الازل وفا علا بفعله والفعل صفة فى الازل و الفاعل هو الله تعالىٰ والفعل صفة فى الازل والمفعول مخلوق وفعل الله تعالى غير مخلوق)[1].

ژباړه: الله تعالیٰ پخپلو اسماؤ او صفاتو کي ازلي او ابدي دی يو نوم او يو صفت هم ده ته نوی نه دی پيدا سوی همېشه په ازل کي پخپل علم سره عالم ؤ علم يې ازلي صفت دی او همېشه په ازل کي پخپل قدرت سره قادر ؤ قدرت يې ازلي صفت دی او همېشه په ازل کي پخپل ذاتي کلام سره متکلم ؤ ذاتي کلام يې ازلي صفت دی او همېشه په ازل کي پخپل تخليق سره خالق ؤ تخليق يې ازلي صفت دی او همېشه په ازل کي پخپل فعل سره فاعل ؤ فعل يې ازلي صفت دی فاعل الله تعالیٰ دی او فعل يې ازلي صفت دی مفعول مخلوق دی او د الله تعالیٰ فعل مخلوق (نوی پيدا) نه دی.

په دې عقيده سره پر کراميه ډلي رد دی چي دوی د الله تعالیٰ صفتونه حادث بولي همدا راز پر معتزله او جهميه ډلي هم رد دی چي دوی بيا د الله تعالیٰ صفتونه نفي کوي د دې څه بيان په دوهمه عقيده کي تېر سوی دی هلته يې وګورئ. د لا زياتو معلوماتو لپاره شرح العقائد / ۳۶ (او) ۳۷ مخونه وګورئ.

---

[1] شرح الفقه الاكبر، (۴۴) مخ.

(**دلائل**) ۱: - ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ سَمِيعًا بَصِيرًا ۝﴾. [النساء: ۵۸].

ژباړه: بېشکه چي الله دی ښه اورېدونکی ښه ليدونکی.

۲: - ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَزِيزًا حَكِيمًا ۝﴾. [النساء: ۵۶].

ژباړه: بېشکه چي الله دی ښه غالب لوی حکمت والا.

۳: - ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ عَلِيمًا حَكِيمًا ۝﴾. [النساء: ۱۱].

ژباړه: بېشکه چي الله دی ښه عالم ښه حکمت والا.

۴: - ﴿إِنَّ اللَّهَ كَانَ غَفُورًا رَّحِيمًا ۝﴾. [النساء: ۲۳].

ژباړه: بېشکه چي الله دی ښه مغفرت کوونکی ډېر رحم والا.

نور هم داسي آيتونه او حديثونه ډېر دي چي په هغوی کي پر الله تعالی د عالم قادر حي متکلم او نورو داسي نمونو اطلاق سوی دی ښکاره خبره ده چي دا هر يو د واجب الوجود پر مفهوم په يوه زائده معنا باندي دلالت کوي او هر يوه لره جلا معنا سته او دا يو منل سوی قانون دی چي کوم مشتقي پر يو شي صادق سي نو د دغه مشتقي مصدر به هغه شي ته ثابت وي د مثال په ډول که چيري يو کس ته ضارب (وهونکی) و ويل سي نو به دغه کس ته ضرب "وهل" چي د ضارب مصدر دی ثابت وي يعني دغه کس به وهونکی وي او که چيري ضرب ورته ثابت نه وي يعني وهونکی نه وي نو ضارب نه ورته ويل کېږي.

نو کله چي پر الله تعالی د عالم قادر حي متکلم عليم، سميع، بصير او داسي نورو اطلاق سوی دی نو خامخا الله تعالی په علم، قدرت، حيات، کلام، سمع، بصر او داسي نورو صفتونو سره موصوف دی[1].

په ذکر سوو آيتونو کي د مدح او ثناء په ځای کي د (کان) لفظ راغلی دی دا

---

[1] شرح العقائد (۳۶ مخ).

هم یو منل سوی قانون دی چې د (کان) لفظ په دغسې ځایونو کې پر دوام دلالت کوي نو دا خبره ثابته سوه چې الله تعالی په کمالیه صفتونو سره موصوف دی او ټوله صفتونه یې ازلي او ابدي دي. هو الله الموفق.

## ذاتیه او فعلیه صفتونه

ذاتیه د الله تعالی هغه صفتونه دي چې د هغوی په ضد (مخالف) سره الله تعالی نه سي موصوف کېدلای لکه حیات، قدرت، علم او داسې نور د حیات ضد موت د قدرت ضد عجز د علم ضد جهل دی دا شیان د الله تعالی لپاره صفات نه سي کېدلای نو دغسې صفاتو ته صفات ذاتیه ویل کېږي.

او فعلیه صفتونه د الله تعالی هغه صفتونه دي چې د هغوی په ضد سره هم الله تعالی موصوف کېدلای سي لکه رحمت، غضب، تخلیق، اماتت او داسې نور[1].

## سوال او جواب:

**سوال**: که چیري د الله تعالی فعلیه صفتونه هم ازلي سي او الله تعالی په ازل کې خالق وبلل سي او تخلیق یې ازلي صفت سي نو بیا خو مخلوق هم ازلي سو ځکه چې تخلیق خو بېله مخلوقه نه وي لکه ضرب چې بېله مضروبه نه وي حال دا چې مخلوق د اسلامي امت په اتفاق حادث (نوی پیدا) دی؟

**جواب**: تخلیق د الله تعالی ازلي صفت دی خو تر مخلوق پوري تعلق یې حادث دی نو تخلیق ازلي او ابدي دی او مخلوق حادث دی لکه څنګه چې د الله تعالی علم ازلي او ابدي دی خو بعضې معلومات یې لکه مخلوق حادث دی، د

---

[1] شرح الفقه الاکبر، (۴۲ مخ).

ضرب او تخليق فرق سته ضرب اضافي صفت دی بېله مضروبه یې تصور نه سي کېدای اما تخليق چي دی هغه خو حقيقي صفت دی لکه علم قدرت او داسي نور صفتونه نو لکه څنګه چي علم ازلي او ابدي دی او بعضي معلومات يې حادث دي همدا ډول تخليق هم ازلي او ابدي دی او مخلوق یې حادث دی[1].

همدا ډول علامه فضل الله تور پشتي رحمه الله د دې موضوع په اړوند داسي ليکلي دي: تخليق همېشه د الله تعالی صفت ؤ که څه هم مخلوق نه وو که چيري د تخليق صفت نه وي نو مخلوق به څرنګه پيدا سي دا يو ازي مخلوقات دي چي دوی ته تر فعل دمخه فاعل نه ويل کېږي ځکه چي په دوی کي قدرت ګړی په ګړی پيدا کيږي تر فعل دمخه د فعل قدرت ورسره نسته نو دوی ته تر فعل دمخه فاعل نه ويل کېږي او الله تعالی خو سرله ټولو صفتونو ازلي او ابدي دی که یې څه هم په ازل کي مخلوق نه دی پيدا کړی مګر د پيدا کولو قدرت یې درلودی له همدغي وجهي څخه خالق د الله تعالی ازلي نوم دی او تخليق یې ازلي صفت دی[2].

## د الله جل جلاله تعالی صفات نه عين ذات د الله جل جلاله دي او نه غير دي

د الله تعالی صفتونه نه عين ذات د الله دی چي ذات او صفات د معنا په اعتبار بالکل يو سي او نه غير په دې معنا چي په ذات او صفاتو کي يو یې پرته له بل څخه موجود سي عين خو ځکه نه دي چي په دې صورت کي الله تعالی ته صفات نه ثابتېږي حال دا چي الله تعالی پخپلو ټولو کماليه صفتونو سره

---

[1] شرح العقائد (۵۲ مخ) او شرح الفقه الاکبر (۴۲ مخ).

[2] المعتمد فی المعتقد، (۲۴ مخ).

موصوف دی دا بیان مو لږ د مخه ولوستی غیر بیا ځکه نه دي چي په دې صورت کي باید دا ممکنه وي چي ذات د خپلو صفاتو څخه خالي سي حال دا چي دا محال (ناشونی) دی چي د الله تعالی صفات د ده له ذات څخه جلا سي نو دا خبره ثابته سوه چي د الله تعالی صفات نه عین ذات د الله ﷻ دي او نه غیر[۱].

همدا شان د الله تعالی په صفتونو کي د زمانې په اعتبار کوم ترتیب نسته یعني داسي نه ده چي الله تعالی دي اول په یوه صفت سره متصف وي او وروسته دي بیا په بل صفت سره متصف سي ځکه چي دا یوازي مخلوقات دي چي صفات يې په ترتیب دي اول ژوندي کېږي بیا علم ورته حاصلېږي نور صفتونه يې هم دغسي په ترتیب دي اما الله تعالی خو پخپلو ټولو صفتونو کي ازلي او ابدي دی په صفتونو کي يې کوم ترتیب نسته[۲].

## الله تعالی ته هغه صفتونه او نومونه ثابت دي چي په کتاب او صحیح سنت کي راغلي وي

الله تعالی پخپلو نومونو او صفتونو کي ازلي او ابدي دی مخلوق يې صفتونه او نومونه یاد کړي یا نه په هر صورت الله تعالی ته ثابت دي بنده ګان صرف د هغو نومونو او صفتونو حکایت کوي چي په ازل کي الله تعالی ته ثابت دی نو د الله تعالی د نومونو او صفتونو د پېژندلو لاره یوازي د الله تعالی کتاب او د نبي ﷺ څخه را رسېدلی صحیح خبر دی، پخپل فکر او قیاس يې باید د معلومولو کوښښ ونه سي یوازي پر هغو نومونو او صفتونو باید بسنه وسي چي په کتاب او صحیح سنت کي راغلي وي ځکه چي الله تعالی فرمایلي دي:

---

[۱] شرح العقائد (۳۷ مخ).
[۲] المعتمد فی المعتقد (۲۵ مخ).

﴿ وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ ۚ إِنَّ السَّمْعَ وَالْبَصَرَ وَالْفُؤَادَ كُلُّ أُولَٰئِكَ كَانَ عَنْهُ مَسْئُولًا ﴾. [الاسراء: ۳۶].

ژباړه: او ته هغه شي پسې مه ګرځه (پیروي يې مه کوه) په کوم باندي چي تا ته علم نه وي ځکه چي يقيناً غوږونه او سترګي او هم زړه هر يو له دغو څخه د خپل ځان په هکله د قيامت په ورځ مسئول دي.

همدا شان الله تعالى فرمايلي:

﴿ وَأَنْ تَقُولُوا عَلَى اللَّهِ مَا لَا تَعْلَمُونَ ﴾. [الاعراف: ۳۳].

ژباړه: او الله ﷻ دا هم حرام کړی دی چي تاسو په الله ﷻ باندي هغه څه و وایاست چي د هغو په ثبوت باندي تاسي نه پوهېږئ[۱].

## د الله تعالى د نومونو په الله ﷻ باندي د اطلاق ډول

د الله تعالى نومونه ټوله ښه دي او ټوله په مطلق کمال او مطلق حمد باندي دلالت کوي او د الله تعالى د صفاتو څخه جوړ دي د مثال په ډول: عالم د علم څخه، قادر د قدرت څخه، حي د حيات، څخه جوړ دي چي دا هر يو علم قدرت او حيات د الله ﷻ د صفتونو څخه دي نو د الله تعالى په نومونو کي هيڅ يو نوم دده له يوه صفت سره څه ټکر نه لري خو په الله تعالى باندي يې اطلاق په دوه ډوله دی يو قسم هغسي نومونه دي چي په الله ﷻ باندي يې يوازي يوازي او هم له نورو نومونو سره يو ځای اطلاق کېږي د الله تعالى اکثره نومونه همدغسي دي د مثال په ډول قدير، بصير، عزيز، حکيم دا د الله تعالى له هغو نومونو څخه دي چي يوازي يوازي او همدا راز له بل نوم سره د يو ځای کولو په

[۱] المعتمد فی المعتقد، (۲۱ – ۲۲) مخونه.

صورت کي يې پر الله تعالیٰ اطلاق جائز دی. او يو قسم نومونه بیا داسي دي چي د يوازي والي په صورت کي يې پر الله تعالیٰ اطلاق نه کېږي بلکي په هغه صورت کي چي د دغه نوم د مخالف سره يو ځای سي نو يې پر الله تعالیٰ اطلاق کېږي لکه (الضار) يعني ضرر رسونکی او (المنتقم) يعني انتقام اخيستونکی او (المذل) يعني ذليل ګرځونکی دا هغه نومونه دي چي يوازي يوازي يې پر الله تعالیٰ اطلاق نه دی جائز بلکي له دوی سره چي کوم مخالف نومونه دي له هغوی سره د يو ځای کولو په صورت کي يې پر الله تعالیٰ اطلاق جائز دی.

د (الضار) مخالف (النافع) دی چي د نفع رسونکي په معنا دی او د (المنتقم) مخالف (العفو) دی چي عفوه کونکی يې معنا ده او د (المذل) مخالف بيا (المعز) دی چي د عزت ورکونکي په معنا دی د دغسي نومونو د يو ځای کولو طريقه دا ده (الضار النافع) (المنتقم العفو) (المعز المذل) په همدغه ډول يې پر الله تعالیٰ اطلاق جائز دی ځکه چي کمال په هم دغه طريقه کي دی او دغه نومونه همدغسي مرکب د يوه نوم په ځای مقرر سوي دي همدغه وجه ده چي يوازي يوازي يې پر الله تعالیٰ اطلاق نه دی سوی بلکي يو د بل سره مرکب راغلي دي.

دا د سعيد بن علي د کلام خلاصه ده چي د ابن القيم څخه يې نقل کړی دی[1].

## د الله تعالیٰ لپاره د (خدا) د لفظ استعمالولو حکم

**سوال**: ځيني کسان د الله تعالیٰ لپاره د (خدای) لفظ استعمالول حرام او ناجائز بولي اوس د پوښتني وړ خبره دا ده چي آيا په رښتيا هم د الله تعالیٰ لپاره د (خدای) لفظ استعمالول ناجائز او حرام دی او که څنګه؟

---

[1] بدائع الفوائد/۱/ ۱۶۷.

**جواب**: (خدا) د فارسي ژبې لفظ دی کوم چې د الله په ځای استعمالېږي او د شريعت له مخې د الله تعالیٰ لپاره د هغه لفظ استعمالول جائز دی کوم چې د الله مرادف وي اوس نو که د دغه لغت يعني عربي څخه وي لکه واجب او قديم يا له بل لغت څخه وي لکه (خدا) دا حکم همدغسې عام دی د الله تعالیٰ ټولو اسماؤ ته شامل دی.

(لما قال العلامة عبدالعزيز فرهادي رحمة الله عليه – واذ اورد الشرع باطلاق اسم بلغة كلفظ الله فهو اذن باطلاق مايرادفه من تلك اللغة كالواجب والقديم او من لغة اخرى كاسم خدا بالفارسية)[1].

## اسماء الحسنی ته یو معلوم شمېر نسته

د الله تعالیٰ مبارک نومونه او صفتونه په يو مشخص تعداد کې حصر نه دي ځکه چې الله تعالیٰ ته داسې نومونه او صفتونه سته چې د هغوی په باره کې يې هيچا ته خبر نه دی ورکړی بلکې هغه يې يوازې پخپل علم غيب کې ساتلي دي لکه څنګه چې په صحيح حديث کې راغلي دي:

(أَسْئَلُكَ بِكُلِّ اسْمٍ هُوَلَكَ سَمَّيْتَ بِهِ نَفْسَكَ أَوْ أَنْزَلْتَهُ فِي كِتَابِكَ أَوْعَلَّمْتَهُ أَحَدًا مِنْ خَلْقِكَ أَوِ اسْتَأْثَرْتَ بِهِ فِي عِلْمِ الْغَيْبِ عِنْدَكَ)[2].

ژباړه: زه ستا څخه ستا د هر نوم په توسل سوال کوم چې تا په هغه سره خپل ذات مسمیٰ کړی، يا دې هغه پخپل کتاب کې نازل کړی، يا دې له خپل مخلوق څخه يو چا ته ښودلی ،دی يا دې په علم غيب کې د خپل نزد سره ساتلی دی.

---

[1] النبراس (۱۱۲ مخ). وګورئ فتاوی حقانيه اول جلد (۲۲۹) مخ.
[2] احمد، ۱/ ۳۹۱.

همدا شان نبيﷺ د شفاعت په حديث كي فرمايلي دي:

(وَيُلْهِمُنِي مَحَامِدَ أَحْمَدُهُ بِهَا لَا تَحْضُرُنِي الْآنَ).

ژباړه: الله به ماته د حمد ويلو لپاره د داسي حمدونو الهام وكړي چي ماته اوس پر هغوی باندي علم نسته[۱].

په كوم شي سره چي د الله تعالی حمد او ثناء ويل كېږي هغه د الله تعالی اسماء او صفات دي.

## سوال او جواب

**سوال**: تاسو و ويل چي د الله تعالی نومونه په يو معلوم تعداد كي حصر نه دي حال دا چي نبيﷺ په يو حديث كي د الله تعالی نومونه (۹۹) ښودلي دي نبيﷺ داسي فرمايلي دي:

(إِنَّ لِلَّهِ تِسْعَةً وَتِسْعِينَ اسْمًا مِائَةً إِلَّا وَاحِدًا مَنْ أَحْصَاهَا دَخَلَ الْجَنَّةَ)[۲].

ژباړه: يقينا الله تعالی لره (۹۹) نومونه دي هر چا چي په دعاء كي ذكر كړه جنت ته به داخل سي.؟

**جواب**: د اكثرو علماؤ په آند په حديث كي دا مطلب نه دی چي د الله تعالی نومونه په (۹۹) كي حصر دي بلكي مطلب د دغو نومونو د دې فضيلت بيانول دی چي كه هر چا په دعاء كي و ويل نو به جنت ته داخل سي حصر ځكه مطلب نه دی چي په دمخه حديث كي تاسو ولوستل چي د الله تعالی په نومونو كي داسي نومونه سته چي الله تعالی پخپل علم غيب كي ساتلی دی بلكي په قرآن كريم او آحاديثو كي هم پر (۹۹) مشهورو نومونو سربېره نور هم په نظر راځي لكه

(۱)متفق عليه مشكوة دوهم جلد (۴۸۹) مخ.

(۲)صحيح البخاري (۲۷۳۶).

(ذُوالْفَضْلِ- ذِی الْمَعَارِجِ) او داسي نور. د دې مسئلې د تفصيل لپاره وګورئ عمدة القاري (۲۳) جلد (۴۵ مخ).

# الله تعالی تر مخلوق دمخه هم خالق او بارئ ؤ

۱۴:- لَيْسَ مُنْذُ خَلَقَ الْخَلْقَ اسْتَفَادَ اسْمَ الْخَالِقِ وَلَا بِإِحْدَاثِهِ الْبَرِيَّةِ اسْتَفَادَ اسْمَ الْبَارِئِ.

ژباړه: داسي نه ده چي د مخلوقاتو د اندازه کولو څخه را شروع الله تعالی د خالق نوم حاصل کړی دی او داسي هم نه ده چي د مخلوق د پیدا کولو په وجه يې د بارئ نوم حاصل کړی دی.

**شرح**- په دې جمله او څو را روانو جملو کي امام طحاوي رحمه الله د مخکنۍ جملې تفصيل کړی دی. د بارئ معنا ده (پیدا کوونکی) د خالق هم دغه معنا ده خو که چیري د بارئ سره یو ځای ذکر سي لکه دلته بیا يې (اندازه کوونکی) معنا ده دا دواړه د الله تعالی د ښو نومونو څخه دي له دې عقيدې څخه مطلب دا دی چي الله تعالی د مخلوقاتو تر اندازه کولو دمخه هم خالق ؤ او د مخلوقاتو تر پیدا کولو دمخه هم بارئ ؤ.

(**دليل**)- ﴿ هُوَ اللهُ الْخَالِقُ الْبَارِئُ الْمُصَوِّرُ ﴾.[الحشر: ۲۴].

ژباړه: دغه الله هغه ذات دی چي اندازه کوونکی دی را ويستونکی دی (له عدم نه وجود ته) صورت ورکوونکی دی.

الله تعالی په دې آیت کي د خپل ذات مدح او ثناء په خالق او بارئ سره کړې ده نو که چیري د مخلوق په پیدا کولو سره د دغي مدحي لائق ګرځي مخلوق ته به

محتاج سي احتیاج خو د الله تعالی په شان کي محال (ناشونی) دی ځکه چي احتیاج د حدوث (نوی پیدا کېدلو) علامه ده او الله تعالی خو قدیم ذات دی د حدوث او د حدوث له علامې څخه پاک دی نو دا خبره ثابته سوه چي خالق او باریٔ د الله تعالی له ازلي صفتونو څخه دي.

## الله تعالی په ازل کي په ربوبیت او خالقیت سره متصف ؤ

**۱۵:-** لَهُ مَعْنَى الرَّبُوْبِيَّةِ وَلَا مَرْبَوْب وَمَعْنَى الْخَالِقِيَّةِ وَلَا مَخْلُوْق.

ژباړه: الله تعالی د ربوبیت (پاللو) په صفت سره متصف ؤ په داسي حال کي چي هيڅ مربوب (د پاللو قابل) نه ؤ او د خالقیت په صفت سره متصف ؤ په داسي حال کي چي هيڅ مخلوق نه ؤ.

**شرح-** د دې جملې او مخکنۍ جملې دواړو څخه مطلب دا دی چي الله تعالی د مخلوقاتو تر ایجاد دمخه په ازل کي پخپلو صفاتو سره متصف ؤ د مخلوقاتو د ایجاد له کبله يې هيڅ يو زائد صفت نه دی حاصل کړی نو الله تعالی پخپلو اسماؤ او صفاتو کي مخلوق ته محتاج نه دی. (وَاللّٰهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ).

## د (محیی الموتی) په شان (خالق) هم د الله تعالی ازلي نوم دی

**۱۶:-** وَكَمَا اَنَّهُ مُحْيِي الْمَوْتٰى بَعْدَ مَا اَحْيَا هُمْ اِسْتَحَقَّ هٰذَا الْاِسْمَ قَبْلَ اِحْيَائِهِمْ كَذٰلِكَ اسْتَحَقَّ اسْمَ الْخَالِقِ قَبْلَ اِنْشَائِهِمْ.

ژباړه: لکه څنګه چي محيی الموتی (مړو ته ژوند ورکونکی) د خلګو تر ژوندي کولو وروسته د الله تعالی نوم دی او د مړو تر ژوندي کولو دمخه هم د داغه نوم مستحق دی همدغسي د خلګو تر ايجاد دمخه د خالق د نوم مستحق دی.

**شرح**- دا کلام د دمخه عبارت لپاره چي الله تعالی تر مخلوق دمخه په خالقيت سره متصف ؤ دليل او تفصيل دی مطلب دا دی چي الله تعالی په آخرت کي مړي ژوندي کوي مګر په دنيا کي چي تر اوسه يې لا مړي نه دي ژوندي کړي هم په (محيی الموتی) سره متصف دی همدغسي د مخلوقاتو تر پيدا کولو دمخه هم په خالقيت سره متصف ؤ يعني خالقيت د الله تعالی د نورو صفاتو په شان دده ازلي او ابدي صفت دی.

## الله تعالی پر هر شي قادر او هر شی ده ته محتاج دی

**۱۷:- ذٰلِكَ بِأَنَّهُ عَلٰى كُلِّ شَىْءٍ قَدِيْرٌ وَكُلُّ شَىْءٍ اِلَيْهِ فَقِيْرٌ وَكُلَّ أَمْرٍ عَلَيْهِ يَسِيْرٌ لَا يَحْتَاجُ إِلٰى شَىْءٍ (لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَىْءٌ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ).**

ژباړه: په ذکر سوو صفتونو سره د الله تعالی متصف کېدل له دې کبله دی چي الله تعالی پر هر شي قادر دی او ټوله شيان ده ته محتاج دي او هر کار ورته آسان دی او هيڅ شي ته محتاج نه دی (د الله تعالی په مثل هيڅ شی نسته او هم دی ښه اورېدونکی ښه ليدونکی دی).

**شرح**- يعني الله تعالی په ازل کي په خالقيت، احياء، اماتت او داسي نورو

صفتونو سره له دې کبله متصف دی چي دی پر هر شي قادر او هر شی ده ته محتاج دی.

د امام طحاوي رحمه الله دا قول (کل امر علیه یسیر) د (انه علی کل شئ قدیر) لپاره تاکید دی او (لایحتاج الی شئ) بیا د (کل شئ الیه فقیر) لپاره تاکید دی د ذکر سوي عبارت په دې برخه سره چي الله تعالی پر هر شي قادر دی پر معتزله ډلي رد دی دغه ګمراه ډله د بنده ګانو افعال د الله تعالی له قدرت او ارادې څخه بهر بولي بنده ګان د خپلو افعالو پیدا کوونکي بولي د دې تفصیل په ۷ عقیده کي تېر سوی دی هلته يې وګورئ په آخر کي د آیت د یوې حصې په راوړلو سره دې طرفته اشاره ده چي الله تعالی په کمالیه صفتونو سره متصف دی خو صفتونه يې د مخلوق له صفتونو سره هیڅ مشابهت نه لري همدغه د اهل السنة والجماعة عقیده ده نو په (لیس کمثله شئ) سره پر مشبه ډلي رد دی چي دوی د الله تعالی صفتونه د مخلوق د صفتونو په شان بولي او په (وهو السمیع العلیم) سره بیا پر معتزله معطله ډلي رد دی چي دوی بیا د الله تعالی صفتونه نفي کوي د دې تفصیل په دوهمه عقیده کي تېر سوی دی هلته يې وګورئ.

(**دلائل**) ۱:- ﴿إِنَّ اللَّهَ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ﴾.[البقرة: ۲۰].

ژباړه: بېشکه الله تعالی پر هر شي ښه قادر دی.

۲:- ﴿إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ قَدِيرٌ﴾.[النحل: ۷۰].

ژباړه: بېشکه چي الله جل جلاله ښه عالم دی (پر هر شي) ښه قادر دی (په کولو د هر شي چي اراده يې وفرمایي).

۳:- ﴿وَكَانَ اللَّهُ عَلَىٰ كُلِّ شَيْءٍ مُقْتَدِرًا﴾.[الکهف: ۴۵].

ژباړه: او دی الله ﷻ پر هر شي (چي اراده يې وفرمايي) قادر.

۴:- ﴿ يَاَيُّهَا النَّاسُ اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ اِلَى اللهِ ۚ وَاللهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ ۝ ﴾ [فاطر: ۱۵].

ژباړه: ای خلکو! تاسي فقيران، محتاجان یاست الله ﷻ ته او الله ﷻ هم دی دی غني بې فروا ښه حمد ثناء ويلی سوی.

د دې موضوع په اړوند آيتونه ډېر دي.

## سوال او جواب

**سوال**:- په (كمثله) كي كاف د مثل په معنا دی نو د (ليس كمثله شئ) معنا داسي سوه د الله تعالیٰ د مثل مثل هيڅ شی نسته. او س ښايي يو کس ته دا توهم پيدا سي چي دا خو د الله تعالیٰ له مثل څخه مشابهت نفي سو پخپله مثل خو نفي نه سو حال دا چي الله تعالیٰ ته مثل نسته؟

**جواب**: عامو مفسرينو د دې سوال ډېر جوابونه کړي دي خو زه يې دلته دوه جوابونه رانقلوم:

**اول**:- مثل د صفت په معنا دی پردې صورت د (ليس كمثله شئ) معنا داسي کېږي. د الله تعالیٰ د صفت په مثل هيڅ شی نسته. دا معنا بالكل صحيح ده.

**دوهم**:- كاف د تاكيد لپاره زائد راغلی دی په عربو كي د كاف زيادة د تاكيد لپاره مشهور دی قرآن کريم هم د دوی په لغت نازل سوی دی پردې صورت يې معنا داسي ده. د الله تعالیٰ په مثل هيڅ شی نسته. دغه دوهم جواب شيخ جلال الدين المحلي رحمه الله په تفسير الجلالين دوهم جلد (۴۰۲) مخ کي مختاره کړی دی. او دا يې تر ټولو آسانه جواب دی. والله اعلم.

# علم د الله تعالی صفت دی

## ۱۸: - خَلَقَ الْخَلْقَ بِعِلْمِهِ.

ژباړه: الله تعالی مخلوق د خپل علم مطابق پیدا کړی دی.

**شرح** - یعني الله تعالی د مخلوق تر پیدا کېدو دمخه هم پخپل ازلي علم سره پر ټولو شیانو باندي عالمۇ د هر شي اندازه او د وجود مده ضرر او نقصان همدا راز کفر او اسلام دا ټوله الله تعالی ته معلوم وه هیڅ یو شی د الله تعالی له علم څخه وتلی نه دی هغه که د بندګانو اعمال دي که اقوال دي که احوال دي او که هغه شیان دي چي د خلګو په زړونو کي دي یعني الله تعالی د مخلوق تر پیدا کېدو دمخه او وروسته پخپل ازلي علم سره پر ټولو شیانو عالم دی نو علم د الله تعالی ازلي صفت دی. په دې عقیده کي هم پر معتزله ډلي رد دی چي دوی د الله تعالی صفات نفي کوي تفصیل یې په دوهمه عقیده کي وګورئ.

(**دلائل**) ۱: - ﴿وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدۡ اَحَاطَ بِكُلِّ شَیۡءٍ عِلۡمًا﴾. [الطلاق: ۱۲].

ژباړه: بېشکه چي الله ﷻ په تحقیق رسېدلی دی هر شي ته له جهته د علمه.

۲: - ﴿وَاعۡلَمُوۡۤا اَنَّ اللّٰهَ یَعۡلَمُ مَا فِیۡۤ اَنۡفُسِكُمۡ فَاحۡذَرُوۡهُ﴾. [البقرة: ۲۳۵].

ژباړه: او پوه سئ تاسي چي بېشکه الله ﷻ معلوم دي ده ته هغه څه چي په زړونو ستاسي کي دی نو و وېرېږئ له ده نه.

۳: - ﴿اِنَّ اللّٰهَ عَلِیۡمٌۢ بِذَاتِ الصُّدُوۡرِ﴾. [آل عمران: ۱۱۹].

ژباړه: بېشکه چي الله ﷻ عالم دی په هغو خبرو هم چي په سینو (زړونو) کي دي.

# سوال او جواب

**سوال**:- په قرآن کریم کي له هغو آیتونو څخه چي په هغوی کي د مستقبل صیغي (کلمې) راغلي دي لکه: ﴿ إِلَّا لِنَعۡلَمَ مَن يَتَّبِعُ ٱلرَّسُولَ ﴾.[البقرة: ۱۴۳]. ﴿ وَلَمَّا يَعۡلَمِ ٱللَّهُ ﴾. [آل عمران: ۱۴۲]. ﴿فَلَيَعۡلَمَنَّ ٱللَّهُ ٱلَّذِينَ صَدَقُواْ ﴾.[العنكبوت: ۳]. له ورا داسي معلومېږي چي نعوذبالله د الله تعالی علم پر دغو پېښو باندي وروسته حاصل سوی دی او پخوا پر دې شیانو د الله تعالی علم نهٔ حال دا چي د الله ﷻ علم پر هر شي ازلي دی.

**جواب**: علماؤ د دې سوال جواب په څو ډولونو سره کړی دی ځیني له علم څخه بېل بېل کول مراد وي ځیني یې آزموینه او امتحان بولي ځینو د داسي علم معنا په رؤیت سره کړې ده ځینو دا د مضارع صیغې د ماضي په معنا تعبیر کړي دي خو محققین علماء له دغه علم څخه هغه علم اخلي چي تر وجود وروسته ښکاره کېږي الله تعالی تر خلق دمخه پر هر شي باندي عالم دی چي فلانی شی به په فلاني وخت کي پیدا کېږي خو کله چي پیدا سي بیا الله تعالی د موجود په حیث علم ورباندي لري. بعضي علماء دغه علم ته علم الظهور او علم الوجود وایي[1].

---

[1] وګوري د مولانا محمود حسن او علامه شبیراحمد عثماني تفسیر اول جلد (۹۵مخ).

# ټولو شيانو ته مقدار ټاكل سوی دی

**۱۹ : –** وَقَدَّرَ لَهُمْ اَقْدَاراً.

ژباړه: الله تعالی د هر مخلوق لپاره يوه خاصه اندازه معلومه کړې ده.

**شرح–** يعني الله تعالی هر مخلوق د يوې معلومي اندازې سره مطابق پيدا کړی دی د ټولو مخلوقاتو تر پيدا کېدو دمخه يې د هر شي ذات زمانه ځای مقرر کړی دی همدا شان يې د هر چا رزق او عمل مقرر کړی دی يعني د ټولو شيانو لپاره يې په ازل کي اندازه معلومه کړې ده. د دې تفصيل په اوومه عقيده کي وګورئ.

**(دليل)** ﴿وَالَّذِی قَدَّرَ فَهَدٰی ۝﴾.[الاعلی: ۳].

ژباړه: او هغه رب چي اندازه يې کړل (خير او شر د هغوی) نو لاره يې ور وښوده.

# د تقدير مرتبې

لوی محدث شاه ولي الله دهلوي رحمه الله د تقدير پنځه مرتبې بيان کړي دي زه به يې خلاصه را نقل کړم:

**اوله مرتبه:–** د الله تعالی هغه فيصله چي په ازل کي يې د عالم د پيدا کېدو په اړوند کړې ده دغي فيصلې ته ازلي تقدير ويل کېږي.

**دوهمه مرتبه:–** د عرش او اوبو تر پيدا کولو وروسته او د آسمانونو او ځمکي تر پيدا کولو پنځوس زره (۵۰۰۰۰) کاله دمخه چي الله تعالی ټوله مخلوقات د ازلي تقدير پر بناء په لوح محفوظ کي ليکلي دي. عين همدغه

مضمون د عبدالله بن عمرو ﷺ په روايت په يو حديث كي راغلى دى[۱].

**دريمه مرتبه:-** كله چي الله تعالىٰ آدم على نبيا و عليه‌السلام پيدا كى او بيا يې د ده له شا څخه د ده اولادونه را وايستل او په (اَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ) سره يې مخاطب كړه په دغه وخت كي هم الله تعالىٰ نېک بخته او بدبخته كسان معلوم كړي دي.

**څلورمه مرتبه:-** هغه تقدير دى چي د ماشوم لپاره د مور په نس كي څو شيان مقرريږي لكه څنګه چي په يو متفق عليه حديث كي راغلي دي چي كله د يو ماشوم د مور په نس كي يو سل او شل ورځي پوره سي نو الله تعالىٰ د څلورو كلماتو د ليكلو لپاره يو ملک ورته راولېږي نو دغه ملک د ماشوم عمل، اجل او رزق وليكي او دا هم وليكي چي دغه ماشوم بدبخته دى يا نېک بخته وروسته په ده كي روح پوه كړل سي[۲].

**پنځمه مرتبه:-** دا هغه تقدير دى چي د حادثې (پېښي) تر پيدا كېدو لږ دمخه دى په دغه وخت كي د الله تعالىٰ له نزد څخه ځمكي ته امر نازلېږي او يو مثالي شى انتقالېږي ترڅو په ځمكه كي ظهور وكړي. د دې څو ځله ما پخپله مشاهده كړې ده[۳].

## د تقدير اړوند څو ضروري مسئلې

**اوله مسئله:-** هيڅ يو انسان ته دا نه ده روا چي د تقدير په وجه اعمال پرېږدي او و وايي چي زما لپاره چي هر څه ليكل سوي دي هغه به كېږي نو زما د اعمالو څه ګټه ده.

---

[۱] صحيح مسلم، رقم الحديث (۲۶۵۳).

[۲] مشكوة اول جلد (۲۰) مخ.

[۳] حجة الله البالغة، اول جلد (۱۹۷) مخ الى (۱۹۹).

ځکه چي انسان د شريعت له مخي په عبادت او نيکو اعمالو مکلف دی د پرېښودلو په صورت کي مسئول دی او د انسان نېک عملونه د ده د سعادت علامه ده او پرېښودل يې د ده د شقاوت علامه ده نو د اعمالو له کولو څخه هيڅ چاره نسته. د حضرت علي رضي الله عنه څخه روايت دی چي موږ په (بقيع الغرقد) کي د يوې جنازې په مراسمو کي د نبي صلى الله عليه وسلم سره حاضر ؤ نو يې داسي وفرمايل په تاسي کي هيڅوک نسته مګر چي د ناستي ځای يې د جنت يا دوزخ څخه د پخوا څخه لا ليکل سوی دی صحابه کرامو و ويل (يَا رَسُوْلَ اللهِ) آيا موږ پر خپل ازلي کتاب باندي اعتماد نه کوو او عمل نه پرېږدو (يعني چي کله دا خبره ثابته سوه چي د هر کس په باره کي لا د پخوا څخه فيصله سوې ده نو د عمل کولو څه فائده ده ځکه چي عمل خو د الله تعالی قضاء نه سي ګرځولای) نبي صلى الله عليه وسلم د دوی په جواب کي وفرمايل تاسو عمل وکړئ هر يوه کس ته آساني درکړې سوې ده (يعني هر څه چي نېکبخته کسان دي نو هغوی ته د نېکبختانو د عمل لپاره آساني ورکوله کېږي او هر څه چي بدبخته کسان دي نو هغوی ته د بدبختانو د عمل لپاره آساني ورکوله کېږي)[1].

**دوهمه مسئله:-** دا کار هم نه دی روا چي يو کس ګناه وکړي او په تقدير دليل و وايي د مثال په ډول يو ګنهګار کس داسي و وايي چي دغه ګناه ما ځکه وکړه چي زما لپاره يې تقدير سوی وو نو زه په دې ګناه کي ملامت نه يم.

ځکه چي د بنده لپاره اصول دا دي چي دی به د سره ګناه نه کوي که يې چيري وکړي نو بيا به له الله تعالی څخه مغفرت غواړي خو په تقدير به حجت نه وايي. په يوه روايت کي راغلي دي چي يو کس غلا کړې وه خو کله چي محکمې ته حاضر کړل سو نو يې حضرت عمر رضي الله عنه ته پر خپل عمل باندي په تقدير سره

[1] صحيح البخاري دوهم جلد (۷۳۷ مخ).

حجت و ویلی حضرت عمر رضي الله عنه یې په جواب کي داسي وفرمایل (وَأَنَا أَقْطَعُ یَدَكَ بِقَضَاءِاللهِ وَقَدْرِهِ). یعني- زه د الله جل جلاله په قضا او قدر سره ستا لاس پرې کوم. البته د مصیبت په وخت کي په تقدیر سره حجت صحیح دی د مثال په ډول یو کس ته مصیبت ورسیږي نو دی داسي و وایي زه په دغه مصیبت کي صبر کوم ځکه چي زما لپاره یې تقدیر سوی وو دا کار بالکل د شریعت له اصولو سره برابر دی[۱].

**دریمه مسئله:-** قدر د الله تعالی د اسرارو څخه یو سر دی چي نه یې یو ملک او نه یې یو نبي ته ښودلی دی نو یوازي د عقل د لاري په قدر کي بحث کول جواز نه لري بلکي دا عقیده ضروري ده چي الله تعالی مخلوق دوې ډلي پیدا کړي دي یوه ډله یې د فضل له مخي د جنت لپاره پیدا کړې او بله ډله یې د عدل له مخي د دوزخ لپاره پیدا کړې ده.

یو کس د حضرت علي رضي الله عنه څخه د قدر په اړوند سوال وکړ ده یې په جواب کي داسي وفرمایل (طَرِیْقٌ مُظْلِمٌ لَا تَسْلُکْهُ). یعني- دا یوه تاریکه لار ده مزل مه ورباندي کوه. دوهم وار یې بیا سوال را وګرځوئ حضرت علي رضي الله عنه یې په جواب کي وفرمایل: (بَحْرٌ عَمِیْقٌ لَاتَلِجْهُ). یعني- دا یو ژور دریاب دی مه ور ننوزه. دریم وار یې بیا هغه سوال ځني وکړ ده یې په جواب کي وفرمایل: (سِرُّاللهِ قَدْ خَفِيَ عَلَیْكَ فَلَاتُفَتِّشْهُ). یعني- دا د الله تعالی سر دی ببله شکه پر تا باندي پټ سوی دی نو یې پلټنه مه کوه[۲].

---

[۱] شرح العقیدة الطحاویة (۱۰۱- ۱۰۲ مخونه).

[۲] المرقاة شرح المشکوة اول جلد (۱۴۵ مخ).

# د مخلوق لپاره اجل معلوم سوی دی

**۲۰:- وَضَرَبَ لَهُمْ آجَالاً.**

ژباړه: الله تعالی د مخلوقاتو د بقا وختونه معلوم کړي دي.

**شرح**- اجل هغه وخت ته ویل کېږي چي د یو مخلوق لپاره معلوم سوی وي همدا شان د دغه وخت پای ته هم ویل کېږي د مثال په ډول دنیا ته اجل تاکل سوی دی د قیامت په ورځ پای ته رسېږي همدا شان هر امت او هر فرد ته اجل سته د وخت په پوره کېدو سره پای ته رسېږي مطلب دا دی چي الله تعالی د هر شي د وجود او فنا لپاره یو وخت معلوم کړی دی چي تر هغه وړاندي او وروسته کېدای نه سي.

(**دلائل**) ۱:- ﴿لِكُلِّ أُمَّةٍ أَجَلٌ إِذَا جَاءَ أَجَلُهُمْ فَلَا يَسْتَأْخِرُونَ سَاعَةً وَلَا يَسْتَقْدِمُونَ﴾. [یونس: ۴۹].

ژباړه: لپاره د هر امت یوه نېټه ده (د هلاک) کله چي راسي هغه نېټه د دوی نو نه به وروسته کېږي دوی (تر دغي نېټې خپلي) یو ساعت او نه ړومبی کېږي دوی (پرې).

۲:- ﴿هُوَ الَّذِي خَلَقَكُمْ مِنْ طِينٍ ثُمَّ قَضَى أَجَلًا وَأَجَلٌ مُسَمًّى عِنْدَهُ ثُمَّ أَنْتُمْ تَمْتَرُونَ﴾. [الانعام: ۲].

ژباړه: دغه الله ﷻ هغه ذات دی چي پیدا کړي یاست له خټو پس له هغه مقرر کړی یې دی یو وخت (لپاره د مرګ) او یوه موده معلومه د قیامت ده په نزد د الله ﷻ بیا هم تاسي شک کوئ (په توحید او بعث کي).

## مقتول پخپل اجل سره مړ دی

د ذکر سوي عقيدې پر بناء د اهل السنة والجماعة دا عقيده ده چي مقتول پخپل هغه اجل سره مړ دی چي الله تعالی د ده لپاره معلوم کړی دی لکه څنګه چي الله تعالی اجلونه مقرر کړي دي همدا راز يې د اجلونو د پای ته رسېدو لپاره اسباب هم معلوم کړي دي څوک په مرض سره مري څوک په غرق او څوک بيا په قتل سره مري داسي نور سببونه لکه څنګه چي الله تعالی ژوند او مرګ پيدا کړی همدا شان يې د ژوند او مرګ اسباب هم پيدا کړي دي اوس نو که چيري يو کس د يو بل چا لخوا و وژل سي نو موږ د دغه مقتول په اړوند دا عقيده لرو چي الله تعالی د ده لپاره په همدغه قتل سره اجل مقرر کړی ؤ کله چي يې اجل پوره سو نو مړ سو لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَمَا كَانَ لِنَفْسٍ اَنْ تَمُوْتَ اِلَّا بِاِذْنِ اللّٰهِ كِتٰبًا مُّؤَجَّلًا﴾. [آل عمران: ۱۴۵].

ژباړه: او نسته هيڅ نفس لره دا چي مړ سي مګر په اذن (حکم) د الله ﷻ سره چي ليکل سوی دی دا مرګ په يوه مقرر وخت کي.

## مقتول د معتزله ؤ په نظر کي

معتزله ډله د مقتول په اړوند مخالف نظر لري دوی داسي وايي قاتل پر مقتول خپل اجل را لنډ کړی امکان ؤ چي دغه کس مثلا سل کاله ژوند کړی وای خو قاتل له ده سره ظلم وکړ د شلو کلونو په عمر يې قتل کړی اتيا کاله عمر يې ورضائع کړی.

د دوی مطلب دا دی چي اجل قطعي نه دی کېدای سي چي يو کس تر خپل اجل دمخه مړ سي لکه مقتول. اوس د دوی دوه دليلونه وګورئ:

۱:- نبي ﷺ فرمايلي دي: (مَنْ أَحَبَّ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ وَيُنْسَأَلَهُ فِي أَثَرِهِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ)[۱].

ژباړه: که د يو کس دا خوښه وي چي په رزق کي يې ډېر والی راسي او په اجل کي يې وروسته والی راسي (يعني عمر يې ډېر سي) نو د خپلو قريبانو سره دي صله رحمي وکړي.

همدا راز نبي ﷺ فرمايلي دي: (وَلَا يَزِيدُ فِي الْعُمُرِ إِلَّا الْبِرُّ)[۲].

ژباړه: په عمر کي زيادت نه راولي مګر نېکي.

له دغسي حديثونو څخه دا ښکاره معلومېږي چي اجل قطعي نه دی که چيري قطعي وای نو د عمر زيادت چي په ذکر سوو حديثونو سره ثابت دی څه معنا ده؟.

۲:- که چيري مقتول پخپل اجل سره مړ وي نو بيا خو قاتل په دنيا کي د ذم او په آخرت کي د عقاب لائق نه دی همدا راز به پر قاتل باندي د قتل خطا په صورت کي ديت او د عمد په صورت کي قصاص لازم نه وي ځکه چي پر دغه صورت خو د مقتول مرګ نه د قاتل په خلق او نه يې په کسب سره دی.

**د اول دليل جواب**: د هر چا لپاره قطعي اجل مقدر دی چي تر هغه دمخه او وروسته کېدای نه سي کوم آيتونه چي موږ دمخه ذکر کړه له هغو څخه دا ښکاره معلومېږي نو قاتل نه سي کولای چي مقتول تر خپل اجل دمخه و وژني په طاعاتو سره د عمر د زيادت دا معنا نه ده چي د فلاني کس عمر مثلاً شپېته کلونه مقدر دي خو کله چي صله رحمي وکړي نو يې عمر ډېرېږي بلکي معنا يې

---

[۱] صحيح البخاري (۵۹۸۶) و مسلم (۲۵۵۷). من حديث انس رضي الله عنه.
[۲] احمد ۵/ ۲۷۷، و ابن ماجه (۹۰).

دا ده چي الله تعالٰی په ازل کي عالم دی چي که چیري فلانی کس دغه طاعت و نه کړي نو يې عمر د مثال په ډول څلوېښت کلونه دي لېکن الله ﷻ عالم دی چي دی دغه طاعت کوي نو الله تعالٰی د ده عمر د دغه طاعت په سبب بېله تر د ده اويا کلونه مقدر کړي دي که چيري دغه طاعت نه وای نو د عمر زيادت چي دېرش کلونه دي دا به هم نه وای مطلب دا دی چي د عمر د اوږدېدلو يا لنډېدلو اسباب او وسائل يا دا چي کوم يو به خپل طبيعي عمر ته رسېږي او کوم يو به نه رسېږي دغه ټول د الله تعالٰی په محيط علم کي موجود دي او د الله تعالٰی په تقدير کي داخل دي. نو دعاء هم د نورو اسبابو په شان د الله تعالٰی تر تقدير لاندي ده لکه څنګه چي له نورو اسبابو څخه کار اخيستل کېږي او فائده لري همدا شان به له دعاء څخه هم کار اخيستل کېږي او هم فائده لري.

او مولانا شمس الدين خيالي رحمه الله بيا په صله رحمي او نورو طاعاتو سره د عمر د زيادت په اړوند داسي ليکلي دي چي دلته د خير او برکت په حيث زيادت مراد دی يعني کوم کس چي صله رحمي او نور طاعات کوي نو د هغه په عمر کي به خير او برکت وي. والله اعلم.

**د دوهم دليل جواب:** عقاب او ضمان پر قاتل ځکه ثابت دی چي د قتل سبب يې استعمال کړی دی دا کار د شريعت له مخي پر ده حرام دی او د اکسباد قاتل فعل دی بس هم دغه د عقاب او ضمان لپاره بس دی[1].

[1] شرح العقائد (۱۷۲ او ۷۳ مخونه).

# اعتراض او جواب

**اعتراض**: له دې آيت څخه ﴿وَمَا يُعَمَّرُ مِنْ مُّعَمَّرٍ وَّلَا يُنْقَصُ مِنْ عُمُرِهٖٓ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ﴾.[فاطر: ۱۱]. داسې معلومېږي چې د يو کس په عمر کې زيادت او نقصان راځي حال دا چې اجل معلوم دی اوږد وي که لنډ نو د دې آيت معنا څه ده.

**جواب**: ۱- په (من عمره) کې ضمير ذکر سوی معمر ته نه بلکې يو بل معمر ته راجع دی پر دې صورت د آيت معنا داسې کېږي.

او نه شي اوږدېدلی عمر د هيڅ عمر اوږد کړی سوي او نه هيڅ قدر کمولی شي له عمره د بل معمر څخه مګر په کتاب (لوح محفوظ) کې ليکلي دي. يعني که يو چاته ډېر عمر ورکول کېږي او بل ته بيا لږ عمر دا ټوله په لوح محفوظ کې ليکل سوي دي.

۲:- حضرت ابن عباس رضي الله عنه فرمايلي دي د هر معمر کلونه، مياشتې، ورځې ساعتونه ليکل سوي دي وروسته چې کله الله تعالى دی پيدا کړي نو په يو بل کتاب کې ليکل کېږي چې د ده د عمر څخه ورځ کمه سوه مياشت کمه سوه کال کم سو تر څو چې خپل اجل پوره کوي نو کوم وخت چې د ده له عمر څخه تېر سوی دی نقصان دی او کوم وخت چې له خپل عمر څخه وروسته تېروي هغه زيادت دی. د دې آيت په تفسير کې نور اقوال هم سته وګورئ[1].

---

[1] تفسير القرطبي اووم جلد (۶۱۱) مخ.

# الله تعالی تر خلق دمخه هم پر ټولو مخلوقاتو عالم ؤ

**۲۱:-** وَلَمْ يَخْفَ عَلَيْهِ شَيْءٌ مِنْ أَفْعَالِهِمْ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَهُمْ وَعَلِمَ مَاهُمْ عَامِلُوْنَ قَبْلَ أَنْ يَخْلُقَهُمْ.

ژباړه: هيڅ يو شی د مخلوقاتو د افعالو څخه دمخه د دوی تر خلق پر الله تعالی پټ نه ؤ همدا راز د مخلوق تر پيدا کولو دمخه الله تعالی په هغه څه عالم ؤ چي دوی يې کوي.

**شرح-** مطلب دا دی چي الله تعالی تر خلق دمخه پر ټولو مخلوقاتو عالم ؤ د مخلوق تر پيدا کولو دمخه الله تعالی پخپل ازلي علم سره عالم ؤ چي څوک به مؤمن وي او څوک به کافر وي څوک به طاعت کوي او څوک به ګناه دا ټوله الله تعالی په لوح محفوظ کي ليکلي دي او مقدر کړي يې دي. دا عقيده د مخکنيو درو جملو لپاره تاکيد ده او پر قدريه ډلي رد دی چي دوی وايي الله تعالی تر خلق دمخه پر هيڅ شي علم نه لري، (اعاذناالله من سوء اعتقادهم) د دې عقيدې تفصيل او دلائل په (۱۸) عقيده کي وګورئ.

# پر شرع ايمان واجب دی

**۲۲:-** وَأَمَرَهُمْ بِطَاعَتِهِ وَنَهَاهُمْ عَنْ مَعْصِيَتِهِ.

ژباړه: الله تعالی مکلف بنده ګان پخپل طاعت سره امر کړي دي او دوی يې د خپلي نافرمانۍ څخه منع کړي دي.

**شرح**- په مخکنیو عقیدو کي دې طرف ته اشاره وه چي پر قدر ایمان واجب دی او په دې عقیده کي بیا دې طرف ته اشاره ده چي پر شرع ایمان واجب دی همدغه د اسلام مستقیمه لار ده هیڅ یوه د حق ډله په دې کي اختلاف نه لري اما کوم چي جبریه ډله ده هغوی هم قدر مني خو له شرعي څخه مخ اړوي د دوی مقابل قدریه ډله بیا د الله تعالی تقدیر نه مني او په شرع اقرار کوي ټوله اهل السنة والجماعة پر شرع او قدر دواړو ایمان واجب بولي.

(**دلائل**) ۱:- ﴿يَاَيُّهَا النَّاسُ اعْبُدُوْا رَبَّكُمُ﴾. [البقرة: ۲۱].

ژباړه: ای خلګو عبادت وکړئ د رب خپل.

۲:- ﴿وَمَنْ يُّطِعِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ يُدْخِلْهُ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَا ؕ وَذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ﴾. [النساء: ۱۳].

ژباړه: او هر څوک چي ومني حکم د الله ﷻ او د رسول صلي الله علیه وسلم د ده نو داخل به کړي الله ﷻ دی په هسي جنتونو کي چي بهېږي له لاندي د ماڼیو او ونو د هغو ویالې همېشه به وي دوی په دې جنتونو کي او دا ننوتل جنت ته مراد موندل دی ډېر لوی.

﴿وَمَنْ يَّعْصِ اللهَ وَرَسُوْلَهٗ وَيَتَعَدَّ حُدُوْدَهٗ يُدْخِلْهُ نَارًا خَالِدًا فِيْهَا ؕ وَلَهٗ عَذَابٌ مُّهِيْنٌ﴾. [النساء: ۱۴].

ژباړه: او هر څوک چي نافرماني کوي د الله ﷻ او د رسول الله صلي الله علیه وسلم د ده او وځي له حدودو څخه د الله ﷻ نو داخل به کړي الله ﷻ دی اور ته چي همېشه به وي دی په هغه اور کي او شته ده ته عذاب ډېر سپک کونکی.

## ټوله شيان د الله تعالی په اراده او تقدير سره دي

۲۳ :- وَكُلُّ شَيْءٍ يَجْرِي بِتَقْدِيرِهِ وَمَشِيئَتِهِ وَمَشِيئَتُهُ تَنْفُذُ لَا مَشِيئَةَ لِلْعِبَادِ إِلَّا مَاشَاءَ لَهُمْ فَمَاشَاءَ لَهُمْ كَانَ وَمَالَمْ يَشَأْ لَمْ يَكُنْ.

ژباړه: هر شی د الله تعالی په تقدير او اراده سره جريان لري او يوازي د الله تعالی اراده چليږي بنده ګانو ته اراده نسته مګر هغه شی چي الله تعالی يې د دوی لپاره اراده کړی وي نو کوم شی چي الله تعالی يې د بندګانو لپاره اراده کړي وي هغه موجوديږي او هغه شی چي الله تعالی يې اراده نه وي کړې هغه نه موجوديږي.

**شرح**- مطلب دا دی چي د الله تعالی اراده عامه ده ټولو شيانو ته شمول لري په دنيا او آخرت کي هيڅ يو شی د الله تعالی له ارادې او تقدير څخه وتلی نه دی بنده ته اراده سته خو هغه هم د الله تعالی تر ارادې لاندي ده. د دې عقيدې تفصيل او دلائل په اوومه عقيده کي وګورئ.

## هدايت او ضلالت هم د الله تعالی په اراده دی

۲۴ :- يَهْدِي مَنْ يَّشَاءُ وَيَعْصِمُ وَيُعَافِي مَنْ يَشَاءُ فَضْلاً وَيُضِلُّ مَنْ يَشَاءُ وَيَخْذُلُ وَيَبْتَلِي عَدْلًا.

ژباړه: الله تعالی هغه کس ته هدايت کوي چي د هدايت اراده يې وکړي او له ګناهونو څخه يې ساتي او هغه چاته پخپل فضل سره عفوه کوي چي اراده يې

وکړي او هغه څوک ګمراه کوي چي د ګمراهي اراده يې وکړي او د طاعت توفيق نه ورکوي او يو څوک بيا د خپلي ارادې سره سم د عدل او حکمت له مخي په مصيبت سره ازمويي.

**شرح**- مخلوق ته د الله تعالی هدايت په دوه ډوله دی:

۱:- بنده ته د خير او شر لاره ښودل، لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَاَمَّا ثَمُوْدُ فَهَدَيْنٰهُمْ﴾. [حم السجدة: ۱۷].

ژباړه: او هر څه چي ثمود وو پس سمه لاره مو وښوله دوی ته (په لېږلو د رسولانو سره).

دغه قسم هدايت ته (الهداية العامة) ويل کېږي الله تعالی د دې هدايت واک رسولانو ته هم ورکړی دی لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَاِنَّكَ لَتَهْدِيْٓ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ﴾.[الشورى: ۵۲].

ژباړه: او بېشکه ته خامخا ښودل کوې خلقو ته په طرف د لياري برابري.

۲:- بنده ته د حق د قبلولو توفيق ورکول. دغه هدايت ته بيا (الهداية الخاصة) ويل کېږي د دې هدايت يوازي الله تعالی مالک دی بل څوک يې نه سي کولای لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي:

﴿اِنَّكَ لَا تَهْدِيْ مَنْ اَحْبَبْتَ وَلٰكِنَّ اللّٰهَ يَهْدِيْ مَنْ يَّشَآءُ﴾. [القصص: ۵۶].

ژباړه: بېشکه ته (ای محمده!) هدايت نه سې کولای (حق ته يې نه سې رسولای) هغه څوک چي خوښ وي ستا و لېکن الله جل جلاله حق ته رسوي هغه څوک چي اراده وفرمايي د هدايت يې.

په دې عقيده کي پر معتزله ډلي رد دی چي دوی له هدايت د دوهمي معنا څخه انکار کوي ځکه چي دوی د بندګانو افعال د الله تعالی له ارادې او قدرت

څخه وتلی بولي.

(تعالی الله عما یقوله الظالمون علوا کبیرا).

(**دلائل**) ۱: - ﴿ وَّلٰكِنۡ يُّضِلُّ مَنۡ يَشَآءُ وَيَهۡدِىۡ مَنۡ يَّشَآءُ ﴾. [النحل: ۹۳].

ژباړه: و لېکن پاک الله ګمراه کوي هر هغه څوک چي اراده وفرمايي د ضلالت يې او په لاره د حق برابروي هر هغه څوک چي اراده وفرمايي د هدايت يې.

(۲) ﴿ مَنۡ يَشَاِ اللّٰهُ يُضۡلِلۡهُ وَمَنۡ يَّشَاۡ يَجۡعَلۡهُ عَلٰى صِرَاطٍ مُّسۡتَقِيۡمٍ ﴾. [الانعام: ۳۹].

ژباړه: او هر چاته چي اراده وفرمايي الله جَلَّ جَلَالُهُ د ګمراهي يې نو ګمراه کوي يې او هر چاته چي اراده وفرمايي الله جَلَّ جَلَالُهُ د هدايت د ده نو ګرځوي هغه په سمه صافه لاره (د حق).

په دې باره کي آيتونه ډېر دي.

# هيڅ شی د الله تعالی له عدل څخه وتلی نه دی

## ۲۵: - وَكُلُّهُمۡ يَتَقَلَّبُوۡنَ فِى مَشِيۡئَتِهٖ بَيۡنَ فَضۡلِهٖ وَعَدۡلِهٖ.

ژباړه: ټوله انسانان د الله تعالی د ارادې په چوکاټ کي د ده د فضل او عدل په منځ کي ګرځي.

**شرح**- يعني هيڅ يو فرد د الله تعالی له ارادې او عدل څخه وتلی نه دی ټوله بنده ګان د الله تعالی د توفيق او خذلان (توفيق نه ورکولو) په منځ کي ګرځي او راګرځي حتی يو کس په يوه ساعت کي د الله تعالی په توفيق سره عبادت کوي لږ وروسته بيا د الله تعالی په خذلان سره نافرماني کوي نو چي الله تعالی کوم کس ته د خير توفيق ورکړي دا يې فضل او رحمت دی او که چيري بيا د هدايت

توفيق ورنه کړي نو دا يې عدل او حکمت دی خو الله تعالی په هر حال کې محمود (ستايل سوی) دی.

(**دلائل**) ۱:- ﴿ذٰلِكَ الْفَضْلُ مِنَ اللّٰهِ ۚ وَكَفٰى بِاللّٰهِ عَلِيْمًا ﴾.[النساء: ۷۰].

ژباړه: دا ملګرتيا د صالحينو سره فضل دی له جانبه د الله ﷻ کافي دی الله ﷻ ښه پوه. په ټولو نيتونو او عملونو هم.

۲:- ﴿اَللّٰهُ اَعْلَمُ حَيْثُ يَجْعَلُ رِسَالَتَهٗ﴾.[الانعام: ۱۲۴].

ژباړه: الله تعالی ښه عالم دی په هغه ځای چې ږدي رسالت خپل (هلته).

## الله تعالی لره هيڅ شريک نسته

### ۲۶:- وَهُوَ مُتَعَالٍ عَنِ الْأَضْدَادِ وَالْأَنْدَادِ.

ژباړه: الله تعالی د هر ضد او هر مثل څخه پاک دی.

**شرح**- ضد مثل مخالف ته ويل کېږي او ند بيا مثل موافق ته ويل کېږي مطلب دا دی چې د الله تعالی ذات د هر ډول شريک څخه مخالف وي که موافق پاک دی هيڅ شی د ده سره شريک نسته.

(**دلائل**) ۱:- ﴿فَلَا تَجْعَلُوْا لِلّٰهِ اَنْدَادًا وَّاَنْتُمْ تَعْلَمُوْنَ ﴾. [البقرة: ۲۲].

ژباړه: نو مه ګرځوئ له الله تعالی سره شريکان حال دا چې تاسي پوهېږئ (چې الله ﷻ شريک نه لري).

۲:- ﴿سُبْحٰنَهٗ وَتَعٰلٰى عَمَّا يُشْرِكُوْنَ ﴾. [يونس: ۱۸].

ژباړه: الله ﷻ پاک او ډېر پورته دی له هغو اشياؤ څخه چې شريکوي دوی (هغه له الله ﷻ سره په عبادت کې).

# يوازي د الله تعالى قضاء او حکم چلېږي

## ۲۷: – لَا رَادَّ لِقَضَائِهِ وَلَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ وَلَا غَالِبَ لِأَمْرِهِ.

ژباړه: د الله تعالی فیصلې لره هیڅ یو ګرځونکی نسته او د الله تعالی حکم لره هیڅ یو وروسته کونکی نسته او د الله تعالی پر امر هیڅ یو غلبه کوونکی نسته.

**شرح**– دا درې جملې د معنا د لحاظه سره نژدې دي او د دمخه عقیدې لپاره تفصیل دی مطلب یې دا دی چې د الله تعالی فیصله هیڅوک نه سي ګرځولای او نه د یو چا سره دا توان سته چې د ده حکم وګرځوي او نه یو کس د الله تعالی پر امر غالب کېدای سي ترڅو مخ یې ونیسي.

(**دلائل**) ۱: – ﴿وَاللَّهُ يَحْكُمُ لَا مُعَقِّبَ لِحُكْمِهِ﴾.[الرعد: ۴۱].

ژباړه: او الله حکم کوي (په هر څه چې اراده یې وفرمایي) نسته هیڅوک رد کونکی دپاره د حکم د الله تعالی.

۲: – ﴿وَإِذَا أَرَادَ اللَّهُ بِقَوْمٍ سُوءًا فَلَا مَرَدَّ لَهُ﴾.[الرعد: ۱۱].

ژباړه: او کله چې اراده وکړي الله ﷻ پر کوم قوم باندې د بدې (آفت) نو نسته بیرته ګرځېدل د هغه.

۳: – ﴿وَاللَّهُ غَالِبٌ عَلَىٰ أَمْرِهِ وَلَٰكِنَّ أَكْثَرَ النَّاسِ لَا يَعْلَمُونَ﴾.[یوسف: ۲۱].

ژباړه: او الله ﷻ غالب دی په کارونو خپلو (چې هیڅوک یې نه سي رد کولی) او لیکن زیات خلک نه پوهېږي (په دې).

## موږ پر ټولو ذکر سوو عقائدو ایمان لرو

**۲۸: –** آمَنَّا بِذٰلِكَ كُلِّهِ وَأَيْقَنَّا اَنَّ كُلاًّ مِنْ عِنْدِهِ.

ژباړه: موږ پر ټولو ذکر سوو صفاتو ایمان راوړی دی او پردې مو یقین کړی چي ټول شیان خیر دي که شر د الله تعالی له طرفه څخه دي.

**شرح–** په (ذلك) سره ټولو هغو عقائدو ته اشاره ده چي دمخه ذکر سوي دي یعني د رسالې له شروع څخه بیا تر دې ځایه پوري چي کوم عقائد ذکر سوه په هغو ټولو باندي زموږ ایمان دی او ټوله موجودات د الله تعالی په تقدیر اراده او تخلیق سره دی. د تقدیر مسئله په اوومه عقیده کي وګورئ.

## د نبي ﷺ پر رسالت ایمان فرض دی

**۲۹: –** وَإِنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ الْمُصْطَفٰى وَنَبِيُّهُ الْمُجْتَبٰى وَرَسُوْلُهُ الْمُرْتَضٰى.

ژباړه: موږ د نبي ﷺ په شان کي د اعتقاد له مخي د الله تعالی په توفیق وایو چي محمد ﷺ د الله تعالی مختاره بنده دی او د الله تعالی منتخب نبي دی او د الله تعالی خوښ رسول دی.

**شرح–** امام طحاوي رحمه الله تردې ځایه پوري د (لا اله الاالله) تشریح وکړه اوس د (محمد رسول الله) تشریح کوي دا عقیده پر اوله عقیده یعني (ان الله

واحد لاشريك له) عطف ده زموږ د ژباړي څخه دا ښکاره معلومېږي. د مصطفٰی، مجتبی، مرتضی معنا سره نژدې ده.

د امام طحاوي رحمه الله دا کار چي د عبوديت سره يې اصطفاء راوړې (عبده المصطفٰی) يې ويلی او له نبوت سره يې اجتباء راوړې (ونبيه المجتبی) يې ويلی او له رسالت سره يې ارتضاء راوړې (ورسوله المرتضی) يې ويلی د قرآن کريم د نظم سره موافق دی ځکه چي الله تعالٰی داسي فرمايلي دي:

﴿ قُلِ الْحَمْدُ لِلَّهِ وَسَلٰمٌ عَلٰى عِبَادِهِ الَّذِيْنَ اصْطَفٰى ﴾. [النمل: ٥٩].

په دې آيت کي الله تعالٰی د بندګانو له پاره اصطفاء صفت ګرځولي ده.

﴿ وَمِنْ اٰبَآئِهِمْ وَذُرِّيّٰتِهِمْ وَاِخْوَانِهِمْ ۚ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ ﴾. [الانعام: ٨٧].

په دې آيت کي بيا الله تعالٰی انبياء په اجتباء سره موصوف ګرځولي دي.

﴿ اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ ﴾. [الجن: ٢٧].

په دې آيت کي بيا د رسولانو په شان کي ارتضاء راغلې ده.

د نبي ﷺ په نومونو کي محمد ډېر مشهور دی که نه نو ده لره نور نومونه هم سته ځکه چي نبي ﷺ داسي فرمايلي دي:

(أَنَا مُحَمَّدٌ وَأَنَا أَحْمَدُ وَأَنَا الْمَاحِي الَّذِي يُمْحَىٰ بِيَ الْكُفْرُ وَأَنَا الْحَاشِرُ الَّذِي يُحْشَرُ النَّاسُ عَلَىٰ عَقِبِي وَأَنَا الْعَاقِبُ وَالْعَاقِبُ الَّذِي لَيْسَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ) [1].

ژباړه: زه محمد يم او زه احمد يم او زه ماحي يم. يعني هغه څوک چي زما په وجود سره کفر محو (نېستي) کېږي او زه حاشر يم. يعني هغه څوک چي خلګ به تر ما وروسته را پاڅول کېږي او زه عاقب يم عاقب هغه څوک دی چي تر ده

---

[1] رواه البخاري (٤٨٩٦) و مسلم (٢٣٥٤) واللفظ له من حديث جبير بن مطعم رضي الله عنه.

وروسته بل نبي نه وي.

د محمد لفظ په اصل کي له حمد څخه چي د ثناء ويلو په معنا دی را اخيستل سوی دی نژدې مصدر يې تحميد دی دا باب دلته د تکثير لپاره دی نو محمد هغه څوک دی چي حمدونه او حمد ويونکی يې ډېر وي ښکاره خبره ده چي نبي ﷺ د الله تعالی له طرفه همدا راز د ملائکو او رسولانو او ټولو خلګو له خوا ستايل سوی دی نو محمد د نبي ﷺ لپاره هم نوم او هم صفت دی که څه هم د اکثرو نورو خلګو لپاره چي په دغه نوم سره نومول سوي دي يوازي نوم دی.

د امام طحاوي رحمه الله له دې جملې څخه (وان محمدا عبده المصطفى) مطلب دا دی چي پر هر انسان باندي دا شاهدي فرض ده چي نبي ﷺ د الله تعالی مختاره بنده دی. په مخلوق کي عبوديت (بندګي) يو داسي صفت دی چي يو بنده په دغه صفت کي په کومه اندازه پرمخ تګ کوي په هغه اندازه يې کمال او درجه لوړېږي ښکاره خبره ده چي په نبي ﷺ کي دغه صفت په کامله وجه موجود وو د همدغه کامل عبوديت لکبله نبي ﷺ په دنيا او آخرت کي پر ټولو خلګو دمخه دی او کله چي خلګ د قيامت په ورځ تر ټو انبياؤ عليهم السلام وروسته د عيسی عليه السلام څخه شفاعت طلب کړي نو دی يې په جواب کي داسي فرمايي:

(إِئْتُوا مُحَمَّدًا ﷺ عَبْدًا غَفَرَ اللهُ لَهُ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهِ وَمَا تَأَخَّرَ)[1].

ژباړه: تاسي ورسئ محمد ﷺ ته چي هغه يو معصوم بنده دی.

الله تعالی په ډېرو لوړو مقاماتو کي نبي ﷺ د عبد په نوم ياد کړی دی لاندي څو مقامات وګورئ:

۱:- ﴿ سُبْحٰنَ الَّذِيٓ اَسْرٰى بِعَبْدِهٖ ﴾.[الاسراء: ۱]. ۲:- ﴿ وَّاَنَّهٗ لَمَّا قَامَ عَبْدُ اللّٰهِ

[1] اخرجه البخاري فی حديث الشفاعة الطويل (۴۴۷۶).

يَدۡعُوهُ ﴾.[الجن: ۱۹]. ۳ :- ﴿ فَأَوۡحَىٰٓ إِلَىٰ عَبۡدِهِۦ مَآ أَوۡحَىٰ○ ﴾.[النجم: ۱۰]. ۴ :- ﴿ وَإِن كُنتُمۡ فِي رَيۡبٖ مِّمَّا نَزَّلۡنَا عَلَىٰ عَبۡدِنَا ﴾. [البقرة: ۲۳].

د امام طحاوي رحمه‌الله له دې کلام څخه (ونبيه المجتبى ورسوله المرتضى) مطلب دا دی چې محمد ﷺ نبي او هم رسول دی الله تعالی محمد ﷺ ته په (۱۳) آیتونو کې په (یأیهاالنبی) سره خطاب کړی دی او په دوو آیتونو کې یې په (یأیها الرسول) سره خطاب کړی دی نو محمد ﷺ هم نبي او هم رسول دی. صلی الله علیه وعلی اله واصحابه وسلم.

## د نبي او رسول فرق

**لغوي تحقيق**:- د نبي لفظ همدا شان د نبوت لفظ د نون او باء په ضمه سره د نَبأ له لفظ څخه چې د خبر په معنا دی را اخیستل سوی دی نبي فعیل وزن دی د اسم فاعل (منبئ) په معنا دی اصل یې نبئ وو همزه په یا بدل سو یاء په یاء کې مدغمه سوه معنا یې د خبر ورکونکي ده ښکاره خبره ده چې نبي هم د الله تعالی له طرفه مخلوق ته خبر ورکوي.

یا د اسم مفعول مُنۡبَا په معنا دی یعني ده ته خبر ورکول سوی نبي ته هم د الله تعالی له طرفه د وحي خبر ورکول سوی دی.

یا د (نبوة) یا د (نباوة) له لفظ څخه چې په دواړو کې نون فتحه لري او معنا یې ارتفاع ده را اخیستل سوی دی پردې صورت یې اصل (نبیو) وو واو په یا بدل سو یا په یا کې مدغمه سوه دلته هم نبي فعیل وزن دی د اسم فاعل په معنا دی یعني د لوړې مرتبې خاوند. بیله شکه چې نبي ﷺ په ټولو خلګو کې د لوړې

مرتبې خاوند دی یا د اسم مفعول په معنا دی یعني ده ته لویه مرتبه ورکول سوې په دې کې هم شک نسته چي نبيﷺ ته د الله تعالی له طرفه هغه سي علوم ورکول سوي چي بل هيڅوک يې پخپل کسب سره نه سي حاصلولای او نه يې د لويو عاقلانو عقلونه درک کولای سي.

رسول يا فعول وزن دی د مفعول یعني (استول سوی) په معنا دی رسول هم د الله تعالی له طرفه د احکامو د تبلیغ لپاره بندګانو ته را استول سوي دي دا چي په شريعت کي د نبي او رسول څه فرق دی په دې باره کي د علماؤ څو لاندي قولونه وګورئ:

۱:- نبي هغه انسان دی چي الله تعالی د شريعت وحي ورته کړې وي نور نو د شريعت په تبليغ او دعوت يې امر کړی وي يا نه. رسول هغه انسان دی چي الله تعالی د شريعت وحي ورته کړې وي او د شريعت په تبليغ او دعوت يې هم امر کړی وي د دې مشهور تعريف پر بناء نبي عام او رسول خاص دی هر رسول نبي دی او هر نبي رسول نه دی.

۲:- نبي او رسول هغه انسان دی چي الله تعالی مخلوق ته د هغو احکامو د تبليغ لپاره را لیږلی وي چي پرده يې نازل کړې وي. د دې تعريف پر بناء د نبي او رسول فرق نسته ابن الهمامرحمه الله دا تعريف محققينو علماؤ ته منسوب کړی دی خو يو اعتراض ورباندي سته هغه دا دی چي په احاديثو کي د انبياؤ شمېر تر (۱۰۰۰۰۰) زيات راغلی دی او د رسولانو شمېر (۳۱۳) راغلی دی نو معلومه سوه چي د نبي او رسول فرق سته نبي عام او رسول خاص دی.

۳:- نبي هغه انسان دی چي الله تعالی مخلوق ته د احکامو د تبليغ لپاره را لیږلی وي نور نو کتاب ورکول سوی وي يا نه رسول يا هغه نبي دی چي الله تعالی يو خصوصي امتياز هم ورکړی وي د مثال په ډول نوی کتاب يې ورکړی

وي يا يې نوی شريعت ورکړی وي يا يې د منکرينو سره د مقابلې حکم ورکړی وي يا يې د يو نوی امت لوري ته لېږلی وي مطلب دا دی چې د رسول لپاره ضروري ده چې د انبياؤ په منځ کي به يو خاص امتياز ورکول سوی وي دا ضروري نه ده چې پرده به نوی کتاب نازل سوی وي يا به نوی شريعت ورکول سوی وي ځکه چې حضرت اسمٰعيل عليه السلام د امت په اتفاق رسول دی خو پرده هيڅ يو کتاب او شريعت نه وو نازل سوی همدا راز له يو حديث شريف څخه ښکاري چې د رسولانو شمېر (۳۱۳) او د کتابونو شمېر يو سل او څلور دي نو معلومه سوه چې د رسول لپاره د يو خاص کتاب نازلېدل ضروري نه دی. المسامرة (۱۹۳ او ۱۹۴) مخونه. دا وروستنی تعريف مولانا محمد ادريس کاندهلوي رحمة الله عليه په (عقائد الاسلام) (۶۴)مخ کي محققينو علماؤ ته منسوب کړی دی.

(تنبيه) کوم علماء کرام چې رسول خاص او نبي عام بولي دا په هغه صورت کي چې رسول او نبي دواړه سره نژدې ذکر سي لکه په دې آيت کي: ﴿ وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ مِنْ رَّسُوْلٍ وَّلَا نَبِيٍّ ﴾.[الحج: ۵۲].

او که چيري رسولان مطلق ذکر سي بيا د انبياؤ په څېر ټولو انبياؤ او رسولانو ته د آدم عليه السلام څخه تر محمد ﷺ پوري شمول لري لکه په دې آيت کي:

﴿ تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلٰى بَعْضٍ ﴾.[البقرة: ۲۵۳].

ژباړه: دا ټول رسولان (چې له آدم تر محمده پوري ياد شول) فضيلت ورکړی دی موږ ځيني د دوی ته پر ځينو نورو. (وَبِاللهِ التَّوْفِيْقُ وَمِنْهُ الْوُصُوْلُ إِلَى التَّحْقِيْقِ).

## نبي ﷺ خاتم الانبياء او سيدالمرسلين دى

۳۰:- (وَأَنَّهُ خَاتَمُ الأَنْبِيَاءِ وَإِمَامُ الأَتْقِيَاءِ وَسَيِّدُ الْمُرْسَلِيْنَ وَحَبِيْبُ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ).

ژباړه: موږ وايو چي محمد ﷺ د ټولو انبياؤ خاتم او آخري نبي دى او د ټولو متقيانو (هغه كه انبياء دي او كه تر دوى وروسته كسان دي) امام دى او د ټولو رسولانو سردار دى او د رب العاملين دوست دى.

**شرح**- مطلب دا دى چي د انبياؤ سلسله پر محمد ﷺ باندي ختمه سوې ده تر ده وروسته بل نبي نسته دا يوه داسي خبره ده چي له دين څخه په قطعي ډول ثبوت لري او د لمر په شان روښانه ده هيڅ اختلاف او خفاء په كي نسته كه چيري يو كس په دې خبره كي شک ولري هغه كافر دى اوس نو د هغه چا په باره كي څه وايا ست چي پخپله د نبوت دعوىٰ وكړي يا يې بل څوک تصديق وكړي دا خو په ښكاره ډول كافر دى حتىٰ هغه كس هم زموږ د ځينو علماؤ په آند كافر دى چي له دغه درواغجن څخه معجزه او د نبوت دليل وغواړي[1].

(**دلائل**) ۱:- ﴿وَلَٰكِن رَّسُولَ اللَّهِ وَخَاتَمَ النَّبِيِّينَ﴾. [الاحزاب: ۴۰].

ژباړه: مګر د الله ﷻ رسول صلي الله عليه وسلم او د ټولو پيغمبرانو عليهم السلام وروستنى پيغمبرصلي الله عليه وسلم دى.

۲:- ﴿وَمَا مُحَمَّدٌ إِلَّا رَسُولٌ قَدْ خَلَتْ مِن قَبْلِهِ الرُّسُلُ﴾. [آل عمران: ۱۴۴].

---

[1] وګورئ مرقاة/ ۱۰ جلد / (۲۲۱ مخ).

ژباړه: او محمد ﷺ نه دی مګر یو پیغمبر دی بې شکه له ده څخه وړاندې ډېر پیغمبران علیهم السلام تېر سوي دي.

مطلب دا دی چې ټوله انبیاء او رسولان تر ده وړاندې تېر سوي دي نو تر ده وروسته نه نبي سته او نه رسول. حدیثونه خو په دې باره کې ډېر دي خو د مثال په ډول یو څو وګورئ:

١:- نبي ﷺ فرمایلي دي زما او د نورو انبیاؤ مثال د هغه قصر (ماڼۍ) دی چې په ښه ډول جوړ سوی وي خو د یوې خښتې ځای یې خالي پرېښودل سوی وي کتونکی ورباندې ګرځي له ښه جوړښت څخه یې تعجب کوي هیڅ یو ځای ته یې ګوته نه نیسي مګر دغه د یوې خښتې ځای چې خالي پرېښودل سوی وي نو زه هغه څوک یم چې دغه د یوې خښتې ځای مې پوره کړ په ما سره د قصر جوړښت پای ته ورسېدی او په ما سره د رسولانو سلسله ختمه سوه[1].

٢:- نبي ﷺ فرمایلي دي ډېر ژر به زما په امت کې دېرش لوی درواغجنان پیدا سي هر یو به دا باطل ګومان کوي چې دی نبي دی حال دا چې زه د انبیاؤ خاتم یم تر ما وروسته بل نبي نسته[2].

٣: نبي ﷺ فرمایلي دي ماته پر نورو انبیاؤ علیهم السلام په شپږو شیانو سره فضیلت راکول سوی دی د حدیث په آخر کې داسي راغلي دي: (وَأُرۡسِلۡتُ إِلَى الۡخَلۡقِ كَافَّةً وَخُتِمَ بِيَ النَّبِيُّونَ).

یعني زه ټولو خلکو ته رالېږل سوی یم او په ما باندې انبیاء ختم سوي دي[3].

٤:- هغه حدیث دی چې لږ د مخه تېر سو په هغه حدیث کې نبي ﷺ خپل څو

---

[1] اخرجه البخاري (٣٥٣٥) و مسلم (٢٢٨٦). من حديث ابي هريرة رضي الله عنه.
[2] اخرجه البخاري (٣٦٠٩) و مسلم (٢٢٣٩). من حديث ابي هريرة رضي الله عنه.
[3] اخرجه مسلم (٥٢٣). من حديث ابي هريرة رضي الله عنه.

نومونه ذکر کړي دي په آخر کي يې داسي راغلي دي: (وَأَنَا الْعَاقِبُ وَالْعَاقِبُ الَّذِى لَيْسَ بَعْدَهُ نَبِيٌّ).

يعني- زه عاقب يم عاقب هغه څوک دی چي ترده وروسته بل نبي نه وي. اخرجه البخاري (٣٥٣٢) و مسلم (٢٣٥٤). من حديث جبير بن مطعم ﷺ.

د دې خبري چي نبي ﷺ تر ټولو انبياؤ افضل دی دوه لاندي دليلونه وګورئ:

(١) ﴿كُنتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ﴾.[آل عمران: ١١٠].

ژباړه: (ای مؤمنانو!) تاسو داسي بهتر امت ياست چي د خلګو د ګټي لپاره ميدان ته را ايستل سوي دي.

ښکاره خبره ده چي د يوه امت خيريت د دوی د ديني کمال له کبله دی او دغه کمال د دوی د هغه نبي له کمال څخه سرچينه اخلي چي دوی يې پيروي کوي نو د دې امت د خيرت څخه دا ښکاره معلوميږي چي محمد ﷺ تر نورو انبياؤ عليهم السلام افضل دی.

(٢) نبي فرمايلي دي: (أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)[1]. وفی اول حديث الشفاعة (أَنَا سَيِّدُ النَّاسِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)[2].

ژباړه: زه د قيامت په ورځ د ټولو خلګو سيد او مقتدیٰ يم.

مطلب دا دی چي نبي ﷺ ته پر نورو انبياؤ عليهم السلام کلي افضليت ورکول سوی دی دا له دې سره ټکر نه لري چي يو بل نبي ته جزئي افضليت ورکول سوی وي يعني په يو خاص شی کي امتياز ورکول سوی وي د مثال په ډول نبي ﷺ فرمايلي دي د قيامت په ورځ به خلګ بې هوشه سي زه به هم ورسره بې هوشه سم

[1] (الحديث) صحيح مسلم (٢٢٧٨). من حديث ابي هريرة ﷺ

[2] اخرجه البخاري (٣٣٤٠) و مسلم (١٩٤). من حديث ابي هريرة ﷺ.

خو زه به اول هغه څوک يم چي دغه بې هوشي ورڅخه ليري کېږي خو ناڅاپه به موسٰی علیہ السلام و وينم د عرش يوطرف به يې نيولی وي نور نو خبر نه يم چي دی هم په بې هوشه سوو کسانو کي داخل ؤ خو تر ما دمخه بې هوشي ورڅخه ليري سوه او که له هغې طائفې څخه دی چي الله تعالی له دغي بې هوشۍ څخه مستثنٰی کړی دی. صحيح البخاري اول جلد (۳۲۵) مخ.

دا چي موسٰی علیہ السلام ته په دغه خاص شي کي افضليت ورکول سوی دا په دې معنا نه دی چي موسٰی علیہ السلام پر نبي ﷺ افضل دی ځکه چي دا جزئي افضليت دی د جزئي افضليت څخه کلي افضليت نه لازمېږي.

## سوال او جواب

**سوال**:– له ذکر سوو نصوصو څخه دا ښکاره معلومه سوه چي محمد ﷺ تر ټولو انبياؤ علیہم السلام افضل دی.

خو په يو آيت کي بيا داسي راغلي دي: ﴿لَا نُفَرِّقُ بَيْنَ اَحَدٍ مِّنْهُمْ﴾.[البقرة: ۱۳۶].

ژباړه: موږ د پيغمبرانو څخه د يو پيغمبر په منځ کي هم فرق نه کوو.

همدا شان په يو حديث کي نبي ﷺ داسي فرمايلي دي: (لَا تُخَيِّرُوْنِي عَلٰى مُوْسٰى[1])–

يعني– ما پر موسٰی علیہ السلام افضل مه بولئ. په يو بل روايت کي بيا داسي راغلي دي:

[1] الحديث) صحيح البخاري (۳۴۰۸) و مسلم (۱۸۴۴).

(لَا تُفَضِّلُوا بَيْنَ أَنْبِيَاءِ اللهِ)[1].

یعني- د الله تعالی د انبیاؤ علیهم السلام په منځ کي یوه ته پر بل فضلیت مه ثابتوئ. اوس نو د دغو نصوصو په منځ کي د یو ځای کېدلو طریقه څنګه ده.

**جواب**: دا خبره په قطعي نصوصو سره ثابته ده چي ځیني انبیاء پر ځینو نورو انبیاؤ فضیلت لري لاندي دوه آیتونه وګورئ:

۱:- ﴿وَلَقَدْ فَضَّلْنَا بَعْضَ النَّبِيِّينَ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾.[الاسراء: ۵۵].

ژباړه: او خامخا په تحقیق فضیلت ورکړی دی موږ ځینو انبیاؤ ته پر ځینو نورو.

۲:- ﴿تِلْكَ الرُّسُلُ فَضَّلْنَا بَعْضَهُمْ عَلَىٰ بَعْضٍ﴾.[البقرة: ۲۵۳].

ژباړه: دا ټول رسولان علیهم السلام (چي له آدم علیه السلام تر محمده صلی الله علیه وسلم پوري یاد سول) فضیلت ورکړی دی موږ ځیني د دوی ته پر ځینو نورو.

دا خبره هم ثابته ده چي نبي صلی الله علیه وسلم تر ټولو انبیاؤ علیهم السلام افضل دی ترده وروسته ابراهیم علیه السلام افضل دی، وروسته نوح، موسیٰ، عیسیٰ علیهم السلام تر نورو انبیاؤ علیهم السلام فضیلت لري همدغه پنځه رسولان علیهم السلام د جمهورو علماؤ په نزد (اولوالعزم) رسولان بلل کېږي په سورة الاحزاب (۷) آیت او سورة الشوریٰ (۱۳) آیت کي الله تعالی همدغه پنځه رسولان علیهم السلام سره جمع کړي دي اما کومه منعه چي د تفصیل (بالا کښلو) څخه د ځینو انبیاؤ علیهم السلام پر نورو انبیاؤ راغلې ده دا په هغه صورت کي ده چي دغه تفضیل د تعصب پر طریقه وي یا یې په ضمن کي نورو انبیاؤ ته د نقصان نسبت وي یا مطلوب دا دی چي په نفس نبوت او رسالت کي د دوی ترمنځ فرق کول ممنوع دی اما کوم تفضیل چي د

---

[1] صحیح البخاري (۳۴۱۴).

واقع د بیان لپاره وي او پر حق د اعتقاد له مخي وي له دې څخه خو هیڅ چاره نسته ځکه چي دا د اسلام له عقائدو څخه دی[1].

## سوال او جواب

**سوال**: تر نبيﷺ وروسته قیامت ته نژدې عیسیٰ علیه السلام را ښکته کېږي او دجال وژني تفصیل يې په احادیثو کي بیان سوی دی نو دا خو به د ختم نبوت له مسئلې سره څه ټکر نه لري؟

**جواب**: دا د ختم نبوت له مسئلې سره هیڅ ټکر نه لري ځکه چي کله عیسیٰ علیه السلام ځمکي ته راسي نو دی پخپل پخواني شریعت عمل نه کوي ځکه چي هغه شریعت منسوخ سوی دی او نه ده ته بل نوی شریعت ورکول کېږي بلکي دی د نبيﷺ تابع او خلیفه دی. ځکه چي د یو حدیث څخه ښکاره معلومېږي چي په آخر الزمان کي عیسیٰ علیه السلام راکښته کېږي او د نبيﷺ په شریعت حکم کوي[2].

اصل سوال او جواب د شرح العقائد (۱۰۱ مخ) څخه را اخیستل سوی دی.

## تر محمدﷺ وروسته د نبوت دعوه ګمراهي ده

**۳۱ :- وَكُلُّ دَعْوَىٰ النُّبُوَّةِ بَعْدَهُ فَغَيٌّ وَهَوَىٰ.**

ژباړه: د محمدﷺ د نبوت تر ظهور وروسته د نبوت هره دعوه ګمراهي او د نفسي خواهشاتو پیروي ده.

---

[1] شرح الفقه الاكبر (۱۹۴ الی ۲۰۱).

[2] صحیح مسلم (۱۵۵).

**شرح**– کله چي دا خبره قطعي وه چي نبي ﷺ خاتم النبيين دی نو دا خبره هم يقيني ده چي د نبي ﷺ د نبوت تر ظهور وروسته د نبوت هره دعوه باطله ده هغه که د ده په ژوند کي وي او که د ده تر وفات وروسته وي نو کوم کس چي د نبي ﷺ تر رسالت وروسته يې د نبوت دعوه کړې ده يا يې کوي هغه د امت په اجماع سره کافر دی قتل يې واجب دی او هر څوک چي د دغه دروغجن تصديق وکړي هغه هم کافر دی دغسي کس الله تعالیٰ په مخلوق کي لوی ظالم بللی دی الله تعالیٰ داسي فرمايلي دي:

﴿وَمَنْ أَظْلَمُ مِمَّنِ افْتَرَىٰ عَلَى اللَّهِ كَذِبًا أَوْ قَالَ أُوحِيَ إِلَيَّ وَلَمْ يُوحَ إِلَيْهِ شَيْءٌ وَمَنْ قَالَ سَأُنزِلُ مِثْلَ مَا أَنزَلَ اللَّهُ﴾. [الانعام: ۹۳].

ژباړه: او څوک دی ډېر ظالم (يعني هيڅوک نسته) له هغه چا نه چي تړي پر الله ﷻ دروغ يا وايي چي وحي کړی شوې ده ماته حال دا چي وحي نه وي کړی شوې ده ته د هيڅ شي او (بل څوک دی ډېر ظالم يعني نشته) له هغه چي وايي ژر به زه هم نازل کړم په مثل د هغه کتاب چي نازل کړی دی الله (تا ته ای محمده ﷺ! چي قرآن دی).

د نبي ﷺ په ژوند کي دوو کسانو د نبوت دعوه کړې ده چي يو يې (مسيلمة الکذاب) او بل (الاسود العنسی) ۇ اسود عنسی د نبي ﷺ د ژوند په آخر کي د مبارک صحابي (فيروز رضي الله عنه) له خوا په صنعاء کي قتل سو او مسيلمة الکذاب بيا د حضرت ابوبکر رضي الله عنه په خلافت کي وحشي قتل کړی. (والحمدلله علی ذالك)

همدا شان تر نبي ﷺ وروسته هم څو ګمراهانو د نبوت دعوه کړې ده لکه په اوسني وخت کي چي غلام احمد قاديانی پاکستاني لعنة الله عليه د يهودو او نصاریٰ ۇ په تحريک د نبوت دعوه وکړه او څو جاهلانو ګمراهانو يې تصديق

وکړ د ده پیروي یې شروع کړه اوس هم د دغه کافر پیروان سته قادیانیان ورته وایي خو الحمدلله د دغو ګمراهانو په مقابل کي لوی علماء را پورته سول د دوی په رد کي یې رسالې او کتابونه ولیکل او د دوی کفر یې ټولو مسلمانانو ته ښکاره کړی. خو د دغسي ګمراهانو په باره کي نبي ﷺ خپل امت ته خبر ورکړی دی داسي یې فرمایلي دي:

(إِنَّهُ سَيَكُونُ فِي أُمَّتِي كَذَّابُونَ ثَلَاثُونَ كُلُّهُمْ يَزْعُمُ أَنَّهُ نَبِيٌّ وَأَنَا خَاتَمُ النَّبِيِّينَ لَا نَبِيَّ بَعْدِي) [1].

ژباړه: یقیناً زما په امت کي به ډېر ژر دېرش لوی درواغجنان پیدا سي هر یو به یې دا باطله خبره کوي چي دی نبي دی حال دا چي زه خاتم النبیین یم تر ما وروسته بل نبي نسته.

## نبي ﷺ ټولو پېریانو او ټولو انسانانو ته مبعوث دی

### ۳۲:- وَهُوَ الْمَبْعُوثُ إِلَى عَامَّةِ الْجِنِّ وَكَافَّةِ الْوَرَى بِالْحَقِّ وَالْهُدَى وَبِالنُّورِ وَالضِّيَاءِ.

ژباړه: نبي ﷺ عامو پېریانو او ټولو انسانانو ته را استول سوی دی په داسي دین سره چي هغه حق هدایت او کامل نور دی.

**شرح**- مطلب دا دی چي د نبي ﷺ رسالت عام دی ټولو انسانانو او پېریانو ته شامل دی دا یوه داسي خبره ده چي له دین څخه په قطعي ډول ثبوت لري نو د دې

[1] رواه احمد /۵/ ۲۷۸، وابوداؤد (۴۲۵۲). والترمذی (۲۲۱۹). ونحوه فی البخاري (۳۶۰۹). ومسلم/ فی الفتن (۱۵۷). من حدیث ابي هریرة رضي الله عنه.

عقيدې تر څنګ چي محمد ﷺ د الله تعالی رسول دی دا عقیده هم فرض ده چي د ده رسالت عام دی دا عقیده چي نبي ﷺ عامو پیریانو ته مبعوث دی دلیل یې سورة الجن او د سورة الاحقاف څو آیتونه دي همدا راز په سورة الرحمٰن کي هغه خطاب دی چي پیریانو او انسانانو دواړو ته سوی دی د دې خطاب څو نمونې وګورئ:

۱:- ﴿ يٰمَعْشَرَ الْجِنِّ وَالْاِنْسِ ﴾.[الرحمٰن: ۳۳]. ۲:- ﴿ يُرْسَلُ عَلَيْكُمَا شُوَاظٌ مِّنْ نَّارٍ ﴾.[الرحمٰن: ۳۵]. ۳:- ﴿ فَيَوْمَئِذٍ لَّا يُسْـَٔلُ عَنْ ذَنْۢبِهٖٓ اِنْسٌ وَّلَا جَآنٌّ ﴾.[الرحمٰن: ۳۹]. ۴:- ﴿ فَبِاَيِّ اٰلَآءِ رَبِّكُمَا تُكَذِّبٰنِ ﴾. [الرحمٰن: ۳۸]..

دا آیت خو په سورة الرحمٰن کي ډېر ځایونه مکرر دی. اما دا چي نبي ﷺ ټولو انسانانو ته مبعوث دی د دې دلائل هم ډېر دي خو تاسو یې یو څو وګورئ:

۱:- ﴿ قُلْ يٰٓاَيُّهَا النَّاسُ اِنِّيْ رَسُوْلُ اللّٰهِ اِلَيْكُمْ جَمِيْعًا ﴾.[الاعراف: ۱۵۸].

ژباړه: و وایه ای محمده ﷺ! چي ای خلکو بېشکه زه رسول د الله ﷻ یم تاسي ټولو ته (نه بعضو ته لکه نور انبیاء عليهم السلام).

۲:- ﴿ وَمَآ اَرْسَلْنٰكَ اِلَّا كَآفَّةً لِّلنَّاسِ ﴾.[سبأ: ۲۸].

ژباړه: او نه یې لېږلی مونږ ته مګر په دې حال کي چي جامع یې خلکو ته.

۳:- ﴿ وَاُوْحِيَ اِلَيَّ هٰذَا الْقُرْاٰنُ لِاُنْذِرَكُمْ بِهٖ وَمَنْۢ بَلَغَ ﴾.[الانعام: ۱۹].

ژباړه: او وحي کړې شوې ده ماته دا قرآن لپاره د دې چي و وېروم (خبردار کړم) تاسي په دې سره او هغه څوک چي ور ورسېږي (ده ته دا قرآن په هر زمان او مکان کي).

۴:- د یوه روایت په آخر کي داسي راغلي دي: (وَكَانَ النَّبِيُّ يُبْعَثُ إِلَى قَوْمِهِ

خَاصَّةً وَبُعِثْتُ إِلَى النَّاسِ عَامَّةً)[1].

ژباړه: په پخوا زمانه کي به نبي يوازي خپل قوم ته را لېږل کېدی خو زه ټولو خلګو ته را لېږل سوی یم.

## آیا له پېریانو څخه رسولان سته

په دې کي اختلاف نسته چي ځینو پېریانو د قرآن کریم تر زده کولو وروسته خپل قوم ته رجوع کړې ده او هغوی یې ایمان راوړلو ته هڅولي او د الله ﷻ له عذابه یې ډارولي دي لکه چي په سورة الاحقاف (۲۹) آیت کي ورته اشاره سوې ده. دا خبره هم اتفاقي ده چي انسانانو ته ټول پیغمبران له خپل جنس څخه را لېږل سوي دي او په دوی کي کوم یو پېری نه دی تېر سوی. اختلاف په دې کي دی چي آیا پېریانو ته له خپل جنس څخه پېری پیغمبر استول سوی دی او که څنګه. اکثره علماء کرام په دې نظر دي چي پېری پیغمبر نه دی تېر سوی بلکي پیغمبري په انسانانو پوري ځانګړې ده له پېریانو څخه یوازي بلونکی او وېرونکی سته لکه څنګه چي یې دمخه یادونه وسوه همدغه د حضرت ابن عباس رضي الله عنه او مجاهد رحمه الله او نورو سلفو نظر دی د دوی استدلال له دې آیت څخه دی:

﴿وَمَآ اَرْسَلْنَا مِنْ قَبْلِكَ اِلَّا رِجَالًا نُّوْحِیْٓ اِلَيْهِمْ مِّنْ اَهْلِ الْقُرٰى﴾. [یوسف: ۱۰۹].

ژباړه: او نه وو لېږلی موږ پخوا له تا (په رسالت سره) مګر سړي (بني آدم نه ملائک نه جن نه ښځي) چي وحي به کوله موږ دوی ته له اهل د قریو.

او حضرت مقاتل رحمة الله علیه او ضحاک رحمة لله علیه بیا ویلي دي چي په

---

[1] اخرجه البخاري (۳۳۵ و مسلم ۵۲۱). من حدیث جابر رضي الله عنه.

پېريانو کي هم رسولان سته دليل يې دا آيت ګرځولی دی: ﴿ يَٰمَعۡشَرَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِ أَلَمۡ يَأۡتِكُمۡ رُسُلٞ مِّنكُمۡ ﴾.[الانعام: ۱۳۰].

ژباړه: ای د پېريانو او انسانانو ټولګيو آيا تاسو ته همدا ستاسو څخه پيغمبران نه وه درغلي.

خو اکثره علماء کرام په دې آيت کي د (منکم) خطاب مجموع پېريانو او انسانانو ته بولي خو مراد يوازي انسانان بولي پردې صورت يې معنا داسي کېږي (چي آيا تاسو ته ستاسو له مجموعې څخه خاص خاص انسانان د پيغمبرانو په صفت نه وه درغلي). د دې مثال دا آيت دی:

﴿ يَخۡرُجُ مِنۡهُمَا ٱللُّؤۡلُؤُ وَٱلۡمَرۡجَانُ ﴾.[الرحمٰن: ۲۲]. په دې آيت کي د ملغلرو د راوتلو نسبت ظاهراً دواړو دريابونو خواړه او تروه ته سوی دی خو مراد يوازي ترو درياب دی.

پر همدغه طريقه له ذکر سوي آيت څخه مطلب دا دی چي رسولان يوازي له انسانانو څخه دی، يا د منکم خطاب پېريانو او انسانانو هر يوه ته دی د انسانانو رسولان خو معلوم دي د پېريانو رسولان هغه پېريان دي چي د پيغمبرانو عليهم السلام خبري يې اورېدلي او بيا يې خپل قوم ته رسولي دغسي کسانو ته بلونکی او بېرونکي ويل کېږي. د دې مسئلې د تفصيل لپاره وګورئ[1].

---

[1] تفسير ابن کثير دوهم جلد (۱۷۷ مخ) او تفسير القرطبي څلورم جلد (۷۷ مخ) او تفسير الجلالين (۱۲۵ مخ) او داسي نور تفسيرونه.

## قرآن كريم د الله تعالى كلام دى

**٣٣ :-** وَإِنَّ الْقُرْآنَ كَلَامُ اللهِ تَعَالَى مِنْهُ بَدَا بِلَا كَيْفِيَّةٍ قَوْلًا وَأَنْزَلَهُ عَلَى رَسُوْلِهِ وَحْيًا وَصَدَّقَهُ الْمُؤْمِنُوْنَ عَلَى ذٰلِكَ حَقًّا وَأَيْقَنُوْا أَنَّهُ كَلَامُ اللهِ تَعَالَى بِالْحَقِيْقَةِ لَيْسَ بِمَخْلُوْقٍ كَكَلَامِ الْبَرِيَّةِ فَمَنْ سَمِعَهُ فَزَعَمَ أَنَّهُ كَلَامُ الْبَشَرِ فَقَدْ كَفَرَ وَقَدْ ذَمَّهُ اللهُ تَعَالَى وَعَابَهُ وَاَوْعَدَهُ بِسَقَرَ حَيْثُ قَالَ تَعَالَى ﴿ سَأُصْلِيْهِ سَقَرَ ○﴾. [المدثر: ٢٦]. فَلَمَّا اَوْ عَدَاللهُ بِسَقَرَ لِمَنْ قَالَ ﴿ إِنْ هٰذَآ اِلَّا قَوْلُ الْبَشَرِ ○﴾. [المدثر: ٢٥]. عَلِمْنَا وَأَيْقَنَّا أَنَّهُ قَوْلُ خَالِقِ الْبَشَرِ وَلَا يُشْبِهُ قَوْلَ الْبَشَرِ.

ژباړه: موږ د اعتقاد له مخي د الله تعالى په توفيق وايو چي يقيناً قرآن كريم د الله تعالى كلام دى بېله كيفيته د كلام په شكل د الله تعالى څخه ښكاره سوى دى او د وحي په صورت يې پر خپل رسول (محمد ﷺ) نازل كړى دى او مسلمانانو په دغه وحي كي د نبي ﷺ پوره تصديق كړى دى او دا يقين يې كړى دى چي دغه قرآن كريم حقيقتاً د الله تعالى كلام دى د خلګو د كلام په څېر مخلوق (حادث) نه دى نو هر هغه كس چي دغه قرآن واوري او و وايي چي دا د

بشر کلام دی نو یقیناً دغه کس کافر دی الله تعالی دغسي کس مذموم او معیوب بللی او ده ته يې د دوزخ وعده ورکړې ده ځکه چي د دغسي کس په باره کي الله تعالی داسي فرمايلي: (ژر به داخل کړم دی اور د دوزخ ته) کله چي الله تعالی هغه کس ته چي داسي يې ويلي وي (دا قرآن نه دی مګر د بشر قول) د دوزخ وعده ورکړې وه نو موږ پوه سوو او یقین مو وکړی چي دا قرآن د خالق البشر کلام دی او د بشر د کلام سره هيڅ مشابهت نه لري.

**شرح**- دا عقیده که څه هم ظاهراً يوه ده خو په ضمن کي يې (۸) عقيدې را نغښتي دي او س يې تاسي په تفصیل وګورئ:

**اوله عقیده**: قرآن کریم د الله تعالی کلام دی.

(دلیل) ﴿وَإِنۡ أَحَدٞ مِّنَ ٱلۡمُشۡرِكِينَ ٱسۡتَجَارَكَ فَأَجِرۡهُ حَتَّىٰ يَسۡمَعَ كَلَٰمَ ٱللَّهِ﴾.

[التوبة: ۶].

ژباړه: او که يو تن له مشرکانو څخه پناه وغواړي له تا نو پناه ورکړه ته هغه ته څو چي واوري دی کلام د الله ﷻ.

**دوهمه عقیده**: قرآن کریم د الله تعالی څخه ښکاره سوی دی یعني الله تعالی يې قائل دی.

(دلیل) ﴿تَنزِيلُ ٱلۡكِتَٰبِ مِنَ ٱللَّهِ ٱلۡعَزِيزِ ٱلۡحَكِيمِ﴾.[الزمر: ۱].

ژباړه: رالېږل د دې کتاب (قرآن) دی له جانبه د هغه الله ﷻ چي ډېر قوي غالب د حکمتونو خاوند دی.

**دریمه عقیده**: الله تعالی بېله شکه متکلم دی خو د تکلم کیفیت يې موږ ته نه دی معلوم ځکه چي د الله تعالی کلام د مخلوق د کلام سره مشابه نه دی بلکي د الله تعالی ټول صفتونه د مخلوق د صفتونو په شان نه دی.

﴿لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ﴾.[الشورى: ۱۱].

ژباړه: د الله ﷻ په شان هيڅ شی نسته.

**څلورمه عقيده**: الله تعالی قرآن کريم د وحي په صورت د جبريل عليه السلام په واسطه پر خپل رسول ﷺ نازل کړی دی.

(دليل) ﴿نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْاَمِيْنُ ○ عَلٰى قَلْبِكَ لِتَكُوْنَ مِنَ الْمُنْذِرِيْنَ ○﴾.

[الشعراء: ۱۹۳- ۱۹۴].

ژباړه: راوړی دی دا قرآن جبريل الامين پر زړه ستا دپاره د دې چې سې ته له ويروونکيو (خلگو له عذابه د الله ﷻ).

**پنځمه عقيده**: مسلمانانو دا تصديق کړی دی چې يقيناً دا قرآن پر نبي ﷺ نازل سوی دی.

(دليل) ﴿اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ؕ﴾.[البقرة: ۲۸۵].

ژباړه: تصديق (باور) کړی دی رسول په هغه شي چې نازل کړی شوی دی ده ته له طرفه د رب د ده او مؤمنانو هم تصديق او باور کړی دی.

**شپږمه عقيده**: قرآن کريم حقيقتاً د الله تعالی کلام دی نه مجازا لکه څنگه چې معتزله ډله وايي دوی د کلام الله نسبت الله تعالی ته مجازي بولي دوی وايي الله تعالی متکلم يعني خالق د کلام دی خو دا تأويل يې سراسر غلط دی ځکه چې د مثال په ډول د متحرک معنا دا نه ده چې د حرکت خلق يې کړی وي بلکي معنا يې دا ده هغه کس چې حرکت ور پوري قائم وي يعني حرکت يې صفت وي نو د متکلم معنا هم دا ده هغه ذات چې په کلام سره موصوف وي کلام يې صفت وي. د معتزله ډلي دا غلطي د دوی د هغه فاسد اصل پر بناء ده چې دوی د الله تعالی څخه صفات نفي کوي تفصيل يې په دوهمه عقيده کي

وګورئ.

**اوومه عقیده**: قرآن کریم چي د الله تعالی کلام دی یعني د الله تعالی کلام نفسي کوم چي منظوم عربي دلالت وربانديکوي مخلوق نه دی ځکه چي کلام د الله تعالی صفت دی د الله تعالی صفات خو ټوله ازلي دي مخلوق نه دی تفصیل یې په (۱۳) عقیده کي وګورئ.

**اتمه عقیده**: کوم کس چي له دې څخه انکار وکړي چي قرآن کریم د الله تعالی کلام دی او و وایي چي دا د نبيﷺ یا یو بل مخلوق کلام دی هغه بېله شکه کافر دی ځکه چي کوم کس چي دغسي خبره یې کړې ده لکه ولید بن المغیرة الله تعالی د سورة المدثر په (۱۱) آیت کي بیا تر (۳۰) آیت پوري مذموم او معیوب بللی او د دوزخ وعده یې ورکړې ده. نو زموږ دا یقین دی چي قرآن کریم د خالق البشر کلام دی د بشر له کلام سره هیڅ مشابهت نه لري. د دې عقیدې په شرحه کي د لاندي کتابونو څخه استفاده سوې ده:

۱:- شرح العقائد (۴۶ مخ). ۲: شرح العقیدة الطحاویة لفضیلة الشیخ عبدالرحمٰن بن ناصر البراک (۱۰۴) الی (۱۰۹مخ). (۳) شرح الفقه الاکبر (۴۹ مخ).

## د قرآن کریم په اړوند د امام رباني رحمه الله وینا

امام رباني مجدد الف ثاني رحمه الله وایي قرآن مجید د الله تعالی داسي کلام دی چي د حرف او آواز لباس یې ورکړی دی او زموږ پر نبيﷺ باندي یې نازل کړی دی او بندګانو ته یې په دې سره د امر او نهي په واسطه مخاطبه کړې ده لکه څنګه چي موږ خپل د زړه خبره د تالو او ژبي په ذریعه سره د حرف په آواز کي راوړو او ښکاره کوو یې او همداسي خپل پټ مقاصد او مطالب په ښکاره کوو نو همدا شان الله تعالی خپل نفسي کلام بېله تالو او ژبي یوازي پخپل

قدرت کامله سره د حروفو او آوازونو په لباس خپلو بندګانو ته راواستوی او خپل پټ امرونه او نواهي يې د حروفو او آوازونو په ضمن کي ښکاره کړل نو د کلام دواړه قسمونه نفسي کلام او لفظي کلام په حقيقت کي د الله تعالی کلام دی او پر دواړو کلامونو باندي د کلام اطلاق په حقيقت سره دی لکه څرنګه چي زموږ د کلام دواړه قسمونه لفظي او نفسي په حقيقت سره زموږ کلام دی.

داسي نه ده چي اول قسم (نفسي کلام) حقيقت دی او دوهم قسم (لفظي کلام) مجاز دی ځکه چي د مجاز علامه دا ده چي د هغه نفي جائز وي او د لفظي کلام نفي کول او دې کلام ته کلام الله نه ويل بېله شکه کفر دی[1].

## د قرآن کريم په اړوند د امام المسلمين ابوحنيفه رحمه الله علیه وينا

والقرآن كلام الله تعالى فى المصاحف مكتوب وفى القلوب محفوظ وعلى الألسن مقروء وعلى النبى صلى الله عليه وسلم منزل ولفظنا بالقرآن مخلوق و كتابتنا له مخلوقة و قراءتنا له مخلوقة والقرآن غير مخلوق وما ذكر الله تعالى فى القرآن حكاية عن موسى وغيره من الانبياء عليهم الصلاة والسلام وعن فرعون و ابليس فان ذلك كله كلام الله تعالى اخبارا عنهم وكلام الله تعالى غير مخلوق و كلام موسى وغيره من المخلوقين مخلوق والقرآن كلام الله تعالى فهو قديم لا كلامهم وسمع موسى عليه السلام كلام الله تعالى كما قال الله تعالى (وَكَلَّمَ اللَّهُ مُوسَىٰ تَكْلِيمًا) و قد كان الله تعالى متكلما ولم يكن كلّم موسى عليه السلام و قدكان الله تعالى خالقا فى الازل ولم يخلق الخلق (وليس كمثله شئ وهو السميع البصير) فلما كلم الله موسى كلمه بكلامه الذى هوله

---

[1] مکتوب (۶۷) از دفتر دوم، عقائد الاسلام (۴۳) مخ.

صفة فی الازل[1].

ژباړه: قرآن کریم د الله تعالٰی کلام دی د حروفو د نقوشو او د کلماتو د اشکالو په واسطه په مصاحفو کي لیکل سوی دی او په زړونو کي محفوظ دی او د ملفوظه حروفو په واسطه يې پر ژبو قرائت کېږي او پر نبي ﷺ نازل سوی دی او په قرآن کریم سره زموږ لفظ مخلوق دی او د قرآن کریم لپاره زموږ کتابت (لیکل) مخلوق دی او د قرآن کریم لپاره زموږ قرائت مخلوق دی او قرآن کریم غیر مخلوق دی او کوم چي الله تعالٰی د موسٰی علیه السلام او نورو انبیاؤ علیهم السلام څخه همدا راز له فرعون او ابلیس څخه د حکایت په ډول کومه یادونه کړې ده دا ټوله له دوی څخه د اخبار په ډول د الله تعالٰی کلام دی او د الله تعالٰی کلام غیر مخلوق دی او د موسٰی علیه السلام او نورو مخلوقاتو کلام مخلوق دی قرآن کریم چي د الله تعالٰی کلام دی قدیم دی خو د مخلوقاتو کلام قدیم نه بلکي د دوی په شان حادث دی او موسٰی علیه السلام د الله تعالٰی کلام اورېدلی دی لکه څنګه چي الله تعالٰی فرمایلي دي (او کلام کړی دی الله تعالٰی د موسٰی علیه السلام سره په کلام کولو) او یقیناً الله تعالٰی په ازل کي متکلم ؤ په داسي حال کي چي د موسٰی علیه السلام سره يې خبري نه وې کړې او یقیناً الله تعالٰی په ازل کي خالق ؤ په داسي حال کي چي مخلوق يې نه وو پیدا کړی او کله چي الله تعالٰی د موسٰی علیه السلام سره خبري کولې نو يې په هغه کلام سره خبري ورسره وکړې چي هغه په ازل کي د ده صفت دی.

---

[1] شرح الفقه الاکبر (۴۷ مخ).

## الله تعالی ته د مخلوق یو صفت ثابتول هم کفر دی

**۳۴: –** وَمَنْ وَصَفَ اللهَ تَعَالٰى بِمَعْنًى مِنْ مَعَانِي الْبَشَرِ فَقَدْ كَفَرَ فَمَنْ اَبْصَرَ هٰذَا اعْتَبَرَ وَعَنْ مِثْلِ قَوْلِ الْكُفَّارِ انْزَجَرَ وَعَلِمَ أَنَّ اللهَ تَعَالٰى بِصِفَاتِهِ لَيْسَ كَالْبَشَرِ.

ژباړه: کوم کس چي د بشر له صفاتو څخه یو صفت الله تعالی ته ثابت کړي نو یقینا کافر کېږي او کوم کس چي د دغي غلطي درک وکړي نو عبرت موندلای سي او د کافرانو له دې قول څخه چي د مخلوق صفت الله تعالی ته ثابتوي منعه کوي او پوهېږي چي یقیناً الله تعالی پخپلو صفاتو کي د بشر په شان نه دی.

**شرح–** له دې عقیدې څخه مطلب دا دی چي د الله تعالی کلام مخلوق بلل په حقیقت کي د مخلوق صفت چي حادث کلام دی الله تعالی ته ثابتول دی چي دا د کفر سبب ګرځي ځکه چي په دې صورت کي الله تعالی له مخلوق سره مشابه بلل دی حال دا چي الله تعالی له تشبیه څخه پاک دی الله تعالی دا سي فرمایلي دي:

﴿ وَلَمْ يَكُنْ لَّهٗ كُفُوًا اَحَدٌ ﴾.[الاخلاص: ۴]. ﴿ لَيْسَ كَمِثْلِهٖ شَيْءٌ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ ﴾. [الشوری: ۱۱]. تفصیل یې په دوهمه عقیده کي وګورئ، د دې موضوع په اړوند مو بر هلته کافي بیان لیکلی دی.

## په آخرت کي د جنتیانو لپاره د الله تعالی دیدار حق دی

**۳۵:- وَالرُّؤْيَةُ حَقٌّ لِأَهْلِ الْجَنَّةِ بِغَيْرِ إِحَاطَةٍ وَلَا كَيْفِيَّةٍ كَمَا نَطَقَ بِهِ كِتَابُ رَبِّنَا ﴿وُجُوهٌ يَوْمَئِذٍ نَّاضِرَةٌ ۝ إِلَىٰ رَبِّهَا نَاظِرَةٌ ۝﴾.** [القيامة: ۲۲- ۲۳]. **وَتَفْسِيرُهُ عَلَىٰ مَا أَرَادَهُ اللهُ تَعَالَىٰ وَعَلِمَهُ وَكُلُّ مَاجَاءَ فِي ذَلِكَ مِنَ الْحَدِيثِ الصَّحِيحِ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعَنْ أَصْحَابِهِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُمْ فَهُوَ كَمَا قَالَ وَ مَعْنَاهُ عَلَىٰ مَاأَرَادَ لَا نَدْخُلُ فِي ذٰلِكَ مُتَأَوِّلِيْنَ بِآرَائِنَا وَلَا مُتَوَهِّمِيْنَ بِأَهْوَائِنَا فَإِنَّهُ مَا سَلِمَ فِي دِيْنِهِ إِلَّا مَنْ سَلَّمَ لِلّٰهِ تَعَالَىٰ وَلِرَسُوْلِهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَرَدَّ عِلْمَ مَا اشْتَبَهَ عَلَيْهِ إِلَىٰ عَالِمِهِ.**

ژباړه: د الله تعالی دیدار د جنتیانو لپاره په جنت کي بېله دې چي د الله تعالی پر ذات امقدس احاطه راسي او بېله داسي کیفیته چي د مخلوقاتو په لیدلو کي لازم دی حق او ثابت دی لکه څرنګه چي زموږ د رب کتاب دلالت ورباندي کوي (الله تعالی داسي فرمایلي دي) (ځیني مخونه [یعني د مؤمنانو] به په دغي ورځي (د قیامت) کي ښایسته تازه روښانه وي خاص ذات د رب خپل ته به کتونکی وي)، د دغه رؤیت حقیقت باید په هغه ډول پرېښودل سي لکه څنګه

چي يې الله تعالیٰ اراده کړې او علم وربانديي لري (يعني د حقيقت او کيفيت معلومولو يې بايد کوښښ ونه سي) په دې باره کي چي له نبيﷺ او د ده له صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه هر صحيح حديث راغلی هغه پر هغه ډول دی لکه څنګه چي دوی ويلي او معنا يې هغه ده لکه څنګه چي يې نبيﷺ اراده کړې ده (يعني تأويل يې نه کېږي) موږ پخپله رأيه او قياس سره د تأويل لپاره په هغو آيتونو او حديثونو کي نه داخلېږو کوم چي د الله تعالیٰ پر رؤيت دلالت کوي او نه د خپلو خواهشاتو پر بناء له وهم او ګمان څخه کار اخلو (ترڅو د الله تعالیٰ رؤيت ته يوه بله طريقه معلومه کړو) دا ځکه چي يو کس پخپل دين کي سالم نه سي پاته کېدای مګر په هغه صورت کي چي د الله تعالیٰ او د الله تعالیٰ د رسولﷺ قول تسليم کړي او کوم شی چي پر ده پټ سي علم يې د هغه شي عالم ته وسپاري يعني (الله اعلم) و وايي.

**شرح**- له دې اوږده عبارت څخه درې شيان فهمېږي:

(اول):- په آخرت کي د مؤمنانو لپاره په سترګو سره د الله تعالیٰ ليدل حق او ثابت دی.

(**دلائل**) ۱:- هغه آيت دی چي مصنفرحمه الله پخپله ذکر کړی دی په دې آيت کي (ناظرة) په (الی) سره متعدي دی دا يوه اتفاقي خبره ده چي کله (نظر) په (الی) سره متعدي مستعمل سي نو يې معنا په سترګو سره کتل دی[1].

۲:- ﴿ لِلَّذِيْنَ اَحْسَنُوا الْحُسْنٰى وَزِيَادَةٌ ﴾.[يونس: ۲۶].

ژباړه: شته لپاره د هغو کسانو چي نېکي يې کړې وي (ايمان يې راوړی وي) نېکه جزا (جنت) او زيادت.

---

[1] شرح الفقه الاکبر (۱۴۰ مخ).

نبي ﷺ پخپله د زيادت تفسير د الله تعالی ذات ته په کتلو سره کړی دی[۱].

۳: - ﴿كَلَّآ إِنَّهُمۡ عَن رَّبِّهِمۡ يَوۡمَئِذٖ لَّمَحۡجُوبُونَ ۝﴾. [المطففين: ۱۵].

ژباړه: رښتيا ده چي بېشکه دغه کفار به له لقاء د رب خپل څخه په دغي ورځي د قيامت کي هرومرو خامخا په حجاب کي وي (نه به ويني الله ﷻ).

له دې آيت څخه ښکاره معلومېږي چي مؤمنان به د الله تعالی ديدار وکړي که نه نو بيا خو د دوی او کافرانو فرق ونه سو. همدا شان د الله تعالی د ديدار په باره کي له نبي ﷺ څخه ګڼ شمېر حديثونه راغلي دي چي يو يې د حضرت ابوهريرة رضي الله عنه روايت دی:

(أَنَّ النَّاسَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللهِ هَلْ نَرَى رَبَّنَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ هَلْ تُضَارُّونَ فِي رُؤْيَةِ الْقَمَرِ لَيْلَةَ الْبَدْرِ قَالُوا لَا يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَهَلْ تُضَارُّونَ فِي الشَّمْسِ لَيْسَ دُونَهَا سَحَابٌ قَالُوا لَا يَا رَسُولَ اللهِ قَالَ فَإِنَّكُمْ تَرَوْنَهُ كَذَلِكَ)[۲]. وقد رواه احدو عشرون من اكابر الصحابة[۳] رضي الله عنهم.

ژباړه: خلکو نبي ﷺ ته وويل آيا موږ به د قيامت په ورځ خپل رب ﷻ وينو نبي ﷺ يې په جواب کي وفرمايل آيا تاسو د څوارلسم شپې د سپوږمۍ په ليدلو کي څه زحمت محسوسوئ دوی وويل نه (يا رسول الله) نبي ﷺ ورته وفرمايل کله چي د لمر مخ ته وريځ نه وي آيا په ليدلو کي يې څه زحمت محسوسوئ دوی وويل نه نبي ﷺ ورته وفرمايل نو تاسو به الله تعالی همدغسي وينئ.

دا خبره ياد وساتئ چي په ذکر سوي حديث کي د الله تعالی د رؤيت (ليدلو)

---

[۱] رواه مسلم (۱۸۱). من حديث صهيب رضي الله عنه.
[۲] رواه البخاري (۷۴۳۷) و مسلم (۱۸۲) وغيرهما.
[۳] شرح الفقه الاكبر (۱۳۷ مخ) و شرح العقائد (۵۸ مخ).

تشبيه د لمر او سپوږمۍ د رؤيت (ليدلو) سره راغلې ده نه د الله تعالى تشبيه د لمر او سپوږمۍ سره، همدا شان په آخرت کې د الله تعالى ديدار د امت په اجماع سره ثابت دی[1].

(دوهم):- الله تعالى په آخرت کې بېله شکه ليدل کېږي خو بېله مکانه او بېله جهته او بېله مقابلې او بېله اتصاله د سترګو د شعاعو همدغه د اهل سنت و الجماعت عقيده ده ځکه چې دا ټوله شيان د اجسامو په رؤيت کې وي الله تعالى خو جسم نه دی نو لکه څنګه چې د الله تعالى ذات په نص د قرآن بې مثله او بې مثاله دی همدغسې د هغه ليدنه به هم بې مثاله وي يعني د الله تعالى رؤيت به د عادت په خلاف وي.

امام المسلمين ابو حنيفه رحمه الله د دې مسئلې په اړوند داسې فرمايلي دي:

(ولقاء الله تعالى لأهل الجنة بلاكيف ولاتشبيه ولاجهة حق).

ژباړه: له جنتيانو سره د الله تعالى لقاء بېله کيفيته او بېله تشبيه او بېله جهته حق ده[2].

د العقيدة الطحاوية شارح على بن على بن محمد بن ابى العز پخپل کتاب (شرح العقيدة الطحاوية) (۱۵۹) مخ کې په دې مسئله کې الله تعالى ته د علوي په جهت قائل دی خو په دې خبره کې دی خطا دی ځکه چې دا د اهل سنت والجماعت د مذهب په خلاف ده[3].

د دغه شارح په شرح کې نوري هم داسې خبري ډېري سته چې د اهل سنت والجماعت د مذهب په خلاف دي دغه کس يو بل کتاب (التنبيه على مشكلات

---

[1] شرح العقائد (۵۸) مخ.
[2] شرح الفقه الاكبر (۱۳۸ مخ).
[3] شرح الفقه الاكبر (۱۴۱) مخ.

الهداية) هم ليکلی دی په دغه کتاب کي يې هم د تعصب او تشدد پر بناء د حنفي مذهب پر يو لوی او معتمد کتاب (هدايه) باندي بې ځايه او بې تحقيقه اعتراضونه کړي دي د ده له نوم سره که څه هم حنفي ليکل سوی دی خو دی په اصل کي حنفي نه بلکي په بعضي خبرو کي د خپلو نفسي خواهشاتو تابع دی نو کوم کس چي وچ او لانده نه سي سره جلا کولای هغه بايد د دغه کس د کتابونو له مطالعې څخه جداً پرهېز وکړي.

(دريم):- په آخرت کي د الله تعالیٰ پر ليدلو ايمان ضروري دی خو له کيفيت څخه يې بايد سوال ونه سي ځکه چي کيفيت يې له متشابهاتو څخه دی موږ ته نه دی معلوم د متشابهاتو په باره کي د ايمان سلامتي همدغه ده چي اجمالي مدلول يې تسليم کړل سي د قياس او وهم پر بناء يې تأويل ونه سي.

## د الله تعالیٰ د ديدار مسئله د معتزله ډلي په آند

معتزله ډله د داسي ښکاره دلائلو سره سره چي دمخه يې ذکر وسو د الله تعالیٰ له ديدار څخه انکار کوي دا يو شيطاني حرکت دی شيطان دوی له برابري لاري څخه اړولي دي نو د دوی د دغه انکار نتيجه به دا وي چي په آخرت کي به د الله تعالیٰ له ديدار څخه بې برخي وي.

په دې خبره کي د دوی استدلال له دې آيت څخه دی ﴿لَا تُدۡرِكُهُ ٱلۡأَبۡصَٰرُ﴾.[الانعام: ۱۰۳]. د دې آيت تفسير دوی داسي کوي سترګي الله تعالیٰ نه سي ليدلای. خو اهل حق د دوی په جواب کي داسي وايي چي د (ادراک) معنا په لغت کي په ليدلو سره نه ده بلکي د يو شي په احاطه کولو او د يو شي پای او نهايت ته د رسېدلو ده د مثال په ډول (ادرک الصبی) کوچنی بلوغ ته ورسېدی،

(ادرک الثمر) مېوه پخه سوه.

الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ فَلَمَّا تَرَآءَ الْجَمْعٰنِ قَالَ اَصْحٰبُ مُوْسٰٓى اِنَّا لَمُدْرَكُوْنَ () ﴾.[الشعراء: ۶۱].

ژباړه: پس کله چي سره وليدل دغو دواړو لښکرو يو له بله سره نو و ويل ملګرو د موسیٰ عليه السلام چي بېشکه موږ خامخا نيولي شوي يو (له جانبه د قبطيانو.)

نو د دغه تحقيق پر بناء د ذکر سوي آيت معنا داسي کېږي. نه شي موندلای او احاطه نه شي کولای پر الله جل جلاله ستر ګي.

عامو مفسرينو يې همدغسي تفسير کړی دی اوس نو دغه آيت د الله تعالیٰ د ديدار پر اثبات دلالت کوي نه پر نفي نو کوم آيت چي دوی له هغه څخه استدلال کړی هغه پر دوی باندي حجت دی. د دوی د دغي شبهي نور جوابونه هم سته[1].

**د کلام خلاصه**: د معتزله ډلي دا خبره چي په آخرت کي الله تعالیٰ نه ليدل کېږي د کتاب او سنت او اجماع په خلاف ده په دې کي له دوی سره هيڅ دليل نسته صرف د شيطان په تحريک په شبهاتو پسي روان دي. (اعاذناالله من سوء اعتقادهم).

[1] وګورئ شرح العقائد (۵۹) مخ.

## کوم شی چي د پېژندلو څخه يې منع راغلې وي د هغه فلټنه ګمراهي ده

**۳۶:-** وَلَا تَثْبُتُ قَدَمُ الْإِسْلَامِ إِلَّا عَلَى ظَهْرِ التَّسْلِيمِ وَالْإِسْتِسْلَامِ فَمَنْ رَامَ عِلْمَ مَا حُظِرَ عَنْهُ عِلْمُهُ وَلَمْ يَقْنَعْ بِالتَّسْلِيمِ فَهْمُهُ حَجَبَهُ مَرَامُهُ عَنْ خَالِصِ التَّوْحِيدِ وَصَافِي الْمَعْرِفَةِ وَصَحِيحِ الْإِيمَانِ فَيَتَذَبْذَبُ بَيْنَ الْكُفْرِ وَالْإِيمَانِ وَالتَّكْذِيبِ وَالتَّصْدِيقِ وَالْإِقْرَارِ وَالْإِنْكَارِ مُوَسْوِسًا تَائِهًا. زَائِغًا شَاكًّا لَا مُؤْمِنًا مُصَدِّقًا وَلَا جَاحِدًا مُكَذِّبًا.

ژباړه: د اسلام قدم نه ټينګېږي مګر پر شا د قبول او انقياد د هغو نصوصو چي له شارع څخه رانقل سوي دي نو کوم کس چي د يو داسي شي د پېژندلو قصد وکړي چي د هغه علم له ده څخه منع سوی وي او د ده فهم د هغه په قبول قناعت ونه کړي (بلکي د تأويل قصد يې وکړي) نو دغه د ده غلط مرام به دی له خالص توحيد او صاف معرفت او صحيح ايمان څخه منع کړي نور به نو دی د کفر او ايمان د تکذيب او تصديق د اقرار او انکار په منځ کي حيران پاته سي په داسي حال کي چي په وسوسه حيرت کوړوالی او شک به مبتلا وي چي نه به يو تصديق کوونکی مؤمن وي او نه به يو تکذيب کوونکی منکر وي (بلکي د منافقينو په فهرست کي به قرار لري).

**شرح**- مطلب دا دی چي د الله تعالی او د الله تعالی د رسولﷺ قول منل د اسلام اساس او بنیاد دی او کوم نصوص چي نبيﷺ او د ده اصحابو يې تأویل نه وي کړی لکه د الله تعالی د رؤيت مسئله د دغسي نصوصو تأویل په قیاس او ګمان سره باید ونه سي ځکه چي د دغسي متشابهاتو تأویل د ګمراهي شک او تردد سبب ګرځي نو د ایمان سلامتي په دې کي ده چي دغسي نصوص په هغه طور چي نقل يې راغلی دی تسلیم کړل سي په قیاس او ګمان يې د تأویل هڅه ونه سي.

**(دلائل)** ۱:- ﴿فَأَمَّا الَّذِيْنَ فِيْ قُلُوْبِهِمْ زَيْغٌ فَيَتَّبِعُوْنَ مَا تَشَابَهَ مِنْهُ ابْتِغَآءَ الْفِتْنَةِ وَابْتِغَآءَ تَأْوِيْلِه﴾.[آل‌عمران: ۷].

ژباړه: نو هر څه هغه کسان چي په زړونو د دوی کي کوږوالی دی پس پیروي کوي دوی د هغو کلماتو چي متشابه وي له دې قرآنه له پاره د طلب د فتنې او ګمراهي او دپاره د طلب د معنا د هغو.

۲:- ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنْ يُّجَادِلُ فِي اللّٰهِ بِغَيْرِ عِلْمٍ وَّيَتَّبِعُ كُلَّ شَيْطٰنٍ مَّرِيْدٍ﴾.[الحج: ۳].

ژباړه: او ځيني له خلکو څخه هغه دي چي جګړه کوي په حق او خبرو د الله ﷻ کي بې له پوهي او متابعت کوي د هر شیطان سرکښ.

۳:- ﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ﴾.[الاسراء: ۳۶].

ژباړه: او مه کوه پیروي (تعقیب) د هغه کار چي نه وي تاته په هغه علم (قول وي که فعل).

## الله تعالی شیطان ته د انسان په زړه کي د وسوسې اچولو قدرت ورکړی دی

ښکاره خبره ده چي هر فساد عقیدوي وي که عملي د شیطان له وسوسې څخه دی حتی په اسلام کي چي کومي ګمراه ډلي پیدا سوي یا پیدا کېږي لکه: معتزله، مشبهه، خوارج، جبریه، وهابیه، سلفیه، برېلویه او داسي نوري ډلي د دې ټولو منشأ د شیطان وسوسه ده معتزله ډله چي د الله تعالی له دیدار څخه انکار کوي او د ښکاره نصوصو تاویل کوي دا هم د شیطان له وسوسې څخه دی کوم غلط فکرونه او شبهات چي د یو کس ذهن ته راځي دا هم ټوله د شیطان د وسوسې څخه دی لکه څنګه چي امام طحاوي رحمه الله په دې عبارت (مُوَسْوِسًا تَائِهًا) سره اشاره ورته کړې ده نو شیطان پټ دښمن دی الله تعالی د انسان په زړه کي د وسوسې اچولو قدرت ورکړی دی حتّٰی کېدای سي چي د شیطان وسوسه یو مسلمان کفر ته ورسوي نو دا یوه خطرناکه مریضي ده عاجل علاج ته ضرورت لري.

## د شیطاني وسوسې علاج

نبي صلی الله علیه وسلم خپل امت ته ټوله هغه شیان ښودلي دي چي جنت ته یې نژدې کوي او له دوزخ څخه یې لیري کوي هر هغه شی چي خلګ په دین کي احتیاج ورته لري هغه یې بیان کړی دی نبي صلی الله علیه وسلم د شیطاني وسوسې د علاج لپاره داسي فرمایلي دي:

(۱) (يَأْتِي الشَّيْطَانُ أَحَدَكُمْ فَيَقُوْلُ مَنْ خَلَقَ كَذَا مَنْ خَلَقَ كَذَا حَتّٰى يَقُوْلَ مَنْ خَلَقَ رَبَّكَ

فَإِذَا بَلَغَهُ فَلْيَسْتَعِذْ بِاللهِ وَلْيَنْتَهِ)[١].

ژباړه: شيطان په تاسي کي يو کس ته راځي داسي ورته وايي فلانی شی چا پيدا کړی فلانی شی چا پيدا کړی (په دې صورت کي به د شيطان په جواب کي ضرور دا وايي چي الله تعالیٰ پيدا کړی)، ترڅو خبره دې ځای ته رسېږي چي شيطان داسي ورته وايي ستا رب چا پيدا کړی دی نو کله چي شيطان دې قول ته ورسېږي نو دغه کس دی د شيطان له شره په الله جَلَّ جَلَالُهُ سره پناه وغواړي يعني (اعوذبالله من الشيطان الرجيم) دي و وايي او دغه وسوسه او له شيطان سره خبري کول دي پرېږدي.

په يوه روايت کي بيا داسي راغلي دي: (فَلْيَقُلْ آمَنْتُ بِاللهِ وَرُسُلِهِ).

يعني په ذکر سوي حالت کي دي (آمنت بالله ورسله) و وايي.

(٢) (وَعَنْ عُثْمَانَ بْنِ أَبِي الْعَاصِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُوْلَ اللهِ إِنَّ الشَّيْطَانَ قَدْ حَالَ بَيْنِيْ وَبَيْنَ صَلَاتِيْ وَبَيْنَ قِرَاءَتِيْ يُلَبِّسُهَا عَلَيَّ فَقَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ذَاكَ شَيْطَانٌ يُقَالُ لَهُ خِنْزَبٌ فَإِذَا أَحْسَسْتَهُ فَتَعَوَّذْ بِاللهِ مِنْهُ وَاتْفُلْ عَلٰى يَسَارِكَ ثَلَاثاً فَفَعَلْتُ ذٰلِكَ فَأَذْهَبَهُ اللهُ عَنِّي)[٢].

ژباړه: عثمان بن ابي العاص رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ويلي ما نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ته و ويل يا رسول الله يقيناً شيطان زما او زما د لمانځه او قرائت په منځ کي مانع ګرځي لمونځ را باندي ګډوډ کوي په لمانځه او قرائت کي شکونه راته پيدا کوي نو نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وفرمايل دغه شيطان دی خِنزب ورته ويل کېږي کله چي په دغه شيطان خبر سي نو يې د

---

[١] رواه البخاري (٣٢٧٦) و مسلم (١٣٤). من حديث ابي هريرة رَضِيَ اللهُ عَنْهُ.

[٢] رواه مسلم، مشکوة اول جلد (١٩) مخ.

شره په الله تعالی سره پناه وغواړه (يعني اعوذبالله و وايه) او پر خپل چپه طرف درې واره تف کړه عثمان بن ابي العاص ﷺ ويلي ما دغه کار وکړی نو الله تعالی دغه وسواس ځما څخه ليري کړی.

## د وسوسې معنا او مرتبې

وسوسه په لغت کي کرار آواز ته ويل کېږي او په اصطلاح کي هغه شی دی چي شيطان يې د يو کس په زړه کي ور اچوي دغه شی چي شيطان يې د انسان زړه ته ور اچوي څلور مرتبې لري:

**اوله مرتبه**:- د خاطر او حديث النفس ده؛ د دې مثال د هغه کس وسوسه ده چي په لاره کي خپلي شاته يې د يوې ښځي صورت ذهن ته راسي که چيري دی ورته وګوري نو به يې و ويني.

**دوهمه مرتبه**:- د ميل الطبع ده؛ د دې مثال دغي ښځي ته د کتلو ميل دی.

**دريمه مرتبه**:- د اعتقاد ده؛ د دې مثال دا حکم کول چي دی به هغې ښځي ته ګوري چي صورت يې د ده ذهن ته راغلی دی.

**څلورمه مرتبه**:- د عزم بالقلب ده؛ د دې مثال دغي ښځي ته پر کتلو ټينګ عزم کول دی.

دا صرف مثالونه دي نور منکرات هم دغسي دي.

د اولي مرتبې او دوهمي مرتبې په وسوسه کي مؤاخذه نسته ځکه چي دا په اختيار نه دی همدغه دوې مرتبې د نبي ﷺ په دغه قول سره (إِنَّ اللهَ تَجَاوَزَ عَنْ أُمَّتِي مَاوَسْوَسَتْ بِهِ صُدُوْرُهَا) مراد دی او دريمه مرتبه کچيري اختياري وي مؤاخذه سته او که چيري غير اختياري وي بيا مؤاخذه نسته او څلورمه مرتبه

چي هغه د عزم بالقلب مرتبه ده په هغه کي مؤاخذه سته خو که يې چيري دا قصد او عزم د الله تعالی څخه د ويري په خاطر پرېښووی يا دا کار د ده لپاره نېکي ګرځي او که يې چيري د يو مانع په وجه پرېښووی يا په دې خاطر ځني پاته سو چي هغه کار ته يې لاس نه رسېدی يا دغه عزم د ده په باره کي ګناه ليکل کېږي قاضي عياض رحمة الله عليه ويلي دي عام فقهاء او محدثين په دې نظر دي چي کوم کس پر ګناه ټينګ عزم او قصد وکړي مؤاخذه سته ځکه چي په دې باره کي آيتونه او حديثونه ډېر دي چي د زړه پر عزم مؤاخذه سته خو دلته تاسي يوازي دغه يو آيت وګورئ:

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ ﴾.[الحجرات: ١٢].

ژباړه: ای هغو کسانو! چي ايمان يې راوړی دی ځان وساتئ ډېر له بدګمانيو بېشکه ځيني بدګمانونه ګناه ده.

ښکاره خبره ده چي بدګماني د زړه عمل دی خو په آيت کي ګناه بلل سوې ده[1].

## د معتزله ډلي په شان د الله تعالی د رؤيت (ليدلو) تأويل نه کوو

**۳۷: - وَلَا يَصِحُّ الْإِيمَانُ بِالرُّؤْيَةِ لِأَهْلِ دَارِ السَّلَامِ لِمَنِ اعْتَبَرَهَا مِنْهُمْ بِوَهْمٍ أَوْ تَأَوَّلَهَا بِفَهْمٍ إِذْ كَانَ تَأْوِيلُ الرُّؤْيَةِ وَتَأْوِيلُ كُلِّ مَعْنًى يُضَافُ إِلَى الرُّبُوبِيَّةِ بِتَرْكِ التَّأْوِيلِ وَلُزُومِ التَّسْلِيمِ وَعَلَيْهِ دِينُ**

[1] خلاصة المرقاة، اول جلد (۱۳۴ مخ).

الْمُرْسَلِينَ وَشَرَائِعُ النَّبِيِّينَ وَمَنْ لَّمْ يَتَوَقَّ النَّفْيَ وَالتَّشْبِيهَ زَلَّ وَلَمْ يُصِبِ التَّنْزِيهَ فَإِنَّ رَبَّنَا جَلَّ وَعَلَا مَوْصُوفٌ بِصِفَاتِ الْوَحْدَانِيَّةِ مَنْعُوتٌ بِنُعُوتِ الْفَرْدَانِيَّةِ لَيْسَ فِي مَعْنَاهُ اَحَدٌ مِنَ الْبَرِيَّةِ.

ژباړه: د جنتيانو لپاره د الله تعالی پر ليدلو د هغه چا ايمان نه صحيح کېږي چي صرف د وهم او ګمان په مرتبه کي يې قبلوي (يعني يقين نه ورباندي لري) يا د الله تعالی د رؤيت تأويل د خپل فهم مطابق کوي (بله معنا ځني اخلي لکه څنګه چي معتزله له رؤيت څخه علم اخلي) ځکه چي د رؤيت تفسير همدا شان هر هغه وصف چي الله تعالی ته يې نسبت کېږي تفسير يې همدغه دی چي تفسير يې ونه سي او په هغه طور چي نقل يې راغلی دی لزوما تسليم کړل سي همدغه د رسولانو عليهم السلام دين او د انبياؤ عليهم السلام شريعت دی او هغه څوک چي د نفي يعني د الله تعالی د صفاتو له انکار څخه او د تشبيه يعني الله تعالی ته د مخلوق د صفاتو له ثابتولو څخه پرهېز ونه کړي نو به يې پښه د برابري لاري څخه خطا سي او د تنزيه (يعني الله تعالی له ټولو نقصانونو څخه پاک بلل) عقيدې ته به ونه رسېږي ځکه چي زموږ رب جل و علا د يو والي په صفاتو موصوف دی او د فردانيت په صفاتو موصوف دی په مخلوق کي هيڅوک د الله تعالی صفت نه لري.

**شرح**– مطلب دا دی چي په قياس او ګمان سره د الله تعالی د رؤيت تأويل لکه څنګه چي يې معتزله کوي همدا شان د نورو متشابه صفتونو تأويل د نفسي خواهشاتو پر بنا د مسلمان کار نه دی بلکي د مسلمان دين د دغسي صفاتو په باره کي دا دی چي په هغه ډول قبول کړل سي لکه څنګه چي يې نقل

راغلی دی او له خپله ځانه یې تأویل ونه سي، همدغه د امام المسلمین ابوحنیفة رحمة الله علیه مسلک دی[1].

د دې عقیدې دلائل همهغه د (۳۶) عقیدې دلائل دي.

امام طحاوي رحمة الله علیه په دې عبارت سره (ومن لم یتوق النفی والتشبیه آه) پر معتزله او مشبهه ډلي رد کړی دی معتزله د الله تعالی څخه هغه صفات نفي کوي کوم چې الله تعالی پخپله خپل ذات په موصوف کړی دی او مشبهه بیا د الله تعالی صفات د مخلوق د صفاتو په شان بولي دا دواړي باطلي او ګمراه ډلي دي تفصیل یې په دوهمه عقیده کې وګورئ.

## الله تعالی په تنزیهي او جلالي صفتونو سره موصوف دی

**۳۸:-** وَتَعَالٰی اللهُ عَنِ الْحُدُوْدِ وَالْغَایَاتِ وَالْأَرْكَانِ وَالْأَعْضَاءِ وَالْأَدَوَاتِ لَا تَحْوِیْهِ الْجِهَاتُ السِّتُّ كَسَائِرِ الْمُبْتَدَعَاتِ.

ژباړه: الله تعالی د حدودو او نهایاتو او اطرافو او اندامونو څخه پاک دی شپږ جهتونه (لوړ، کښته، رسته، چپه، مخ، شا) لکه څنګه چې مخلوقات احتیاج ورته لري پر الله تعالی احاطه نه لري.

**شرح-** الله تعالی له ذکر سوو شیانو همدا شان له مکان او صورت او زمان څخه پاک دی او نه الله تعالی جسم او نه عرض دی ځکه چې دا ټوله د مخلوق لوازمات او علامات دي او الله تعالی د مخلوق له لوازماتو او علاماتو څخه

---
[1] وګورئ شرح الفقه الاکبر (۶۶) مخ.

پاک دی[۱].

د اهل سنت والجماعت عقيده دا ده چي الله تعالیٰ له مکان جهت او طرف څخه پاک دی ځکه چي کوم شی چي په مکان کي وي نو هغه محدود او مقداري وي په مقدار مسافت او مساحت کي تر مکان کم وي او الله تعالیٰ له مقدار مسافت او مساحت کموالی او زیاتوالی څخه پاک دی او کوم شی چي په یوه طرف او جهت کي وي نو هغه شی په هغه طرف او جهت کي محصور او محدود وي او الله تعالیٰ د دې څخه هم پاک دی چي په یو طرف او هغه جهت کي دی محصور او محدود سي.

مکان، زمان او جهت ټوله د الله تعالیٰ مخلوق دی په ازل کي یوازي الله تعالیٰ وو بل هیڅ شی نه ؤ نه مکان نه زمان نه عرش نه کرسي او نه هم ځمکه او آسمان ؤ دا ټوله الله تعالیٰ پخپل قدرت سره پیدا کړي دي نو الله تعالیٰ د دغو شیانو تر پیدا کېدلو وروسته هم په هغه شان دی چي دمخه وو[۲].

د دې موضوع په اړوند د امام فخرالدین رازي رحمة الله علیه کتاب (اساس التقدیس) ډېر مفید دی د دغه کتاب تر مطالعې وروسته عاقل انسان ته په دغه موضوع کي شبهه نه پاته کېږي. الله تعالیٰ دي موږ او عبدالرحمٰن بن ناصر البراک ته عفوه وکړي ده پخپل کتاب شرح العقیدة الطحاویة (۱۴۱) مخ کي د امام طحاوي رحمة الله علیه ذکر سوي الفاظ د مبتدعينو له الفاظو څخه بللي دي همدا شان شارح ابن ابي العز هم دغه الفاظ ښه نه دي بللي حال دا چي دا د الله تعالیٰ تنزیهي او جلالي صفتونه دي له دغسي آیتونو لکه: ﴿لَيۡسَ كَمِثۡلِهِۦ شَيۡءٞۖ﴾.[الشوریٰ: ۱۱]. او ﴿وَلَمۡ يَكُن لَّهُۥ كُفُوًا أَحَدُۢ﴾.[الاخلاص: ۴]. څخه مستنبط

---

[۱] شرح العقائد، (۳۱ مخ).

[۲] عقائد الاسلام (۳۳۳) مخ.

دي او پخپله امام المسلمين ابو حنيفه رحمه الله هم دغسي الفاظ ذکر کړي دي او وروسته يې نورو مشائخو اتباع کړې ده دغه يې عبارت دی:

(وهو شئ لا کالأشياء و معنی الشئ اثباته بلاجسم ولا جوهر ولا عرض ولاحدله ولا ضدله ولانده له ولا مثل له)[1].

ژباړه: الله تعالی موجود دی خو داسي نه لکه نور مخلوق موجودات د دې معنا دا ده چي د الله تعالی ذات بېله جسمه او بېله جوهره او بېله عرضه ثابت دی الله تعالی لره حد او نهايه نسته او نه الله تعالی لره ضد سته او نه الله تعالی لره شريک سته او نه الله تعالی لره مثل سته.

امام طحاوي رحمه الله په دې عقيده سره پر مشبهه او مجسمه ډلي رد کړی دی دغه ګمراه ډله د بعضي متشابه نصوصو ظاهر ته په کتلو سره الله تعالی ته جهت او مکان ثابتوي جسم يې بولي عرش د ده لپاره مکان بولي (معاذالله) د دې مسئلې کافي بيان موږ په دوهمه عقيده کي کړی دی هلته يې وګورئ. (وَبِاللهِ التَّوْفِيْقُ وَمِنْهُ الوُصُوْلُ إِلَى التَّحْقِيقِ).

## اسراء او معراج حق دی

**۳۹ :– وَالْمِعْرَاجُ حَقٌّ وَقَدْ أُسْرِيَ بِالنَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَعُرِجَ بِشَخْصِهِ فِي الْيَقْظَةِ إِلَى السَّمَاءِ ثُمَّ إِلَى حَيْثُ شَاءَاللهُ تَعَالَى مِنَ الْعُلَا وَ أَكْرَمَهُ اللهُ تَعَالَى بِمَاشَاءَ وَأَوْحَىٰ إِلَيْهِ مَا أَوْحَىٰ ﴿ مَا كَذَبَ الْفُؤَادُ مَا**

[1] شرح الفقه الاکبر (۶۴) مخ.

رَاٰی○ ﴾. [النجم: ۱۱]. فَصَلَّى اللهُ عَلَيۡهِ وَسَلَّمَ فِي الۡآخِرَةِ وَالۡأُولٰى.

ژباړه: د نبيﷺ معراج حق دی يقيناً په نبيﷺ سره له مکې مکرمې څخه تر بيت المقدس پورې په شپه کې تګ سوی دی او له هغه ځايه څخه پخپل مبارک جسم سره په ويښ والی کې تر آسمانه خېژول سوی دی بيا له هغه ځايه څخه تر هغه ځايه پورې چې الله تعالٰی يې له لوړو مقاماتو څخه اراده کړې خېژول سوی دی او الله تعالٰی يې په هغه څه سره اکرام کړی دی چې اراده يې کړې او د هغه څه وحي يې ورته کړې دي چې د وحي کولو اراده يې کړې (لکه څرنګه چې الله تعالٰی فرمايلي دي (دروغ نه وو شمېرلي زړه د نبيﷺ هغه څه چې ليدلي يې ؤ د قدرت له علامو څخه) نو د الله تعالٰی له لوري دې پر نبيﷺ په آخرت او دنيا کې صلاة او سلام وي.

**شرح**- معراج په لغت کې د ختلو آلی ته ويل کېږي خو دلته د هغې آلې او وسيلې اثبات مراد نه دي چې د هغې په ذريعه نبيﷺ آسمانونو ته خېژول سوی دی بلکې مراد د نبيﷺ د عروج (خيژولو) اثبات دي د بيت المقدس څخه آسمانونو او نورو هغو لوړو مقاماتو ته چې الله تعالٰی يې اراده کړې د نبيﷺ معراج په مشهور خبر ثابت دی منکر يې مبتدع دی! او په اسراء سره مراد د نبيﷺ تګ دی له مسجد حرام څخه تر بيت المقدس پورې د اسراء ثبوت قطعي دی منکر يې کافر دی الله تعالٰی داسې فرمايلي دي:

﴿ سُبۡحٰنَ الَّذِيۡٓ اَسۡرٰى بِعَبۡدِهٖ لَيۡلًا مِّنَ الۡمَسۡجِدِ الۡحَرَامِ اِلَى الۡمَسۡجِدِ الۡاَقۡصَا الَّذِيۡ بٰرَكۡنَا حَوۡلَهٗ ﴾. [الاسراء: ۱].

ژباړه: پاکي د هغه ذات چې بېولی يې ؤ بنده خپل (محمدﷺ) په يوه برخه د شپې کې له منځه يا له څنګه د مسجد حرام څخه تر مسجد اقصٰی پورې هغه چې

بركت اچولی دی موږ چارچاپېر د هغه.

پردې خبره خو اتفاق دی چې معراج ثابت دی لېکن په کیفیت (څرنګوالي) کې یې اختلاف سته چې آیا معراج په خوب کې ؤ او که یوازې په روح سره ؤ او که په روح او بدن دواړو سره ؤ حق خبره دا ده چې اسراء او معراج دواړه په ویښ والي کې په روح او بدن دواړو سره ؤ لکه څنګه چې مؤلف رحمة الله علیه فرمایلي:

(**دلائل**) ۱:- ﴿سُبۡحَٰنَ ٱلَّذِيٓ أَسۡرَىٰ بِعَبۡدِهِۦ﴾. په دغه آیت کې عبد راغلی دی عبد مجموع روح او بدن ته ویل کېږي لکه څنګه چې د انسان همدغه معنا ده نو له آیت څخه دا ښکاره معلومېږي چې اسراء په مجموع روح او بدن سره وه.

۲:- که چیرې معراج په خوب کې یا یوازې په روح سره وای نو کافرانو به انکار نه ځیني کاوه حال دا چې کافرانو له معراج څخه شدید انکار کړی دی په صحیح حدیث کې راغلي دي چې کله نبي ﷺ قریشو ته د اسراء او معراج خبر ورکړ نو دوی یې تکذیب وکړ او د بیت المقدس د څو شیانو سوال یې ځني وکړ نبي ﷺ فرمایلي: چې پر ما هغه سې تکلیف راغلی چې بل وخت نه وو را باندې راغلی خو الله تعالٰی بیت المقدس ماته را پورته کړ ما ورته کتل دوی زما څخه د بیت المقدس په اړوند هیڅ سوال نه دی کړی مګر چې ما دوی ته د هغه خبر ورکړی دی[1]. رضي الله عنه.

نو له معراج څخه د کافرانو انکار د دې خبرې ښکاره دلیل دی چې معراج او اسراء په ویښ والي کې په روح او بدن دواړو سره وه. ځینو علماؤ ویلي دي چې معراج په خوب کې ؤ لکه څنګه چې له حضرت معاویه رضي الله عنه څخه نقل راغلی دی چې له ده څخه د معراج اړوند سوال وسو نو ده په جواب کې وفرمایل چې دا رؤیا صالحه وه او په آیت کې همداسې راغلي دي:

﴿وَمَا جَعَلۡنَا ٱلرُّءۡيَا ٱلَّتِيٓ أَرَيۡنَٰكَ إِلَّا فِتۡنَةٗ لِّلنَّاسِ﴾. [الاسراء: ٦٠]. په دې آیت کې

[1] رواه مسلم (١٧٢) من حديث ابي هريرة

هم معراج رؤيا بلل سوی او د رؤيا مشهور استعمال د خوب په ليدلو کي دی.

همدا شان عائشې رضي الله عنها فرمايلي دي: (مَا فَقَدَ جَسَدُ مُحَمَّدٍ ﷺ لَيلَةَ اَلْمِعْرَاجِ). يعني د معراج په شپه د نبي ﷺ جسد مبارک نه دی مفقود سوی، له دې اثر څخه هم دا معلومېږي چي معراج په خوب کي ؤ.

**جواب**: د رؤيا مشهور استعمال که څه هم د خوب په ليدلو کي دی لېکن دلته د حضرت معاويه رضي الله عنه په قول کي همدا راز په آيت کي يې معنا د سترګو د ليدلو ده، رئيس المفسرين حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه يې همدغسي تأويل کړی دی[1].

نو د همدغه تاويل پر بناء د آيت معنا داسي کېږي. او نه ده ګرځولې موږ ښونه هغه چي ښوولې مو وه تاته د کائناتو په نسبت په سترګو سره په شپه د معراج کي مګر ازموينه دپاره د خلګو د مکې، او د عائشې رضي الله عنها د قول معنا دا ده چي د معراج په شپه د نبي ﷺ مبارک جسد له روح څخه نه دی مفقود سوی بلکي د روح سره يو ځای ؤ؛ يعني معراج روح او جسد دواړو لره ؤ.

او ځيني علماء بيا وايي چي معراج يوازي د نبي ﷺ په روح سره ؤ خو دا قول هم د مخکني قول په شان مستند دليل نه لري که چيري معراج يوازي په روح سره وای نو کافرانو به انکار نه ځني کولای حال دا چي کافرانو له اسراء او معراج څخه شديد انکار کړی دی او بل دا چي جبريل عليه السلام نبي ﷺ ته براق راولي او پر براق يې سپروي او تګ په کوي او بيا نبي ﷺ نورو انبياؤ عليهم السلام ته لمونځ ورکوي نو د دې به څه معنا وي[2].

**د کلام خلاصه**: اسراء او معراج دواړه د شپې په يوه برخه کي د جبريل عليه السلام

---

[1] وګورئ صحيح البخاري دوهم جلد (۹۷۸) مخ.

[2] شرح العقائد (۱۰۴) مخ، و شرح الفقه الاكبر (۱۸۹) مخ، و شرح العقيدة الطحاوية للبراک (۱۴۶) (.

په صحبت حق او ثابت دي او د نبي ﷺ يوه ستره معجزه ده په اسراء او معراج کي ډېر عجائب او غرائب دي چي موږ ايمان ورباندي لرو خو کيفيت يې موږ ته نه دی معلوم ځکه چي دا له غيبي امورو څخه دی[1].

## آيا نبي ﷺ د معراج په شپه الله تعالی ليدلی دی که نه

يو جماعت صحابه کرام چي په سر کي يې ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها ده وايي چي: نبي ﷺ د اسراء په شپه الله تعالی نه دی ليدلی بلکي جبريل عليه السلام يې پخپل اصلي صورت کي د سدرة المنتهى سره ليدلی دی نو دغو صحابه کرامو رضي الله عنهم د (سورة النجم) د اولنيو آيتونو ارتباط تر جبريل عليه السلام پوري ورکړی دی. د بخاري شريف دوهم جلد (۷۲۰) صفحې له څو روايتونو څخه دا ښکاره معلومېږي، او بل جماعت صحابه کرام رضي الله عنهم چي په سر کي يې رئيس المفسرين عبد الله بن عباس رضي الله عنه دی بيا داسي وايي چي نبي ﷺ د معراج په شپه الله تعالی ليدلی دی خو له حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه يو روايت داسي دی چي الله تعالی يې پخپلو سترګو ليدلی دی[2].

او بل روايت بيا له حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه داسي راغلی دی چي الله تعالی يې په زړه سره ليدلی دی[3].

ښکاره خبره ده چي له حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه د دغه دوهم روايت پر بناء اختلاف بالکل د منځه ځي ځکه چي د ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها په قول کي چي د

---

[1] د اسراء او معراج ټوله قصه په تفصيل سره په صحيح البخاري (۳۲۰۷) او صحيح مسلم (۱۶۴) حديث کي وګورئ.

[2] صحيح البخاري (۴۷۱۶).

[3] مسلم (۱۷۶).

رؤيت نفي سوی هغه د سترګو د ليدلو په معنا دی او د حضرت ابن عباس رضي الله عنه په قول کي چي بيا د رؤيت اثبات سوی هغه په زړه سره د ليدلو په معنا دی، لېکن له حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه هغه اول روايت مشهور دی، نو د دغو صحابه کرامو رضي الله عنهم په آند بيا د (سورة النجم) اولني آيتونه تر الله تعالی پوري ارتباط لري، او ځينو علماؤ بيا په دې مسئله کي توقف کړی دی امام قرطبي رحمه الله همدغه قول ته ترجيح ورکړې ده او دا يې د محققينو علماؤ يوه جماعت ته منسوب کړی دی دليل يې هم دا راوړی دی چي په دې مسئله کي قاطع دليل نسته او يوازي ظن بيا په دغسي مسائلو کي کفايت نه کوي[1].

## حوض کوثر حق دی ايمان ورباندي لازم دی

**۴۰: – وَالْحَوْضُ الَّذِیْ اَکْرَمَهُ اللهُ تَعَالٰی بِهِ غِيَاثًا لِاُمَّتِهِ حَقٌّ.**

ژباړه: هغه حوض چي الله تعالی په هغه سره د نبي صلی الله عليه وسلم اکرام کړی دی (يعني په قيامت کي به ورکول کېږي) د ده د امت د کومک او مرستي لپاره حق دی.

**شرح**– حوض کوثر کوم چي به نبي صلی الله عليه وسلم ته د محشر په ميدان کي ورکول کېږي حق او ثابت دی او کوم کسان چي د نبي صلی الله عليه وسلم اتباع يې کړې وي هغه به دغه حوض ته راځي او اوبه به ځني چيښي لکه څنګه چي يې په احاديثو کي صفت راغلی دی په هغه ډول موږ ايمان ورباندي لرو هيڅ قسم تأويل يې نه کوو کوم حديثونه چي د حوض کوثر په اړوند راغلي دي معنوي تواتر ته رسېږي خو دلته يې تاسو يو څو وګورئ:

---

[1] اللمعات على هامش الصحيح البخاري المجلد الثاني (۷۲۰) مخ، همدا شان وګورئ مشکوة المصابيح دوهم جلد (۵۰۱) مخ.

۱:- نبي ﷺ انصارو ته فرمايلي: إِنَّكُمْ سَتَلْقَوْنَ بَعْدِيْ أَثَرَةً فَاصْبِرُوا حَتَّى تَلْقَوْنِي عَلَى الْحَوْضِ(۱).

ژباړه: يقينا تاسو به ترما وروسته ژر له اختيارولو سره مخ سئ (يعني نور خلک به پر تاسو خپل ځانونه مختاره ګرځوي) نو تاسي صبر وکړئ ترڅو زما سره پر حوض ملاقات کوئ.

۲:- إِنِّيْ فَرَطُكُمْ عَلَى الْحَوْضِ مَنْ مَرَّ عَلَيَّ شَرِبَ وَمَنْ شَرِبَ لَمْ يَظْمَأْ أَبَدًا لَيَرِدَنَّ عَلَيَّ أَقْوَامٌ أَعْرِفُهُمْ وَيَعْرِفُوْنِي ثُمَّ يُحَالُ بَيْنِي وَبَيْنَهُمْ فَأَقُوْلُ إِنَّهُمْ مِنِّي فَيُقَالُ إِنَّكَ لَا تَدْرِيْ مَا أَحْدَثُوا بَعْدَكَ فَأَقُوْلُ سُحْقًا سُحْقًا لِمَنْ غَيَّرَ بَعْدِيْ(۲).

ژباړه: يقيناً زه ستاسي لپاره پر حوض فرط يعني دمخه تلونکی يم کوم کس چي زما سره تېرېږي هغه به اوبه وڅيښي او کوم کس چي دغه اوبه وڅيښي هغه به د همېشه لپاره تږی نه سي، ضرور به څو داسي قومونه ماته راسي چي زه به يې وپېژنم او دوی به هم ما وپېژني خو وروسته به زما او د دوی په منځ کي مانع واقع سي نو به زه و وايم چي يقيناً دا خلک خو زما له امت څخه دي په جواب کي به داسي و ويل سي چي ته خو په هغه څه نه يې خبر چي دوی ترتا وروسته نوي پيدا کړي دي نو به زه و وايم ليري والی دی، ليري والی دی هغه چا لره چي ترما وروسته يې دين ته تغير رسولی دی.

۳:- حَوْضِيْ مَسِيْرَةُ شَهْرٍ مَاؤُهُ أَبْيَضُ مِنَ اللَّبَنِ وَرِيْحُهُ أَطْيَبُ مِنَ الْمِسْكِ وَكِيْزَانُهُ كَنُجُوْمِ السَّمَاءِ مَنْ شَرِبَ مِنْهُ فَلَا يَظْمَأُ أَبَدًا(۳).

---

(۱) رواه البخاري (۴۳۳۰) و مسلم (۱۰۶۰). من حديث عبد الله بن زيد رضي الله عنه.
(۲) رواه البخاري (۶۵۸۳) و مسلم (۲۲۹۰)، من حديث سهل بن سعد رضي الله عنه وابي سعيد الخدري رضي الله عنه.
(۳) رواه البخاري (۶۵۷۹). من حديث عبد الله بن عمرو رضي الله عنهما.

ژباړه: نبيﷺ فرمايلي- زما حوض د يوې مياشتي مزل دی او به يې تر شيدو سپيني دي او بوی يې تر مشکو ډېر ښه دی او کوزې يې د آسمان د ستورو په شان ډېري دي که چا له دغه حوض څخه اوبه وچيښلې نو همېشه به تږی نه سي.

اما په (إِنَّآ أَعۡطَيۡنَٰكَ ٱلۡكَوۡثَرَ) [الكوثر: ۱] کي چي د کوثر کلمة راغلې ده د دې د معنا په تعين کي امام قرطبي (۱۹) قولونه راوړي دي[۱].

خو امام قرطبي په دغو ټولو قولونو کي دوه لاندي قولونه اصح بللي دي:

۱- کوثر په جنت کي يوه ويا له ده. ځکه چي نبيﷺ فرمايلي دي:

(رَأَيْتُ نَهْراً فِي الْجَنَّةِ حَافَتَاهُ قِبَابُ اللُّؤْلُؤِ قُلْتُ مَاهٰذَا يَا جِبْرِيْلُ قَالَ هٰذَا الْكَوْثَرُ الَّذِیْ أَعْطَاكَهُ اللّٰهُ)[۲].

يعني- ما د معراج په شپه په جنت کي يوه داسي ويا له وليده چي په غاړه باندي يې د ملغلرو خيمې ولاړي وې ما و ويل چي اې جبرائيله! دا څه شی دی ده په جواب کي و ويل چي دا هغه کوثر دی چي الله تعالیٰ تاته درکړی دی.

۲- کوثر د محشر په ميدان کي د نبيﷺ حوض دی. ځکه چي نبيﷺ فرمايلي دي:

(وَهُوَ حَوْضٌ تَرِدُ عَلَيْهِ أُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ آنِيَتُهُ عَدَدُ النُّجُوْمِ)[۳].

يعني- کوثر داسي حوض دی چي زما امت به د قيامت په ورځ د اوبو څښلو لپاره ورباندي توئيږي چي لوښی يې د ستورو د شمېر غوندي دي.

په يوه بل روايت کي بيا راغلي دي چي دغه حوض ته به په دوو ناوو کي د

---

[۱] تفسير القرطبي شلم جلد (۲۱۶) مخ.

[۲] جامع الترمذی دوهم جلد (۱۷۳) مخ، رقم الحديث (۳۳٥۹).

[۳] صحيح مسلم اول جلد (۱۷۲) مخ، رقم الحديث (۴۰۰).

جنت له نهر څخه او به راځي[۱].

په دغه روایت سره د کوثر دغه دوې ذکر سوي معناوي سره جمع کېږي. خو له حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه بیا د کوثر په تفسیر کي داسي نقل راغلي دي: (هُوَالْخَيْرُ الَّذِیْ أَعْطَاهُ اللهُ إِيَّاهُ)[۲].

یعني- کوثر هغه ډېر خیر دی کوم چي الله تعالی نبي ﷺ ته ورکړي دی.

د ام المؤمنین عائشې رضي الله عنها څخه هم د بخاري شریف په ذکر سوي صفحه کي دغسي نقل راغلی دی. له خیر کثیر څخه مراد د دنیا او آخرت ټوله خیرونه او نعمتونه دي چي د نبي ﷺ حوض کوثر هم له دغو نعمتونو څخه یو لوی نعمت دی.

امام قرطبي رحمة الله علیه لیکلي دي: چي نبي ﷺ لره دوه حوضه دي یو یې د محشر په میدان کي تر پل صراط دمخه دی او بل په جنت کي دی دغو دواړو ته کوثر ویل کېږي[۳].

د حوض کوثر په اړوند که ډېر معلومات غواړئ نو د امام قرطبي رحمة الله علیه ذکر سوي کتاب ته رجوع وکړئ.

## د ګنهګاره مؤمنانو لپاره د نبي ﷺ شفاعت حق دی

**۴۱: - وَالشَّفَاعَةُ الَّتِي ادَّخَرَهَا لَهُمْ حَقٌّ كَمَا رُوِيَ فِي الْأَخْبَارِ.**

ژباړه: هغه شفاعت چي نبي ﷺ د خپل امت لپاره ذخیره کړی دی حق دی لکه

[۱] صحیح مسلم (۲۳۰۰).
[۲] صحیح البخاري دوهم جلد (۷۴۲) مخ.
[۳] التذکرة للامام القرطبي دوهم جزء (۱۲۲) مخ.

څنګه چي يې په احاديثو کي روايت سوی دی.

**شرح**– په دې باره کي حديثونه ډېر دي خو دلته تاسو دغه يو صحيح حديث وګورئ. نبيﷺ فرمايلي دي:

(لِكُلِّ نَبِيٍّ دَعْوَةٌ مُسْتَجَابَةٌ فَتَعَجَّلَ كُلُّ نَبِيٍّ دَعْوَتَهُ وَإِنِّي اخْتَبَأْتُ دَعْوَتِي شَفَاعَةً لأُمَّتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَهِيَ نَائِلَةٌ إِنْ شَاءَ اللهُ مَنْ مَاتَ مِنْ أُمَّتِي لَا يُشْرِكُ بِاللهِ شَيْئًا) [1].

ژباړه: هر نبي لره يوه مقبوله دعاء سته (چي دی به يې په قبول کي متيقن وي) خو هر نبي دغه خپله مقبوله دعاء په دنيا کي کړې ده او يقيناً ما خپله دعاء د قيامت په ورځ زما د امت د شفاعت لپاره ذخيره کړې ده نو دغه دعاء ان شاءالله زما په امت کي هر هغه چاته رسېدونکې ده چي په داسي حال کي مړ سوی وي چي د الله تعالی سره يې شی شريک نه وي ګرځولی.

په دې کي شک نسته چي د قيامت په ورځ شفاعت سته مګر دا به د هر چا کار نه وي او نه به د هر چا لپاره وي بلکي خاصو خلګو ته به د شفاعت کولو اجازه ورکوله کېږي او د دوی دغه شفاعت به هم د خاصو خلګو لپاره وي تر ټولو لوی او اول شفاعت به د نبيﷺ له خوا وي.

(**دلائل**) ۱:– الله تعالی فرمايلي دي: ﴿فَمَا تَنْفَعُهُمْ شَفَاعَةُ الشّٰفِعِيْنَ﴾.

[المدثر: ۴۸].

ژباړه: پس فائده به ونه رسوي کافرانو ته شفاعت د شفاعت کونکيو.

د آيت مفهوم دا دی چي مؤمنانو ته به شفاعت فائده ورسوي.

۲:– ﴿مَنْ ذَا الَّذِىْ يَشْفَعُ عِنْدَهٗۤ اِلَّا بِاِذْنِهٖ﴾. [البقرة: ۲۵۵].

ژباړه: څوک به وي هغه چي سپارښت وکړي په نزد د ده (هيڅوک يې نه شي

[1] رواه البخاري (۶۳۰۴) و مسلم (۱۹۹). واللفظه له من حديث ابي هريرةؓ.

کولی) مګر خو کولی یې سي په اذن د ده سره.

۳:-نبي ﷺ فرمايلي دي: (وَأَوَّلُ شَافِعٍ وَأَوَّلُ مُشَفَّعٍ)[۱].

یعني- زه اول شفاعت کوونکی او اول هغه څوک یم چي شفاعت یې قبلېږي.

۴:- نبي ﷺ فرمايلي دي: (شَفَاعَتِي لِأَهْلِ الْكَبَائِرِ مِنْ أُمَّتِي)[۲].

ژباړه: زما له امت څخه د لويو ګناهونو خاوندانو ته زما شفاعت ثابت دی.

د شفاعت په اړوند احاديث د معنا له جهته متواتر دي[۳].

د نبي ﷺ تر څنګ د نورو کسانو شفاعت هم ثابت دی په یوه روایت کي راغلي دي چي ملائکه انبياء او مؤمنان به شفاعت وکړي[۴].

په یوه بل روایت کي بیا داسي راغلي دي د قیامت په ورځ به اول انبیاء علیهم السلام وروسته علماء او بیا به شهداء شفاعت وکړي رواه ابن ماجه (۴۳۱۳) په یوه روایت کي داسي هم راغلي دي چي د بنده لپاره روژه او قرآن کريم شفاعت کوي روژه به و وايي: اې زما ربه! ماله ده څخه په ورځ کي طعام او شهوتونه منع کړې وه نو ته د ده په باره کي زما شفاعت قبول کړه او قرآن کريم به و وايي: ماله ده څخه په شپه کي خوب منع کړی ؤ نو ته د ده په باره کي زما شفاعت قبول کړه نو به د دوی شفاعت قبول کړل سي[۵].

---

[۱] رواه مسلم و ابوداؤد عن ابي هريرة. فيض القدير ۳، ۴۱.

[۲] حديث صحيح بطرقه و شواهده اخرجه ابوداؤد (۴۷۳۹). والترمذی (۲۴۳۵) و احمد/ ۳/ ۲۱۳، والطيالسي (۲۰۲۶) وابو نعيم فی الحلية/ ۷/ ۲۶۱. والطبراني فی الصغير/ ۱/ ۱۶۰، من حديث انس رضي الله عنه وصححه ابن حبان (۲۵۹۶) والحاکم ۱/ ۶۹.

[۳] شرح العقائد (۸۸) مخ، و شرح الفقه الاکبر (۱۵۹).

[۴] رواه البخاري (۷۴۳۹) ومسلم (۱۸۳). من حديث ابي سعيد الخدري رضي الله عنه.

[۵] رواه ابن المبارک فی زوائد الزهد (۳۸۵) والحاکم/ ۲/ ۷۷۳.

# د نبي ﷺ د شفاعت ډولونه

نبي ﷺ به د قيامت په ورځ څو ډوله شفاعت کوي خو قاضي عياض رحمه الله او امام نووي رحمه الله يې پنځه ډولونه ذکر کړي دي:

۱:- اول شفاعت به د قيامت په ورځ د ټوله اهل محشر په حق کي وي دا شفاعت به د دې لپاره وي چي د حشر په ميدان کي د راټولو سوو خلګو څخه تکليفونه ليري سي او له دوی سره ژر حساب او کتاب پيل سي دغه شفاعت ته شفاعت کبري ويل کېږي د دې شفاعت په اړوند حديثونه ډېر دي چي خلګ به د حشر په ميدان کي د آدم عليه السلام څخه شفاعت طلب کړي ترڅو له دوی څخه هغه تکليفونه ليري سي چي د حشر په ميدان کي دوی ورسره مخامخ وي او د دوی سره ژر حساب وسي خو آدم عليه السلام به دوی ته عذر و وايي بيا به په هم دغه ډول د نورو اولوالعزمه رسولانو عليهم السلام څخه شفاعت طلب کړي ترڅو چي دا لړۍ به نبي ﷺ ته را ورسېږي[1].

دا شفاعت يوازي تر نبي ﷺ پوري خاص دی بل هيڅوک دا شفاعت نه سي کولای او دا هغه مقام محمود دی چي الله تعالی يې په دې آيت کي د نبي ﷺ سره وعده کړې ده،

﴿عَسَىٰٓ أَن يَبۡعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامٗا مَّحۡمُودٗا﴾. [الاسراء: ۷۹].

ژباړه: ښايي چي وبه دروي تا رب ستا په هغه مقام محمود (ستايلي سوي ځای د شفاعت) کي.

۲:- دوهم شفاعت به د دې لپاره وي چي الله تعالی بېله حسابه ځيني خلګ

---

[1] وګورئ صحيح البخاري (۴۷۱۲) مسلم (۱۹۴).

جنت ته داخل کړي، قاضي عياض رحمه الله او امام رحمه الله نووي ويلي دي چي دغه شفاعت هم يوازي تر نبي ﷺ پوري خاص دی د دغه شفاعت حديث امام مسلم رحمه الله ذکر کړی دی.

۳:- دريم شفاعت به د هغو ګنهکارانو په باره کي وي چي د عذاب فيصله ورباندي سوي وي ترڅو الله تعالی يې ګناهونه ور معاف کړي او په دې ډول يې جهنم ته له تلو څخه وژغوري، قاضي عياض رحمه الله او ابن سبکي رحمه الله ويلي چي دا شفاعت هم يوازي تر نبي ﷺ پوري خاص دی.

۴:- څلورم شفاعت به له دوزخ څخه د هغو ګنهګارانو د را ايستلو لپاره وي کوم چي تردې له مخه دوزخ ته داخل کړل سوي وي دا شفاعت يوازي تر نبي ﷺ پوري خاص نه دی بلکي نور انبياء عليهم السلام مؤمنان او ملائکي به هم دغه شفاعت کوي لېکن د نبي ﷺ برخه په دغه شفاعت کي بېله شکه ډېره ده دغه شفاعت هم په آحديثو کي په ښکاره ډول راغلی دی چي نبي ﷺ به څلور واره شفاعت وکړي په هروار کي به خپل رب ته سجده وکړي دعاء به وکړي او شفاعت به وغواړي په جواب کي به داسي ورته و ويل سي: ته سر را پورته کړه او خبري وکړه ستا خبري اورېدل کېږي او سوال وکړه کوم شی چي ته يې غواړې هغه درکول کېږي او شفاعت وکړه شفاعت دي قبلېږي، نبي ﷺ فرمايلي چي زه به شفاعت وکړم نو به ماته په دغو ګنهګارانو کي چي دوزخ ته داخل کړل سوي دي يو حد او مقدار وټاکل سي نو به د دغه حد او مقدار سره سم زه دوی له دوزخ څخه را وباسم[1].

په دې باره کي حديثونه متواتر دي چي دوی به له دوزخ څخه په داسي حال کي را وايستل سي چي د سکرو په شان به ګرځېدلي وي بيا به جنت ته نژدې په

---

[1] صحيح البخاري (۶۵۶۵) و مسلم (۱۹۳).

يوه وياله كي چي (نَهْرُالْحَيَاة) ورته ويل كېږي واچول سي نو به داسي وده وكړي لكه څنګه چي د نباتاتو تخم دانې د سيل په خاوره كي وده كوي[۱].

د دغسي ښكاره دلائلو سره سره معتزله او خوارج دغه شفاعت نه مني.

**۵:-** پنځم شفاعت به په جنت كي د ځينو مؤمنانو د هغو درجو د لوړولو لپاره وي كومي چي الله تعالى دوى ته وركړي دي په دې سره به د دوى درجې لوړې سي. له دغه شفاعت او اول قسم شفاعت څخه معتزله ډله هم انكار نه كوي[۲].

لېكن امام قرطبي رحمة الله عليه شپږم قسم شفاعت هم ذكر كړى دى هغه د نبي ﷺ شفاعت دى د خپل اكا ابو طالب په حق كي د عذاب د سپكولو لپاره لكه څنګه چي په يوه حديث كي راغلي دي چي د نبي ﷺ په حضور كي د ده اكا ابوطالب ياد سو نو نبي ﷺ وفرمايل ښايي د قيامت په ورځ ده ته زما شفاعت ګټه وكړي نو به دى په لږ اور كي واچول سي چي صرف تر بجلكو (پړكيو) پوري به يې رسېږي خو له دغه لږ اور څخه به د ده دماغ جوش كوي[۳].

## سوال او جواب

**سوال:-** له مخكنيو دلائلو څخه دا ښكاره معلومېږي چي د ګنهكاره مؤمنانو لپاره شفاعت ثابت دى همدغه د اهل السنة والجماعة مسلك دى لېكن له څو آيتونو څخه يېا په ښكاره ډول دا معلومېږي چي شفاعت نسته په دې باره كي لاندي دوه آيتونه وګورئ:

۱:- ﴿وَاتَّقُوْا يَوْمًا لَّا تَجْزِىْ نَفْسٌ عَنْ نَّفْسٍ شَيْئًا وَّلَا يُقْبَلُ مِنْهَا شَفَاعَةٌ وَّلَا

---

[۱] صحيح البخاري (۷۴۳۹) ومسلم (۱۸۳).
[۲] شرح العقيدة الطحاوية للميدانى (۷۹) مخ، (التذكرة) للامام القرطبي دوهم جزء (۳۲) مخ.
[۳] مسلم (۲۱۰).

يُؤْخَذُ مِنۡهَا عَدۡلٌ وَّلَا هُمۡ يُنۡصَرُوۡنَ○ ﴾.[البقرة: ۴۸].

ژباړه: او تاسو د داسي ورځي له عذاب څخه په ايمان سره د خپلو ځانونو ساتنه وکړئ چي په دې کي هيڅ نفس له بل نفس څخه څه شی په غاړه نه سي اخستی او نه ترې د کوم شفاعت کونکی شفاعت منل کېږي او نه ترې فديه اخيستله کېږي او نه به له دوی سره نصرت وکړی سي (په دفع د عذاب کښې).

۲:- ﴿ مَا لِلظّٰلِمِيۡنَ مِنۡ حَمِيۡمٍ وَّلَا شَفِيۡعٍ يُّطَاعُ○ ﴾. [المؤمن: ۱۸].

ژباړه: نه به وي ظالمانو ته (په قيامت کي) هيڅوک دوست او نه کوم شفاعتګر چي خبره يې وملنه سي.

**جواب**: موږ وايو چي په اول آيت کي له دوهم نفس څخه بې ايمانه نفس (کافر) مراد دی همدا شان په دوهم آيت کي له ظالمانو څخه کافران مراد دي، نو له دغسي آيتونو څخه مطلب دا دی چي د کافرانو لپاره شفاعت نسته ترڅو دوی د الله تعالی له عذاب څخه خلاص سي[1].

اوس نو په دې تقرير سره هغه دلائل چي د شفاعت د اثبات لپاره راغلي دي او هغه دلائل چي شفاعت نفي کوي سره جمع کېږي ځکه چي شفاعت د مؤمنانو لپاره دی او منع يې د کافرانو په باره کي ده. د دې موضوع په اړوند شرح العقائد (۸۸) مخ هم مطالعه کولای سئ.

---

[1] وګورئ تفسير القرطبي اول جلد (۳۴۶) مخ، او نور عام تفسيرونه.

# میثاق (د عالم الذر عهد) حق دی

**۴۲ :- وَالْمِيْثَاقُ الَّذِيْ أَخَذَهُ اللهُ تَعَالٰى مِنْ آدَمَ عَلَيْهِ السَّلَامُ وَ ذُرِّيَّتِهِ حَقٌّ.**

ژباړه: هغه ټینګ عهد چې الله تعالی د (الست) په ورځ له آدم علیه السلام او د ده له اولاد څخه اخستی دی حق دی.

**شرح**- له دې عقیدې څخه مطلب هغه قصه ده چې پخوا تېره سوې ده. هغه دا چې الله تعالی د آدم علیه السلام ټوله اولاده آن د قیامت تر ورځې پورې د ده او د ده له اولادې د شاګانو (ملاوو) څخه د سرو میږتنو په ډول را بهر کړه او ټولو ته یې دومره عقلونه ورکړه چې هغوی وربانديې د سوال او جواب صلاحیت پیدا کړ او بیا یې ورته دا سوال راجع کړ چې آیا زه ستاسو رب نه یم؟ ټولو جواب ورکړ چې ولې نه. ته زموږ رب یې او موږ هر یو هم پخپل ځان او هم یو په بل باندي شهادت ورکوو او په همدغي خبري باندي اقرار کوو وروسته یې بیرته په همغو شاګانو کي ور داخل کړل.

**(دلائل)** ۱:- ﴿ وَإِذْ أَخَذَ رَبُّكَ مِنْ بَنِيٓ آدَمَ مِنْ ظُهُوْرِهِمْ ذُرِّيَّتَهُمْ وَأَشْهَدَهُمْ عَلٰٓى أَنْفُسِهِمْ ۚ أَلَسْتُ بِرَبِّكُمْ ۖ قَالُوْا بَلٰى ۚ شَهِدْنَا ۚ ﴾.[الاعراف: ۱۷۲].

ژباړه: او (اې پیغمبره!) هغه وخت هم خلګو ته ور په یاد کړه چې ستا رب د آدم علیه السلام د اولادې د دوی له شاګانو څخه د دوی اولاد واخیست او پخپلو ځانونو باندي یې شاهدان کړه (داسي چې) آیا زه ستاسو رب نه یم (ټولو په یوه خوله) وویل ولې نه ته زموږ رب یې موږ په همدې شاهدي ورکوو.

۲:- نبي فرمايلي دي: (أَنَّ اللهَ يَقُوْلُ لِأَهْوَنِ أَهْلِ النَّارِ عَذَاباً لَوْ أَنَّ لَكَ مَافِي الْأَرْضِ مِنْ شَيْءٍ أَكُنْتَ تَفْتَدِيْ بِهِ قَالَ نَعَمْ قَالَ فَقَدْ سَأَلْتُكَ مَاهُوَ أَهْوَنُ مِنْ هٰذَا وَأَنْتَ فِيْ صُلْبِ آدَمَ أَنْ لَا تُشْرِكَ بِيْ فَأَبَيْتَ إِلَّا الشِّرْكَ)[1].

ژباړه: الله تعالی به د قیامت په ورځ په دوزخیانو کې هغه کس ته چې عذاب د نورو په نسبت ډېر ورباندې سپک وي داسې و وایي که چیرې د ځمکې ټوله موجودات ستا په ملک کې وي آیا ته یې د خپل ځان فداء ګرځوې، دی به په جواب کې و وایي (هو) الله تعالی به ورته و وایي ما له تا څخه تر دغه د یو سپک شي غوښتنه کړې وه په داسې حال کې چې ته د آدم علیه السلام په شا کې وې (یعنې د میثاق په وخت کې) هغه شی دا وو چې ته به ځما سره هیڅ شی شریک نه ګرځوې خو کله چې ما ته دنیا ته راوستې نو تا د شرک څخه ماسېوی له هر شي څخه منع وکړه یعنې یوازې شرک دې قبول کړ.

۳:- نور هغه احادیث دي چې په مسند او سنن کې راغلي دي په دغو احادیثو کې داسې راغلي دي چې الله تعالی د آدم علیه السلام شا ور مسح کړه او د ده اولاده یې د سرو میږ تنو په شان را بهر کړه په بعضې احادیثو کې داسې هم راغلي دي چې الله تعالی دوی ته د خبرو کولو قدرت ورکړ او دوی یې پر خپلو ځانونو باندې شاهدان وګرځول الله تعالی داسې ورته وفرمایل آیا زه ستاسو رب نه یم ټولو جواب ورکړ چې ولې نه ته زموږ رب یې[2].

---

[1] اصحیح البخاري (۳۳۳۴) و مسلم (۲۸۰۵).

[2] / احمد / ۱ / ۴۴، وابوداؤد (۴۷۰۳) والترمذی (۳۰۷۵) والنسائی فی الکبری (۱۱۱۹۰) وابن حبان (۶۱۶۶) والحاکم ۱ / ۲۷ / من حدیث عمر رضي الله عنه. د لازیاتو معلوماتو لپاره وګورئ تفسیر ابن کثیر / دریم جلد (۲۲۸) مخ.

# د ذکر سوي عهد د اخیستلو ځای

د ذکر سوي عهد د اخستلو په ځای کي مفسرینو کرامو لاندي قولونه ذکر کړي دي:

۱:- ذکر سوی عهد په اول آسمان کي اخستل سوی دی کله چي آدم علیه السلام او حواء رضي الله عنها له جنت څخه را کښته کړل سول مګر ځمکي ته لا نه وه را رسول سوي.

۲:- دغه عهد په وادي نعمان کي اخستل سوی دی چي د عرفات د غونډۍ سره نژدې واقعیت لري.

۳:- دغه عهد د هند په ځمکه کي اخستل سوی دی چرته چي آدم علیه السلام اول ځل را کښته سوی وو.

۴:- د عهد اخستلو ځای د طائف او مکې معظمې ترمنځ واقعیت لري.

اول قول د سدي رحمة الله علیه او دوهم او دریم قول د حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه او څلورم قول د کلبي رحمة الله علیه دی[1].

# سوال او جواب

**سوال**:- ذکر سوي عهد خو خلګو ته ورپه یاد نه دی نو دا به د قیامت په ورځ څرنګه پر کافرانو حجت سي؟

**جواب**: دغه عهد زموږ څخه الله تعالی د امتحان لپاره هېر کړی دی ځکه چي دنیا د امتحان ځای دی که چیري ذکر سوی عهد زموږ په یاد وای نو به دغه ابتلاء نه وای او نه به موږ د انبیاؤ علیهم الصلاة والسلام تذکیر ته محتاج وای نو د

[1] تفسیر القرطبي اووم جزء (۲۷۲) مخ. تفسیر البغوی دوهم جلد (۲۱۲) مخ.

ذکر سوي عهد هېرېدل د ابتلاء او امتحان لپاره دی ترڅو خلک اول ځل په غیب باندې ایمان راوړي خو دغه عهد موږ ته بیرته پیغمبرانو علیهم السلام را په یاد کړی دی نو ذکر سوی عهد بېله شکه حجت دی[1].

بله خبره دا ده چي دغه عهد ځینو خلکو ته ورپه یاد هم دی لکه چي د ذوالنون رحمه الله علیه څخه یو چا پوښتنه وکړه چي آیا ذکر سوی عهد ستا په یاد دی هغه جواب ورکړ چي (كأنه الآن في اذني).

یعني – لکه چي همدا اوس مي په غوږ کي دی[2].

## د الله تعالی علم چي د ده ازلي صفت دی پر هر شي محیط دی

**۴۳:– وَقَدْ عَلِمَ اللهُ تَعَالٰى فِيمَا لَمْ يَزَلْ عَدَدَ مَنْ يَدْخُلُ الْجَنَّةَ وَعَدَدَ مَنْ يَدْخُلُ النَّارَ جُمْلَةً وَاحِدَةً فَلَا يُزَادُ فِي ذَالِكَ الْعَدَدِ وَلَا يَنْقُصُ مِنْهُ وَكَذَالِكَ أَفْعَالُهُمْ فِيمَا عَلِمَ مِنْهُمْ أَنْ يَفْعَلُوهُ.**

ژباړه: بېله شکه الله تعالی په ازل کي د هغو کسانو په شمېر چي جنت ته به داخلېږي او د هغو کسانو په شمېر چي دوزخ ته به داخلېږي په یوه وار علم درلودی نو نه به په دغه شمېر کي زیادت راسي او نه به له دغه شمېر څخه څه کم سي همدغسي د دوی اعمال هم له هغې جملې څخه دي چي الله تعالی په ازل کي د دوی په اړوند علم درلودی چي دوی به هغه کوي (یعني الله تعالی په ازل کي د دوی په افعالو خیر دی که شر عالم ؤ.

---

[1] شرح الفقه الاکبر، (۸۶) مخ.

[2] روح المعاني نهم جلد (۱۰۶) مخ.

**شرح**- مطلب دا دی چي د الله تعالی علم محيط او ازلي دی پر ټولو هغو شيانو چي وروسته پيدا کېږي ازلي علم لري کوم کسان چي جنت ته به داخلېږي او کوم کسان چي دوزخ ته به داخلېږي شمېر يې الله تعالی ته په ازل کي معلوم دی په دغه شمېر کي به څکه زيادت او نقصان نه راځي چي بيا د الله تعالی په علم کي تغير لازمېږي چي دا يو ناشونی کار دی همدا شان الله تعالی پر خپلو بندګانو او د دوی پر افعالو ښه دي که بد په ازل کي عالمۀ نوی علم نه دی ورته پيدا سوی.

(**دلائل**) ۱:- ﴿إِنَّ اللَّهَ بِكُلِّ شَيْءٍ عَلِيمٌ﴾.[الانفال: ۷۵].

ژباړه: بېشکه الله پر هر شي باندي ښه عالم دی.

۲:- ﴿إِنَّ اللَّهَ عَلِيمٌ حَكِيمٌ﴾.[التوبة: ۲۸].

ژباړه: بېشکه چي الله ﷻ ښه عالم دی (په ټولو احوالو) ښه حکمت والا (چي هر کار په تدبير او مصلحت سره کوي).

دغسي آيتونه په قرآن کريم کي ډېر دي په دغسي آيتونو کي الله تعالی خپل ذات په تام (پوره) علم سره موصوف کړی دی د تام علم مقتضٰی دا ده چي الله تعالی پر هغو شيانو چي وروسته پيدا کېږي هر اړخيز علم لري نو د هغو کسانو په شمېر چي جنت ته به داخلېږي او د هغو کسانو په شمېر چي دوزخ ته به داخلېږي هم الله تعالی پخپل ازلي علم سره پوره علم لري.

۳:- په يو صحيح حديث کي راغلي دي چي نبي ﷺ داسي فرمايلي:

(مَا مِنْ نَفْسٍ مَنْفُوسَةٍ إِلَّا كُتِبَ مَكَانُهَا مِنَ الْجَنَّةِ وَالنَّارِ)[1].

ژباړه: هيڅ يو مخلوقه نفس نسته مګر چي د هغه ځای له جنت يا دوزخ څخه لا د پخوا څخه ليکل سوی دی. (اَللّٰهُمَّ أَدْخِلْنَا الْجَنَّةَ وَأَعِذْنَا مِنَ النَّارِ).

---

[1] صحيح البخاري (۱۳٦۲) و مسلم (۲٦٤۷). من حديث علي رضي الله عنه.

# د بنده په حق کي خاتمه اعتبار لري

**۴۴: - وَكُلٌّ مُيَسَّرٌ لِمَا خُلِقَ لَهُ وَالْأَعْمَالُ بِالْخَوَاتِيمِ وَالسَّعِيدُ مَنْ سَعِدَ بِقَضَاءِ اللهِ تَعَالٰى وَالشَّقِيُّ مَنْ شَقِيَ بِقَضَاءِ اللهِ تَعَالٰى.**

ژباړه: هر کس ته د هغه عمل لپاره آساني ورکول سوې چي دی د هغه عمل لپاره پيدا کړل سوی دی او د اعمالو اعتبار په خاتمه سره دی (يعني که د يو کس خاتمه په ښه عمل سره سي نو دا يې د سعادت علامه ده او که چيري په بد عمل سره سي بيا يې دا د شقاوت علامه ده). نيک بخته کس هغه دی چي د الله تعالٰی په قضاء او قدر سره نيک بخته سوی وي او بدبخته کس هغه دی چي د الله تعالٰی په قضاء او قدر سره بدبخته سوی وي.

**شرح**- په دې عبارت کي درې عقيدې بيان سوي دي:

**اوله عقيده**:- هر کس ته د هغه عمل لپاره آساني ورکول سوې چي دی د هغه عمل لپاره پيدا کړل سوی دی که چيري يو بنده طاعت وکړي نو دا د الله تعالٰی په توفيق او تيسير سره دی او که چيري معصيت وکړي په دې صورت کي بيا د الله تعالٰی توفيق ورسره نسته، دا چي د معصيت په صورت کي د بنده سره د الله تعالٰی توفيق نسته بس همدغه د معصيت لپاره تيسير بلل کيږي په دې عقيده کي دې خبري ته اشاره ده چي د تقدير په وجه عمل نه پريښودل کيږي بلکي پر مکلف بنده عمل فرض دی د دې عقيدې دليل د حضرت علي رضي الله عنه په حديث کي د نبي ﷺ دا قول دی: (أَمَّا أَهْلُ السَّعَادَةِ فَيُيَسَّرُوْنَ لِعَمَلِ السَّعَادَةِ وَأَمَّا أَهْلُ الشَّقَاوَةِ

فَيُيَسَّرُونَ لِعَمَلِ الشَّقَاوَةِ ثُمَّ قَرَءَ). ﴿فَأَمَّا مَنْ أَعْطَىٰ وَاتَّقَىٰ﴾[1].

ژباړه: اما کوم چي نېکبخته کسان دي هغوی ته د نېک عمل آساني ورکوله کېږي او کوم چي بدبخته کسان دي هغوی ته بیا د بد عمل آساني ورکوله کېږي بیا نبي ﷺ د (سورة الیل) د (۵) آیت څخه تر (۱۰) لایتونه پوري تلاوت کړه چي په هغو کي د تیسیر خبره په ښکاره ډول راغلې ده.

دا حدیث شریف موږ په (۱۹) عقیده کي بشپړ ترجمه کړی دی هلته یې وګورئ.

**دوهمه عقیده**:- په شریعت کي د اعمالو خاتمه معتبره ده کېدای سي چي یو کس ډېره زمانه مسلمان وي لېکن د عمر په آخر کي کافر سي نو یو انسان باید په خپل عمل مغروره نه سي دا هم کېدای سي چي یو کس ډېره زمانه په کفر او ضلالت کي وي خو وروسته هغه خپل ازلي کتاب ورباندي دمخه سي ایمان راوړي او پر ایمان باندي مړ سي یو مثال یې د فرعون ساحران دي چي ټوله عمر یې په سحر او د فرعون په عبادت کي تېر کړی وو خو کله چي حق ورته روښانه سو نو یې سم دستي ایمان راوړی او پر دغه ایمان کلک ودرېدل او د فرعون د تهدیدونو یې هیڅ فروا ونه کړه لکه څنګه چي دا قصه الله تعالیٰ په سورة الشعراء او سورة (طه) کي ذکر کړې ده.

(**دلائل**) ۱:- نبي ﷺ فرمایلي دي: یقیناً ستاسو د یوه د پیدا ایښت ماده د ده د مور په نس (رحم) کي څلوېښت ورځي د نطفې په صورت جمع کېږي بیا دغه نطفه څلوېښت ورځي کلکي ویني ګرځي بیا څلوېښت ورځي د غوښي ټوټه ګرځي کله چي انساني صورت ور واغوستل سي نو الله تعالیٰ یو ملک د څلورو کلمو د لیکلو لپاره ورته را ولېږي نو یې عمل اجل او رزق ولیکي او دا هم

[1][اللیل:۵]. صحیح البخاري، (۱۳۶۲) و مسلم (۲۶۴۷).

وليكي چي دا كس بدبخته دى يا نيک بخته وروسته په ده كي روح پوه كړل سي زما په هغه ذات قسم دى چي له ده ځخه ماسوى بل د عبادت لائق نسته يقيناً په تاسو كي يو كس د جنتيانو عمل كوي تر ځو چي د ده او جنت په منځ كي هيڅ مسافه پاته نه سي مګر يو ذراع (ګز) قدر (يعني جنت ته ډېر ورنژدې سي) خو پرده باندي خپل ازلي كتاب دمخه سي نو د دوزخيانو عمل وكړي او په دغه عمل سره دوزخ ته داخل سي او يقيناً په تاسو كي يو كس بيا د دوزخيانو عمل كوي ترځو چي د ده او دوزخ په منځ كي هيڅ مسافه پاته نه سي مګر يو ذراع قدر (يعني دوزخ ته ډېر ورنژدې سي) خو پرده باندي خپل ازلي كتاب دمخه سي نو د جنتيانو عمل وكړي او په دغه عمل سره جنت ته داخل سي. امام بخاري رحمة الله عليه او امام مسلم رحمة الله عليه دواړو د دغه حديث روايت كړى دى[1].

٢:- نبي ﷺ فرمايلي دي يقيناً يو بنده خامخا د دوزخيانو عمل كوي او حال دا چي دى په واقع كي د ازلي كتاب پر بناء او د آخري عمل په حكم له جنتيانو ځخه وي او بل بنده بيا د جنتيانو عمل كوي په داسي حال كي چي دى په واقع كي د ازلي كتاب پر بناء او د آخري عمل په حكم د دوزخيانو ځخه وي يقيناً د اعمالو اعتبار په خواتيمو سره دى (يعني پر هر عمل چي خاتمه راغله بس هغه عمل د اعتبار وړ دى). د دې حديث روايت هم امام بخاري رحمة الله عليه او امام مسلم رحمة الله عليه دواړو كړى دى[2].

د دغو حديثونو ځخه دا ښكاره معلومېږي چي اصلي اعتبار خاتمې لره دى كه د يو كس خاتمه ښه وه نو دى به هم ښه وي او كه يې خاتمه بده وه نو دى به هم بد وي نو د هر مسلمان لپاره ډېر مهم شى خاتمه ده هر مسلمان بايد له الله تعالى

---

[1] مشكوة اول جلد (٢٠) مخ.
[2] مشكوة اول جلد (٢٠) مخ.

څخه د ښې خاتمې سوال وکړي، د نبيﷺ په دعاء کي داسي راغلي دي: (يَا مُقَلِّبَ الْقُلُوْبِ ثَبِّتْ قَلْبِيْ عَلٰى دِيْنِكَ)[1].

ژباړه: ای د زړو اړونکې! زما زړه ستا پر دين ثابت او دائم ولره. يعني خاتمه مي ښه وګرځوه.

د نبيﷺ دا دعاء د امت د تعليم لپاره ده، همدا شان نېکانو خلګو هم د الله تعالیٰ څخه پر ايمان او اسلام د وفات کېدلو سوال کړی دی چي دا عين د ښې خاتمې سوال دی لکه څنګه چي د فرعون ساحرانو تر توبې ايستلو وروسته ويلي دي:

﴿رَبَّنَآ اَفۡرِغۡ عَلَيۡنَا صَبۡرًا وَّتَوَفَّنَا مُسۡلِمِيۡنَ۝﴾.[الأعراف: ١٢٦].

ژباړه: ای ربه زموږ! راتوی کړه پر موږ صبر او مړه کړه موږ په داسي حال کي چي مسلمانان يو (يعني خاتمه مو په اسلام کړه).

يوسفعليه‌السلام هم دغه ته ورته سوال کړی دی﴿ تَوَفَّنِيۡ مُسۡلِمًا وَّاَلۡحِقۡنِيۡ بِالصّٰلِحِيۡنَ۝﴾.[يوسف: ١٠١].

ژباړه: وفات کړه ما په دې حال کي چي مسلمان يم او يو ځای مي کړه له صالحانو سره.

**دريمه عقيده**: - نېک بختي او بدبختي هم د نورو شيانو په شان د الله تعالیٰ تر قضاء او قدر لاندي دي. دليل يې همهغه حديث دی چي لږ دمخه تېر سو په هغه حديث کي داسي راغلي دي چي کله د يو ماشوم د مور په رحم کي يو سل او شل ورځي پوره سي نو الله تعالیٰ د څلورو کلمو د ليکلو لپاره يو ملک ورته را ولېږي نو دغه ملک د ماشوم عمل، اجل او رزق وليکي او دا هم وليکي چي دغه

---

[1] احمد/٣/ ١١٢. والبخاری فی الادب المفرد (٦٨٤) والترمذی (٢١٤٠).

ماشوم بدبخته دی یا نېک بخته وروسته په ده کي روح پوه کړل سي[1].

دا خبره یاد وساتئ چي دغه لیکنه د پخواني ازلي تقدیر پر بناء ده او بله خبره دا ده چي نېک بختي او بدبختي لره اسباب سته بېله دغو اسبابو نېک بختي او بدبختي پیدا کېدا ی نه سي د نېک بختۍ اسباب ایمان، تقوٰی او نېک عمل دي او د بدبختۍ اسباب کفر، عصیان، ظلم دی دا ټوله د الله تعالیٰ په علم قضاء او قدر کي داخل دي نو که یو څوک د الله تعالیٰ په قضاء او قدر کي بدبخته ؤ خامخا به د بدبختۍ اسباب په ده کي موجود وي او که یو کس بیا د الله تعالیٰ په قضاء او قدر کي نېک بخته ؤ نو به خامخا د نېک بختۍ اسباب په ده کي موجود وي.

## د قدر مسئله د الله تعالیٰ له اسرارو څخه یو سِر دی

**۴۵:-** وَأَصْلُ الْقَدَرِ سِرُّاللهِ تَعَالٰى فِيْ خَلْقِهِ لَمْ يَطَّلِعْ عَلٰى ذٰلِكَ مَلَكٌ مُقَرَّبٌ وَلَانَبِيٌّ مُرْسَلٌ وَالتَّعَمُّقُ وَالنَّظَرُ فِيْ ذٰلِكَ ذَرِيْعَةُ الْخُذْلَانِ وَسُلَّمُ الْحِرْمَانِ وَ دَرَجَةُ الطُّغْيَانِ فَالْحَذَرَ كُلَّ الْحَذَرِ مِنْ ذٰلِكَ نَظَرًا وَفِكْرًا وَ وَسْوَسَةً فَإِنَّ اللهَ تَعَالٰى طَوىٰ عِلْمَ الْقَدْرِ عَنْ أَنَامِهِ وَنَهَاهُمْ عَنْ مَرَامِهِ كَمَاقَالَ تَعَالٰى فِي كِتَابِهِ ﴿ **لَا يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْئَلُوْنَ** ○﴾.[الانبیاء: ٢٣]. فَمَنْ سَأَلَ لِمَ فَعَلَ فَقَدْ رَدَّ حُكْمَ كِتَابِ اللهِ

---

[1] مشکوة اول جلد (٢٠) مخ.

وَمَنْ رَدَّ حُكْمَ كِتَابِ اللهِ كَانَ مِنَ الْكَافِرِيْنَ.

ژباړه: د تقدير اساس او حکمت د الله تعالی يو پټ راز دی په خپل مخلوق کي چي هيڅ يو مقرب ملک او نه يو رالېږل سوی نبي په هغه خبر دی نو په دې مسئله کي ډېر غور او نظر کول د خذلان (د الله ﷻ د نصرت پاته کېدلو) ذريعه ده او د صحيح ايمان له ثبات څخه د بې برخي کېدلو ځينه ده او د سر کي لپاره درجه (ځينه) ده نو له دغي مسئلې څخه د نظر فکر او وسوسې له جهته بايد پوره پرهېز وکړل سي ځکه چي الله تعالی د تقدير د مسئلې علم له خپل مخلوق څخه پټ کړی دی او دوی يې د دغي مسئلې د علم له طلب څخه منع کړي دي لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي: (نه پوښتل کېږي الله له هغو شيانو څخه چي کوي يې او دوی پوښتل کېږي) نو که يو کس د اعتراض په ډول سوال وکړي چي الله تعالی فلانی کار ولي داسي کړی د فلاني شي تقدير يې ولي داسي کړی نو يقيناً دغه کس د الله ﷻ د کتاب حکم چي سوال نه کول دي رد کړی او انکار يې ځيني وکړی او کوم کس چي د الله د کتاب حکم رد کړی هغه د کافرانو له ډلي څخه دی.

**شرح**- مطلب دا دی چي ټوله شيان د الله تعالی په قضاء او قدر سره دی کوم نظام چي روان دی دا د الله تعالی له ازلي تقدير سره سم روان دی او په دغه قضاء او قدر کي داسي اسرار او حکمتونه سته چي علم يې يوازي تر الله تعالی پوري خاص دی هيڅ يو مخلوق نه سي کولای چي دغو اسرارو او حکمتونو ته ځان ورسوي ځکه چي الله تعالی مخلوق له دغه کار څخه منع کړی دی او دا کار د مخلوق تر علمي معيار لوړ دی د مثال په ډول الله تعالی يو کس غني ګرځوي او بل بيا فقير، يو کس مؤمن ګرځوي بل ګمراه، يو کس طويل ګرځوي بل

قصير، يو كس ښايسته ګرځوي بل بد رنګه، يو كس عاقل ګرځوي او بل بې عقل، يو كس پوه وي او بل ناپوه اوس نو كه يو كس د دغسي خصوصياتو اسرارو ته متوجه سي څه به لاس ته راوړي هيڅ به لاس ته رانه وړي بلكي پخپل عجز به اقرار وكړي نو انسان بايد د هغه شي د معرفت هڅه ونه كړي چي دی يې نه سي پېژندلای او كه چيري يو كس دا خبري تولي شاته وغورځوي د الله تعالى د قضاء او قدر اسرارو ته متوجه سي د اعتراض په ډول داسي سوالونه وكړي چي الله تعالى ولي دا كس مؤمن ګرځولی دی دا يې ولي ګمراه كړی دی فلانی كس يې ولي فقير ګرځولی دی شيطان يې ولي پيدا كړی دی نو دا كس بېله شكه كافر دی ځكه چي ده د الله تعالى د كتاب حكم (چي سوال نه كول دی) رد كړ هر هغه څوک چي دغسي كار وكړي هغه كافر دی.

د تقدير په اړوند مفصل بيان موږ په اوومه عقيده كي كړی دی او په خاص طور د دې عقيدې په اړه څه بيان په (۱۹) عقيده كي تېر سوی دی هلته يې مطالعه كړئ خو دلته صرف دغه يو حديث وګورئ: (عَنْ عَائِشَةَ ﵂ أَنَّهَا قَالَتْ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ إِنَّ أَبْغَضَ الرِّجَالِ إِلَى اللهِ الْأَلَدُّ الْخَصِمُ)[1].

ژباړه: د عائشي ﵂ په روايت نبي ﷺ فرمايلي دي: يقيناً په خلكو كي الله تعالى ته ډېر مبغوض هغه ډېر جګړه كوونكی او ډېر عداوت كوونكی دی.

## د شرعي احكامو اصول دي كه فروع منل يې فرض دي

۴۶: – فَهٰذَا جُمْلَةُ مَا يَحْتَاجُ إِلَيْهِ مَنْ هُوَ مُنَوَّرٌ قَلْبُهُ مِنْ أَوْلِيَاءِ اللهِ

[1] صحيح البخاري (۲۴۵۷) و مسلم (۲۶۶۸).

تَعَالٰی وَهِيَ دَرَجَةُ الرَّاسِخِيْنَ فِي الْعِلْمِ لِأَنَّ الْعِلْمَ عِلْمَانِ عِلْمٌ فِي الْخَلْقِ مَوْجُوْدٌ وَ عِلْمٌ فِي الْخَلْقِ مَفْقُوْدٌ فَإِنْكَارُ الْعِلْمِ الْمَوْجُوْدِ كُفْرٌ وَادِّعَاءُ الْعِلْمِ الْمَفْقُوْدِ كُفْرٌ وَلَا يَثْبُتُ الْإِيْمَانُ إِلَّا بِقَبُوْلِ الْعِلْمِ الْمَوْجُوْدِ وَ تَرْكِ طَلَبِ الْعِلْمِ الْمَفْقُوْدِ.

ژباړه: همدغه عقائد چي دمخه يې ذکر وسو د هغه شريعت يوه مجموعه ده چي هر هغه کس چي زړه يې په ايمان سره منور وي او د الله تعالی له دوستانو څخه وي ورته محتاج دی (چاره نه ځني لري) همدغه د الله تعالی د احکامو منل بېله څه ويلو د هغو کسانو درجه ده چي په علم کي پاخه دي ځکه چي علم پر دوه قسمه دی، يو قسم هغه علم دی چي د هغه فهم د مخلوق تر قدرت لاندي وي او د هغه حقيقت ته رسېدل ممکن وي (لکه د شرعي احکامو علم) او بل قسم هغه علم دی چي د هغه فهم ته مخلوق نه سي رسېدای (لکه د قدر د اسرارو علم او د الله تعالی د صفتونو د کيفيت علم او د آخرت د حقائقو علم او د داسي نورو غائبو شيانو علم) نو د اول قسم علم څخه چي علم موجود دی انکار کول کفر دی او د دوهم قسم علم چي علم مفقود دی د علم دعوٰی کول هم کفر دی ايمان صحيح او ثابت نه سي کېدای مګر د موجود علم په قبول او د مفقود علم د طلب په پرېښودلو سره.

**شرح**– مطلب دا دی چي دغه ذکر سوي عقائد د هغسي شريعت يوه مجموعه ده چي هر مسلمان ورته محتاج دی او قبول يې ضروري دی او د همدغه شريعت قبول د لويو علماؤ وظيفه ده چي دوی پر هغو شيانو تفصيلي ايمان او تفصيلي

علم لري چي پر هغوی تفصيلي ايمان او تفصيلي علم لازم دی او پر هغو شيانو بيا اجمالي ايمان لري او بېله تأويله يې قبلوي چي پر هغوی اجمالي ايمان او بېله تأويله قبول يې لازمي دی لکه څنګه چي الله تعالىٰ فرمايلي:

﴿وَالرّٰسِخُوْنَ فِي الْعِلْمِ يَقُوْلُوْنَ اٰمَنَّا بِهٖ كُلٌّ مِّنْ عِنْدِ رَبِّنَا﴾.[آل عمران: ۷].

ژباړه: او هغه کسان چي پاخه دي په علم کي وايي دوی چي ايمان راوړی دی موږ په دې (متشابه چي په معنیٰ يې نه پوهېږو په مثل د ايمان زموږ په محکم باندي چي دواړه حق دي) دا ټول (محکم او متشابه) له طرفه د رب زموږ دي.

نو د يو کس ايمان پر دغه موقوف دی چي دی به پر ټولو هغو شيانو باور کوي چي الله تعالىٰ خپل نبي ﷺ په هغوی سره را لېږلی دی او کوم شيان چي غائب دي او حقيقت ته يې د انسان فهم نه سي رسېدلای پر هغوی باندي په هغه ډول ايمان ضروري دی لکه څنګه چي په نصوصو کي راغلي دي (يعني اجمالي ايمان بس دی) نور به يې د حقيقت معلومولو کوښښ نه کېږي ځکه چي د علم غيب دعویٰ کول کفر دی. الله تعالىٰ فرمايلي:

﴿عٰلِمُ الْغَيْبِ فَلَا يُظْهِرُ عَلٰى غَيْبِهٖٓ اَحَدًا ۝ اِلَّا مَنِ ارْتَضٰى مِنْ رَّسُوْلٍ﴾.[الجن: ۲۶، ۲۷].

ژباړه: الله عالم دی پر غائبو اشياؤ باندي نو نه خبروي په غيبو خپلو باندي هيڅوک مګر هغه څوک چي راضي وي ترې (او غوره کړې يې وي په اطلاع د غيبياتو) له رسول خپل څخه.

همدا شان الله تعالىٰ فرمايلي: ﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ﴾.[الاسراء: ۳۶].

ژباړه: او مه کوه پيروي (تعقيب) د هغه کار چي نه وي تاته په هغه علم (قول وي که فعل).

## آیا علم غیب له پیغمبرانو علیهم السلام څخه ماسیوی بل چاته نه ورکول کیږي؟

که څوک و وایي چي له ذکر سوي آیت څخه څرګندیږي چي غیبي علوم د الله تعالی له لوري د پیغمبرانو علیهم السلام څخه ماسیوی بل چاته نه ورکول کیږي او حال دا چي ځیني اهل الکشف اولیاء الله هم له غیبي علم څخه بې برخي نه دي یعني ځینو اولیاؤ ته د الله تعالی د ارادې سره سم پر ځینو غیبي جزئیاتو علم ورکول کیږي. موږ وایو چي اول خو د اهل الکشف علم یقین ته نه رسیږي په هر وخت کي ورسره دا اشتباه وي چي دا شیطاني نه وي او په آیت شریف کي یقیني علم مطلب دی، او بیا دا وایو چي که بالفرض دوی ته یقیني کشف هم وسي نو هغه به ضرور د نبي کریم ﷺ د متابعت له کبله وي او په کامل اطاعت سره به کشف ته رسیدلی وي چي دې ته وراثي علم وایي(۱).

د دې مثال داسي دی لکه چي د سلیمان علیه السلام په متابعت سره د هغه وخت یو سړي ته یو خاص علم ورکړل سوی ؤ لکه چي الله تعالی فرمایلي:

﴿ قَالَ الَّذِیۡ عِنۡدَهٗ عِلۡمٌ مِّنَ الۡکِتٰبِ ﴾.[النمل: ۴۰].

ژباړه: هغه چا و ویل د کوم سره چي د کتاب څخه څه خاص علم موجود ؤ.

کله چي نوموړي سړي ته دغه خاص علم د سلیمان علیه السلام په متابعت سره ورکول سوی ؤ نو سلیمان علیه السلام هم دغه علم د خپل ځان لپاره امتحان بللی لکه چي الله تعالی د ده له خولې څخه فرمایي:

﴿ قَالَ هٰذَا مِنۡ فَضۡلِ رَبِّیۡ ۟ۖ لِیَبۡلُوَنِیۡۤ ءَاَشۡکُرُ اَمۡ اَکۡفُرُ ؕ ﴾.[النمل: ۴۰].

---

(۱) روح المعاني څلورم جلد (۱۳۸) مخ.

ژباړه: ده و ویل چې دا زما د رب د فضل یوه څنډه ده چې ما امتحان کړي چې زه شکر کوم او که ناشکري کوم.

لنډه دا چې د اولیاء الله کشفي علم د ثبوت په تقدیر سره د پیغمبرانو عليهم السلام د غیبي علم له تو ابعو څخه ګڼل کېږي او د آیت شریف سره څه منافات نه لري[1].

## پر لوح محفوظ او قلم باندي ایمان فرض دی

۴۷:- وَنُؤْمِنُ بِاللَّوْحِ وَالْقَلَمِ وَبِجَمِيْعِ مَافِيْهِ قَدْرُقِمَ فَلَوِاجْتَمَعَ الْخَلْقُ كُلُّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ كَتَبَهُ اللهُ تَعَالٰى فِيْهِ اَنَّهُ كَائِنٌ لِيَجْعَلُوْهُ غَيْرَ كَائِنٍ لَمْ يَقْدِرُوْا عَلَيْهِ وَلَوِ اجْتَمَعُوْا كُلُّهُمْ عَلٰى شَيْءٍ لَمْ يَكْتُبْهُ اللهُ تَعَالٰى فِيْهِ لِيَجْعَلُوْهُ كَائِنًا لَمْ يَقْدِرُوْا عَلَيْهِ جَفَّ الْقَلَمُ بِمَا هُوَكَائِنٌ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ وَمَا اَخْطَأَ الْعَبْدُ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيْبَهُ وَمَا اَصَابَهُ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَهُ.

ژباړه: موږ پر لوح محفوظ او قلم او ټولو هغو شیانو چې په لوح محفوظ کي لیکل سوي دي ایمان او باور لرو (یعني په عالم کي چې کوم شیان پیدا کېږي هغه د هغې لیکني سره موافق دي چې په لوح محفوظ کي سوې ده) نو که چیري ټوله مخلوقات د یو داسي شي پر منع کولو اتفاق وکړي چې الله تعالیٰ یې

[1] د دې موضوع د تفصیل لپاره وګورئ مجموعة رسائل ابن عابدین، الرسالة سل الحسام الهندی دوهم جزء (۳۱۱) مخ الی (۳۱۶).

وجود په لوح محفوظ کي ليکلی وي هيڅکله به پردغه کار برلاسي نه سي او که چيري ټوله خلک د يو داسي شي پر پيدا کولو اتفاق وکړي چي الله تعالی يې وجود په لوح محفوظ کي نه وي ليکلی پر دې کار به هم هيڅکله قدرت پيدا نه کړي د تقدير قلم د ټولو هغو شيانو له ليکلو څخه وچ سوی (فارغ سوی) دی چي د قيامت تر ورځي پوري پيدا کېږي هر هغه شی (خير وي که شر) چي د تقدير په نوشته کي له بنده څخه ګرځول سوې وي (يعني د ده په نوم نوشته سوې نه وي) هيڅکله به دته ونه رسېږي او هر هغه شی چي د تقدير په نوشته کي ده ته رسېدلی وي (يعني د ده په نوم ليکل سوی وي) هيڅکله به له ده څخه خطا نه سي.

**شرح**- په دې عبارت کي مؤلف رحمه الله څلورو عقيدو ته اشاره کړې ده:

**اوله عقيده**:- لوح محفوظ او د تقدير قلم دواړه د الله تعالی مخلوق او فی الحاله موجود دي.

(**دلائل**) ۱:- ﴿بَلْ هُوَ قُرْاٰنٌ مَّجِيْدٌ ۝ فِيْ لَوْحٍ مَّحْفُوْظٍ ۝﴾.[البروج: ۲۱، ۲۲].

ژباړه: بلکي دا قرآن دی شانداره لوی ليکلی سوی دی په لوح محفوظ کي.

۲:- ﴿نٓ وَالْقَلَمِ وَمَا يَسْطُرُوْنَ ۝﴾.[القلم: ۱].

ژباړه: قسم دی په قلم او په هغه څه چي دوی يې ليکي.

۳:- نبي ﷺ فرمايلي: (أَوَّلُ مَاخَلَقَ اللهُ الْقَلَمُ قَالَ لَهُ اكْتُبْ قَالَ مَا اَكْتُبُ قَالَ مَا هُوَكَائِنٌ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ)[1].

ژباړه: کوم شی چي الله تعالی اول پيدا کړی دی هغه قلم دی الله تعالی قلم ته و ويل نوشته وکړه قلم و ويل څه وليکم الله تعالی ورته وفرمايل هغه څه وليکه

---

[1] احمد/۵/ ۳۱۷، و ابوداؤد (۴۷۰۰) والترمذي (۲۱۵۵).

چې د قيامت تر ورځې پورې پيدا کېږي.

نور نو د لوح محفوظ او قلم پوره کيفيت او په قلم سره د ليکلو کيفيت يوازې الله تعالی ته معلوم دی.

**دوهمه عقيده:-** ټول شيان په لوح محفوظ کې ليکل سوي دي.

(دلائل) ۱:- اول دليل هم هغه د قلم حديث دی چې دا اوس تېر سو.

۲:- ﴿وَلَا رَطْبٍ وَّلَا يَابِسٍ اِلَّا فِيْ كِتٰبٍ مُّبِيْنٍ﴾. [الانعام: ۵۹].

ژباړه: او نه دی هيڅ لوند او نه هيڅ وچ مګر (ثابت سوی دی) په کتاب مبين (لوح محفوظ) کې.

**دريمه عقيده:-** کوم شی چې الله تعالی په لوح محفوظ کې ليکلی دی هيڅوک تغير نه سي ورکولای که چيرې ټوله خلګ سره يو موټی سي بيا به هم د هغه شي مخه ونه نيسي چې الله تعالی په لوح محفوظ کې ليکلی وي، او نه به يو داسې شی پيدا کړي چې الله تعالی په لوح محفوظ کې نه وي ليکلی.

(دليل) د حضرت ابن عباس رضي الله عنه په حديث کې له نبي ﷺ څخه داسې روايت راغلی دی:

(وَاعْلَمْ أَنَّ الْأُمَّةَ لَوِاجْتَمَعَتْ عَلٰى أَنْ يَنْفَعُوْكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَنْفَعُوْكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ لَكَ وَلَوِ اجْتَمَعُوْا عَلٰى أَنْ يَضُرُّوْكَ بِشَيْءٍ لَمْ يَضُرُّوْكَ إِلَّا بِشَيْءٍ قَدْ كَتَبَهُ اللهُ عَلَيْكَ رُفِعَتِ الْأَقْلَامُ وَجَفَّتِ الصُّحُفُ)[1].

ژباړه: پوه سه که چيرې ټوله امت پر دغه اتفاق وکړي چې تا ته په يو شي سره فائده ورسوي نو به دوی تا ته هيڅ فائده ونه رسوي مګر په هغه شي سره چې الله تعالی ستا لپاره ليکلی دی، او که چيرې دوی اتفاق وکړي پر دغه چې دوی تا ته

[1] احمد/۱/ ۲۹۳، والترمذي (۲۵۱۶).

په يو شي سره ضرر ورسوي نو به دوی تاته هيڅ ضرر ونه رسوي مګر په هغه شي سره چي الله تعالی پر تا باندي ليکلی دی، قلمونه پورته کړل سوي دي او صحيفې وچې سوي دي (يعني د شيانو د ليکلو کار پای ته رسېدلی دی).

**څلورمه عقيده**:- کوم شی چي د بنده په تقدير کي نه وي بنده ته نه سي رسېدلای او کوم شی چي د بنده په تقدير کي ليکل سوی وي خطا نه لري.

(دليل) په يو حديث شريف کي د نبي ﷺ څخه داسي راغلي دي: (وَاعْلَمْ أَنَّ مَا أَصَابَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُخْطِئَكَ وَمَا أَخْطَأَكَ لَمْ يَكُنْ لِيُصِيبَكَ)[1].

ژباړه: پوه سه يقيناً کوم شی چي ستا لپاره په تقدير کي ليکل سوی وي هغه هيڅکله ستا څخه نه خطا کېږي او کوم شی چي ستا په تقدير کي نه وي هغه هيڅکله تاته رسېدلای نه سي. د تقدير په اړوند نور معلومات په (۷) او (۱۹) عقيده کي وګورئ.

# د تقدير پر مسئله ايمان په اصل کي د الله تعالی پر توحيد او ربوبيت ايمان دی

۴۸:- وَعَلَى الْعَبْدِ أَنْ يَعْلَمَ أَنَّ اللهَ قَدْسَبَقَ عِلْمُهُ فِيْ كُلِّ كَائِنٍ مِنْ خَلْقِهِ فَقَدَّرَ ذلِكَ تَقْدِيْرًا مُحْكَمًا مُبْرَمًا لَيْسَ فِيْهِ نَاقِضٌ وَلَا مُعَقِّبٌ وَلَا مُزِيْلٌ وَلَا مُغَيِّرٌ وَلَا مُحَوِّلٌ وَلَا نَاقِصٌ وَلَا زَائِدٌ

[1] احمد ۱۸۲/۵، و ابوداؤد (۴۶۹۹) و ابن ماجه (۷۷).

مِنْ خَلْقِهِ فِي سَمَاوَاتِهِ وَأَرْضِهِ وَ ذٰلِكَ مِنْ عَقْدِ الْإِيْمَانِ وَأُصُوْلِ الْمَعْرِفَةِ وَالْإِعْتِرَافِ بِتَوْحِيْدِاللهِ تَعَالٰى وَرُبُوْبِيَّتِهِ كَمَا قَالَ تَعَالٰى فِي كِتَابِهِ الْعَزِيْزِ ﴿وَخَلَقَ كُلَّ شَيْءٍ فَقَدَّرَهٗ تَقْدِيْرًا﴾.[الفرقان: ۲]. وَقَالَ تَعَالٰى ﴿وَكَانَ اَمْرُ اللهِ قَدَرًا مَّقْدُوْرًا﴾.[الاحزاب: ۳۸]. فَوَيْلٌ لِّمَنْ صَارَلِلّٰهِ تَعَالٰى فِيْ الْقَدْرِ خَصِيْمًا وَأَحْضَرَ لِلنَّظَرِ فِيْهِ قَلْبًا سَقِيْمًا لَقَدْ الْتَمَسَ بِوَهْمِهِ فِيْ فَحْصِ الْغَيْبِ سِرًّا كَتِيْمًا وَعَادَ بِمَا قَالَ فِيْهِ اَفَّاكًا أَثِيْمًا.

ژباړه: پر بنده دا واجب ده چي دى به په دې خبره پوهېږي چي الله تعالٰى له خپل مخلوق څخه په هر فرد لا د پخوا څخه علم درلودى، او له مخلوق څخه هر فرد لره يې د خپل علم مطابق په ازل كي يوه محكمه او قطعي اندازه معلومه كړې ده داسي يو شى نسته چي دغه تقدير مات كړي يا يې تعقيب كړي ترڅو مانع يې وګرځي يا يې زائل كړي يا تغير ور ورسوي يا يې له خپل ځاى څخه بې ځايه كړي، د الله تعالٰى له مخلوق څخه په آسمانونو او ځمكه كي تر دغه ازلي تقدير نه زائد سته او نه كم همدغه عقيده د اصل ايمان او الٰهي معرفت له اصولو څخه ده او د الله تعالٰى په توحيد او ربوبيت سره اعتراف او اقرار دى. لكه څنګه چي د تقدير په اړوند الله تعالٰى پخپل كتاب كي فرمايلي دي: (او پيدا كړى دى الله هر شى نو اندازه كړى يې دى هغه شى په اندازه كولو سره) او

داسي يې فرمايلي دي: (او دی امر (حکم) د الله تعالی يو حکم مقرر کړی سوی).

نو هلاکت (خرابي) ده هغه کس لره چي د الله تعالی سره يې د تقدير پر مسئله کي خصومت کړی دی انکار يې ځيني کړی دی او په دغه مسئله کي يې د غور کولو لپاره د ناروغه زړه څخه کار اخستی دی او په خپل وهم او ګومان سره يې د علم غيب په طلب کي د يو پټ راز چي د تقدير مسئله ده فلټنه کړې ده او دغه د تقدير په مسئله کي د خپلو غلطو خبرو په وجه لوی درواغجن او ډېر ګنهکاره ګرځېدلی دی.

**شرح**- امام طحاوي رحمة الله عليه په دې عبارت کي درو عقيدو ته اشاره کړې ده.

**اوله عقيده**:- بنده به ضرور دا تصديق او باور کوي چي الله تعالی د خپل قديم علم مطابق په ازل کي د هر شي لپاره يوه داسي محکمه اندازه معلومه کړې ده چي هيڅ قسم زيادت او نقصان تغير او تبديل نه په کي راځي بيا يې ټوله مخلوقات د هماغه ازلي تقدير سره مطابق پيدا کړي دي. د دې عقيدې دليل پخپله مؤلف رحمة الله عليه په متن کي دوه آيتونه ذکر کړي دي نور تفصيل يې په (۷) او (۱۹) عقيده کي وګورئ.

**دوهمه عقيده**:- پر تقدير باندي ايمان او پردې خبره ايمان چي الله تعالی پر ټولو مخلوقاتو لا د پخوا څخه علم درلودی د اصل ايمان او الهي معرفت څخه دی او د الله تعالی په توحيد او ربوبيت سره د اقرار کولو علامه ده که چيري پر تقدير باندي ايمان نه وي نو بيا به توحيد هم صحيح نه وي ځکه چي توحيد الربوبية ايمان دی پردغه چي الله تعالی د هر شي رب دی او پر هر شي باندي قادر دی او کوم شی چي الله تعالی يې اراده کړې وي هغه به کېږي او کوم شی چي الله تعالی يې اراده نه وي کړې هغه به نه کېږي او الله تعالی د هر شي خالق

دی. ښکاره خبره ده چي په دغه مضمون کي ایمان بالقدر هم سته نو دا خبره ثابته سوه چي ایمان بالقدر د توحید الربوبیة څخه دی له هم دغي وجهي څخه د حضرت ابن عباس رضي الله عنه څخه دا سي روایت راغلی دی:

(اَلْإِيْمَانُ بِالْقَدْرِ نِظَامُ التَّوْحِيْدِ فَمَنْ وَحَّدَاللهَ وَآمَنَ بِالْقَدْرِ فَقَدْتَمَّ تَوْحِيْدُهُ وَمَنْ كَذَّبَ بِالْقَدْرِ نَقَضَ تَكْذِيْبُهُ تَوْحِيْدَهُ)[1].

ژباړه: پر قدر باندي ایمان د توحید بنیاد دی نو کوم کس چي د یو الله تعالی عقیده ولري او پر قدر باندي ایمان ولري نو یې توحید پوره سو او کوم کس چي بیا قدر دروا غ وبولي نو یې دا کار توحید ورمات (باطل) کړ.

**دریمه عقیده**: - کوم کس چي په ناروغه زړه سره د تقدیر په مسئله کي بحث او مناقشه کوي نو دغه کس په حقیقت کي د الله تعالی سره خصومت کوي او پخپل وهم او ګمان سره د یو پټ راز طلب کوي. د دې عقیدې تفصیل په (۴۵) عقیده کي وګورئ.

امام طحاوي رحمه الله په دې رساله کي د قدر مسئله څو ځایه او په مختلفو الفاظو سره راوړې ده دا کار یې د تاکید لپاره کړی دی ځکه چي دا یوه ډېره مهمه او باریکه مسئله ده ډېر خلګ د ناپوهي له کبله په کي ګمراهان سوي دي نو د دې مسئلې سره همدغسي تاکید مناسب دی لکه څنګه چي امام طحاوي رحمه الله کړی دی، (فجَزَاهُ اللهُ خَيْرًا وَرَحِمَهُ).

[1] اخرجه عبدالله بن احمد فی السنة/۲/ ۴۲۲، والفریابی فی القدر ص (۱۴۳).

# پر عرش او کرسي باندي ایمان فرض دی

## ۴۹ : – وَالْعَرْشُ وَالْكُرْسِيُّ حَقٌّ.

ژباړه: عرش او کرسي لکه څنګه چي يې په قرآن کريم کي يادونه سوې ده حق دي.

**شرح**– علامه آلوسي رحمة الله عليه په روح المعاني کي ويلي دي چي عرش په لغت کي د باچا تخت ته ويل کېږي او په شرع کي تر ټولو آسمانونو لوړ يو داسي تخت دی چي پښې لري او داسي ملائکي پر مقرري سوي دي چي دغه تخت يې پورته کړی دی او د قبې (ګنبدي) په شان دی[۱].

او کرسي بيا يو جسم دی عرش ته نژدې پر (۷) آسمانونو باندي احاطه لري.

نو کرسي له عرش څخه يو جلا شی دی لکه څنګه چي له يو حديث څخه دا ښکاره معلومېږي نبي ﷺ فرمايلي: (مَاالسَّمٰوٰاتُ السَّبْعُ مَعَ الْكُرْسِيِّ إِلَّا كَحَلْقَةٍ مُلْقَاةٍ بِأَرْضٍ فَلَاةٍ وَفَضْلُ الْعَرْشِ عَلَى الْكُرْسِيِّ كَفَضْلِ الْفَلَاةِ عَلَى الْحَلْقَةِ)[۲].

ژباړه: اووه آسمانونه د کرسي په نسبت نه دی مګر لکه يوه اچول سوې حلقه (کړه) په يو لوی ميدان کي او د عرش زيادت پر کرسي دومره دی لکه د يو لوی ميدان زيادت پر کړه د لا زياتو معلوماتو لپاره[۳].

د دې حديث څخه دا هم ښکاره معلومېږي چي عرش تر کرسي ډېر لوی دي،

[۱] روح المعاني (۱۶) جلد (۱۵۳) مخ.
[۲] رواه ابن حبان (۳۶۱).
[۳] وګورئ روح المعاني دريم جلد (۹) مخ.

او په يو بل حديث کي راغلي دي چي عرش تر آسمانونو لوړ دی[۱].

او په يو بل حديث کي راغلي دي چي عرش لره پښې سته[۲].

لنډه دا چي د عرش او کرسي په اړوند هر څه په نصوصو کي راغلي دي پر هغو زموږ ايمان دی نور يې موږ په حقيقت او کيفيت علم نه لرو ځکه چي دا له غيبي امورو څخه دی. د عرش ذکر په ډېرو آيتونو او حديثونو کي راغلی دی خو دلته تاسي يو څو آيتونه وګورئ:

۱:- ﴿وَهُوَ رَبُّ الْعَرْشِ الْعَظِيمِ﴾.[التوبة: ۱۲۹].

ژباړه: حال دا چي هم دی رب د عرش عظيم دی.

۲:- ﴿ذُو الْعَرْشِ الْمَجِيدُ﴾.[البروج: ۱۵].

ژباړه: خالق مالک د عرش دی، لوی دی په ذات او صفاتو خپلو کي.

۳:- ﴿رَبُّ الْعَرْشِ الْكَرِيمِ﴾.[المؤمنون: ۱۱۶].

ژباړه: رب مالک د عرش کريم دی.

۴:- ﴿الرَّحْمَٰنُ عَلَى الْعَرْشِ اسْتَوَىٰ﴾.[طه: ۵].

ژباړه: الله تعالی ډېر مهربان پر عرش باندي يې استواء کړې ده.

استواء علي العرش الله تعالی ته ثابته ده خو د مخلوق د استواء په شان نه ده بلکي هغه سي استواء چي د ده له شان سره لائقه ده نور يې کيفيت موږ ته معلوم نه دی لکه څنګه چي د الله تعالی نور صفتونه همدغسي دي، د ډېر تفصيل لپاره د وهمه عقيده وګورئ، او د (کرسي) ذکر په قرآن کريم کي صرف په يوه آيت کي راغلی دی چي هغه ته آية الکرسي ويل کېږي الله تعالی داسي فرمايلي دي:

---

[۱] احمد/۱/ ۲۰۶، وابوداؤد (۴۷۲۳) والترمذي (۳۳۲۰).

[۲] (صحيح البخاري) (۲۴۱۲).

﴿وَسِعَ كُرۡسِيُّهُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ﴾. [البقرة: ٢٥٥].

ژباړه: ارته (محیطه) ده کرسي د ده پر ټولو آسمانونو او ځمکي باندي.

## الله تعالی پر عرش استواء لري خو عرش ته محتاج نه دی

**٥٠ :- وَهُوَ عَزَّوَجَلَّ مُسۡتَغۡنٍ عَنِ الۡعَرۡشِ وَمَادُوۡنَهُ.**

ژباړه: الله عزوجل د عرش او له عرش څخه بغیر د نورو مخلوقاتو څخه مستغني (بې پروا) دی.

**شرح**- د عرش او کرسي تر ذکر وروسته یې د الله تعالی د استغناء ذکر د دې لپاره کړی دی ترڅو دا معلومه سي چي د الله تعالی استواء پر عرش په دې وجه نه ده چي الله تعالی عرش ته محتاج دی بلکي استواء علي العرش بلاکیفه الله تعالی ته ثابته ده لیکن عرش ته محتاج نه دی او نه یو بل شي ته محتاج دی. الله تعالی د عرش، آسمانونو او ځمکي ساتونکی دی لکه څنګه چي الله تعالی فرمایلي: ﴿إِنَّ ٱللَّهَ يُمۡسِكُ ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضَ أَن تَزُولَاۚ﴾. [فاطر: ٤١].

ژباړه: بېشکه الله تعالی ساتي دغه آسمانونه او ځمکه له دې نه چي زائل سي (او له خپله محوره بېځایه سي). د استواء په اړوند یو څه بیان لږ دمخه تېر سو او په دوهمه عقیده کي یې هم څه بیان تېر سوی دی هلته یې مطالعه کړئ.

(**دلائل**) ١:- ﴿فَإِنَّ ٱللَّهَ غَنِيٌّ عَنِ ٱلۡعَٰلَمِينَ۝﴾. [آل عمران: ٩٧].

ژباړه: نو بېشکه الله تعالی بې پروا دی له ټول عالم څخه.

٢:- ﴿وَٱللَّهُ هُوَ ٱلۡغَنِيُّ ٱلۡحَمِيدُ۝﴾. [فاطر: ١٥].

ژباړه: او الله ﷻ همدی دی غني بې پروا ښه حمد (ثنا) ویلی شوی.

# د الله تعالی علم پر هر شي محیط او الله تعالی تر هر شي لوړ دی

**۵۱: - مُحِيْطٌ بِكُلِّ شَيْءٍ وَفَوْقَهُ وَقَدْ أَعْجَزَ عَنِ الْإِحَاطَةِ خَلْقَهُ.**

ژباړه: الله تعالی د علم او قدرت له جهته پر هر شي محیط دی او تر هر شي فوق دی او مخلوق یې د الله تعالی پر ذات او صفاتو له احاطه کولو څخه عاجز ګرځولی دی.

**شرح**: امام طحاوي رحمه الله په دې عبارت کې درې عقیدې رانغښتي دي:

**اوله عقیده**:- الله تعالی د علم او قدرت له جهته پر هر شي احاطه لري.

(**دلائل**) ۱:- ﴿وَّاللّٰهُ مِنْ وَّرَآئِهِمْ مُّحِيْطٌ﴾.[البروج: ۲۰].

ژباړه: حال دا چې الله تعالی د دوی څخه (په علم او قدرت سره) احاطه کړې ده.

۲:- ﴿وَاللّٰهُ بِمَا يَعْمَلُوْنَ مُحِيْطٌ﴾.[الانفال: ۴۷].

ژباړه: او الله جل جلاله پر هغو کارونو چې کوي یې دوی (په علم او قدرت سره) محیط (چاپیر) دی.

۳:- ﴿وَّاَنَّ اللّٰهَ قَدْ اَحَاطَ بِكُلِّ شَيْءٍ عِلْمًا﴾.[الطلاق: ۱۲].

ژباړه: بیشکه چې الله جل جلاله په تحقیق احاطه فرمایلي رسیدلی دی هر شی ته له جهته د علمه او قدرته.

**دوهمه عقیده**:- الله تعالی تر هر شي فوق (لوړ) دی.

(**دلائل**) ۱:- ﴿وَهُوَ الْقَاهِرُ فَوْقَ عِبَادِهٖ﴾.[الانعام: ۱۸].

ژباړه: او هم دی غالب زورور دی د پاسه د بندګانو خپلو (په قدرت، قوت، قهر، غلبه سره نه په مکان).

۲: - ﴿يَخَافُونَ رَبَّهُم مِّن فَوْقِهِمْ﴾. [النحل: ۵۰].

ژباړه: وېرېږي دا ملائکي له رب خپل (چي اعلی دی پر دوی په قهر او غلبه) له پاسه د دوی.

دغه تفسير ما د شيخ الهند مولانا محمود حسن ديوبندي رحمة الله عليه او علامه شبير احمد عثماني رحمة الله عليه له تفسير څخه رانقل کړ له دغه تفسير څخه دا ښکاره معلومېږي چي الله تعالی پر مخلوقاتو په قهر او غلبه سره فوق دی يعني د الله تعالی فوقيت د قهر او غلبې دی مکاني او جسماني فوقيت نه دی او نه يو داسي فوقيت دی چي له هغه څخه جهت لازمېږي، تاسو په دې باره کي وګورئ تفسير القرطبي دريم جلد (۷۱۶) مخ، او تفسير النسفي اول جلد (۴۹۵) مخ. او داسي نور تفسيرونه.

لنډه دا چي بېله شکه الله تعالی ته فوقيت ثابت دی خو هغه سي فوقيت چي د الله تعالی د شان سره لائق دی لکه د قهر او غلبې فوقيت جسماني او مکاني فوقيت نه دی او نه يو داسي فوقيت دی چي له هغه څخه جهت لازمېږي ځکه چي الله تعالی له جسميت مکان او جهت څخه پاک دی وګورئ (۳۸) عقيده، همدغه د ټول اهل السنة والجماعة مسلک دی لېکن يوازي ابن تيميه او د ده اتباع لکه شارح ابن ابي العز او ابن القيم او داسي نور له فوقيت څخه د ذات فوقيت اخلي او الله تعالی ته دعلوي (لوړوالي) جهت ثابتوي دا د دوی خپل شخصي تحقيق دی د دين د اصولو او د اهل السنة والجماعة د مسلک په خلاف دی. د دې مسئلې د تحقيق لپاره شرح الفقه الاکبر (۱۹۶) مخ ته رجوع وکړئ ملا علي القاري رحمة الله عليه دا مسئله هلته ښه په تفصيل سره څېړلې ده او د

شارح ابن ابي العز د شبهاتو يې ښه کافي او شافي جوابونه کړي دي.

**دريمه عقيده**:- الله تعالی خلګو ته دا قدرت نه دی ورکړی چي د ده پر ذات يا صفاتو احاطه وکړي يعني خلګ نه سي کولای چي د الله تعالی د ذات يا صفاتو حقيقت او کيفيت ته خپل ځانونه ورسوي.

(**دليل**) ١:- ﴿وَلَا يُحِيطُونَ بِهِۦ عِلۡمًا ۝﴾.[طه: ١١٠].

ژباړه: او نه شي احاطه کولای دوی په ذات او معلوماتو د دغه الله جل جلاله له جهته د علمه.

نو خلګ به الله تعالی په هغو صفتونو سره پېژني چي الله تعالی خپلو رسولانو عليهم السلام ته رالېږلي دي خو د دغه سره سره هم د الله تعالی پر ذات د علم له جهته احاطه نه سي کولای.

## محبت او کلام د الله تعالی له صفتونو څخه دي

**٥٢**:- وَنَقُوْلُ إِنَّ اللهَ اتَّخَذَ إِبْرَاهِيْمَ خَلِيْلًا وَكَلَّمَ اللهُ مُوْسٰى تَكْلِيْمًا إِيْمَانًا وَتَصْدِيْقًا وَتَسْلِيْمًا.

ژباړه: موږ د ايمان او تصديق او تسليم له مخي وايو (اقرار کوو) چي الله تعالی ابراهيم عليه السلام خپل خليل ګرځولی دی او له موسٰی عليه السلام سره يې کلام کړی دی په کلام کولو.

(**دلائل**) ١:- ﴿وَاتَّخَذَ اللهُ إِبۡرٰهِيمَ خَلِيلًا ۝﴾.[النساء: ١٢٥].

ژباړه: او نيولی دی الله جل جلاله ابراهيم عليه السلام دوست (خاص خپل).

٢:- ﴿وَكَلَّمَ اللهُ مُوسٰى تَكۡلِيمًا ۝﴾. [النساء: ١٦٤].

ژباړه: او کلام کړی دی الله جَلَّ جَلَالُهُ له موسیٰ عليه السلام سره په کلام کولو.

نو ابراهيم عليه السلام خليل الله او موسی عليه السلام کليم الله دی، په يو صحيح حديث کي راغلي دي چي نبي ﷺ هم خليل الله دی نبي ﷺ داسي فرمايلي دي:

(فَإِنَّ اللهَ قَدِ اتَّخَذَنِي خَلِيلًا كَمَا اتَّخَذَ إِبْرَاهِيمَ خَلِيلًا)[1].

يعني- يقيناً الله تعالیٰ زه خپل خليل ګرځولی يم لکه څنګه چي يې ابراهيم عليه السلام خپل خليل ګرځولی دی.

او نبي ﷺ داسي هم فرمايلي دي: (إِنَّ صَاحِبَكُمْ خَلِيلُ اللهِ)[2].

يعني- ستاسو صاحب چي نبي ﷺ دی يقيناً د الله تعالیٰ خليل دی.

(خُلَّتْ کمال محبت دی نو خلت او محبت او همدا شان کلام د الله تعالیٰ له صفتونو څخه دي خو په هغه ډول لکه څنګه چي د الله تعالیٰ له شان سره لائق وي په دې عقيده سره پر جهميه او معتزله ډلي باندي رد دی چي دوی دغه صفات له الله تعالیٰ څخه نفي کوي دوی وايي محبت خو د يو مناسبت له مخي وي نو د خالق او مخلوق په منځ کي خو داسي مناسبت نسته چي د هغه په وجه يې په منځ کي محبت راسي په اسلام کي د دغي فاسدي عقيدې بنياد جعد بن درهم د هجري سنې د دوهمي صدۍ په اوائلو کي ايښی دی خو خالد بن عبدالله القسري رحمة الله عليه د عراق او مشرق امير د لوی اختر په ورځ په واسط نومي ځای کي خلګو ته خطبه و ويل په خطبه کي يې داسي وفرمايل: ای خلګو! تاسو اضحيي (اختريان) وکړئ الله تعالیٰ دي ستاسو اضحيي قبولي کړي او زه جعد بن درهم اضحيه کوم ځکه چي ده ويلي دي چي الله تعالیٰ ابراهيم عليه السلام خپل

---

[1] رواه مسلم (۵۳۲).
[2] رواه مسلم (۲۳۸۳).

دست نه دی ګرځولی او نه يې د موسیٰ علیه‌السلام سره کلام کړی دی نو بیا دغه امیر د منبر څخه را ښکته سو او جعد بن درهم يې ذبح کړ دا کار يې د هغه وخت د لويو علماؤ په فتوی کړی دی. (فجزاه الله عن الدين واهله خيرا)[1].

## په ملائکو، انبياؤ علیهم‌السلام او نازل سوو کتابونو باندې ايمان فرض دی

**۵۳:-** وَنُؤْمِنُ بِالْمَلَائِكَةِ وَالنَّبِيِّينَ وَالْكُتُبِ الْمُنَزَّلَةِ عَلَى الْمُرْسَلِينَ وَنَشْهَدُ أَنَّهُمْ كَانُوا عَلَى الْحَقِّ الْمُبِينِ.

ژباړه: موږ په ملائکو او پيغمبرانو علیهم‌السلام او هغو کتابونو چې پر رسولانو علیهم‌السلام نازل سوي دي ايمان لرو او دا شاهدي اداء کوو چې ټوله دغه پيغمبران علیهم‌السلام پر ښکاره حق ولاړ وه.

**شرح-** په ملائکو، انبياؤ علیهم‌السلام او نازل سوو کتابونو باندې ايمان له هغو اصولو او ارکانو څخه دی چې نبي ﷺ جبريل علیه‌السلام ته د ايمان د سوال په جواب کې ذکر کړی دی، نبي ﷺ داسې فرمايلي: (أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَ مَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَتُؤْمِنَ بِالْقَدَرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ)[2].

يعني- ايمان همدغه دی چې ته په الله تعالی او د الله تعالی په ملائکو او د الله تعالی په کتابونو او د الله تعالی په رسولانو علیهم‌السلام او په آخره ورځ باندې چې قيامت دی ايمان ولرې او په دغه هم ايمان ولرې چې ټوله شيان خير دي که

---

[1] شرح الفقه الاكبر (۲۰۰) او (۲۰۱) مخونه.

[2] رواه مسلم (۸).

شر لا د ښخوا څخه اندازه کړل سوی وي.

په همدغو اصولو او ارکانو باندي اجمالي ایمان پر هر مکلف باندي نارینه وي که ښځینه فرض دی.

(**دلائل**) ۱:- ﴿اٰمَنَ الرَّسُوْلُ بِمَآ اُنْزِلَ اِلَيْهِ مِنْ رَّبِّهٖ وَالْمُؤْمِنُوْنَ ؕ كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ﴾. [البقرة: ۲۸۵].

ژباړه: تصديق (باور) کړی دی رسول ﷺ په هغه شي چي نازل کړی سوی دی ده ته له طرفه د رب د ده او مؤمنانو هم تصديق کړی دی، ټولو د دوی تصديق کړی دی په الله باندي او په ملائکو د ده او په کتابو د ده او په رسولانو عليهم السلام د ده.

۲:- ﴿وَمَنْ يَّكْفُرْ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ فَقَدْ ضَلَّ ضَلٰلًاۢ بَعِيْدًا﴾. [النساء: ۱۳۶].

ژباړه: او هر څوک چي کافر سي پر الله جل جلاله او پر ملائکو د دغه الله جل جلاله او پر کتابونو د دغه الله جل جلاله او پر رسولانو د دغه الله او پر ورځي آخري چي قيامت دی نو په تحقيق گمراه شوی دی په گمراهي ليري سره (له حقه).

۳:- ﴿وَلٰكِنَّ الْبِرَّ مَنْ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْاٰخِرِ وَالْمَلٰٓئِكَةِ وَالْكِتٰبِ﴾.

[البقرة: ۱۷۷].

ژباړه: ولېکن غوره نېکي (نېکي) د هغه چا ده چي ایمان يې راوړی وي په پاک الله او ایمان يې راوړی وي په ورځي آخري او په ټولو پرښتو او په ټولو کتابو او په ټولو انبياؤ.

# د ملائکو اړوند څه معلومات

ملائکي د الله تعالی معصوم بنده ګان او د الله تعالی په امر عمل کوونکي دي په هيڅ يو شي کي د الله تعالی نافرماني نه کوي لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي:

﴿لَّا يَعْصُونَ اللَّهَ مَا أَمَرَهُمْ وَيَفْعَلُونَ مَا يُؤْمَرُونَ ۝﴾.[التحريم:۶].

ژباړه: نه کوي نافرماني دغه پرښتې د الله ﷻ د هغه څه چي امر يې کړی دی دوی ته او کوي دوی هغه کار چي پرې مأموري وي (من جانب الله)

او دوی د نارينه توب او ښځينه توب له صفت څخه پاکي دي[۱].

الله تعالی په قرآن کريم کي پر هغو مشرکينو چي ملائکي ښځي او د الله تعالی لوڼي بولي داسي رد کړی دی.

﴿وَجَعَلُوا الْمَلَائِكَةَ الَّذِينَ هُمْ عِبَادُ الرَّحْمَٰنِ إِنَاثًا ۚ أَشَهِدُوا خَلْقَهُمْ ۚ سَتُكْتَبُ شَهَادَتُهُمْ وَيُسْأَلُونَ ۝﴾.[الزخرف: ۱۹].

ژباړه: او ګرځوي کفار پرښتي هغه چي دوی عبادالرحمن (د الله ﷻ بنده ګان دي) ښځي (لوڼي د الله) آيا حاضر وو دغه کفار په وخت د پيدا کېدلو د دغو پرښتو کي (چي ښځي لوڼي پيدا سوي دي) ژر ده چي وبه ليکل سي شاهدي د دوی او پوښتنه به هم ترې وکړه سي (په آخرت کي)، او دوی داسي لطيف (نازک) اجسام دي چي په بېلا بېلو ډولونو کېدلای سي ځيني يې دوه دوه او ځيني يې درې او ځيني يې څلور څلور وزرونه لري، او ځينو ته الله تعالی تر څلورو هم زيات وزرونه ورکوي لکه څنګه چي په يو حديث کي راغلي دي

---

[۱]شرح العقائد (۱۰۳) مخ.

چي جبريل عليه‌السلام شپږ سوه وزرونه لري.

د دوی د ډېرو د سکونت ځای آسمانونه دي[1].

ملائکي د الله تعالی له لوري په بېلا بېلو کارونو باندي مقرري سوي دي او د الله تعالی په حکم سره د دې دنیا ساتونکي دي د مثال په ډول ځینو یې د الله تعالی عرش نیولی دی او ځیني بیا د عرش چارچاپېری ولاړي دي لکه څنګه چي الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ الَّذِيْنَ يَحْمِلُوْنَ الْعَرْشَ وَمَنْ حَوْلَهٗ يُسَبِّحُوْنَ بِحَمْدِ رَبِّهِمْ ﴾.[المؤمن: ۷].

ژباړه: هغه کسان له ملائکو چي پورته اخلي عرش او هم هغه پرښتې چي چارچاپېري دي د عرش تسبیح وايي سره د حمده ثناء د رب د دوی.

او ځیني ملائکي بیا د انسانانو ښه او بد عملونه لیکي او د دوی د اعمالو ساتنه کوي لکه څنګه چي الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ وَاِنَّ عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَ ○ كِرَامًا كٰتِبِيْنَ ○ يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ ○ ﴾.[الانفطار: ۱۰ تر ۱۲].

ژباړه: حال دا چي بې شکه په تاسي باندي خامخا ساتونکي ملائکي د عمل مقرري دي عزتمني په نزد د الله جل‌جلاله لیکونکی د اعمالو د تاسي پوهېږي دغه ملائکي په هغه څه چي کوی یې تاسي.

او ځیني ملائکي په جنت او ځیني په دوزخ باندي مقرري دي ځیني ملایکي د عذاب او ځیني د رحمت دي ځیني په قبر کي د سوال کولو لپاره مقرري دي ځیني شپه او ورځ د الله تعالی په ذکر او تسبیح مشغولي دي دا مو د مثال په ډول د ملائکو څو اقسام ذکر کړه که نه نو د ملائکو اقسام ډېر دي د قرآن کریم

---

[1] شرح الفقه الاکبر (۲۷) مخ.

او احاديثو له مطالعې څخه ښکاره معلومېږي نو پر ملائکو باندې ايمان فرض دی او انکار يې کفر دی.

## د ځينو ملائکو نومونه په قرآن کريم او احاديثو کې راغلي دي

د څلورو مشهورو ملائکو په نومونو علاوه د ځينو نورو ملائکو نومونه هم په قرآن کريم او احاديثو کې راغلي دي لکه: هاروت ماروت، مالک، نکير منکر او داسې نور. الله تعالی فرمايلي:

﴿ مَنْ كَانَ عَدُوًّا لِّلّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَرُسُلِهٖ وَجِبْرِيْلَ وَمِيْكٰلَ فَاِنَّ اللّٰهَ عَدُوٌّ لِّلْكٰفِرِيْنَ۝ ﴾. [البقرة: ۹۸].

الله تعالی بل ځای فرمايلي: ﴿ وَنَادَوْا يٰمٰلِكُ لِيَقْضِ عَلَيْنَا رَبُّكَ ﴾. [الزخرف: ۷۷].

بل ځای يې بيا داسې فرمايلي دي: ﴿وَمَآ اُنْزِلَ عَلَى الْمَلَكَيْنِ بِبَابِلَ هَارُوْتَ وَمَارُوْتَ﴾. [البقرة: ۱۰۲].

او په يو حديث شريف کې راغلي دي چې نبيﷺ د شپې لمونځ په دغو کلماتو سره شروع کاوه (اللّٰهُمَّ رَبَّ جَبْرَائِيلَ وَمِيكَائِيلَ وَإِسْرَافِيلَ) [(۱)].

په يو بل حديث کې بيا د هغو ملائکو نومونه چې په قبر کې ل ميت څخه سوال کوي منکر او نکير راغلي دي[(۲)].

---

[(۱)] رواه مسلم (۷۷۰).

[(۲)] رواه الترمذی (۱۰۷۱).

## په ملائکو کي الله تعالی ته ډېري نژدې ملائکي

تر ټولو زیاتي مقربي پرښتې دغه څلور دي:

۱: جبرئیل علیه السلام کوم چي انبیاوو کرامو علیهم السلام ته یې وحي راوړلې د وحي راوړلو ذمه‌پر هغه‌وه.

۲: حضرت میکائیل علیه السلام کوم چي د بارانونو په اورولو د غلو دانو په را زرغونولو او د الله تعالی په حکم سره مخلوق ته د روزي په رسولو مقرره ده.

۳: حضرت اسرافیل علیه السلام کوم ته چي د قیامت په ورځ شپېلۍ وهل حواله سوی دی.

۴: حضرت عزرائیل علیه السلام کوم چي د مخلوقاتو د ارواحو په اخیستلو مقرره ده[1].

د جمهورو علماؤ په‌آند جبریل علیه السلام په ټولو پرښتو کي افضله پرښته ده ځکه چي رسول اکرم ﷺ د ده په باره کي داسي فرمايلي دي:

(أَلَا أُخْبِرُكُمْ بِأَفْضَلِ الْمَلَائِكَةِ جِبْرِيْلُ)[2].

ژباړه: آیا زه تاسو ته په پرښتو کي د افضله پرښتې خبر نه درکوم (هو) خبر درکوم هغه جبرئیل علیه السلام دی.

## سوال او جواب

**سوال**:– دمخه دا خبره تېره سوه چي ملائکي د الله جل جلاله معصوم بنده‌ګان دي او د الله تعالی د امر هیڅ مخالفت نه کوي حال دا چي شیطان له ملائکو څخه ؤ

---

[1]شرح العقيدة الطحاوية (۲۸۱) مخ، عقائد الاسلام (۷۹) مخ.

[2]مجمع الزوائد – ۳/ (۱۴۰).

ځکه چي په قرآن کريم کي يې د ملائکو څخه استثناء راغلې ده الله تعالی داسي فرمايلي:

﴿ وَاِذۡ قُلۡنَا لِلۡمَلٰٓئِكَةِ اسۡجُدُوۡا لِاٰدَمَ فَسَجَدُوۡۤا اِلَّاۤ اِبۡلِيۡسَ ؕ اَبٰى وَاسۡتَكۡبَرَ وَكَانَ مِنَ الۡكٰفِرِيۡنَ ۝ ﴾. [البقرة: ۳۴].

ژباړه: او ياد کړه ای پيغمبره ﷺ! کله چي و ويل موږ پرښتو ته چي سجده وکړي آدم عليه السلام ته پس سجده وکړه دوی ټولو مګر ابليس منع يې راوړه له سجدې څخه او تکبر يې وکړ او ؤ دی (لا له پخوا څخه په علم د الله ﷻ کي) له کافرانو څخه.

نو شيطان خو دا دی په ښکاره د الله تعالی د امر مخالفت کړی او کافر سوی دی.

**جواب**: شيطان له ملائکو څخه نه بلکي د پيريانو له نوعي څخه ؤ ده په عبادت کي ترقي وکړه او د پرښتو په ډله کي شامل سو نو ځکه کوم حکم چي پرښتو ته د سجدې کولو وسو هغه شيطان ته هم وسو. الله تعالی د شيطان په باره کي داسي فرمايلي دي:

﴿ كَانَ مِنَ الۡجِنِّ فَفَسَقَ عَنۡ اَمۡرِ رَبِّهٖ ؕ ﴾. [الكهف: ۵۰].

ژباړه: وو دغه ابليس له پيريانو پس و وت له امره د رب خپل (په ترک د سجدې).

نو کله چي شيطان په عبادت او درجې په لوړوالي کي د ملائکو په شان ؤ او دی يوازي د ملائکو په صف کي مستور ؤ له همدغي وجهي يې د ملائکو څخه تغليبا استثناء راغلې ده، يا دغه استثناء متصله نه بلکي منقطعه ده. په دې باره کي عامو تفاسيرو ته رجوع وکړئ. اصل سوال او جواب له شرح العقائد (۱۰۳) مخ څخه را اخيستل سوی دی.

# سوال او جواب

**سوال**: هاروت او ماروت خو له ملائکو څخه دي او ځینو مفسرینو کرامو د دوی په ارتباط داسي قصې راوړي دي چي د دوی په جنایتکاري دلالت کوي نو دا خو د ملائکو له عصمت سره ټکر خبري دي.

**جواب**: د هاروت او ماروت په باره کي ډېر قولونه سته وګورئ تفسیر القرطبي دوهم جزء (۴۶۹) مخ، او تفسیر ابن کثیر اول جلد (۳۰۸) مخ، خو د اکثرو مفسرینو قول دا دی چي دا دوې پرښتي وې د بابل په ښار کي د انسانانو په صورت اوسېدلې الله تعالی پر دوی باندي سحر نازل کړی ؤ تر څو خلګ امتحان کړل سي چي په سحر باندي عمل کوي او که نه د همدې کبله دوی دواړو به خپل هر یو شاګرد وېراوه دا به یې ورته ویل موږ د الله ﷻ له لوري ازموینښت یو سحر مه زده کوه چي د سحر د جائز ګڼلو او په سحر سره د عمل کولو له امله سړی کافر کېږي که به سره له دغه نصیحته شاګرد د سحر له زده کولو څخه لاس نه اخیست نو یې ورښود الله تعالی د هاروت او ماروت په ذریعه د خپلو بندګانو ازموینه کوله. نو د هاروت او ماروت په دغه کار کي خو هیڅ ګناه نه وه ځکه چي دا یې د الله تعالی په امر د خلګو د امتحان لپاره کاوه[1].

اما د هاروت او ماروت په باره کي هغه نوري قصې چي ځینو مفسرینو راوړي دي او د دوی په جنایتکاري دلالت کوي د هغو په اړوند څو لاندي قولونه وګورئ:

---

[1] تفسیر القرطبي دوهم جزء (۴۷۰) مخ، تفسیر ابي السعود اول جلد (۱۳۸) مخ.

۱:- قلنا هذا كله ضعيف وبعيد عن ابن عمر رضي الله عنه وغيره لايصح منه شئ آه.[۱]

يعني- موږ وايو دغسي قيصې له حضرت ابن عمر رضي الله عنه او نورو صحابه کرامو څخه رانقل سوي دي خو دا ټولي ضعيفي او د حضرت ابن عمر رضي الله عنه او نورو صحابه کرامو څخه ليري دي له دغو قصو څخه هيڅ شی هم صحيح نه دی.

۲:- وكل هذا من خرافات بني اسرائيل واكاذيبهم التى لايشهد لها عقل ولانقل ولاشرع[۲].

يعني- دا ټولي قصې د بني اسرائيلو له هغه سي خرافاتو او درواغانو څخه دي چي نه يې عقل او نه يې نقل او نه يې شرع تائيد کوي.

۳:- و قدرويت قصة هاروت و ماروت عن جماعة من التابعين كمجاهد والسدى والحسن البصرى وقتادة وابي العالية والزهرى والربيع بن انس ومقاتل بن حيان وغيرهم وقصها خلق من المفسرين من المتقدمين والمتأخرين وحاصلها راجع الى اخبار بنى اسرائيل اذليس فيها حديث مرفوع صحيح متصل الاسناد الى الصادق المصدوق المعصوم الذى لاينطق عن الهوى آه[۳].

يعني- د هاروت او ماروت قصه د تابعينو له يو جماعت څخه را نقل سوې ده او بيا ځينو مفسرينو له متقدمينو او متأخرينو څخه دغه قصه ذکر کړې ده خو د دې قصې حاصل د بني اسرائيلو له اخبارو څخه سرچينه اخلي ځکه چي په دې قصه کي يو مرفوع صحيح او نبي ﷺ ته متصل الاسناد حديث نسته هغه معصوم نبي ﷺ چي له خپله ځانه څخه خبري نه کوي.

---

[۱] تفسير القرطبي دوهم جزء (۴۷۰) مخ.
[۲] الاسرائيليات والموضوعات فى كتب التفسير-(۱۶۱) مخ.
[۳] تفسير ابن كثير اول جلد (۳۱۶) مخ.

د دې موضوع په اړوند په روح المعاني اول جلد (۳۴۱) مخ کي کافي او شافي بيان سوی دی مطالعه يې ضروري ده. (والله اعلم بحقيقة الحال).

## د انبياؤ عليهم السلام اړوند څه معلومات

په ټولو انبياؤ عليهم السلام باندي ايمان فرض دی چي اول يې آدم عليه السلام دی او آخر يې محمد ﷺ دی که يو کس په دوی کي له يوه څخه انکار وکړي او په نورو ايمان لري نو بيا هم دغه کس کافر دی لکه څنګه چي الله تعالیٰ فرمايلي دي:

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ يَكْفُرُوْنَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيُرِيْدُوْنَ اَنْ يُّفَرِّقُوْا بَيْنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيَقُوْلُوْنَ نُؤْمِنُ بِبَعْضٍ وَّنَكْفُرُ بِبَعْضٍ وَّيُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّتَّخِذُوْا بَيْنَ ذٰلِكَ سَبِيْلًاۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْكٰفِرُوْنَ حَقًّا ۚ﴾. [النساء: ۱۵۰، ۱۵۱].

ژباړه: يقيناً هغه کسان چي په الله تعالی او د ده په پيغمبرانو عليهم السلام باندي کافر کېږي او غواړي چي د الله جل جلاله او د ده د پيغمبرانو عليهم السلام په منځ کي جدايي وکړي او (داسي جدايي چي) وايي موږ په ځينو پيغمبرانو عليهم السلام باندي ايمان راوړو او په ځينو باندي کافر کېږو او غواړي چي د دې (اسلام او کفر) په منځ کي لاره ونيسي دغه ډله خلګ همدوی کافران دي په حقه سره.

د الله تعالیٰ انبياء او رسولان عليهم السلام ډېر دي خو له دوی څخه د ځينو څه حالات الله تعالیٰ په قرآن کريم کي بيان کړي دي او د ځينو حالات يې نه دي بيان کړي لکه څنګه چي الله تعالیٰ فرمايلي:

﴿ وَرُسُلًا قَدْ قَصَصْنٰهُمْ عَلَيْكَ مِنْ قَبْلُ وَرُسُلًا لَّمْ نَقْصُصْهُمْ عَلَيْكَ ۚ﴾.[النساء: ۱۶۴].

ژباړه: او موږ استولي دي ډېر پيغمبران عليهم السلام چي د دوی څه حالات مو په تا

باندي وړاندي بيان کړي دي او نور ډېر پيغمبران عليهم السلام چي د دوی حالات مو درباندي نه دي بيان کړي.

## د انبياؤ او رسولانو عليهم السلام شمېر

د حضرت ابوذرغفاري رضي الله عنه په روايت کي راغلي دي چي ده له نبي ﷺ څخه د انبياؤ عليهم السلام د شمېر په اړه سوال وکړ نو نبي ﷺ په جواب کي داسي وفرمايل: ټوله انبياء عليهم السلام (۱۲۴۰۰۰) دي له دوی څخه دري سوه او ديارلس رسولان دي اول د دوی آدم عليه السلام دی او آخريې محمد ﷺ دی[(۱)].

د امام احمد رحمة الله عليه په يو بل روايت کي د رسولانو شمېر دري سوه او پنځلس راغلی دی[(۲)].

په هر صورت دا شمېر قطعي نه دی ځکه چي ذکر سوی حديث خبر واحد دی او بله خبره دا ده چي په حديث کي هم څه ناڅه خبري ستـه نو د انبياؤ عليهم السلام او رسولانو عليهم السلام پر يو معلوم شمېر بايد قطعي فيصله ونه سي ځکه چي په دغه صورت کي دا احتمال سته چي يا غير پيغمبر په پيغمبرانو کي وشمېرل سي که په واقع کي پيغمبران له ذکر سوي شمېر څخه لږ وي او يا کوم يو پيغمبر به د پيغمبرانو له ډلي څخه وايستل سي که په واقع کي د پيغمبرانو شمېر د ذکر سوي عدد څخه زيات وي.

نو ښه او سالمه عقيده دا ده چي موږ پر ټولو انبياؤ او رسولانو عليهم السلام ايمان او باور لرو کوم چي الله تعالیٰ خپلو بندګانو ته رالېږلي دي او که چيري يو کس د انبياؤ او رسولانو عليهم السلام ذکر سوي شمېر يادوي نو په کار دی چي يا ورسره د

---

(۱) احمد/ ۵/ ۲۶۵.

(۲) احمد/ ۵/ ۱۷۸.

(شاوخوا) کلمه او یا د (کم او زیات) کلمه اضافه کړي ترڅو د ذکر سوي خطر سره مخامخ نه سي[۱].

## انبياء عليهم السلام له هر قسم ګناه څخه پاک دي

د ټوله اهل السنة والجماعة دا عقيده ده چي انبياء عليهم السلام له هر قسم ګناه څخه کبيره وي که صغيره دمخه تر نبوت او وروسته تر نبوت پاک دی امام المسلمين ابو حنيفه رحمة الله عليه په فقه الاکبر کي داسي فرمايلي دي:

(والانبياء عليهم الصلاة والسلام كلهم منزهون عن الصغائر والكبائر)[۲].

ژباړه: ټوله انبياء عليهم السلام له صغيره ګناهونو او کبيره ګناهونو څخه پاک دی.

ملا علي القاري رحمة الله عليه د دغه عبارت په شرح کي داسي ليکلي دي:

(ثم هذه العصمة ثابتة للأنبياء قبل النبوة وبعدها على الأصح).

يعني- اصح قول دا دی چي دغه عصمت (د ګناهونو څخه پاک والی) انبياؤ عليهم السلام ته دمخه تر نبوت او وروسته تر نبوت ثابت دی.

مولانا فضل الله توريشتی رحمة الله عليه ليکلي دي: انبياء عليهم السلام همېشه د الله تعالیٰ د امر تابع وه او ټوله عمر د الله تعالیٰ په طاعت کي وه له همدغي وجهي څخه قصداً د الله تعالیٰ د نافرماني څخه پاک پاته سوي دي او د دوی عصمت واجب دی دا الله تعالیٰ د امر مخالفت پر دوی باندي بالکل جائز نه دی ځکه چي الله تعالیٰ خلګ د دوی په اطاعت او متابعت امر کړي دي نو که چيري دوی معصوم نه وای او قصدا له دوی څخه عصيان کېدلای نو به الله تعالیٰ خلګو ته

---

[۱] المسامرة (۱۹۰) مخ، شرح العقائد (۱۰۱) مخ، شرح الفقه الاکبر (۹۹) مخ.

[۲] شرح الفقه الاکبر (۹۹) مخ.

د دوی د متابعت امر نه وای کړی[۱].

البته د ځینو انبیاؤ علیهم السلام څخه په ځینو مواقعو کي د نسیاني او سهوي په وجه خلاف الاولی کارونه او لغزشونه سوي دي لکه څنګه چي آدم علیه السلام له هغي وني څخه په هېره خوراک کړی چي الله تعالی ځني منع کړی ؤ. خو الله تعالی هیڅکله هم خپل انبیاء علیهم السلام پر دغسي کارونو برقرار نه دي ساتلي بلکي وخت په وخت يې خبرداری ورکړی دی له همدغي وجهي دغسي لغزشونه او سهوي د انبیاؤ علیهم السلام د عصمت سره هیڅ منافات (ټکر) نه لري[۲].

# سوال او جواب

**سوال**:- د آدم علیه السلام دغه کار چي له ممنوعه وني څخه يې خوراک وکړ په قرآن کریم کي ظلم بلل سوی دی لکه څنګه چي الله تعالی له آدم علیه السلام او حواء رضي الله عنها څخه حکایت کړی دی:

﴿ قَالَا رَبَّنَا ظَلَمۡنَآ أَنفُسَنَا سكتة وَإِن لَّمۡ تَغۡفِرۡ لَنَا وَتَرۡحَمۡنَا لَنَكُونَنَّ مِنَ الۡخٰسِرِيۡنَ۝﴾. [الاعراف: ۲۳].

ژباړه: دواړو و ویل چي اې زموږ ربه! موږ پخپله په خپلو ځانونو باندي ظلم کړی دی او که ته موږ ته ببښنه ونه کړې، مهرباني را باندي ونه کړې نو هرومرو به موږ د زیانکارانو څخه جوړ سو.

همدا شان الله تعالی دغه کار د عصیان په نامه یاد کړی دی داسي يې فرمایلي دي:

---

[۱] المعتمد فی المعتقد (۷۲) مخ.
[۲] شرح الفقه الاکبر (۱۰۱) مخ، المعتمد فی المعتقد (۷۲) مخ.

﴿وَعَصَىٰٓ ءَادَمُ رَبَّهُۥ فَغَوَىٰ ﴾.[طه: ۱۲۱].

ژباړه: او آدم عليه السلام له خپل رب څخه عصيان وکړ نو سمه لاره يې ورکه کړه.

او بله خبره دا ده چې په دې کار کې الله تعالی د آدم عليه السلام توبه قبوله کړې ده لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي: ﴿فَتَلَقَّىٰٓ ءَادَمُ مِن رَّبِّهِۦ كَلِمَٰتٍ فَتَابَ عَلَيْهِ﴾.

[البقرة: ۳۷].

ژباړه: نو آدم عليه السلام د خپل رب د پلوه (د اعتذار) د څو کلماتو سره ملاقي سو. (نو په همدغو کلماتو سره يې خپل رب ته اعتذار وړاندي کړ)، نو خپل رب وربانديي (په رحمت سره) رجوع وکړه (او توبه يې ورته قبوله کړه).

او س سوال دا دی چې له دغو درو شيانو څخه د ګناه وړمه نه او چتېږي حال دا چې دا خبره مو دمخه وڅېړل چې د آدم عليه السلام په شمول ټول انبياء عليهم السلام له ګناه څخه پاک دي.

**جواب**: آدم عليه السلام له ممنوعه وني څخه خوراک په هېره سره کړی دی لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَلَقَدْ عَهِدْنَآ إِلَىٰٓ ءَادَمَ مِن قَبْلُ فَنَسِىَ وَلَمْ نَجِدْ لَهُۥ عَزْمًا﴾.[طه: ۱۱۵].

ژباړه: يقيناً موږ آدم عليه السلام ته کلکه توصيه کړې وه (چې دغي وني ته مه ورنژدې کېږه) خو آدم عليه السلام دغه توصيه هېره کړه او موږ ورته کلک عزم پيدا نه کړ.

نو د آدم عليه السلام ذکر سوی عمل ګناه نه ده، اما دا چې په قرآن کريم کې دغه عمل عصيان بلل سوی دی دا يا له دې وجهي څخه چې صورت يې د عصيان صورت دی که څه هم دا عمل په سهوه او نسيانه سره ؤ. يا د ده د عالي شان په لحاظ عصيان بلل سوی دی له همدغي وجهي څخه توبې ته اړتيا پيدا سوې ده خلګ

وايي: (حَسَنَاتُ الْأَبْرَارِ سَيِّئَاتُ الْمُقَرَّبِيْنَ).

يعني- د نېکانو نېک کارونه د مقربينو کسانو په نسبت ګناهونه دي.

اما دا خبره چې دغه عمل په قرآن کريم کې ظلم بلل سوی دا هم د دې دليل نه سي کېدای چې دغه عمل ګناه ده ځکه چې د ظلم تعريف داسې سوی دی (وضع الشئ فی غير محله).

يعني- د يو شي ايښودل په يو داسې ځای کې چې هغه د ده خپل ځای نه وي.

نو د دغه تعريف پر بناء ظلم عام دی (کبيره، صغيره) د افضل کار پرېښودل او داسې نور ټول پکښې راځي خو دلته يې په آخري باندي حمل کول د قرآن کريم د ذکر سوي نص مطابق دی[1].

## د الأشباه والنظائر يوه عبارت ته کتنه

**سوال:-** علامه زين الدين بن ابراهيم بن نجيم رحمة الله عليه په الاشباه والنظائر کې داسې عبارت ليکلی دی: (ولوقال لم يعصوا حال النبوة وقبلها كفر لانه رد النصوص)[2].

ژباړه- که چيري يو کس و ويل چې انبياؤ عليهم السلام د نبوت په حال کې او دمخه تر نبوت عصيان نه دی کړی نو دغه کس کافر دی ځکه چې دا د نصوصو رد او تکذيب دی.

حال دا چې د اهل السنة والجماعة عقيده په دې باره کې دمخه ذکر سوه چې ټوله انبياء عليهم السلام له هر قسم ګناه څخه دمخه تر نبوت او وروسته تر نبوت پاک

---

[1] فتاوی حقانية، اول جلد (۱۳۲) مخ، المعتمد فی المعتقد (۷۲) مخ.
[2] الاشباه والنظائر كتاب السير- باب الردة (۱۹۰) مخ.

دي. نو ظاهراً د الاشباه والنظائر خبره د اهل السنة والجماعة د عقيدې سره ټکر ښکاري.

**جواب**: د دې سوال ښه او غوره جواب همهغه دی چې علامه سید حموي رحمة الله عليه کړی دی او علامه ابن عابدین رحمة الله عليه هم خوښ کړی دی جواب دا دی چې دغه د الاشباه والنظائر خبره د مذهبي علماؤ خبره نه ده ځکه چې پر هیڅ یو مذهبي عالم دا ګمان نه کیږي چې دغه خبره دي کړې وي بلکې دا خبره له بلي خوا مذهبي علماؤ ته راوړل سوې ده نو د دغي خبري لیکل د قلم سهوه ده (والله الهادی للسداد) د دې سوال نور جوابونه هم سوي دي خو د علامه سید حموي رحمة الله عليه او علامه ابن عابدین رحمة الله عليه له خوا رد سوی دی له همدغي وجهي څخه موږ دلته ذکر نه کړه، وروسته علامه ابن عابدین رحمة الله عليه د علامه سید حموي رحمة الله عليه په حواله د حنفي مذهب د امام حافظ الدین النسفي الحنفي رحمة الله عليه دا خبره رانقل کړې ده چې د انبیاؤ علیهم السلام عصمت ضروري دی وروسته یې په دې مسئله کي د نورو علماؤ اقوال هم را نقل کړي دي او ښه پوره یې څیړلې ده[1].

# نبوت او رسالت کسبي شی نه دی

د ټوله امت پردې باندي اتفاق دی چې نبوت او رسالت یوازي یو وهبي منصب دی کوم چې د الله تعالی له لوري څخه سړي ته ورکول کیږي دا یو کسبي او اختیاري شی نه دی چې په مجاهدې او ریاضت سره حاصل سي که د یو چا دا ګمان وي چې دا کسبي شی دی نو دغه کس کافر دی.

الله تعالی فرمایلي: ﴿ وَاللَّهُ يَخْتَصُّ بِرَحْمَتِهِ مَنْ يَشَاءُ ۗ وَاللَّهُ ذُو الْفَضْلِ

[1] مجموعة رسائل ابن عابدین رحمة الله عليه الرسالة (رفع الاشتباه عن عبارة الاشباه) (۳۰۶) مخ، شرح الحموي دوهم جلد (۹۰) مخ.

الْعَظِيْمِ○﴾.[البقرة: ۱۰۵].

ژباړه: او الله تعالی خاصوي په رحمت خپل (يعني نبوت فضل او احسان) سره هغه څوک چي اراده يې وکړي (د تخصيص په رحمت سره) او الله تعالی خاوند د لوی فضل دی[1].

## آيا خضر علیه‌السلام نبي ؤ که ولي؟

د خضر علیه‌السلام په اړوند ځيني علماء کرام دا عقيده لري چي دی ولي ؤ خو د امت جمهور علماء وايي چي خضر علیه‌السلام نبي ؤ د دوی دا خبره د څو دلائلو له مخي ده:

۱:- الله تعالی د ده په باره کي داسي فرمايلي دي: ﴿اٰتَيْنٰهُ رَحْمَةً مِّنْ عِنْدِنَا﴾.

[الکهف: ۶۵].

ژباړه: موږ ده ته له خپله نزده لوی رحمت ورکړی ؤ.

په آيت کي د (رحمة) کلمه نکره نازله سوې ده چي په عظمت باندي دلالت کوي ښکاره خبره ده چي لوی رحمت نه دی مګر نبوت دغه د (رحمة) کلمه په همدغي معنٰی باندي علماء کرامو تفسير کړې ده[2].

۲:- الله تعالی له خضر علیه‌السلام څخه داسي حکايت کړی دی: ﴿ وَمَا فَعَلْتُهٗ عَنْ اَمْرِيْ ط﴾.[الکهف: ۸۲].

يعني: دغه کار ما د خپله ځانه نه دی کړی بلکي ماته د الله تعالی له لوري امر سوی دی چي همدغسي وکړم.

---

[1] المعتمد فی المعتقد (۷۰) مخ، عقائد الاسلام (۳۶۵) مخ.

[2] تفسير القرطبي ۱۱ جزء (۱۸) مخ. روح المعاني (۱۵) جلد (۳۲۰) مخ.

امام قرطبي رحمه الله د دې آيت په تفسير کې داسې ليکلي دي:

(يدل على نبوته وانه يوحى اليه بالتکليف والاحکام)[1].

يعني- د الله تعالی له دغه قول د ده پر نبوت دلالت کوي او پردې خبره هم دلالت کوي چې ده ته په تکليف او احکامو سره وحې کېدلې.

۳:- د ده له افعالو څخه لکه د هلک وژل او د بېړۍ تخريب او داسې نور دا ښکاره معلومېږي چې دی د الله تعالی نبي ؤ ځکه چې د الهي وحې څخه پرته دغسې عملونه سر ته رسول جواز نه لري.

ملا علي القاري رحمه الله هم دغه قول ته چې خضر عليه السلام نبي ؤ په څو دلائلو ترجيح ورکړې ده[2].

## آيا خضر عليه السلام ژوندی دی که وفات سوی دی

د خضر عليه السلام د ژوند او وفات مسئله هم د علماءکرامو ترمنځ اختلافي ده ځيني علماء کرام يې د دلائلو له مخې ژوندی بولي او ځيني علماء کرام يې بيا د نورو دلائلو له مخې وفات سوی بولي په هر صورت دواړې خبرې د دلائلو له مخې دي کومه خبره چې د سم دليل له مخې وي هغه اسلامي عقيدې ته تاوان نه رسوي ليکن ملا علي القاري رحمه الله دې طرفته ترجيح ورکړې ده چې دی ژوندی دی او کوم کسان چې د ده پر وفات يې دلائل ويلي دي د هغوی يې ښه کافي او شافي جوابونه کړي دي. (وَاللهُ تَعَالى أَعْلَمُ بِحَقِيْقَةِ الْحَالِ).

تاسو د دې موضوع د تفصيل لپاره همدا شان د خضر عليه السلام په اړوند د نورو

---

[1] تفسير القرطبي (۱۱) جزء (۲۸) مخ.

[2] مجموعة رسائل العلامة الملاعلي القارى رحمه الله (۳) جلد. الرسالة الحذر فى امر الخضر.

معلوماتو د حاصلولو لپاره (مجموعة رسائل العلامة الملا علي القاري) الرسالة (الحذر فی امرالخضر) ته رجوع وکړئ هلته دا موضوعات ښه په تفصيل سره بيان سوي دي[1].

## انبیاء علیهم السلام پخپلو قبرونو کي ژوندي دي

د حضرت محمد ﷺ او نورو ټولو انبياؤ عليهم السلام په باره کي د ټول اهل سنت والجماعت او د علماء ديوبند د ټولو اکابرو مسلک دا دی چي ټول انبياء عليهم السلامتر وفات وروسته هم پخپلو قبرونو کي ژوندي دي او د دوی مقدس بدنونه بعينه محفوظ دي د دوی مبارکانو دغه برزخي ژوند حسي او جسماني دی او دوی مبارکان پخپلو قبرونو کي په بېلا بېلو مصروفيتونو او عبادتونو مشغول دي خو دا کارونه او عبادتونه يې د شرعي مکلفيت په وجه نه بلکي د خوند او خوشحالي حاصلولو لپاره دي، او هغه څوک چي د نبي ﷺ د مبارکي روضې سره نژدې درود او سلام وايي نو هغه دی مبارک ېبله واسطې اوري او کوم کس چي له مبارکي روضې څخه ليري پر نبي ﷺ باندي درود او سلام وايي نو هغه بيا د ملائکو په ذريعه نبي ﷺ ته رسول کېږي. دا د ټولو محدثينو او متکلمينو اتفاقي عقيده ده د ديوبند د لويو علماؤ په مختلفو رسالو کي د د دې خبري تصريح سوې ده، د حضرت مولانا محمد قاسم نانوتوی رحمة الله عليه د انبياؤ عليهم السلام په ژوند باندي يو مستقل تصنيف د (آب حيات) په نامه سره موجود دی او د حضرت مولاناخليل احمد رحمة الله عليه چي د مولانا رشيد احمد ګنګوهي رحمة الله عليه راشد خليفه دی يو تأليف د (المهند علي المفند) په نامه هم د

[1] همدا شان د دې موضوع په اړوند روح المعاني (۱۵) جلد (۳۲۰، ۳۳۱) مخونه هم کتلای سئ.

کتلو وړ دی او بل د (انبیاء کرامو ژوند) په نامه یو کتاب چې مرتب یې سید عبدالشکور صاحب دی هم د مطالعې لپاره ګټمن دی. اوس د بېلګې په ډول څو دلائل وګورئ:

۱:- ﴿وَلَا تَحْسَبَنَّ الَّذِيْنَ قُتِلُوْا فِيْ سَبِيْلِ اللّٰهِ اَمْوَاتًا ؕ بَلْ اَحْيَآءٌ عِنْدَ رَبِّهِمْ يُرْزَقُوْنَ﴾. [آل عمران: ۱۶۹].

ژباړه: او له سره ګمان مه کوئ پر هغو کسانو چې وژل سوي دي دوی په لاره د الله ﷻ کې د مړو بلکې ژوندي دي په نزد د رب خپل رزق ورته ورکول کېږي (له جنتي ماکولاتو او مشروباتو څخه.)

نو چې کله شهیدانو ته دغسې ژوند حاصل دی نو بیا خو انبیاؤ علیهم السلام ته په طریقه اولی سره حاصل دی ځکه چې انبیاء علیهم السلام خو تر شهیدانو افضل دي، نو د انبیاؤ علیهم السلام ژوند د دوی تر وفات وروسته د ذکر سوي آیت د دلالة النص له مخې ثابتېږي[1].

۲:- نبي ﷺ فرمایلي دي: (الْأَنْبِيَاءُ أَحْيَاءٌ فِي قُبُوْرِهِمْ يُصَلُّوْنَ).
یعني- انبیاء علیهم السلام پخپلو قبرونو کې ژوندي دي لمونځ کوي[2].

۳:- نبي ﷺ فرمایلي دي: (مَنْ صَلّٰى عَلَيَّ عِنْدَ قَبْرِيْ سَمِعْتُهُ وَمَنْ صَلّٰى عَلَيَّ نَائِيًا أُبْلِغْتُهُ)[3].

ژباړه- کوم کس چې زما له قبر سره نژدې پرما باندې درود و وایي نو یې زه پخپله اورم او کوم کس چې پر ما باندې د لیرې څخه درود و وایي هغه بیا د

[1] وګورئ عمدة القاري ۱۱ جلد (۴۰۲) مخ، فتح الباري ۶ جلد (۲۸۸) مخ، نیل الاوطار ۳ جلد (۲۱۲) مخ.
[2] مسند ابي یعلی (۳) ۲۱۶/ وصححه ابن حجر فی فتح الباري والقاري فی المرقاة (۲) جلد (۲۱۲) مخ.
[3] مشکوة المصابیح اول جلد (۸۷) مخ.

ملائکو په واسطه ماته را رسول کېږي.

۴:- نبي ﷺ فرمايلي دي: (أَكْثِرُوا الصَّلَاةَ عَلَيَّ يَوْمَ الْجُمُعَةِ فَإِنَّهُ مَشْهُودٌ تَشْهَدُهُ الْمَلَائِكَةُ وَإِنَّ أَحَدًا لَنْ يُصَلِّيَ عَلَيَّ إِلَّا عُرِضَتْ عَلَيَّ صَلَاتُهُ حَتَّى يَفْرُغَ مِنْهَا قَالَ قُلْتُ وَبَعْدَ الْمَوْتِ قَالَ إِنَّ اللهَ حَرَّمَ عَلَى الْأَرْضِ أَنْ تَأْكُلَ أَجْسَادَ الْأَنْبِيَاءِ فَنَبِيُّ اللهِ حَيٌّ يُرْزَقُ)[1].

ژباړه: تاسو د جمعې په ورځ پر ما باندي ډېر درود وایاست ځکه چي د جمعې ورځ (مشهود) یعني پرښتې ورته راځي یقیناً یو کس به پر ما باندي درود ونه وایي مګر چي د ده درود به پر ما باندي عرض کړل سي ترڅو چي دی له درود څخه خلاصېږي ابو الدرداء ﷺ د حدیث راوي ویلي دي ما نبي ﷺ ته و ویل آیا تر وفات وروسته هم پر تا باندي درود عرضېږي نبي ﷺ وفرمایل یقیناً الله تعالی پر ځمکه باندي د انبیاؤ علیهم السلام د مبارکو بدنونو خوراک حرام کړی دی (یعني انبیاء علیهم السلام پخپلو قبرونو کي ژوندي دي) نو نبي ﷺ ژوندی دی رزق ورکول کېږي.

دغه ته ورته یو بل حدیث په مشکوة شریف اول جلد (۱۲۰) مخ کي هم راغلی دی چي ابوداؤد، نسائي، ابن ماجه، دارمي او بیهقي یې روایت کړی دی.

د دې بیان ډېره برخه له فتاوی حقانیې اول جلد (۱۳۹) مخ څخه را اخیستل سوې ده. د دې موضوع د تفصیل لپاره وګورئ[2].

نور نو د نبي او رسول لغوي او اصطلاحي معناوي او د نبي او رسول په منځ کي فرق زموږ د شرحي په (۲۹) عقیده کي وګورئ، او دا خبره چي محمد ﷺ په ټولو انبیاؤ علیهم السلام کي افضل نبي دی او تر ټولو انبیاؤ علیهم السلام وروستنی نبي

---

[1] رواه ابن ماجه (۱۶۳۷).

[2] (البصائر) الرسالة (غوث العباد) ۲۶۰- ۲۶۹ مخونه.

دی او نبوت وربانديي ختم سوی دی په (۳۰) عقيده کي وګورئ، او دا چي نبيﷺ ټولو پيريانو او ټولو انسانانو ته مبعوث دی په (۳۲) عقيده کي وګورئ.

# د آسماني کتابونو په اړوند څه معلومات

پر ټولو هغو کتابونو باندي ايمان فرض دی چي الله تعالی پر خپلو رسولانو باندي نازل کړي دي په دغو کتابونو کي څلور يې تر ټولو لوی او مشهور دي:

۱:- قرآن کريم دی چي پر حضرت محمد ﷺ باندي نازل سوی دی لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي: ﴿هُوَالَّذِيٓ اَنۡزَلَ عَلَيۡكَ الۡكِتَابَ﴾. [آل عمران: ۷].

ژباړه: الله تعالی هغه ذات دی چي نازل کړی يې دی پر تا باندي کتاب (قرآن).

۲:- تورات دی چي پر حضرت موسیٰ عليه‌السلام باندي نازل سوی دی لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي: ﴿وَلَقَدۡ اٰتَيۡنَا مُوسَى الۡكِتٰبَ﴾. [حم السجدة: ۴۵].

ژباړه: خامخا په تحقيق ورکړی وو موږ موسیٰ عليه‌السلام ته کتاب (تورات).

۳:- زبور دی چي پر حضرت داؤد عليه‌السلام باندي نازل سوی دی لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي: ﴿وَاٰتَيۡنَا دَاوٗدَ زَبُوۡرًا﴾. [النساء: ۱۶۳].

ژباړه: او ورکړئ ؤ موږ داؤد عليه‌السلام ته زبور.

۴:- انجيل دی چي پر عيسیٰ عليه‌السلام باندي نازل سوی دی لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَقَفَّيۡنَا بِعِيۡسَى ابۡنِ مَرۡيَمَ وَاٰتَيۡنٰهُ الۡاِنۡجِيۡلَ﴾. [الحديد: ۲۷].

ژباړه: او وروسته را ووست موږ عيسیٰ عليه‌السلام ځوی د مريمي او ورکړ موږ ده

ته انجیل.

همدا شان په قرآن کریم کي د ابراهیم علیه السلام او موسٰی علیه السلام د صحیفو یادونه هم سوې ده لکه څنګه چي الله تعالیٰ فرمایلي: ﴿ صُحُفِ اِبْرٰهِيْمَ وَمُوْسٰى ۝ ﴾.[الاعلی: ۱۹].

نور نو په قرآن کریم کي د صحیفو شمېر نه دی راغلی خو ځینو علماء کرامو د ځینو روایاتو پر بناء د آسماني صحیفو شمېر (۱۰۰) ښودلی دی چي له هغو څخه (۵۰) په حضرت شیث علیه السلام باندي او (۳۰) په حضرت ادریس علیه السلام باندي، او (۱۰) په حضرت ابراهیم علیه السلام باندي، او (۱۰) په حضرت موسٰی علیه السلام باندي د فرعون تر غرقېدو دمخه نازلي سوي دي، او بعضي علماء کرامو بیا د موسٰی علیه السلام په ځای آدم علیه السلام ذکر کړی دی. لېکن ښه خبره دا ده چي د انبیاؤ علیهم السلام په څیر آسماني کتابونه هم په یو معلوم شمېر کي حصر نه کړل سي. نبراس (۲۹۰) مخ، شرح الفقه الاکبر (۲۷) مخ.

## پر آسماني کتابونو باندي د ایمان څرنګوالی

له قرآن کریم څخه ماسېوی په نورو آسماني کتابونو باندي دا قدر ایمان کفایت کوي چي دغه کتابونه د الله تعالیٰ له لوري څخه نازل سوي او حق دي او کوم کسان چي په دغه کتابونو سره مخاطب وه پر هغوی یې قبول او متابعت فرض ؤ، لېکن پر قرآن کریم باندي دغه قدر ایمان کفایت نه کوي د دې ترڅنګ چي قرآن کریم د الله تعالیٰ د نزد څخه نازل سوی او حق دی د ځو نورو شیانو هم ضرورت سته چي ایمان ورباندي راوړل سي ترڅو پر قرآن کریم باندي ایمان صحیح سي.

۱:- قرآن کریم قبلول او متابعت يې پر خپل ځان فرض بلل.

۲:- دا عقیده درلودل چي قرآن کریم د هر ډول تحریف او تبدیل څخه محفوظ دی او تر قیامته به په همدغه ډول محفوظ وي لکه څنګه چي الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّا نَحْنُ نَزَّلْنَا الذِّكْرَ وَإِنَّا لَهُ لَحَافِظُونَ﴾.[الحجر: ۹].

ژباړه: بېشکه موږ پخپله نازل کړی دی ذکر، پند، قرآن او بېشکه چي موږ د ده خامخا ساتونکي یو (له تزئیده تنقیصه او نورو).

نو په قرآن کریم کي د تحریف کېدلو عقیده درلودل کفر دی.

۳:- دا عقیده درلودل چي قرآن کریم هم د مضمون او هم د الفاظو په اعتبار معجز دی نو ځکه يې څوک نه د مضمون په اعتبار مثل راوړای سي او نه د الفاظو په اعتبار، لکه څنګه چي الله تعالی فرمایلي دي:

﴿قُلْ لَئِنِ اجْتَمَعَتِ الْإِنْسُ وَالْجِنُّ عَلَى أَنْ يَأْتُوا بِمِثْلِ هَذَا الْقُرْآنِ لَا يَأْتُونَ بِمِثْلِهِ وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا﴾[بني اسرائيل: ۸۸].

ژباړه: و وایه ای محمده! دوی ته خامخا که راټول سي ګرد انسانان او ګرد پېریان په دې چي راوړي په شان د دې قرآن (په فصاحت، بلاغت او درایت کي) نو رابه نه وړي په شان د دې قرآن اګر که سي ځیني د دوی له ځینو نورو سره ملاتړي.

ملا علي قاري رحمه الله ویلي دي (والاعجاز حصل بنظمه ومعناه).

یعني د قرآن کریم اعجاز د ده په نظم او معنا دواړو سره حاصل سوی دی[1].

۴:- دا عقیده درلودل چي قرآن کریم په عربي ژبه نازل سوی او د الفاظو او

---

[1] شرح الفقه الاکبر (۲۵۴) مخ.

معنا دواړو نوم دی نو له همدغي وجهي له عربي څخه ماسېوٰی په بله ژبه د هغه تلاوت کول، او په لمانځه کي يې قرائت کول په داسي حال کي چي د عربي د ويلو څخه عاجزه نه وي، او د عربي متن له راوړلو ماسېوٰی په کومه بله ژبه کي د هغه ترجمه ليکل جواز نه لري.

الله تعالیٰ فرمايلي دي: ﴿إِنَّآ أَنزَلۡنَٰهُ قُرۡءَٰنًا عَرَبِيًّا﴾. [يوسف: ۲].

ژباړه: بېشکه چي موږ نازل کړی دی دا کتاب په دې حال کي چي قرآن عربي دی.

شيخ ابو البرکات النسفي په منار کي داسي ويلي دي: (وهو اسم للنظم والمعنى جميعا).

يعني - دغه قرآن د نظم او معنا دواړو نوم دی[1].

اما دا خبره چي له امام المسلمين ابو حنيفه رحمه الله څخه را نقل سوې ده چي که چيري يو داسي کس چي عربي يې زده وي په لمانځه کي قرائت په پارسي سره و وايي لمونځ يې صحيح دی. امام ابو حنيفه رحمه الله له دغي خبري څخه د امام ابو يوسف رحمه الله او امام محمد رحمه الله دې قول ته چي په ذکر سوي صورت کي له عربي څخه ماسېوٰی په بله ژبه سره په لمانځه کي قرائت نه دی روا رجوع کړې ده[2].

**۵**:- دا عقيده درلودل چي د قرآن کريم په نازلېدو سره چي آخرنی آسماني کتاب دی او تر ټولو بهتر دی د نورو ټولو آسماني کتابونو تلاوت کتابت او بعضي احکام منسوخ سوي دي، يعني يوازي هغه احکام يې له نسخې څخه

---

[1] نورالانوار (۱۰) مخ.

[2] الهداية اول جلد (۹۵) مخ، شرح الفقه الاکبر (۲۵۴) مخ.

پاته دي چي زموږ په شريعت کي يې ببله انکاره نقل راغلی دی[1].

په يو حديث کي راغلي دي چي حضرت عمر ﷺ نبي ﷺ ته حاضر سو او وې ويل يقيناً موږ له يهودو څخه داسي خبري او حکايتونه اورو چي ښه راته ښکاري نو آيا ته موږ ته اجازه راکوې چي يو څه يې وليکو نبي ﷺ د زجر او انکار په طريقه ورته وفرمايل: آيا تاسو د يهودو او نصاراؤ په شان پخپل دين کي شکمن ياست يقينا ما تاسو ته صاف او روښانه شريعت راوړی دی (وَلَوْكَانَ مُوْسىٰ حَيًّا مَاوَسَعَهُ إِلَّااتِّبَاعِيْ). يعني- که چيري موسیٰ عليه السلام ژوندی وای نو به ده ته زما له اتباع څخه پرته بل څه نه وای جائز. ځکه چي نور شريعتونه ټول له زما په شريعت سره منسوخ سوي دي[2].

## له قرآن کريم څخه پرته بل هيڅ آسماني کتاب په خپل اصل پاته نه دی

د تورات، انجيل او زبور په نوم چي اوس کوم کتابونه موجود دي هغه د وحي په اصلي حال نه دي پاته بلکي ډول ډول تحريفات او بدلونونه په کي راغلي دي لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ فَوَيْلٌ لِّلَّذِيْنَ يَكْتُبُوْنَ الْكِتٰبَ بِاَيْدِيْهِمْ ثُمَّ يَقُوْلُوْنَ هٰذَا مِنْ عِنْدِ اللهِ ﴾.[البقرة: ۷۹].

ژباړه: نو عذاب دی لپاره د هغو کسانو چي ليکي کتاب (له خپله ځانه) په لاسو خپلو بيا وايي دغه (محرفين خلقو ته) چي دا ليکل سوی له نزده د الله دی.

---

[1] شرح العقائد (۱۰۴) مخ.
[2] مشکوة اول جلد (۳۰) مخ.

همدا شان الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ وَقَدْ كَانَ فَرِيْقٌ مِّنْهُمْ يَسْمَعُوْنَ كَلٰمَ اللهِ ثُمَّ يُحَرِّفُوْنَهٗ مِنْ بَعْدِ مَا عَقَلُوْهُ وَهُمْ يَعْلَمُوْنَ۝ ﴾. [البقرة: ۷۵].

ژباړه: او بېشکه چي وه يوه ډله (د پخوانيو) له دوی چي اورېده به يې کلام د الله تعالی بيا به يې اړوله هغه خبره وروسته له هغه چي پوه به شول په هغې حال دا چي دوی به پوهېدل (په دې تحريف او افتراء).

اوس نو د موجوده تورات، انجيل او زبور په باره کي دا عقيده درلودل چي دا ټوله الهی وحي دي کفري عقيده ده، اما قرآن کريم چي دی هغه له هر ډول تحريف او تغير څخه تر قيامته محفوظ دی لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ وَاِنَّهٗ لَكِتٰبٌ عَزِيْزٌ۝ لَّا يَأْتِيْهِ الْبَاطِلُ مِنْۢ بَيْنِ يَدَيْهِ وَلَا مِنْ خَلْفِهٖ ؕ تَنْزِيْلٌ مِّنْ حَكِيْمٍ حَمِيْدٍ۝ ﴾. [حم السجدة: ۴۱ – ۴۲].

ژباړه: حال دا چي يقيناً دا قرآن کريم عزتمند (کلک) کتاب دی چي باطل (دروغ) نه ورته له وړاندي خوا څخه راتلای سي او نه له وروسته خوا څخه بلکي د هر جهته او هر حيثه محفوظ دی او هم دا کتاب د ډېر حکمت خاوند او د ښو صفاتو درلودونکی د (الله تعالی) له پلوه نازل کړی سوی دی.

## مونږ ټوله اهل القبلة مسلمانان بولو

**۵۴:–** وَنُسَمِّي اَهْلَ قِبْلَتِنَا مُسْلِمِيْنَ مُؤْمِنِيْنَ مَادَامُوْا بِمَا جَاءَبِهِ النَّبِيُّ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ مُعْتَرِفِيْنَ وَلَهُ بِكُلِّ مَاقَالَ وَأَخْبَرَ

مُصَدِّقِيْنَ.

ژباړه: زموږ د قبلې خلک موږ مسلمانان مؤمنان ګڼو ترڅو چې په هغه دين سره چې نبي ﷺ راوړی دی اقرار کوونکی وي او نبي ﷺ لره په ټول هغه څه سره چې ده ويلي او خلګو ته يې په هغه سره خبر ورکړی تصديق کوونکي وي.

**شرح**– په (اهل قبلتنا) سره مراد هغه کسان نه دي چې يوازې په لمانځه کې زموږ قبلې ته مخ ګرځوي بلکې مراد هغه کسان دي چې د دين ټول اصول مني او په ټول دين مقدس اسلام سره اقرار کوي نور نو که څه هم ګنهکاره وي، په لمانځه کې قبلې ته مخ ګرځول د مسلمانانو لپاره يوه لويه علامه ده له همدغې وجهې څخه مسلمانان (اهل القبلة) بلل کېږي، مطلب دا دی چې ټول اهل القبلة موږ مسلمانان مؤمنان ګڼو ترڅو چې د يو داسې شي څخه يې انکار نه وي کړی چې هغه له دين څخه په قطعي ډول ثابت وي. نبي ﷺ داسې فرمايلي دي:

(مَنْ صَلَّى صَلَاتَنَا وَاسْتَقْبَلَ قِبْلَتَنَا وَأَكَلَ ذَبِيحَتَنَا فَذٰلِكَ الْمُسْلِمُ الَّذِىْ لَهُ ذِمَّةُ اللهِ وَذِمَّةُ رَسُوْلِهِ فَلَا تُخْفِرُوا اللهَ فِي ذِمَّتِهِ)[1].

يعني– هغه کس چې زموږ د لمانځه په شان لمونځ وکړي او زموږ قبلې ته مخ وګرځوي او زموږ د حلال سوي حيوان څخه خوراک وکړي نو دا هغه سې مسلمان دي چې ده لره د الله تعالی او د الله تعالی د رسول ﷺ عهد او امان ثابت دی نو تاسو د الله تعالی په عهد کې خيانت مه کوئ (يعني د الله تعالی او د الله تعالی د رسول ﷺ عهد مه ماتوئ).

له دې حديث څخه هم دا مطلب نه دی چې يو کس دغه درې کارونه وکړئ نو

[1] صحيح البخاري (٣٩١).

هغه مسلمان دی که څه هم له نور دين څخه منکر وي، بلکي دغه درې کارونه د اسلام روښانه علامې دي په دغو کارونو سره اسلام او نور دينونه سره جلا کېږي، نو مطلب دا دی چي کوم کس چي ټول دين ومني باور ورباندي وکړي او له هيڅ يو داسي شي څخه انکار نه کوي چي هغه د دين څخه په قطعي ډول ثبوت لري نو دغه کس مسلمان دی اما که چيري يو کس دغه درې کارونه ټول کوي لېکن د يو داسي شي څخه منکر وي چي هغه له دين څخه په قطعي ډول ثابت وي نو دغه کس مسلمان نه بلکي کافر دی لکه قاديانيان چي د ختم نبوت څخه انکار کوي او مرزا غلام احمد قادياني نبي بولي دغه کسان مسلمانان نه بلکي کافران دي[1].

په دې عقيده کي امام طحاوي رحمه الله دې طرفته اشاره کړې ده چي اسلام او ايمان يو شی دی او مسلمان د ګناه په کولو سره له اسلام څخه نه وزي ترڅو چي ګناه يې حلاله نه وي بللې. د دې تفصيل لږ وروسته راځي.

## د الله تعالی په ذات کي غور او فکر کول جواز نه لري

**۵۵: –** وَلَا نَخُوضُ فِي اللهِ وَلَا نُمَارِيْ فِيْ دِيْنِ اللهِ تَعَالٰى.

ژباړه: موږ د الله تعالی په ذات کي غور او فکر نه کوو او د الله تعالی په دين کي باطله نزاع نه کوو.

**شرح**– مطلب دا دی چي موږ د الله تعالی په ذات کي غور او فکر نه کوو او نه د الله تعالی په ذات کي بېله علمه څه وايو بلکي د الله تعالی د ذات صفاتو او افعالو په باره کي هغه څه وايو چي د کتاب او سنت سره موافق وي لکه څنګه

[1] فيض الباري دوهم جلد (۳۸) مخ.

**چي له امام المسلمين ابو حنيفه رحمه الله څخه نقل راغلی دی** (لَا يَنۡبَغِيۡ لِأَحَدٍ أَنۡ يَنۡطِقَ فِيۡ ذَاتِ اللهِ بِشَيۡءٍ بَلۡ يَصِفُهُ بِمَا وَصَفَ بِهِ نَفۡسَهُ).

**يعني- هيڅ چا لره نه ښايي چي د الله تعالی په ذات کي څه و وايي بلکي د الله جل جلاله په باره کي دي هغه څه بيان کړي چي الله تعالی په هغه سره خپل ذات موصوف کړی دی**[1].

**همدا شان د الله تعالی په دين کي د تعصب له مخي نزاع او بحث نه کوو ترڅو په غلطو دلايلو سره د الله تعالی د دين مقابله وکړو ځکه چي دا د رسولانو عليهم السلام د ښمنانو تګلاره وه.**

(**دلائل**) ۱:- ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يُّجَادِلُ فِي اللهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٍ وَّلَا هُدًى وَّلَا كِتٰبٍ مُّنِيۡرٍ﴾.[الحج: ۸].

**ژباړه: او د خلکو له جملې څخه ځيني هغه ډوک دي کوم چي د الله تعالی په هکله بېله پوهي او بېله دليله او بېله روښانه کتاب څخه جګړې کوي.**

**۲:-** ﴿وَمِنَ النَّاسِ مَنۡ يُّجَادِلُ فِي اللهِ بِغَيۡرِ عِلۡمٍ وَّيَتَّبِعُ كُلَّ شَيۡطٰنٍ مَّرِيۡدٍ﴾.[الحج: ۳].

**ژباړه: او له خلکو څخه ځيني هغه کسان دي چي د الله تعالی په هکله بېله پوهي جګړه کوي او د هر سرکښ شيطان متابعت کوي.**

**۳:-** ﴿مَا يُجَادِلُ فِيۡۤ اٰيٰتِ اللهِ اِلَّا الَّذِيۡنَ كَفَرُوۡا﴾.[المؤمن: ۴].

**ژباړه: جګړه نه کوي (طعن نه وايي) په آيتونو د الله تعالی مګر هغه کسان چي کافران سوي دي.**

[1] شرح العقيدة الطحاوية للميدانی (۹۵) مخ.

اما په دين کي هغسي نزاع او بحث کول چي له هغه څخه حق ته رسېدل او د باطل دفع مطلوب وي دا بالکل مشروع کار دی لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَجَادِلۡهُم بِٱلَّتِي هِيَ أَحۡسَنُۚ﴾. [النحل: ۱۲۵].

ژباړه: او مباحثه کوه له دوی سره په هغي طريقې سره چي هغه ډېره ښه وي.

## په قرآن کريم کي مجادله (اختلاف کول) جواز نه لري

**۵۶:-** وَلَا نُجَادِلُ فِي الْقُرْآنِ وَنَشْهَدُ أَنَّهُ كَلَامُ رَبِّ الْعَالَمِيْنَ نَزَلَ بِهِ الرُّوْحُ الْأَمِيْنُ فَعَلَّمَهُ سَيِّدَ الْمُرْسَلِيْنَ مُحَمَّدًا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَهُوَ كَلَامُ اللهِ تَعَالٰى لَا يُسَاوِيْهِ شَيْءٌ مِنْ كَلَامِ الْمَخْلُوْقِيْنَ وَلَا نَقُوْلُ بِخَلْقِ الْقُرْآنِ وَلَا نُخَالِفُ جَمَاعَةَ الْمُسْلِمِيْنَ.

ژباړه: موږ په قرآن کريم کي مجادله (اختلاف) نه کوو او دا شاهدي ورکوو چي يقيناً دغه قرآن د رب العالمين کلام دی دغه قرآن کريم (د رب العالمين له پلوه) امانتګري پرښتې جبرائيل عليه السلام نازل کړی دی نو يې سيدالمرسلين محمد ﷺ ته ورښودلی دی او دغه قرآن د الله تعالی کلام دی د مخلوقاتو له کلام څخه هيڅ يو شی ورسره برابر نه دی او موږ نه وايو چي د الله تعالی کلام مخلوق (حادث) دی او د مسلمانانو له جماعت څخه مخالفت نه کوو.

**شرح-** د امام طحاوي رحمه الله دا قول (ولانجادل فی القرآن) د دوو معناؤ احتمال لري:

**اوله معنى**:- موږ په قرآن كريم كي د انكار او تكذيب له مخي مجادله نه كوو لكه څنګه چي كافرانو دغه كار د دې لپاره كاوه چي حق په ورک كړي، بلكي په قرآن كريم سره مجادله كوو يعني حجت او دليل په وايو د سلاح په شان د باطلو ډلو مقابله په كوو.

**دوهمه معنى**:- موږ د قرآن كريم په متواتره قراءتونو كي مجادله (اختلاف) نه كوو بلكي په هر متواتره قراءت سره موږ د قرآن كريم تلاوت حق ګڼو، دغه دواړي معناوي حق دي د دوهمي معنى په صحت باندي دا حديث شريف شاهدي وركوي عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايلي دي:

(سَمِعْتُ رَجُلًا قَرَأَ آيَةً سَمِعْتُ مِنَ النَّبِيِّ ﷺ خِلَافَهَا فَأَخَذْتُ بِيَدِهِ فَأَتَيْتُ بِهِ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ كِلَاكُمَا مُحْسِنٌ قَالَ شُعْبَةُ أَظُنُّهُ قَالَ لَا تَخْتَلِفُوا فَإِنَّ مَنْ كَانَ قَبْلَكُمْ اخْتَلَفُوا فَهَلَكُوا)[1].

ژباړه- ما له يوه كس څخه واورېدل چي يو داسي آيت يې و ويلى چي ما د نبي ﷺ څخه د هغه په خلاف اورېدلى ؤ نو مي دغه كس تر لاس را ونيوى او نبي ﷺ ته مي راوستى نبي ﷺ وفرمايل تاسو دواړه په قرائت كي ښه ياست (يعني د دواړو قرائت صحيح دى) د حديث راوي شعبه رحمه الله ويلي دي زه پر خپل شيخ عبدالملک ګمان كوم چي ده داسي ويلي دي چي نبي ﷺ وفرمايل تاسو په قرآن كريم كي اختلاف مه كوئ ځكه چي كوم كسان چي دمخه تر تاسو وه هغوى په ديني امورو كي اختلاف كړى دى نو د همدغه اختلاف له كبله هلاک سوي دي.

د امام طحاوي رحمه الله له دې قول څخه (ولانخالف جماعة المسلمين) مطلب دا

---

[1] صحيح البخاري (٢٤١٠).

دی چي زموږ عقيده همهغه د مسلمانانو له لوی جماعت اهل سنت والجماعت عقيده ده، دوی قرآن کريم چي د الله تعالی کلام دی قديم بولي موږ يې هم قديم بولو نور عقائد مو هم د دغه لوی جماعت عقائد دي د مسلمانانو د لوی جماعت څخه موږ هيڅکله نه جلا کېږو ځکه چي الله تعالی دا امت له دې څخه ساتلی دی چي پر ضلالت (گمراهۍ) باندي اتفاق وکړي لکه څنگه چي نبي ﷺ فرمايلي دي:

(إِنَّ اللهَ لَا يَجْمَعُ أُمَّتِي أَوْقَالَ أُمَّةَ مُحَمَّدٍ ﷺ عَلَى ضَلَالَةٍ وَيَدُاللهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ وَمَنْ شَذَّ شُذَّ فِي النَّارِ)[1].

ژباړه- يقيناً الله تعالی زما امت يا يې داسي ويلي: د محمد ﷺ امت پر گمراهی نه را ټولوي او د الله تعالی حفظ او نصرت د مسلمانانو د لوی جماعت سره دی که چيري يو کس د مسلمانانو له لوی جماعت څخه جلا سي نو به يوازي په دوزخ کي واچول سي.

همدا شان نبي ﷺ فرمايلي دي: (إِتَّبِعُوا السَّوَادَ الْأَعْظَمَ فَإِنَّهُ مَنْ شَذَّ شُذَّ فِي النَّارِ)[2].

ژباړه- تاسو د مسلمانانو د لوی جماعت پيروي وکړئ ځکه چي کوم کس چي د مسلمانانو له لوی جماعت څخه جلا سي نو به يوازي په دوزخ کي واچول سي.

دا يو خصوصيت دی چي الله تعالی دغه مرحومه امت ته ورکړی دی چي پر هر شي دوی اتفاق وکړي هغه به د حق څخه وتلی نه وي، نو مسلمانان بايد په هغه لاره باندي ولاړ سي چي د امت اکثره علماء ورباندي تللي دي او له هغو باطلو

---

[1] رواه الترمذي- مشکوة اول جلد (۳۰) مخ.

[2] رواه ابن ماجه- مشکوة اول جلد (۳۰) مخ.

ډلو څخه خپل ځانونه ليري وساتي چي د مسلمانانو د لوی جماعت (اهل السنة والجماعة) څخه وتلي دي او د خپلو نفسي خواهشاتو تابع ګرځېدلي دي لکه معتزله ډله چي دوی قرآن کريم چي د الله تعالی کلام دی مخلوق (حادث) بولي، او لکه د اوس وخت تش په نامه سلفيان او اهل حديث چي يوازي خپل ځانونه مسلمانان بولي نور ټول مذهبي خلګ مشرکين بولي دا د هغو باطلو ډلو څخه دی چي نبيﷺ يې لا د پخوا څخه پيش ګويي کړې ده او دوی د مسلمانانو د لوی جماعت (اهل السنة والجماعة) څخه وتلي دي نو به دوی د نبيﷺ په فيصله همدغه سي يوازي په دوزخ کي اچول کېږي. د باطلو ډلو په اړوند معلومات به انشاءالله تعالی د کتاب په آخر کي راسي. د دې عقيدې د نورو اجزاؤ تفصيل په (۳۳) عقيده کي وګورئ.

## مسلمان يوازي په ګناه کولو سره نه کافر کېږي

**۵۷ :– وَلَانُكَفِّرُ اَحَدًا مِنْ اَهْلِ الْقِبْلَةِ بِذَنْبٍ مَالَمْ يَسْتَحِلَّهُ.**

ژباړه– موږ د (اهل القبلة) څخه هيڅوک يعني هيڅ يو مسلمان د ګناه په سبب کافر نه ګڼو ترڅو چي هغه ګناه يې حلاله نه وي بللې.

**شرح**– دا يوه اتفاقي خبره ده چي بعضي داسي ګناهونه سته چي هغه شارع د تکذيب علامې ګرځولي دي لکه بت ته سجده کول او قرآن کريم په مرداريو کي اچول او د کفر په کلماتو سره تلفظ کول او دې ته ورته نور کارونه چي په شرعي دلائلو سره کفر بلل سوي وي که چيري يو کس له دغسي کارونو څخه يو کار وکړي نو د شريعت له مخي دغه کس کافر بلل کېږي، اما له دغسي ګناهونو څخه ماسېوا ی په نورو ګناهونو سره نه مسلمان له ايمان څخه وزي او نه په کفر

کي داخلېږي ترڅو چي ګناه يې حلاله نه وي بللې.

(**دلائل**) ۱:- ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ كُتِبَ عَلَيۡكُمُ ٱلۡقِصَاصُ فِي ٱلۡقَتۡلَىۖ﴾.[البقرة: ۱۷۸].

ژباړه: ای هغو کسانو! چي ايمان يې راوړی دی په تاسو باندي د وژل سوو له کبله قصاص فرض کړی سوی دی.

په دې آيت کي په قاتل باندي قصاص فرض کړی سوی دی ښکاره خبره ده چي په قصد سره د يو نفس وژل کبيره ګناه ده خو بيا هم د مؤمن اطلاق ورباندي سوی دی.

۲:- ﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ تُوبُوٓاْ إِلَى ٱللَّهِ تَوۡبَةٗ نَّصُوحًاۖ﴾.[التحريم: ۸].

ژباړه: ای هغو کسانو! چي ايمان يې راوړی دی توبه وباسي تاسي الله تعالی ته توبه خالصه ربښتيا د زړه له کومي.

په دې آيت کي له خلګو څخه د توبې طلب سوی دی توبه خو د کبيره ګناهونو له کولو څخه وي خو د دې سره سره الله تعالی د مؤمنانو اطلاق ورباندي کړی دی.

۳:- ﴿وَإِن طَآئِفَتَانِ مِنَ ٱلۡمُؤۡمِنِينَ ٱقۡتَتَلُواْ فَأَصۡلِحُواْ بَيۡنَهُمَاۖ﴾.[الحجرات: ۹].

ژباړه: که چيري دوه ډلي د مؤمنانو (پخپلو منځونو کي) سره په جنګ او جګړه کي ولوېږي پس روغه او صلح وکړئ په منځ د هغو دواړو کي.

په دې آيت کي هم الله تعالی (قاتلين) مؤمنين بللي دي. نور هم داسي آيتونه او حديثونه ډېر دي چي په هغو کي په ګنهکاره بنده باندي د مؤمن اطلاق سوی دی نو دا خبره ثابته سوه چي ګنهکاره مسلمان د ايمان خاوند دی.

۴:- د نبي ﷺ د زماني څخه بيا تر نن ورځي پوري په دې خبره باندي اجماع

ده چي کوم مسلمان کبيره ګناهونه کړي وي او بېله توبې مړ سي نو به ده ته د جنازې لمونځ ورکول کېږي او دعاء به ورته کېږي او د ده لپاره به د الله تعالی څخه بخښنه غوښتل کېږي دا خبره هم اتفاقي ده چي د جنازې لمونځ همدا شان، دعا او استغفار يوازي مسلمان ته جائز دی کافر ته نه دي جائز[۱].

اما که چيري يو کس ګناه حلاله وبولي نو دغه کس ځکه کافر دی چي د ده په دغه کار کي د شارع تکذيب دی چي دا د ايمان (تصديق) سره ټکر لري نو چي کله تکذيب راسي ايمان به نه وي[۲].

## ګنهکاره مسلمان د معتزله ډلي په آند

معتزله ډله وايي چي کوم مسلمان کبيره ګناه وکړي نه مؤمن او نه کافر دی نو د دوی په آند د کفر او ايمان په منځ کي واسطه سته مؤمن خو ځکه نه دی چي الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ أَفَمَنْ كَانَ مُؤْمِنًا كَمَنْ كَانَ فَاسِقًا ۚ لَا يَسْتَوُونَ ﴾. [السجدة: ۱۸].

ژباړه: آيا نو هغه څوک چي مؤمن وي د هغه چا غوندي دی چي فاسق وي دا دواړه ډلي نه دي سره برابري.

په دې آيت کي الله تعالی مؤمن د فاسق مقابل ګرځولی دی نو فاسق مؤمن نه دی فاسق خو هغه څوک دی چي کبيره ګناه وکړي. همدا ن شان نبي ﷺ فرمايلي دي:

(لَا يَزْنِي الزَّانِيْ وَهُوَ مُؤْمِنٌ). يعني- زانی به زنا ونه کړي په داسي حال کي چي دی مؤمن وي.

---

[۱] شرح العقائد (۸۳- ۸۴) مخونه.

[۲] شرح العقائد (۸۷) مخ.

په دې حديث شريف کي له زانی څخه ايمان نفي سوی دی. دغسي حديثونه نور هم سته چي په هغو کي له فاسق څخه ايمان نفي سوی دی. او کافر بيا ځکه نه دی چي د نبي ﷺ له زمانې څخه تر نن ورځي پوري امت دغسي کس نه وژني د مرتد نور احکام نه ورباندي جاري کوي او د مسلمانانو په مقبره کي يې دفن کوي.

جواب: په ذکر سوي آيت کي له فاسق څخه مراد کافر دی ځکه چي کفر لوی فسق دی د آيت له سياق څخه دا ښکاره معلومېږي، او ذکر سوی حديث او دغسي نور حديثونه له ګناهونو څخه د زجر او تهديد په طريقه راغلي دي، يا له ايمان څخه کامل ايمان مراد دی نو په ذکر سوي حديث کي د زانی څخه مطلق ايمان نه دی نفي سوی بلکي کامل ايمان ځني نفي سوی دی دا تاويلات موږ د هغو آيتونو او حديثونو له کبله کوو چي له هغو څخه په ښکاره ډول دا ثابتېږي چي فاسق مؤمن دی دغسي يو څو آيتونه موږ د مخه وليکل، داسي حديثونه هم ډېر دي چي کوم کس د توحيد کلمه و وايي او پر دغه توحيد مړ سي نو به جنت ته داخل سي که څه هم فاسق وي[1].

البته فاسق چي جنت ته داخلېږي دا به د الله تعالی فضل وي الله تعالی به پخپل فضل او کرم سره ګناهونه ور معاف کړي يا به د نبي ﷺ په شفاعت جنت ته داخل سي يا به د ګناه په اندازه د عذاب تر تېرولو وروسته داخل سي خو په هر صورت دا خبره ثابته ده چي فاسق جنت ته داخلېږي دا خبره هم اتفاقي ده چي جنت ته يوازي مؤمن داخلېږي پر کافر باندي جنت حرام دی اوس نو دا خبره نوره هم روښانه سوه چي فاسق مؤمن دی[2].

---

[1] وګورئ مشکوة المصابيح اول جلد (۱۴) مخ.

[2] د جواب ډېره برخه له شرح العقائد (۸۴) مخ څخه را اخيستل سوې ده.

# ګنهکاره مؤمن د خوارجو له نظره

خوارج دا ګمان کوي چي کوم مؤمن ګناه وکړي نو هغه کافر دی د دوی په آند د کفر او ایمان په منځ کي واسطه نسته لکه څنګه چي معتزله وايي د خوارجو او معتزلهؤ د دغي فاسدي عقيدې منشأ او سبب دا دی چي دوی عمل د ایمان لپاره شرط یا جزء بولي نو له همدغي وجهي د عمل په پرېښودلو سره مؤمن له ایمان څخه وتلی یا یې کافر بولي اما د اهل سنت والجماعت په نزد عمل د ایمان لپاره کمال دی نو له همدغي وجهې څخه مؤمن د عمل په پرېښودلو سره نه کافر کېږي بلکي د ایمان کمال یې ځي. د ایمان په اړوند بحث لږ وروسته راځي انتظار وکړئ.

د خوارجو استدلال له هغو نصوصو څخه دی چي له هغو څخه ظاهراً دا معلومېږي چي فاسق کافر دی دغسي نصوص خو ډېر دي خو دلته یې تاسو صرف دوه وګورئ:

۱:- الله تعالی فرمایلي دي: ﴿ وَمَنۡ لَّمۡ یَحۡكُمۡ بِمَاۤ اَنۡزَلَ اللّٰهُ فَاُولٰٓئِكَ هُمُ الۡكٰفِرُوۡنَ۝ ﴾. [المائدة: ۴۴].

ژباړه: او هر څوک چي په هغه څه باندي فیصله ونه کړي چي الله تعالی نازل کړی دی نو دغه کسان همدوی کافران دي.

په کتاب الله فیصله نه کول یوه ګناه ده خو د دې سره سره الله تعالی په دې آیت کي هغه کسان کافران بللي دي چي په ما انزل الله فیصله ونه کړي.

۲:- نبي ﷺ فرمایلي دي: (مَنْ تَرَكَ الصَّلَاةَ مُتَعَمِّدًا فَقَدْ كَفَرَ).

یعني- هغه څوک چي قصداً لمونځ پرېږدي نو یقیناً دغه کس کافر دی.

په دې حديث شريف كي نبيﷺ هغه كس چي قصداً لمونځ پرېږدي كافر بللى دى حال دا چي په قصد سره د لمانځه پرېښودل كبيره ګناه ده كوم كس چي دغسي ګناه كوي هغه فاسق دى.

جواب: تاسو لږ دمخه هغه نصوص ولوستل چي له هغو څخه په ښكاره او قطعي ډول دا معلومېږي چي فاسق مؤمن دى او دا مو هم ولوستل چي پر دغه خبره د امت اجماع هم ده نو له همدغي وجهي څخه هغه نصوص چي خوارج يې په استدلال كي راوړي په خپل ظاهر باندي نه دى پاته بلكي تاويل يې كېږي د مثال په ډول د ذكر سوي آيت په اړوند علماء كرامو څو اقوال ذكر كړي دي:

١:- له آيت څخه مراد دا دى: هغه څوك چي په ما انزل الله باندي تصديق ونه كړي نو هغه كافر دى.

٢:- له آيت څخه مراد دا دى: هغه څوك چي په ما انزل الله باندي د استهانت او استخفاف په طريقه حكم ونه كړي نو هغه كافر دى.

٣:- دا آيت د يهودانو په باره كي نازل سوى دى او په ما انزل الله سره مراد تورات دى يهودانو خو داسي كول چي د تورات څخه به يې د الله تعالى حكم ايسته كړ او پر ځاى به يې له خپله ځانه جوړ سوى حكم مقرر كړ نو دا خو بېله شكه كفر دى.

او د ذكر سوي حديث په باره كي هم علماء كرامو څو اقوال ذكر كړي دي:

١:- د حديث شريف مطلب دا دى: هغه څوك چي لمونځ قصداً د استهانت او استخفاف په طريقه پرېږدي نو هغه كافر دى.

٢:- د لمانځه په ترک سره مراد د لمانځه له فرضيت څخه انكار دى نو مطلب دا دى چي كوم كس د لمانځه له فرضيت څخه انكار وكړي نو هغه كافر دى.

٣:- په حديث كي د كَفَرَ كلمه د قارب الكفر په معنا ده نو مطلب دا دى: هغه

څوک چې قصداً لمونځ پرېږدي نو هغه کفر ته نژدې سو.

۴: – په کفر سره کفران النعمة (ناشکري) مراد ده نو مطلب دا دی هغه څوک چې قصداً لمونځ پرېږدي نو يقيناً هغه ناشکري وکړه. همدغه تاويلات د ټولو هغو نصوصو دي چې د دغه حديث شريف په ډول راغلي دي[1].

# ګنهکاره کس ته ګناهونه لوی ضرر لري

**۵۸: –** وَلَانَقُوْلُ لَا يَضُرُّ مَعَ الْإِيْمَانِ ذَنْبٌ لِمَنْ عَمِلَهُ.

ژباړه: موږ داسي نه وايو چي د ايمان سره ګناه هغه کس ته تاوان نه لري چي دغه ګناه يې کړې ده.

**شرح**– يعني موږ داسي نه وايو چي ګنهکاره کس ته ګناه تاوان نه لري لکه څنګه چي مرجئه ډله وايي بلکي ګنهګاره کس ته ګناه لوی تاوان لري د ګناهونو په وجه يې د ايمان کمال ځي او د هغه عذاب مستحق ګرځي چي الله تعالی يې پخپل کتاب کي بيان کړی دی او يا رسول ﷺ په هغه سره خبر ورکړی دی. امام طحاوي رحمه الله په دې عقيده سره په مرجئه ډلي باندي رد کړی دی او په مخکنی عقيده سره يې پر معتزله ؤ او خوارجو باندي رد کړی دی مرجئه ډله دا ګمان کوي چي د نجات لپاره يوازي ايمان بس دی تر ايمان راوړلو وروسته ښه اعمالو ته هيڅ ضرورت نسته او بد عملونه هيڅ ضرر نه لري او نه عذاب وربانديږ ورکول کيږي.

امام طحاوي رحمه الله د دوی دغه فاسده عقيده په ښکاره ډول ور رد کړه، له دې عقيدې او مخکنی عقيدې څخه مطلب دا دی چي موږ اهل السنة والجماعة نه

---

[1] شرح العقائد مع الحواشي (۸۵) مخ.

يو مؤمن يو ازي په ګناه سره کافر ګڼو لکه څنګه چي خوارج وايي او نه داسي وايو چي مؤمن ته ګناه هيڅ ضرر نه لري لکه څنګه چي مرجئه وايي بلکي زموږ مسلک د دوی په منځ کي دی ګنهکاره کس د ايمان په وجه مؤمن بولو او د ګناه په وجه يې فاسق بولو ګناهونه د ده لپاره لوی تاوان بولو او په آخرت کي يې د الله تعالی تر مشيئة او ارادې لاندي بولو که د الله تعالی اراده د بخښني وه نو د فضل له مخي به بخښنه ورته وکړي که نه نو د عدل له مخي به د ګناه په اندازه عذاب ورکړي او د مؤمن لپاره ښه اعمال ضروري او د ايمان لپاره يې کمال بولو.

**دلائل**:

۱:- هر ځای چي په قرآن کريم کي ايمان ذکر سوی دی هلته صالح عمل هم ورسره ذکر دی هر ځای چي تر ايمان وروسته په جنت او رحمت سره زېری ورکول سوی دی هلته نېک عملونه هم ذکر دي نو له دغسي آيتونو څخه دا ښکاره معلومېږي چي ښه اعمال ضروري او ګټمن دي له دغسي آيتونو څخه د مثال په ډول يو آيت وګورئ:

﴿إِنَّ الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ لَهُمْ جَنَّاتٌ تَجْرِي مِن تَحْتِهَا الْأَنْهَارُ﴾.

[البروج: ۱۱].

ژباړه: يقيناً هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی او نېک عملونه يې کړي دي نو دوی ته داسي جنتونه دي چي لاندي ترې (څلور) ويالې بهېږي.

۲:- الله تعالی د (العصر) په سورت کي جنس انسان په زيان او تاوان کي بللی دی مګر هغه کسان چي ايمان يې راوړی دی او نېک عملونه يې کړي دي او چي يو تر بله يې په حق سره توصيه کړې ده او هم يې په صبر کولو سره يو تر بله توصيه کړې ده له دې څخه دا ښکاره معلومېږي چي کوم کس چي نېک

عملونه يې نه وي کړي ګنهکاره وي نو هغه په زيان او تاوان کښې دی.

۳:- الله تعالیٰ په ډېرو آيتونو کي له بدو کارونو څخه منع کړې ده حرام يې بللي دي او د دغسي کارونو پر کولو يې عذاب مرتب کړی دی که چيري بد کارونه تاواني نه وای نو به الله تعالیٰ منع نه وای ځني کړې او ګنهکاره کس به يې د عذاب مستحق نه وای بللی. نو د مرجئه ډلي عقيده بېله شکه يو لوی حماقت او جهالت دی.

## آيا احناف مرجئه دي

**سوال**:- بعضي کسانو په امام المسلمين ابو حنيفه رحمة الله عليه او د حنفي مذهب په نورو امامانو او مشائخو باندي د ارجاء طعن ويلی دی دليل يې دا ويلی دی چي په معتمدو کتابونو کي پر دوی باندي د ارجاء اطلاق سوی دی حتی شيخ عبدالقادر الجيلاني رحمة الله عليه په (غنية الطالبين) کي احناف له مرجئه ډلي څخه شمېرلي دي په دې باره کي ستاسو معلومات څه دي؟[1]

**جواب**: ارجاء په دوه قسمه ده اول قسم ارجاء دا ده چي عمل ضروري وبلل سي لېکن د ايمان جزء ونه بلل سي. ارجاء وروسته کولو ته ويل کېږي دا چي عمل د ايمان جزء ونه بلل سي دا هم يو قسم وروسته کول دی.

دوهم:- قسم ارجاء بيا دا ده چي عمل دومره وروسته کړل سي چي بېخي ضروري ونه ګڼل سي يوازي ايمان د نجات لپاره کافي وبلل سي او د ګنهکاره کس لپاره ګناهونه تاواني ونه بلل سي لکه څنګه چي يې لږ دمخه تفصيل تېر سو.

نو په کومو معتمدو کتابونو کي چي په احنافو باندي د ارجاء اطلاق سوی

---

[1] الرفع والتکميل فی الجرح والتعديل (۳۵۲) او (۳۷۴) مخونه.

دی هغه اول قسم ارجاء ده چي سني ارجاء ورته ویل کېږي دغه ارجاء د کتاب او سنت سره بالکل برابره ده جمهور صحابه کرام او د اهل السنة والجماعة اکثره علماء په همدغه عقیده دي نور تفصیل به لې وروسته راسي په احنافو باندي دغه ارجاء یوازي د هغو کسانو له خوا طعن بلل کېږي چي دوی عمل د ایمان جزء بولي او په ایمان کي د زیادت او نقصان قائل دي خو دا په حقیقت کي طعن نه بلکي حق دی.

علامه تفتازاني رحمه الله ویلي دي: د معتزله ډلي مشهور مذهب دا دی چي کوم کس کبیره ګناه وکړي او بېله توبې مړ سي نو دی همېشه په دوزخ کي دی که څه هم سل کاله په ایمان او طاعت باندي تېر کړي. د دغسي ګنهکاره په باره کي قطعي فیصله نه کول او د ده امر د الله تعالی تر مشیئت او ارادې لاندي بلل لکه څنګه چي اهل الحق وایي د دوی په آند ارجاء ده نو په همدغه اعتبار امام ابوحنیفه رحمه الله او نور فقهاء مرجئه بلل سوي دي[1].

لنډه دا چي په اهل سنت والجماعت باندي د معتزله ډلي لخوا او د نورو هغو کسانو لخوا چي عمل د ایمان جزء بولي ذکر سوي ارجاء طعن او جرح بلل کېږي خو دا په حقیقت کي طعن نه بلکي حق دی. اما دوهم قسم ارجاء چي هغه ضلالت دی له دې څخه خو امام ابوحنیفه رحمه الله او د مذهب ټوله فقهاء حتّی ټوله اهل سنت والجماعت پناه غواړي او غندي يې د دې خبري لوی شاهد همدغه ذکر سوې عقیده ده چي امام طحاوي له امام ابوحنیفه، امام ابو یوسف او امام محمد رحمهم الله څخه رانقل کړې ده د امام ابو حنیفه رحمه الله کتابونه لکه (الفقه الاکبر) او (کتاب الوصیة) همدا شان د حنفي مذهب نور کتابونه په ښکاره ډول دا شاهدي ورکوي چي د مرجئه ډلي مذهب باطل دی، د عثمان

[1] شرح المقاصد دوهم جلد (۲۳۸) مخ.

البتي رحمه الله څخه نقل راغلی دی چي ده امام ابو حنیفه رحمه الله ته داسي ولیکل: (أَنْتُمْ مُرْجِئَةٌ) یعني تاسو مرجئه یاست، امام ابو حنیفه رحمه الله داسي جواب ورکړ، مرجئه په دوه قسمه دی.

(مُرْجِئَةٌ مَلْعُوْنَةٌ وَأَنَابَرِئٌ مِنْهُمْ وَمُرْجِئَةٌ مَرْحُوْمَةٌ وَأَنَا مِنْهُمْ آه).

یعني- یو قسم ملعونه مرجئه دي خو زه له هغو څخه بېزاره یم او بل قسم مرحومه مرجئه دي زه له هغو څخه یم.

اوس نو د (غنیة الطالبین) عبارت ته یوه توجیه ضروي ده ځکه چي تاسو ولوستل چي احناف مرجئه نه دي او کومه ارجاء چي هغه ضلالت دی احناف یې په کلکه غندي او بل طرفته پخپله شیخ عبدالقادر الجیلاني رحمه الله په (غنیة الطالبین) کي د څو اختلافي مسئلو په بیان کي د امام ابو حنیفه رحمه الله قول د نورو امامانو د اقوالو سره یو ځای راوړی دی او دی یې د امام په نوم ذکر کړی دی[1].

که چیري امام ابو حنیفه رحمه الله د شیخ عبدالقادر الجیلاني رحمه الله په آند له مرجئه ډلي څخه وای نو د ده قول به یې په شرعي امورو کي د نورو امامانو د اقوالو سره نه وای ذکر کړی او دی به یې د امام په نوم نه وای یاد کړی، مولانا عبدالحی لکنوي رحمه الله د دغه عبارت د جواب لپاره د علماء کرامو څو اقوال را نقل کړي دي خو هغه یې بیرته ضعیف ګرځولي دي د بحث په آخر کي یې یو داسي قول را نقل کړی دی چي هغه د ده په نزد مختاره ښکاري هغه دا دی چي په (غنیة) کي د احنافو څخه مراد هغه کسان دي چي یوازي په فروعي احکامو کي د امام ابو حنیفه رحمه الله مقلدین دي اما په اصولو (عقائدو) کي مرجئه دي د

---

[1] وګورئ (غنیة الطالبین) دوهم جلد (۸۷) او (۹۶) مخونه.

اغسانیه ډله ده د دغي ډلي مشر غسان الكوفي به خلكو ته خپل خبيث مذهب ويلی او امام ابوحنيفه رحمه الله ته به يې د دغه خبيث مذهب نسبت د دې لپاره کاوه چې رواج پيدا کړي.

د لازياتو معلوماتو لپاره وګورئ (الرفع والتكميل فى الجرح والتعديل). (۳۵۲) الى (۳۸۸).

مولانا عبدالحى لكنوي رحمه الله په دغو صفحو کي د ذکر سوي موضوع په اړوند ډېر تفصيلي بحث کړی دی موږ صرف يو څو ټکي ځني را واخيستل[1].

## د يو معلوم شخص په باره کي موږ له خپله ځانه د جنتي فيصله نه کوو

**۵۹:** - نَرْجُوْ لِلْمُحْسِنِيْنَ مِنَ الْمُؤْمِنِيْنَ اَنْ يَعْفُوَ عَنْهُمْ وَيُدْخِلَهُمُ الْجَنَّةَ بِرَحْمَتِهٖ وَلَانَأْمَنُ عَلَيْهِمْ وَلَا نَشْهَدُ لَهُمْ بِالْجَنَّةِ وَنَسْتَغْفِرُ لِمُسِيْئِهِمْ وَنَخَافُ عَلَيْهِمْ وَلَا نُقَنِّطُهُمْ.

ژباړه- موږ د نېکانو مؤمنانو په باره کي دا اميد لرو چي الله تعالى به دوی ته عفوه وکړي او پخپل فضل او رحمت سره به يې جنت ته داخل کړي او د دوی په باره کي د الله تعالى د عذاب څخه مطمئن نه يو د څو معلومو نېکانو لپاره له خپله ځانه څخه د جنت شاهدي نه ورکوو د ګنهکاره مسلمانانو لپاره د الله

[1] همدا شان وګورئ، (تأنيب الخطيب)، للامام الكوثري رحمه الله (۴۴- ۴۵) مخونه، او شرح الفقه الاكبر (۱۱۹) مخ.

تعالی څخه مغفرت غواړو او د دوی په باره کي د الله تعالی له عذاب څخه وېرېږو خو د الله تعالی له رحمت څخه یې نا امیده نه ګرځو.

**شرح**- یعني موږ د نېکانو مسلمانو په باره کي دا امید لرو چي الله تعالی به ګناهونه ور معاف کړي پخپل فضل او رحمت سره به یې جنت ته داخل کړي ځکه چي الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّ ٱلۡحَسَنَٰتِ يُذۡهِبۡنَ ٱلسَّيِّـَٔاتِۚ﴾. [هود: ۱۱۴].

ژباړه: یقیناً نېک کارونه واړه ګناهونه رژوي.

خو بیا هم د دوی په باره کي د دوی پر ګناهونو باندي د الله تعالی له عذاب څخه مطمئن نه یو ځکه چي ګنهګاره بنده د الله تعالی تر مشیئت او ارادې لاندي دی که چیري د ده په باره کي د الله تعالی د بخښني اراده وه بخښنه به ورته وکړي که نه نو د ګناه په اندازه به عذاب ورکړي ځکه چي الله تعالی داسي فرمایلي دي:

﴿وَيَغۡفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَن يَشَآءُۚ﴾. [النساء: ۴۸].

ژباړه: او بخښي هغه ګناه چي ښکته وي له شرکه هغه چاته چي اراده وفرمایي د مغفرت یې.

همدا شان الله تعالی فرمایلي: ﴿فَيَغۡفِرُ لِمَن يَشَآءُ وَيُعَذِّبُ مَن يَشَآءُۗ﴾.

[البقرة: ۲۸۴].

ژباړه: نو هغه چاته به ښښنه وکړي چي اراده یې ورته وشي او هغه څوک به معذب کړي چي اراده یې ورته وشي.

د امام طحاوي رحمه الله له دې عبارت (ولانشهدلهم بالجنة) څخه مراد دا دی چي موږ له خپله ځانه څخه د څو خاصو معلومو نېکانو لپاره د جنت شاهدي نه

ورکوو اما هغه کسان چي د هغو په باره کي نبيﷺ د جنت شاهدي ورکړې ده موږ هم د هغو لپاره د جنت شاهدي ورکوو او کوم کس چي نبيﷺ دوزخي بللی دی موږ هم هغه دوزخي بولو همدا شان د عامو مسلمانانو په باره کي دا شاهدي ورکوو چي دوی په جنت کښې دي او د کافرانو په باره کي دا شاهدي ورکوو چي دوی په دوزخ کښې دي همدغه عقيده د آيتونو او صحيح حديثونو څخه په ښکاره ډول معلومېږي، د امام طحاوي رحمه الله له دې عبارت (ونستغفر لمسيئهم) څخه مطلب دا دی چي موږ د ګنهګاره مسلمانانو لپاره له الله تعالی څخه د دوی د ګناهونو بخښنه غواړو ځکه چي همدغه د انبياؤ عليهم السلام سنت دی الله تعالی له ابراهيم عليه السلام څخه داسي حکايت کړی دی.

﴿ رَبَّنَا اغْفِرْ لِي وَلِوَالِدَيَّ وَلِلْمُؤْمِنِينَ يَوْمَ يَقُومُ الْحِسَابُ ﴾. [ابراهيم: ۴۱].

ژباړه: ای زموږ ربه! ماته او زما مور او پلار ته او ټولو مؤمنانو ته په داسي ورځ کي مغفرت وکړې چي حساب ودرېږي (پيل شي).

او الله تعالی هغه کسان ستايلي دي چي د خپلو مؤمنانو وروڼو لپاره مغفرت غواړي داسي يې فرمايلي دي:

﴿ وَالَّذِينَ جَاءُوا مِنْ بَعْدِهِمْ يَقُولُونَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِإِخْوَانِنَا الَّذِينَ سَبَقُونَا بِالْإِيمَانِ ﴾. [الحشر: ۱۰].

ژباړه: او همدا رنګه د فئ مالونه د هغو فقيرانو دپاره دي کوم چي د اولنيو مهاجرينو او انصارو څخه وروسته راغلی وي حال دا چي دوی وايي ای زموږ ربه! موږ ته مغفرت وکړې او زموږ هغو ديني وروڼو ته هم کوم چي زموږ څخه په ايمان راوړلو سره مخکښې دي.

نو د مسلمان بايد همدغه طريقه وي د خپل ځان لپاره او د نورو مسلمانانو

ورونو لپاره باید له الله تعالی څخه مغفرت وغواړي. د امام طحاوي رحمه الله دا قول (ولانأمن علیهم) په مرجئه ډلي باندي رد دی چي دوی وايي د ایمان سره ګناه تاوان نه لري او دا قول (ولا نقنطهم) په خوارجو باندي رد دی چي دوی وايي د ګنهکاره مسلمانانو لپاره د الله تعالی د رحمت امید نسته او نه جنت ته داخلیږي د دې رد تفصیل په (۵۸) او (۵۷) عقیده کي وګورئ.

## ایمان د خوف او رجاء په منځ کي دی

**۶۰:- وَالْأَمْنُ وَالْإِيَاسُ يَنْقُلَانِ عَنْ مِلَّةِ الْإِسْلَامِ وَسَبِيْلُ الْحَقِّ بَيْنَهُمَا لِأَهْلِ الْقِبْلَةِ.**

ژباړه- د الله تعالی له عذاب څخه بې پروایي او د الله تعالی له رحمت څخه ناامیدي انسان د اسلام له دین څخه باسي او د اهل القبلة لپاره د حق لاره د همدغو دوو (امن او ایاس) په منځ کي ده.

**شرح**- په دې عبارت کي درې عقیدې ذکر سوي دي:

**اوله عقیده**:- د الله تعالی له عذاب څخه ځان په کامل امن کي ګڼل کفر دی لکه څنګه چي الله تعالی فرمایلي دي:

﴿أَفَأَمِنُوا مَكْرَ اللهِ فَلَا يَأْمَنُ مَكْرَ اللهِ إِلَّا الْقَوْمُ الْخٰسِرُوْنَ﴾.[الاعراف: ۹۹].

ژباړه: آیا نو دوی له الله تعالی د ناڅاپه نیولو څخه په امن کي دي نو د الله تعالی له ناڅاپه نیولو څخه نه په امن کي کېږي مګر زیان کار قوم.

**دوهمه عقیده**:- د الله تعالی له رحمت څخه ناامیدي هم کفر دی، لکه څنګه چي الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّهُۥ لَا يَاْيْـَٔسُ مِن رَّوْحِ ٱللَّهِ إِلَّا ٱلْقَوْمُ ٱلْكَٰفِرُونَ﴾. [يوسف: ٨٧].

ژباړه: يقيناً شان دا دی چې د الله تعالى له رحمت څخه نه نااميده کېږي مگر کافر قوم.

**دريمه عقيده:** – مستقيمه او برابره لاره د خوف او رجاء په منځ کي ده مؤمن به له الله تعالى د عذاب څخه په داسي مرتبه کي وېرېدونکي نه وي چي د الله تعالى له رحمت څخه يې نااميده وگرځوي او نه به د الله تعالى رحمت ته دومره اميد لرونکي وي چي د الله تعالى له عذاب څخه يې په امن کي وگرځوي بلکي مؤمن به د الله تعالى له عذاب څخه وېرېږي او هم به د الله تعالى رحمت ته اميد لري يعني خوف او رجاء به يې دواړه سره برابر وي الله تعالى په مؤمنانو باندي په خوف او رجاء سره ثناء ويلې ده نو خوف او رجاء دواړه له دين د مقاماتو څخه دي. الله تعالى داسي فرمايلي دي:

﴿أَمَّنْ هُوَ قَٰنِتٌ ءَانَآءَ ٱلَّيْلِ سَاجِدًا وَقَآئِمًا يَحْذَرُ ٱلْءَاخِرَةَ وَيَرْجُوا۟ رَحْمَةَ رَبِّهِۦ﴾.

[الزمر: ٩].

ژباړه: آيا دغه ذکر سوی کافر بهتر دی او که هغه څوک کوم چي د شپې په برخو کي په داسي حال طاعت کوونکی وي چي سجده کوونکی او درېدونکی (لمونځ کوونکی) وي او په همدغه حال کي د آخرت له عذابه وېرېږي او د خپل رب د رحمت اميد کوي.

همدا شان الله تعالى فرمايلي دي:

﴿يَدْعُونَ رَبَّهُمْ خَوْفًا وَطَمَعًا﴾. [السجدة: ١٦].

ژباړه: دوی (مؤمنان) خپل رب د الله تعالى د قهر د وېري او د ده د رحمت د اميد له جهته بولي.

# مسلمان په کوم شي سره کافر کېږي

۶۱: – وَلَا يَخْرُجُ الْعَبْدُ مِنَ الْإِيمَانِ إِلَّا بِجُحُودِ مَا أَدْخَلَهُ فِيهِ.

ژباړه: مسلمان بنده له ايمان څخه نه خارجېږي (نه مرتد کېږي) مګر د هغه شي په انکار سره چې هغه دی په ايمان کي داخل کړی وو.

**شرح**– مطلب دا دی چي کوم کس د زړه له کومي څخه دوې کلمې د شهادت و وايي نو هغه مؤمن دی يوازي د ګناه په کولو سره نه کافر کېږي البته که يې چيري له يو داسي شي څخه انکار وکړي چي هغه په ايمان کي داخل کړی وو نو بيا کافر کېږي مؤمن خو د توحيد او د نبيﷺ د رسالت د منلو په وجه په ايمان کي داخل سوی دی اوس نو که چيري له توحيد څخه انکار وکړي مشرک ګرځي او که د نبيﷺ له رسالت څخه انکار وکړي هم کافر کېږي. په دې عقيده سره په معتزله ډلي او خوارجو باندي رد دی چي دوی د کبيره ګناه په کولو سره مؤمن له ايمان څخه وتلی بولي او دا عقيده د (۵۷) عقيدې لپاره تاکيد دی تفصيل يې هلته وګورئ.

# سوال او جواب

**سوال**: له ذکر سوي عبارت څخه دا معلومېږي چي تکفير (په يو چا باندي په کفر سره حکم کول) پر جحود (انکار) باندي حصر دی حال دا چي دا حصر صحيح نه دی ځکه چي د کفر په کلمه سره هم سړی کافر کېږي که څه هم انکار نه وي د مثال په ډول يو کس په نبيﷺ سره استهزاء وکړي نو دا کس کافر دی که څه هم د نبيﷺ رسالت مني همدا شان که چيري يو کس له الله تعالی څخه

ماسپوٰی د بل چا په نوم ذبح وکړي نو دا کس هم کافر دی که څه هم منکر نه وي خلاصه دا چي کفر لکه څنګه چي په جحود سره راځي همدا شان په قول او فعل سره هم راځي نو تکفير يوازي پر جحود باندي حصر بلل صحيح نه دی، دا سوال عبدالرحمٰن بن ناصر البراک په شرح العقيدة الطحاوية (۲۲۵) مخ کي کړی دی.

**جواب**: په ذکر سوي عبارت کي حصر حقيقي نه بلکي اضافي دی يعني په ذکر سوي عبارت سره د امام طحاوي رحمه الله دا مراد نه دی چي تکفير په جحود باندي حصر دی په بل شي سره تکفير نسته بلکي د ده مراد دا دی چي په جحود (انکار) سره سړی کافر کېږي نه په ګناه سره لکه څنګه چي خوارج وايي د ده دغه مراد له (۵۷) عقيدې څخه ښکاره معلومېږي تاسو يې مطالعه کړئ.

## د ايمان حقيقت څه شی دی

**۶۲: – وَالْإِيْمَانُ هُوَ الْإِقْرَارُ بِاللِّسَانِ وَالتَّصْدِيْقُ بِالْجَنَانِ.**

ژباړه: د ايمان حقيقت په ژبه سره اقرار او په زړه سره تصديق دی.

**شرح**– يعني شرعي ايمان په ژبه سره کلمه طيبه ويل او په زړه سره د نبي ﷺ تصديق دی په ټولو هغو شيانو کي چي له ده څخه تر موږ پوري په قطعي او يقيني ډول را رسېدلي دي.

له تصديق څخه مراد اذعان او باطني انقياد دی ظن (ګمان) او غير اختياري تصديق لکه څنګه چي د کتابيانو سره وو کفايت نه کوي، له دې عقيدې څخه مطلب دا دی چي اعمال د ايمان په حقيقت کي داخل نه دي که چيري يو کس يوازي په اقرار او تصديق باندي بسنه وکړي عمل يې نه وي دا کس هم له

مؤمنانو ځخه شمېرل کېږي همدغه د امام ابوحنيفه رحمه الله او نورو محققينو علماؤ مسلک دی.

البته د فقهاؤ په نزد اقرار د ايمان رکن دی خو د تصديق په شان اصلي رکن نه بلکي زائد رکن دی همدغه وجه ده چي د اکراه او عجز په وخت کي ساقطېږي يعني که يو مسلمان د کفري کلمې په ويلو باندي مجبور کړل سي او يا له اقرار ځخه عاجزه وي د مثال په ډول ګونګی وي يا د اقرار وخت نه کي پيدا نو په دغه وخت کي اقرار رکن نه دی يوازي د زړه تصديق کفايت کوي، او د متکلمينو علماؤ په آند بيا اقرار د اسلامي احکامو د اجراء لپاره شرط دی يعني پخپله د ايمان صحت و رباندي موقوف نه دی لېکن پر يو شخص باندي چي په دنيا کي د اسلام احکام جاري کېږي شرط يې اقرار دی خو دا اقرار به د اعلان په ډول وي ترڅو خلک د ده په اسلام خبر سي د اسلامي احکامو التزام او د دين نوري علامې هم د دغه اعلان په ځای درېږي ترڅو چي ده لره معلوم کفر نه وي، اما په هغه صورت کي چي اقرار د ايمان رکن وبلل سي هلته اعلان ضروري نه دی بلکي په عمر کي يو وار اقرار هم کافي دی که يې څه هم خلګو ته ښکاره نه کړي. ملا علي القاري رحمه الله د دې مسئلې په اړوند داسي ليکلي دي:

(والحق انه ركن عندالمطالبة به وشرط لاجراء الاحكام عند عدم المطالبة[1]).

ژباړه- حق خبره دا ده چي کله له يو کس ځخه د اقرار مطالبه وسي نو په دغه وخت کي اقرار د ايمان رکن دی او که چيري مطالبه نه وه نو بيا د اسلامي احکامو د اجراء لپاره شرط دی[2].

---

[1] مرقاة). اول جلد (۴۸) مخ.

[2] د دې مسئلې د تفصيل لپاره ذکر سوي د مرقاة حواله او شرح العقائد (۹۰) مخ او شرح الفقه الاکبر (۱۴۱) مخ وګورئ.

# اعمال د ایمان په حقیقت کي داخل نه دی

په دې خبره کي شک نسته چي الله تعالٰی بنده ګان په اعمالو امر کړي دي او کول يې ضروري دی د اعمالو په وجه د ایمان ځلا او روښنايي بالا کېږي د عمل پرېښودونکی د عذاب مستحق ګرځي لېکن اعمال د ایمان په حقیقت کي داخل نه دی امام طحاوي رحمة الله عليه په ذکر سوي عقیده کي چي د امام ابو حنیفه رحمة الله عليه او د ده د اصحابو څخه يې رانقل کړې ده همدغه طرفته اشاره کړې ده ځکه چي په دغه عقیده کي د ایمان حقیقت یوازي اقرار او تصدیق بلل سوی دی نو د امام ابو حنیفه رحمة الله عليه او د ده له اصحابو په نزد اعمال د ایمان په حقیقت کي داخل نه دي.

(**دلائل**) ۱:- په کتاب او سنت کي اعمال په ایمان باندي عطف سوی دی ښکاره خبره ده چي معطوف له معطوف علیه څخه جلا شی وي یعني معطوف په معطوف علیه کي داخل نه وي همدغه د عطف په باب کي حقیقت دی، نو نتیجه يې دا سوه چي اعمال په اصل ایمان کي داخل نه دی د مثال په ډول دغه یو آیت وګورئ:

﴿ اِنَّ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا وَعَمِلُوا الصّٰلِحٰتِ لَهُمْ جَنّٰتٌ تَجْرِيْ مِنْ تَحْتِهَا الْاَنْهٰرُ ﴾.[البروج: ۱۱].

تاسو وګورئ په دغه آیت کي ایمان ذکر سوی دی او وروسته بیا نېک عملونه ورباندي عطف سوي دي.

۲:- ایمان د اعمالو د صحت لپاره شرط بلل سوی دی لکه په دې آیت کي:

﴿ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِنَ الصّٰلِحٰتِ وَهُوَ مُؤْمِنٌ فَلَا يَخٰفُ ظُلْمًا وَّلَا هَضْمًا ﴾.[طه: ۱۱۲].

په دې آيت کې (وهو مؤمن) په نحوي لحاظ حال بلل کېږي حال خو د خپل عامل لپاره قيد وي نو حاصل يې همهغه راوزي چې ايمان د اعمالو د صحت لپاره شرط دی يقيني خبره ده چې مشروط په شرط کې داخل نه وي ځکه چې يو شی د خپل ځان لپاره شرط کېدلای نه سي په دې ځای کې مشروط اعمال دي او شرط ايمان دی نو اعمال د ايمان په حقيقت کې داخل نه دی.

۳:- الله تعالی خپل بنده ګان د ايمان په نوم مخاطب کړي دي مؤمنين يې بللي دي او وروسته يې په اعمالو مکلف کړي دي له دې څخه هم په ښکاره ډول دا معلومېږي چې اعمال د ايمان په حقيقت کې داخل نه دی د مثال په ډول يو آيت وګورئ:

﴿ يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ ﴾.[البقرة: ۱۸۳]. الله تعالی په دې آيت کې خپلو بندګانو ته په ايمان سره خطاب کړی دی او وروسته يې په روژه سره مکلف کړی دی.

۴:- هر ځای چې الله تعالی ايمان په قرآن کريم کې ذکر کړی دی هلته يې زړه ته منسوب کړی دی لکه په دې آيت کې:

﴿ اُوْلٰٓئِكَ كَتَبَ فِيْ قُلُوْبِهِمُ الْاِيْمَانَ ﴾.[المجادلة: ۲۲]. له دغسي آيتونو څخه هم په ښکاره ډول دا معلومېږي چې ايمان يوازي تصديق دی اعمال په کې داخل نه دی.

علامه عثماني رحمه الله د دغي مسئلې د اثبات لپاره تر لس ډېر دلائل رانقل کړي دي وګورئ: فتح الملهم، اول جلد (۳۰۴) مخ.

اوس نو د هغو کسانو په باره کې څه وايو چې د امام ابوحنيفه رحمه الله او د ده د اصحابو دا قول چې اعمال د ايمان په حقيقت کې داخل نه دی د کتاب او سنت په خلاف بولي لکه تش په نامه اهل حديث او سلفيان د دوی له ډلې څخه

عبدالرحمٰن بن ناصر البراک هم دی ده د (العقيدة الطحاوية) په شرح (۲۲۷) مخ کې دا خبره په ښکاره ډول کړې ده چې ذکر سوی قول د کتاب او سنت او اجماع په خلاف دی دغسې کسان متعصبين بولي که جاهلان فيصله تاسو وکړئ. د تعجب وړ خبره خو دا ده چې دغه متعصبين کسان احنافو او نورو فقهاوو ته له دې کبله مرجئه وايي چې دوی اعمال د ايمان په حقيقت کې داخل نه بولي[1].

دا چې دوی پر دغو فقهاؤ دغه طعن ولې لګوي او دوی ته زموږ جواب څه دی راسئ له لوی محدث شيخ محمد انور کشميري رحمه‌الله څخه يې واورو:

(وامامنا وان لم يجعل الأعمال جزءا لكنه اهتم بها وحرض عليها وجعلها اسبابا سارية فى نماء الايمان فلم يهدر ها هدر المرجئة الا ان تعبير المحدثين القائلين بجزئية الأعمال لماكان ابعد من المرجئة المنكرين جزئية الأعمال بخلاف تعبير امامنا الاعظم رحمه‌الله فانه كان اقرب اليهم من حيث نفي جزئية الأعمال رمي الحنفية بالارجاء وهذا كما ترى جور علينا فالله المستعان ولوكان الاشتراك بوجه من الوجوه التعبيرية كافيا لنسبة الارجاء الينالزم نسبة الاعتزال اليهم فانهم قائلون بجزئية الأعمال ايضا كالمحدثين ولكن حاشاهم والاعتزال وعفاالله عمن تعصب ونسب الينا الإرجاء فان الدين نصح كله لامراماة ومنابذة بالألقاب ـ ولاحول ولاقوة الابالله العلي العظيم)[2].

---

[1] وګورئ شرح العقيدة الطحاوية لعبدالرحمٰن بن ناصر البراک (۲۲۷) مخ او العقيدة الطحاوية، تعليق ابن باز (۲۲) مخ.

[2] فيض الباري اول جلد (۱۲۹) مخ.

ژباړه: زموږ امام ابوحنيفه رحمه الله که څه هم اعمال د ايمان جزء نه دی ګرځولي لېکن په اعمالو سره يې اهتمام کړی دی او تاکيد يې ورباندي کړی دی او د ايمان په نماء کي يې جاري اسباب ګرځولي دي د مرجئه ډلي په شان يې هدر (ضائع) نه دي ګرځولي لېکن کله چي د هغو محدثينو تعبير چي دوی اعمال د ايمان جزء بولي له مرجئه ډلي څخه چي دوی بيا د اعمالو د جزئية څخه منکر دي ډېر ليري ؤ او زموږ د امام اعظم رحمه الله تعبير بيا داسي نه ؤ ځکه چي هغه دوی ته په دې حيث نژدې ؤ چي دواړه (يعني امام ابوحنيفه او مرجئه) د اعمالو جزئية نفي کوي نو له همدغي وجهي په احنافو باندي په ارجاء سره طعن ويل سوی دی خو دا طعن لکه څنګه چي يې ته وينې پر موږ باندي ظلم دی (فالله المستعان) که چيري له تعبيري وجوهو څخه په يوه وجه کي اشتراک د دې لپاره کافي سي چي موږ ته د ارجاء نسبت وسي نو بيا خو دوی ته د اعتزال نسبت لازمېږي ځکه چي معتزله هم د محدثينو په شان اعمال د ايمان جزء بولي لېکن الله تعالی دي دوی له اعتزال څخه وساتي دوی او اعتزال سره ليري دي او الله تعالی دي هغه چاته عفوه وکړي چي تعصب يې کړی او موږ ته يې د ارجاء نسبت کړی دی ځکه چي دين ټوله نصيحت دی يو په بل باندي طعن ويل او يو بل ته بد القاب او بد نومونه استعمالول دين نه دی. (ولاحول ولاقوة الابالله العلی العظيم) په (۵۸) عقيده کي د ارجاء په اړوند ښه تفصيلي بيان سوی دی تاسو هغه هم مطالعه کړی انشاءالله ښه پوره کفايت به وکړي.

## ايمان د نورو فقهاؤ له نظره

د امام مالک رحمه الله، امام شافعي رحمه الله، امام احمد رحمه الله او نورو محدثينو په نزد بيا ايمان په زړه سره تصديق په ژبه سره اقرار او په ارکانو (اندامونو)

سره عمل دی یعني د دوی په آند ایمان له دغو درو څخه مرکب دی لېکن د اجزاؤ په منځ کي يې دا فرق سته که چیري د یو چا یوازي تصدیق نه وي یعني ظاهري قول او عمل یې وي منافق دی او که یې چیري یوازي اقرار نه وي کفر دی او که یې چیري یوازي عمل نه وي فاسق دی حکم یې دا دی چي په دوزخ کي به همېشه نه وي مطلب دا دی چي دوی عمل د ایمان داسي جزء بولي چي د انتفاء (نېستی) په صورت کي یې ایمان له منځه نه ځي.

## د دغو فقهاؤ دلائل

۱:- په حدیث شریف کي راغلي دي چي کله مسلمانانو بیت المقدس ته لمونځ کاوه نو په هغه وخت کي یعني مخکي تردې چي کعبې ته د مخ ګرځولو امر راسي بعضي مسلمانان وفات سول صحابه کرام فرمايي موږ نه پوهېدلو چي د دغو وفات سوو مسلمانانو په باره کي څه و وایو نو الله تعالی دغه آیت نازل کړ:

﴿وَمَا كَانَ اللّٰهُ لِيُضِيعَ إِيمَانَكُمْ﴾. [البقرة: ۱۴۳]. صحیح البخاري (۴۰).

ژباړه: او نه دی الله تعالی چي ضایع کړي ایمان (لمونځ) ستاسي.

په دې آیت کي د ایمان اطلاق په لمونځ باندي سوی دی نو له دې څخه دا ښکاره معلومېږي چي لمونځ په ایمان کي داخل دی لمونځ خو یو عمل دی.

۲:- امام بخاري رحمه الله پخپل صحیح البخاري کي ډېر بابونه د مختلفو اعمالو په باره کي په داسي ډول راوړي دي چي اعمال په ایمان کي داخل دي د مثال په ډول څو بابونه وګورئ:

(بَابٌ الْجِهَادُ مِنَ الْإِيمَانِ - بَابٌ صَوْمُ رَمَضَانَ احْتِسَابًا مِنَ الْإِيمَانِ) (بَابٌ إِتِّبَاعُ

الْجَنَائِزِ مِنَ الْإِيمَانِ ـ بَابٌ أَدَاءُ الْخُمُسِ مِنَ الْإِيمَانِ ). او داسي نور، صحيح البخاري اول جلد کتاب الايمان.

۳:- نبي ﷺ فرمايلي دي: (الْإِيمَانُ بِضْعٌ وَسَبْعُونَ أَوْ بِضْعٌ وَسِتُّونَ شُعْبَةً) [۱].

يعني- ايمان يو څه او اويا، يا يو څه او شپېته شعبې دي. دغه شعبې اعمال دي لکه لمونځ، روژه، حج، جهاد او داسي نور.

## د احنافو لخوا جوابونه

په ذکر سوي آيت کي د ايمان اطلاق په لمانځه باندي له دې کبله نه دی سوی چي لمونځ د ايمان جزء دی بلکي دا اطلاق يې له دې وجهي څخه دی چي لمونځ په مؤمنانو باندي واجب دی او له دوی څخه قبلېږي او په جماعت کي اداء يې د ايمان دليل دی [۲].

لوی محدث محمدانور کشميري رحمه الله ليکلي دي موږ له دې څخه انکار نه کوو چي په احاديثو کي د ايمان اطلاق په اعمالو باندي سوی دی خو دا اطلاق د احنافو په نزد د مبدأ په اثر باندي دی مبدأ ايمان او اثر يې عمل دی، يقينًا ما وليدل چي قرآن کريم اعمال د ايمان اجزاء نه بولي (لکه څنګه چي لږ دمخه دا بحث تېر سو) نو د ايمان حقيقت له اعمالو څخه جلا سو لکه څنګه چي موږ ويلي دي خو کله چي له دغسي تعبير څخه دا امکانؤ چي ځيني کمزوري کسان به په اعمالو کي تقصير وکړي نو د همدغي تنبيه لپاره چي اعمال اهم دي په احاديثو کي د ايمان اطلاق ورباندي سوی دی نو د احنافو په نزد د اعمالو

[۱] رواه البخاري (۹) و مسلم (۳۵)، واللفظ له من حديث ابي هريرة رضي الله عنه .
[۲] تفسير النسفي اول جلد (۱۳۹) مخ.

نسبت ایمان ته داسي دی لکه د وني د ښاخونو نسبت اصل (تنی) ته لکه څنګه چي د وني ښاخونه له خپل اصل څخه شنه دي همدغسي اعمال هم د ایمان څخه حاصلېږي نو ایمان مبدأ او اعمال یې آثار دی. دا د شاه صاحب رحمه الله د کلام خلاصه ده[۱].

امام علامه بدرالدين عيني رحمه الله ليکلي دي: دا چي نبي ﷺ ایمان څه او اويا، يا څه او شپېته شعبې بللي دي مجاز دی ځکه چي ایمان په لغت کي د زړه تصديق دی او د شرعي په اصطلاح کي د زړه او ژبي تصديق دی تمام او کمال یې په طاعاتو سره دی نو د ایمان اطلاق په دغو شعبو باندي د اصل اطلاق په فروعو باندي دی ځکه چي ایمان اصل او اعمال یې فروع دي نو د ایمان اطلاق په اعمالو باندي مجاز دی په دې تقرير سره ټوله هغه نصوص سره جمع کېږي چي د ایمان په اړوند راغلي دي[۲].

## آیا په ایمان کي ذکر سوی اختلاف حقيقي دی که لفظي

که څه هم دغه اختلاف د بعضي علماؤ له نظره حقيقي دی خو محققين علماء یې لفظي بولي.

لوی محدث شيخ محمدانور کشميري رحمه الله ليکلي دي: ټول اهل سنت والجماعت اعمال ضروري ګڼي پرېښودنکی یې کافر نه بلکي فاسق بولي د خوارجو او معتزله ؤ په شان یې په اعمالو کي دومره تشدد نه دی کړی چي پرېښودل یې کفر یا له اسلام څخه وتل بولي او نه یې د مرجئه ډلي په شان بالکل له نظره غورځولي دي خو تر دغه وروسته اهل سنت والجماعت دوې ډلي

(۱) فيض الباري اول جلد (۱۳۲) او (۱۳۳) مخونه.
(۲) عمدة القاري شرح صحيح البخاري اول جلد (۲۱۳) مخ.

ګرځېدلي دي اکثره محدثين وايي چي اعمال په ايمان کي داخل دي، او زموږ امام اعظم رحمه الله او اکثره فقهاء او متکلمين بيا وايي چي اعمال په ايمان کي داخل نه دي خو پردې خبره د ټولو اتفاق دی که چيري د يو کس تصديق نه وي کافر دی او که يې چيري عمل نه وي فاسق دی نو د دوی په منځ کي خلاف پاته نه سو يوازي په تعبير کي اختلاف دی[۱].

همدا شان علامه بدرالدين عيني رحمه الله ليکلي دي د شارع عليه الصلاة والسلام په کلام کي ايمان د اصل ايمان په معنٰی راغلی دی دا هغه ايمان دی چي اعمال پکښي داخل نه دي لکه په حديث جبريل کي چي کله جبريل عليه السلام له نبي ﷺ څخه د ايمان سوال وکړ نو نبي ﷺ يې په جواب کي داسي وفرمايل:

(الْإِيمَانُ أَنْ تُؤْمِنَ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَبِلِقَائِهِ وَرُسُلِهِ وَتُؤْمِنَ بِالْبَعْثِ)[۲].

ښکاره خبره ده چي په دغه حديث کي ايمان د اصل ايمان په معنٰی راغلی دی.

همدا شان ايمان د کامل ايمان په معنٰی هم راغلی دی دا هغه سي ايمان دی چي اعمال پکښي داخل دي لکه د وفد عبد القيس په حديث کي چي راغلي دي:

(أَتَدْرُونَ مَا الْإِيمَانُ بِاللهِ وَحْدَهُ قَالُوا اللهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ شَهَادَةُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُولُ اللهِ وَإِقَامُ الصَّلَاةِ وَإِيتَاءُ الزَّكَاةِ وَصِيَامُ رَمَضَانَ وَأَنْ تُعْطُوا مِنَ الْمَغْنَمِ الْخُمُسَ)[۳].

(په دې حديث کي بيا په ښکاره ډول اعمال په ايمان کي داخل بلل سوي دي همدغه ايمان ته ايمان کامل ويل کېږي) نو په ذکر سوي مسئله کي اختلاف لفظي دی ځکه چي دا اختلاف يوازي د ايمان په تفسير کي دی (يعني ځيني

---

[۱] فيض الباري اول جلد (۱۲۹) مخ.
[۲] صحيح البخاري (۵۰).
[۳] صحيح البخاري (۵۳).

فقهاء يې په اصل ايمان تفسير کوي او ځيني فقهاء يې په کامل ايمان تفسير کوي) او دا اختلاف په دې کي دی چي په دغو دوو معناؤ کي کومه يوه يې شرعي او کومه يوه يې مجازي ده په معنٰی کي هيڅ اختلاف نسته ځکه چي هغه ايمان چي په هغه سره سړی د دوزخ له داخلېدو څخه خلاصېږي هغه د ټولو مسلمانانو په اتفاق دغه دوهم ايمان دی او هغه ايمان چي په هغه سره سړی له همېشه دوزخ څخه خلاصېږي هغه بيا د اهل سنت والجماعت په اتفاق هغه اول ايمان دی (د کلام خلاصه) کوم فقهاء چي عمل د ايمان رکن بولي د هغو مراد کامل ايمان دی او دا حکم کوي چي د عمل د نه کولو په وخت کي هغه اول ايمان يعني اصل ايمان باقي دی او د همدغه ايمان د وجود په وجه سړی له دوزخ څخه خلاصېږي او کوم فقهاء چي اعمال د ايمان رکن نه بولي د هغو بيا مراد اصل ايمان دی[۱].

همدغسي مضمون لوی محدث شيخ محمد انور کشميري رحمه الله د شاه ولي الله رحمه الله څخه هم را نقل کړی دی[۲].

همدا شان د دې مسئلې اختلاف په لاندي کتابونو کي صوري او لفظي بلل سوی دی[۳]:

## آيا په ايمان کي د دلائلو پېژندل ضروري دی که نه

د ټولو مشهورو امامانو او اکثرو نورو فقهاؤ او متکلمينو په نزد تقليدي ايمان معتبر دی يعني که يو کس د دين په ارکانو باندي لکه: توحيد، نبوت،

---

[۱] عمدة القاري اول جلد (۱۸۰) مخ.

[۲] فيض الباري اول جلد (۱۳۳) مخ.

[۳] ۱: فتح الملهم، اول جلد (۳۰۱) مخ. ۲: مرقاة المفاتيح، اول جلد (۴۹) مخ. ۳: شرح العقيدة الطحاوية (۳۱۵) مخ.

لمونځ، زکات، روژه، حج، جازم (ټینګ) اعتقاد ولري بېله دې چې دلائل یې ورته معلوم سي بس هم دغه کس مؤمن دی لکه څنګه چې د اکثرو عوامو ایمان همدغسې دی دغسې ایمان ځکه معتبر دی چې مقلد خو شرعا په ایمان مامور دی او ایمان د زړه تصدیق دی دغه تصدیق خو ده حاصل کړ نو دی مؤمن دی که څه هم دلیل نه پېژني، همدا شان له صحیح البخاري او صحیح مسلم څخه دا ښکاره معلومېږي چې نبي ﷺ هغه کسان مؤمنان شمېرل چې تازه به یې په جنګونو کې ایمان راوړی ښکاره خبره ده چې په دغه وخت کې دوی ته دلائل نه وه معلوم او نه نبي ﷺ په دغه وخت کې دوی ته دلائل ور ښودلي دي[1].

## آیا د اسلام او ایمان په منځ کې فرق سته که نه

ایمان په لغت کې تصدیق ته ویل کېږي لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَمَآ أَنتَ بِمُؤۡمِنٖ لَّنَا﴾. [یوسف: ۱۷]. ژباړه: ته موږ لره تصدیق کوونکی نه یې.

او اسلام بیا تسلیم او انقیاد یعني غاړه ایښودلو او تابعداري ته ویل کېږي لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَلَهُۥٓ أَسۡلَمَ مَن فِي ٱلسَّمَٰوَٰتِ وَٱلۡأَرۡضِ﴾. [آل عمران: ۸۳].

ژباړه: حال دا چې خاص الله تعالی ته غاړه ایښې ده هر هغه چې په آسمانونو کې دی او په ځمکه کې دی.

د تصدیق محل (ځای) یوازې زړه دی ژبه یې ترجمانه ده او د اسلام محل بیا عام دی زړه، ژبې، اندامونو ټولو ته شامل دی یعني لکه څنګه چې اسلام (تابعداري) په زړه سره وي همدا شان په ژبه او اندامونو سره هم وي نو د لغت

[1] د زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ: عمدة القاري، اول جلد (۱۸۴) مخ. فیض الباري، اول جلد (۱۲۸) مخ. مرقاة المفاتیح، اول جلد (۴۸) مخ. شرح الفقه الاکبر (۲۴۵) مخ.

په مقتضٰی اسلام عام او ایمان خاص دی هر تصدیق اسلام دی او هر اسلام تصدیق نه دی ځکه چي اسلام په ژبه او اندامونو سره هم کېدای سي. او د شریعت په اصطلاح کي اسلام ظاهري انقیاد یعني په ژبه او اندامونو سره تابعداري ته ویل کېږي دغه تابعداري اقرار او نېک عملونه دي خو ایمان پکښي شرط دی. او ایمان بیا د نبي ﷺ تصدیق دی په ټولو هغو شیانو کي چي له ده څخه تر موږ پوري په قطعي او یقیني ډول را رسېدلي دي، خو دا مکان په صورت کي اقرار پکښي شرط دی له دغه شرعي تعریف څخه دا ښکاره معلومېږي چي د ایمان او اسلام هر یوه جلا حقیقت دی مګر دواړه یو تر بله لازم او ملزوم دي لکه څنګه چي شا او نس یو تر بله لازم او ملزوم دي شا بېله نسه او نس بېله شا نه سي موجودېدلای همدا رنګه اسلام بېله ایمانه او ایمان بېله اسلامه موجودېدلای نه سي.

د ایمان او اسلام د نسبت په باره کي که څه هم د علماؤ مختلف قولونه راغلي دي لېکن موږ دلته د امام غزالي رحمه الله او امام سبکي رحمه الله په قول ځکه اکتفاء وکړه چي دا د ډېرو علماؤ قول دی[1].

# ټول هغه څه چي له نبي ﷺ څخه په ثبوت رسېدلي دي ایمان وربانديواجب دی

**۶۳:- وَأَنَّ جَمِيْعَ مَا أَنْزَلَ اللهُ فِي الْقُرْآنِ وَجَمِيْعَ مَاصَحَّ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مِنَ الشَّرْعِ وَالْبَيَانِ كُلُّهُ حَقٌّ.**

ژباړه: او موږ وایو ټوله هغه څه چي الله تعالی په قرآن کریم کي نازل کړي دي

[1] وګورئ فتح الملهم اول جلد (۳۰۲) مخ. شرح الفقه الاکبر (۲۳۵) مخ. کتاب اصول الدین للبزدوی رحمه الله (۵۴) مخ. عمدة القاري، اول جلد (۱۸۷) مخ.

او ټوله هغه څه چي له نبيﷺ څخه په صحت رسېدلي دي هغه که د ابتدايي شريعت له قسمه څخه دي او که د تفسير له قسمه څخه دي ټوله حق دي.

**شرح**- په دې عبارت کي امام طحاويرحمه الله دوې مسئلې ذکر کړي دي:

**اوله مسئله**:- ټوله هغه څه چي په قرآن کريم کي راغلي دي او له نبيﷺ څخه په صحت رسېدلي دي هغه حق او ايمان ورباندي فرض دی. په دې مسئله سره امام طحاويرحمه الله په معتزله ډلي او نورو هغو فاسدو ډلو باندي رد کړی دی چي دوی په احاديثو کي (خبرالواحد) يعني هغه حديث چي يو داسي جماعت يې روايت نه وي کړی چي د عادت له مخي يې په دروغو باندي اتفاق نه وي جائز. حجت نه بولي کومه عقيده چي امام طحاويرحمه الله ذکر کړه دا د ټوله اهل السنة والجماعة عقيده ده د نبيﷺ ټوله هغه احاديث چي د قبول شرطونه پکښي موجود وي هغه که څه هم خبر الواحد وي د ټوله اهل سنت والجماعت په نزد مقبول دي.

(**دلائل**) ۱:- ﴿ يٰۤاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْۤا اَطِيْعُوا اللّٰهَ وَاَطِيْعُوا الرَّسُوْلَ وَلَا تُبْطِلُوْۤا اَعْمَالَكُمْ ﴾. [محمد: ۳۳].

ژباړه: ای هغو کسانو! چي ايمان يې راوړی دی اطاعت کوي د الله جل جلاله او اطاعت کوئ د رسول الله جل جلاله او مه باطلوئ تاسي عملونه خپل.

۲:- ﴿ وَمَاۤ اٰتٰىكُمُ الرَّسُوْلُ فَخُذُوْهُ وَمَا نَهٰىكُمْ عَنْهُ فَانْتَهُوْا ﴾.[الحشر: ۷].

ژباړه: او هغه څه چي درکړي تاسي ته رسولﷺ د اللهﷺ نو وايي خلئ قبول يې کړئ او هغه څه چي منع کوي (رسول اللهﷺ) تاسي له هغه څخه نو بيرته شی ترې (مه يې غواړئ).

۳:- دا چي نبيﷺ يو يو کس د احکامو د تبليغ لپاره اطرافو ته استول او

خپل ليکونه يې هم د يوه يوه کس په لاس استول د دې ښکاره دليل دی چې خبرالواحد حجت دی، همدا شان صحابه کرامو رضي الله عليهم په ډېرو ځايونو کې په خبرالواحد عمل کړی دی. د لازياتو معلوماتو لپاره وګورئ[1].

**دوهمه مسئله:-** امام طحاوي رحمه الله پخپل دې عبارت سره (من الشرع والبيان) دې طرفته اشاره کړې ده چې د نبي ﷺ احاديث په دوه قسمه دي يو قسم يې ابتدايي شريعت دی او بل قسم يې د قرآن کريم تفسير دی دا ټوله حق دي او اتباع يې واجب ده.

## په اصل ايمان کې زيادت او نقصان نسته

**۶۴:- وَالْإِيمَانُ وَاحِدٌ وَأَهْلُهُ فِي أَصْلِهِ سَوَاءٌ وَالتَّفَاضُلُ بَيْنَهُمْ بِالْخَشْيَةِ وَالتُّقَى وَمُخَالَفَةِ الْهَوَىٰ وَمُلَازَمَةِ الْأَوْلَىٰ.**

ژباړه: ايمان يو شی دی د ايمان خاوندان (مؤمنان) په اصل ايمان کې سره برابر دي د دوی په منځ کې فضيلت لوړوالی له الله تعالی څخه د وېرې او تقوی او د نفسي خواهشاتو د مخالفت او په اولی (په هر شي کې په ښه طرف) باندې د مداومت (همېشه توب) په اعتبار دی.

**شرح-** يعني ټوله مؤمنان په اصل ايمان کې چې تصديق دی سره برابر دي د تصديق ذات نه بالا کېږي او نه کمېږي د مؤمنانو په منځ کې تفاضل په هغو جهاتو کښې دی چې په متن کې ذکر سوي دي همدغه د امام ابوحنيفه رحمه الله او د ده د اصحابو او امام الحرمين او نورو ډېرو علماؤ قول دی. د دې قول نسبت

---

[1] فتح الملهم اول جلد (۳۰) مخ.

امام ابوحنيفه رحمه الله او د ده اصحابو ته لكه څنګه چي په ډېرو كتابونو كي راغلى دى بېله شكه صحيح دى ځكه چي د دې رسالې (العقيدة الطحاوية) په سر كي ليكل سوي دي چي امام طحاوي رحمه الله په دې رساله كي د امام ابوحنيفه رحمه الله او د ده د اصحابو عقائد ذكر كوي نو كوم عقائد چي په دې رساله كي راغلي دي هغه د امام ابوحنيفه رحمه الله او د ده د اصحابو عقائد دي، لوى محدث شيخ محمد انور كشميري رحمه الله د ايمان د زيادت او نقصان دبحث په اول كي كه څه هم امام ابوحنيفه رحمه الله ته د دغه قول په نسبت كي خپل تردد بيانوي خو لږ وروسته يې تردد ايسته كېږي او امام ابوحنيفه رحمه الله او د ده اصحابو ته د دغه قول نسبت تسليموي[1].

ځينو بې علمه كسانو د شاه صاحب د بحث اول ته كتلي دي او دا خبره يې ځني را اخيستې ده چي شاه صاحب امام ابوحنيفه رحمه الله ته د دغه قول نسبت باطل بولي د دغسي كسانو د بې علمي او ناپوهي لپاره بس همدغه كفايت كوي نور څه ته ضرورت نسته.

**(دلائل)** ۱:- د ايمان حقيقت د زړه هغه تصديق دى چي د جزم او اذعان حد ته رسېدلى وي په دغسي تصديق كي د لږ والي او ډېر والي له جهته زيادت او نقصان ممكن نه دى[2].

۲:- امام اعظم رحمه الله پخپل كتاب الوصية كي فرمايلي دي: ايمان نه بالا كېږي او نه كمېږي ځكه چي د اصل ايمان زيادت ممكن نه دى مګر د كفر په نقصان سره او د ايمان نقصان بيا ممكن نه دى مګر د كفر په زيادت سره نو دا څرنګه كېداى سي چي يو شخص په يوه حالت كي هم مؤمن وي او هم كافر

[1] وګورئ فيض الباري اول جلد (۱۳۴) مخ.
[2] شرح الفقه الاكبر (۲۳۲) مخ. فتح الملهم اول جلد (۲۱۳) مخ. شرح العقائد (۹۲) مخ.

مؤمن خو بېله شکه مؤمن دی په ایمان کي یې شک نسته لکه څنګه چي د کافر په کفر کي شک نسته[1].

## د نورو فقهاؤ په آند بیا ایمان بالا کېږي او کمېږي

د امام شافعي رحمه الله علیه او نورو اکثرو فقهاؤ په نزد بیا ایمان زیادت او نقصان قبلوي د دغو حضراتو استدلال له هغو آیتونو او حدیثونو څخه دی چي ظاهراً په ایمان کي زیادت څني معلومېږي د مثال په ډول څو آیتونه وګورئ:

۱:- ﴿وَإِذَا تُلِيَتْ عَلَيْهِمْ آيَاتُهُ زَادَتْهُمْ إِيمَانًا﴾. [الأنفال: ۲].

۲:- ﴿لِيَزْدَادُوا إِيمَانًا مَّعَ إِيمَانِهِمْ﴾. [الفتح: ۴].

۳:- ﴿الَّذِينَ قَالَ لَهُمُ النَّاسُ إِنَّ النَّاسَ قَدْ جَمَعُوا لَكُمْ فَاخْشَوْهُمْ فَزَادَهُمْ إِيمَانًا﴾. [آل عمران: ۱۷۳].

۴:- ﴿فَأَمَّا الَّذِينَ آمَنُوا فَزَادَتْهُمْ إِيمَانًا وَهُمْ يَسْتَبْشِرُونَ﴾. [التوبة: ۱۲۴].

له دغو آیتونو څخه په ښکاره دول دا معلومېږي چي ایمان زیادت قبلوي نو چي کله یې زیادت قبول کړ نقصان به هم قبلوي. همدا شان له سلفو صالحینو څخه ګڼ شمېر اقوال راغلي دي چي ایمان زیادت او نقصان قبلوي.

## د احنافو لخوا جواب

په ایمان کي له مطلق زیادت او نقصان څخه احناف انکار نه کوي بلکي دوی وایي چي په اصل ایمان یعني د تصدیق په ذات کي د قلت (لږوالي) او کثرت

---

[1] شرح الفقه الاکبر (۱۴۵) مخ.

(ډېروالي) له جهته زيادت او نقصان نسته اما زيادت او نقصان په کيفيت يعني په قوت او ضعف کي يا د نورو زائدو امورو له وجهي څخه احناف هم مني نو کوم آيتونه او حديثونه چي له هغوی څخه د ايمان زيادت او نقصان معلومېږي مراد څني زيادت او نقصان د مؤمن به (يعني هغو شيانو چي ايمان ورباندي واجب دی) په اعتبار دی صحابه کرامو رضي الله عليهم په اول کي اجمالي ايمان درلودی خو بيا يو فرض تر بل فرض وروسته نازليدی صحابه کرامو به هم په دغه خاص فرض باندي چي نوی به نازل سو ايمان راوړی همدغه د ايمان زيادت وو خو په ايمان کي په دغه اعتبار زيادت د نبيﷺ تر زمانې وروسته ممکن نه دی ځکه چي د نبيﷺ تر زمانې وروسته وحي قطع سوي دي. دغه قول له امام ابو حنيفه رحمه الله څخه رانقل سوی دی[1].

يا مراد څني د ايمان په نور کي د ځلا او روښنايي زيادت دی نه د اصل ايمان زيادت ځکه چي د (كلمة التوحيد) نور د مؤمنانو په زړونو کي په هغه اندازه فرق لري چي شمېر يې يوازي الله تعالی ته معلوم دی د بعضي کسانو په زړونو کي يې نور د لمر په شان وي او د بعضي کسانو په زړونو کي د سپوږمۍ په شان وي د بعضي کسانو په زړونو کي د روښانه ستوري په شان وي د بعضي کسانو په زړونو کي د لوی څراغ په شان وي او د بعضي کسانو په زړونو کي بيا د ضعيف څراغ په شان وي خو اصل ايمان د ټولو يو شی دی[2].

همدا شان ملا علي القاري رحمه الله ليکلي دي له زيادت او نقصان څخه مراد قوت او ضعف دی يعني د مؤمنانو ايمان په قوت او ضعف کي فرق لري نه په اصل ايمان کي ځکه چي د لمر په راختلو باندي تصديق ډېر قوي دی تر تصديق

---

[1] وګورئ شرح العقائد (۹۳) مخ، شرح الفقه الاكبر (۲۳۲) مخ.
[2] شرح الفقه الاكبر (۱۴۷) مخ، شرح العقائد (۹۳) مخ.

پر نوي پيدا کېدو د عالم، همدا شان هر هغه تصديق چې د يو شي له مشاهدې څخه حاصل سي قوي دی تر هغه تصديق چې د خبر څخه حاصل وو که څه هم دواړه صورته په اصل تصديق کې سره برابر دي دا خبره هم يقيني ده چې د امت د افرادو ايمان داسې نه دی لکه د نبيﷺ ايمان او نه داسې دی لکه د حضرت ابوبکرؓ ايمان خو دا فرق يې په کيفيت يعني په قوت او ضعف کې دی د نبيﷺ ايمان همدا شان د حضرت ابوبکرؓ ايمان د امت د افرادو تر ايمان ډېر قوي دی که څه هم په اصل ايمان کې ټوله مؤمنان سره برابر دي[1].

## دا اختلاف هم د اکثرو علماؤ په نظر لفظي دی

دا اختلاف چې ايمان زيادت او نقصان قبلوي يا يې نه قبلوي هم د ډېرو علماؤ په نظر لفظي دی امام رازيؒ داسې فرمايلي دي:

(هذا البحث لفظي لان المراد بالايمان ان كان هو التصديق فلا يقبلهما و ان كان الطاعات فيقبلهما ثم قال الطاعات مكملة للتصديق فكل ماقام من الدليل على ان الايمان لايقبل الزيادة والنقصان كان مصروفا الى اصل الايمان الذى هوالتصديق وكل مادل على كون الإيمان يقبل الزيادة والنقصان فهو مصروف الى الكامل وهو مقرون بالعمل)[2].

ژباړه- دغه بحث يعني چې ايمان زيادت او نقصان قبلوي يا يې نه قبلوي لفظي دی يعني حقيقي اختلاف نه دی ځکه چې که چيري په ايمان سره مراد تصديق وي لکه څنګه چې احناف وايي نو زيادت او نقصان نه قبلوي او که

---

[1] شرح الفقه الاكبر (۸۷) مخ.
[2] عمدة القاري اول جلد (۱۸۶) مخ.

چيري طاعات په ايمان کي داخل وبلل سي (لکه نور فقهاء چي وايي) نو بيا زيادت او نقصان قبلوي وروسته امام رازي رحمه الله ويلي دي په طاعاتو سره تصديق کامل ګرځي نو هر هغه دليل چي له هغه څخه دا معلومېږي چي ايمان زيادت او نقصان نه قبلوي هغه اصل ايمان ته راجع دی چي تصديق دی او هر هغه دليل چي هغه بيا پردې دلالت کوي چي ايمان زيادت او نقصان قبلوي هغه کامل ايمان ته راجع دی چي عمل پکښي داخل دی.

همدا شان ملا علي القاري رحمه الله ليکلي دي:

(فالخلاف لفظي بين ارباب العرفان)[1].

يعني- دغه اختلاف د عرفان د خاوندانو په منځ کي لفظي دی حقيقي نه دی[2].

له دغه اوږد بحث څخه دا معلومه سوه چي امام ابوحنيفه رحمه الله او د ده اصحاب د خپل دې قول لپاره چي په اصل ايمان کي اعمال داخل نه دی او ايمان زيادت او نقصان نه قبلوي ښه کافي دلائل لري او دا خبره هم معلومه سوه چي د اهل سنت والجماعت د فقهاؤ او محدثينو په منځ کي دغه د ايمان په اړوند ذکر سوی اختلاف يوازي په تعبير کي دی په حقيقت کي اختلاف نسته (والحمدلله على ذٰلك) اوس نو هغه کسان چي امام ابوحنيفه رحمه الله او د ده اصحاب په ذکر سوي قول کي خطا بولي يا د دوی قول د کتاب او سنت په خلاف بولي يا د دغه قول په وجه دوی له مرجئه ډلي څخه بولي د خپل وخت جاهلان او احمقان بولي که نه فيصله يې پر تاسو.

---

[1] شرح الفقه الاکبر (۸۷) مخ.

[2] همدا شان وګورئ: فتح الملهم اول جلد (۳۱۳) مخ. او شرح العقيدة الطحاوية للميداني (۱۰۳) مخ.

## آیا مؤمن داسي ویلای سي (انامؤمن ان شاءالله) که نه

امام شافعي رحمه الله او ځینو نورو فقهاؤ فرمایلي دي چي مؤمن باید پخپل ایمان باندي قطعي فیصله ونه کړي بلکي (ان شاءالله) دي و وایي یعني داسي دي و وایي: (أَنَا مُؤْمِنٌ إِنْ شَاءَاللهُ) علماؤ یې وجه داسي بیان کړې ده چي د بنده عاقبت (خاتمه) نه ده معلومه بنده نه دی خبر چي د ژوند په آخر کي به په ایمان باندي ثابت پاته سي که نه نو ان شاءالله باید و ویل سي. اما احناف او ځیني نور فقهاء بیا وایي چي مؤمن باید پخپل ایمان باندي قطعي فیصله وکړي ان شاء الله دي نه وایي یعني داسي باید و وایي (انامؤمن حقا) یعني زه بېله شکه مؤمن یم. ځکه چي مؤمن خو همدا اوس مؤمن دی د ایمان احکام ورباندي جاري دي نو دی باید په قطعي ډول د خپل ایمان اظهار وکړی ان شاءالله باید ونه وایي ځکه چي که چیري ان شاءالله ویل د شک له وجهي څخه وي نو دا خو بېله شکه کفر دی او که چیري د تبرک لپاره وي یا د خاتمې د نه معلومېدو له کبله وي بیا یې هم نه ویل په دې وجه بهتر دي چي په اوسني ایمان کي د شک توهم ورڅخه کېږي.

علامه تفتازاني رحمه الله لیکلي دي: حق خبره دا ده چي په دغه مسئله کي معنوي اختلاف نسته دا ځکه که چیري په ایمان سره یوازي د اذعان حاصلېدل مراد سي نو دا خو همدا اوس حاصل دی (ان شاءالله) باید ونه ویل سي او که چیري هغه ایمان مراد سي چي په هغه سره له دوزخ څخه نجات پیدا کېږي او نور ثمرات په پیدا کېږي دا بیا د الله تعالی په اراده کي دی اوس یې پر حاصلېدو یقین نسته نو باید ان شاءالله و ویل سي نو کوم فقهاء چي (ان شاءالله) ویل یې

منع کړې دی د هغو مراد هغه اول ایمان دی او کوم فقهاء چي (ان شاءالله) ویل جائز بولي د هغو بیا مراد دوهم ایمان دی[۱].

ملا علي القاري رحمه الله د علامه تفتازاني د ذکر سوي خبري تائید په داسي الفاظو سره کړی دی:

(وَهُوَ غَايَةُ التَّحقِيقِ وَنِهَايَةُ التَّدْقِيقِ وَاللهُ تَعَالٰى وَلِيُّ التَّوفِيقِ) [۲].

همدا شان د لا زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ[۳].

## د کفر اقسام

کفر په لغت کي پټولو او ناشکري ته ویل کېږي او په شرعي اصطلاح کي کفر د ایمان ضد دی د ایمان معنٰی د منلو ده او د کفر معنٰی د نه منلو ده کومي خبري چي په ایمان کي یې منل ضروري دي په هغوی کي د یوې خبري نه منل کفر دی. اوس د کفر څو عام ډولونه وګورئ:

۱: **انکاري کفر**- دا هغه کفر دی چي یو انسان د دین د اساسي شیانو نه په زړه سره تصدیق کوي او نه یې په ژبه سره د منلو اقرار کوي لکه عام کفار.

۲: **جحودي کفر**- دا هغه کفر دی چي یو انسان د اسلام د اساسي شیانو حقانیت په زړه کي پېژني خو په ژبه سره د هغوی د منلو اقرار نه کوي. لکه د نبي ﷺ د زمانې د یهودانو کفر او د شیطان (عَلَيْهِ اللَّعْنَةُ) کفر.

۳: **عنادي کفر**- دا هغه کفر دی چي یو انسان ته د دین د اساسي شیانو حقانیت په زړه کي معلومېږي او په ژبه سره هم د هغو اقرار کوي خو قبلوي یې

---

[۱] شرح العقائد (۹۷) مخ.
[۲] شرح الفقه الاکبر (۲۴۳) مخ.
[۳] فتح الملهم اول جلد (۳۱۹) مخ، او شرح الفقه الاکبر (۲۹۱) مخ.

نه يعني اذعان (باور) نه وربانديٍ کوي او د خپل ځان لپاره يې دين نه بولي. لکه د ابو طالب کفر.

۴: **نفاقي کفر** – دا هغه کفر دی چې يو انسان په زړه کي د اسلام له اساسي شيانو څخه منکر وي خو د يو مصلحت په خاطر پر ژبه د هغوی د منلو اقرار کوي.

۵: **زنديقي کفر** – دا هغه کفر دی چې يو انسان ظاهراً د دين اساسي شيان په زړه او ژبه دواړو سره مني خوله دغو شيانو څخه د بعضو تفسير او تشريح په هغه ډول کوي چې د صحابه کرامو رضي الله عليهم او تابعينو رحمة الله عليهم د تفسير او تشريح په خلاف وي همدا شان د امت د اجماع په خلاف وي. لکه قاديانيان او داسي نور. فيض الباري اول جلد (۱۴۴) مخ.

که مو چيري د دې موضوع په اړوند ډېر تفصيل په کار وي نو د شاه صاحب مستقله رساله (اکفار الملحدين) مطالعه کړی هلته شاه صاحب دا مسئله په تفصيل سره څېړلې ده. شرک هم د کفر له اقسامو څخه دی تفصيل يې په اوله عقيده کي تېر سوی دی هلته يې وګورئ. (نَعُوْذُبِاللهِ مِنْ جَمِيْعِ أَنْوَاعِ الْكُفْرِ وَالشِّرْكِ).

## د الله تعالی ولي څوک دی

**۶۵:-** وَالْمُؤْمِنُوْنَ كُلُّهُمْ أَوْلِيَاءُ الرَّحْمٰنِ وَأَكْرَمُهُمْ عِنْدَاللهِ أَطْوَعُهُمْ وَأَتْبَعُهُمْ لِلْقُرْآنِ.

ژباړه: متقيان مؤمنان ټوله د الله تعالی اولياء (دوستان) دي په دوی کي ډېر

مکرم او معزز د الله تعالی په نزد له دوی څخه هغه څوک دی چي د الله تعالی او د الله تعالی د رسولﷺ ډېر مطیع او د الله تعالی د کتاب (قرآن کریم) ډېر تابع وي.

**شرح**- یعني هغه کسان چي د دین په پوره ډول پیروي کوي کوم شیان چي په شریعت کي دوی په امر سوي دي هغه په کامله طریقه سره اداء کوي او کوم شیان چي په شریعت کي دوی ځني منع سوي وي له هغو څخه په کلکه پرهېز کوي همدغه کسان د الله تعالی اولیاء دي لکه څنګه چي الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ اَلَاۤ اِنَّ اَوْلِیَآءَ اللّٰهِ لَا خَوْفٌ عَلَیْهِمْ وَلَا هُمْ یَحْزَنُوْنَ ۚۖ ۝ اَلَّذِیْنَ اٰمَنُوْا وَکَانُوْا یَتَّقُوْنَ ۝ ﴾. [یونس: ٦٢- ٦٣].

ژباړه: خبردار شئ چي بې شکه د الله ﷻ دوستان چي دي نه په دوی باندي ډار سته او نه به دوی خفه کېږي اولیاء الله هغه کسان دي چي ایمان یې راوړی وي او وي دوی چي له مناهیو څخه پرهېزګاري کوي.

نو په اولیاؤ کي د شمول لپاره تقوٰی شرط ده اما له ګناهونو څخه عصمت (پاکوالی) پکښي شرط نه دی چي بالکل به ګناه نه ځني صادرېږي کېدای سي چي له بعضي اولیاؤ څخه ګناه صادره سي مګر په دغه ګناه باندي دوام نه کوي سمدستي توبه وباسي او پخپله ګناه باندي ندامت ښکاره کوي، همدا شان کرامتونه د اولیاء الله له لازمو صفاتو څخه نه دي تر څو د دوی لپاره علامات وګڼل سي کېدای سي چي بعضي اولیاؤ ته الله تعالی کرامت ورنه کړي ځکه چي اولیاء الله ته کرامتونه ورکول د الله تعالی تر ارادې لاندي دي هغو اولیاؤ ته یې ورکوي چي اراده یې وکړي. نو که څه هم د اولیاء الله په ټولګي کي د شمول لپاره دا کفایت کوي چي سرِ الٰهی او امر په ځای کړي او له نواهیوو

څخه يې ځان وساتي مګر د دې سره سره چې څومره په نفلي عباداتو او د قرآن کريم په اتباع کې څوک وړاندې تېرېږي هغومره يې درجه لوړېږي او د الله تعالی په نزد يې مقبوليت زياتېږي لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿إِنَّ أَكْرَمَكُمْ عِندَ اللَّهِ أَتْقَاكُمْ﴾. [الحجرات: ۱۳].

ژباړه: بېشکه چې ډېر مکرم او معزز له تاسي څخه په نزد د الله ﷻ ډېر متقي ادب لرونکی ستاسي دی.

نو دا خبره قطعي (يقيني) ده چې ځيني اولياء الله تر ځينو نورو فضيلت لري.

علامه تفتازاني رحمة الله عليه د (ولي) تعريف په دا ډول کړی دی:

(وَالْوَلِيُّ هُوَ الْعَارِفُ بِاللهِ تَعَالٰى وَصِفَاتِهِ حَسْبَ مَايُمْكِنُ الْمُوَاظِبُ عَلَى الطَّاعَاتِ الْمُجْتَنِبُ عَنِ الْمَعَاصِيْ الْمُعْرِضُ عَنِ الْإِنْهِمَاكِ فِي اللَّذَّاتِ وَالشَّهَوَاتِ)[۱].

ژباړه: ولي هغه څوک دی چې په الله تعالی او د ده په صفاتو د امکان تر حده داسي عارف وي چې پر طاعاتو دائم او له ګناهونو څخه پرهېز کونکی او په لذاتو او شهواتو کې له کوښښ کولو څخه مخ اړونکی وي.

د اولياء الله همدغه چوکاټ دی چې تاسو ولوستی ښه يې وپېژنئ که چيري يو څوک پر دغه چوکاټ برابر نه وي هغه شرعًا ولي نه بلل کېږي. د دې مسئلې په اړوند که ډېر معلومات غواړئ نو[۲].

## د ايمان شپږ ارکان

**۶۶:- وَالْإِيْمَانُ هُوَالْإِيْمَانُ بِاللهِ وَمَلَائِكَتِهِ وَكُتُبِهِ وَرُسُلِهِ**

[۱] شرح العقائد (۱۰۵) مخ.
[۲] روح المعاني (۱۱) جلد (۱۴۶) مخ ته مراجعه وکړئ.

وَالْيَوْمِ الْآخِرِ وَالْقَدْرِ خَيْرِهِ وَشَرِّهِ وَحُلْوِهِ وَمُرِّهِ مِنَ اللهِ تَعَالٰى.

ژباړه: ایمان عبارت دی له ایمان راوړلو څخه په الله تعالی او د الله تعالی په ملائکو او د الله تعالی په کتابونو او د الله تعالی په پیغمبرانو علیهم السلام او د آخرت په ورځ او په دغه چې د خیر او شر خوږوالی او تریخوالی یعني آرام او تکلیف ټولو تقدیر د الله تعالی له طرفه دی.

**شرح**- امام طحاوي رحمة الله علیه لږ دمخه د ایمان حقیقت بیان کړ داسي یې وفرمایل: (الایمان هو الاقرار باللسان والتصدیق بالجنان) (٦۲) عقیده.

او دلته یې بیا د ایمان تفسیر د هغو شیانو په بیان سره کړی دی چې ایمان تعلق ورپوري نیسي نو د ده د دواړو عبارتونو حاصل دا دی: ایمان په دغو شپږو امورو باندي په زړه سره تصدیق او په ژبه سره اقرار دی. نو دغه ذکر سوي شپږ امور د ایمان ارکان دي ځکه چې نبي ﷺ په حدیث جبریل کي د ایمان تفسیر په همدغو شپږو امورو سره کړی دی. مشکوة اول جلد (۱۱) مخ.

نو په دغو شپږو ارکانو باندي اجمالي ایمان پر هر مکلف انسان فرض عین دی له دغو ارکانو څخه د اول رکن یعني (ایمان بالله) بیان په اوله عقیده کي او د ملائکو کتابونو او رسولانو علیهم السلام بیان په (۵۳) عقیده کي او د ایمان بالقدر بیان په (۷) عقیده کي تېر سوی دی، اوس یوازي د پنځم رکن یعني ایمان (بالیوم الاخر) بیان پاته سو. د یوم الآخر څخه مراد د قیامت ورځ ده ځکه چې دا ورځ د دنیا د ورځو آخري ورځ ده په دغي ورځي باندي د ایمان کیفیت دا دی چې د دغي ورځي په وجود او نورو هغو شیانو باندي چې په دغه ورځ کي سته لکه (بعث بعد الموت) حساب جنت دوزخ او نور هغه شیان چې په نصوصو

کي راغلي دي ايمان راوړل سي[۱].

د قيامت د ورځي ذکر الله تعالیٰ په قرآن کريم کي ډېر کړی دی همدا شان د دغي ورځي د تفصيل په اړوند ګڼ شمېر آيتونه راغلي دي: (الواقعة، الحاقة، التکوير، الانفطار، الانشقاق، الزلزلة، القارعة) دا ټوله سورتونه د قيامت د حالاتو په باره کي دي. د قيامت د ورځي نور امور او جزئيات وروسته په متن کي راځي انتظار وکړئ.

## موږ پر ټولو رسولانو عليهم السلام ايمان لرو

**۶۷:- وَنَحْنُ مُؤْمِنُوْنَ بِذَالِكَ كُلِّهِ وَلَانُفَرِّقُ بَيْنَ أَحَدٍ مِّنْ رُّسُلِهِ وَنُصَدِّقُهُمْ كُلَّهُمْ عَلٰى مَاجَاؤُابِهِ.**

ژباړه: موږ پر ټولو ذکر سوو ارکانو ايمان لرو او د الله تعالیٰ د رسولانو له جملې څخه د يوه کس په منځ کي هم فرق نه کوو (چي بعضي يې ومنو او له بعضو څخه انکار وکړو بلکي پر ټولو ايمان لرو) او د دوی ټولو په هغه څه کي تصديق کوو چي د الله تعالیٰ له طرفه يې راوړی دی.

**شرح-** يعني موږ د ايمان پر ټولو ارکانو تصديق او باور لرو ځکه چي د ايمان له يوه رکن څخه هم انکار کفر دی، او د الله تعالیٰ پر ټولو رسولانو عليهم السلام ايمان لرو د دوی په منځ کي فرق نه کوو چي ځيني يې منو او ځيني يې نه منو بلکي پر ټولو ايمان لرو لکه څنګه چي الله تعالیٰ د مؤمنانو همدغه وصف بيان کړی دی داسي يې فرمايلي دي:

---

[۱] مرقاة- اول جلد (۵۷) مخ.

﴿كُلٌّ اٰمَنَ بِاللّٰهِ وَمَلٰٓئِكَتِهٖ وَكُتُبِهٖ وَرُسُلِهٖ قف لَا نُفَرِّقُ بَيۡنَ اَحَدٍ مِّنۡ رُّسُلِهٖ قف﴾.

[البقرة: ۲۸۵].

ژباړه: ټولو مؤمنانو په الله تعالیٰ او د ده په ملائکو او د ده په کتابونو او د ده په پیغمبرانو باندي ایمان راوړی دی (دوی وایي چي) موږ د ده د پیغمبرانو عليهم السلام له جملې څخه د یوه کس په منځ کي هم فرق نه کوو (چي دا منو او دا نه منو).

کوم کسان چي د الله تعالیٰ د پیغمبرانو عليهم السلام په منځ کي فرق کوي چي ځیني مني او ځیني نه مني لکه یهود او نصارىٰ الله تعالیٰ د دغسي کسانو په باره کي داسي فرمایلي دي:

﴿ اِنَّ الَّذِيۡنَ يَكۡفُرُوۡنَ بِاللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيُرِيۡدُوۡنَ اَنۡ يُّفَرِّقُوۡا بَيۡنَ اللّٰهِ وَرُسُلِهٖ وَيَقُوۡلُوۡنَ نُؤۡمِنُ بِبَعۡضٍ وَّنَكۡفُرُ بِبَعۡضٍ وَّيُرِيۡدُوۡنَ اَنۡ يَّتَّخِذُوۡا بَيۡنَ ذٰلِكَ سَبِيۡلًا ۙ اُولٰٓئِكَ هُمُ الۡكٰفِرُوۡنَ حَقًّا ۚ﴾. [النساء: ۱۵۰- ۱۵۱].

ژباړه: یقیناً هغه کسان چي په الله جل جلاله او د ده په پیغمبرانو عليهم السلام باندي کافران کېږي او غواړي چي د الله تعالیٰ جل جلاله او د ده د پیغمبرانو عليهم السلام په منځ کي جدایي وکړي او (داسي جدایي چي) وایي موږ په ځینو پیغمبرانو عليهم السلام باندي ایمان راوړو او په ځینو باندي کافران کېږو او غواړي چي د دې اسلام او کفر په منځ کي لاره ونیسي دغه ډله خلک همدوی کافران دي په حقه سره. د پیغمبرانو عليهم السلام په اړوند بشپړ معلومات په (۵۳) عقیده کي وګورئ. (هُوَاللّٰهُ الۡهَادِئ إِلَىٰ سَوَاءِ السَّبِيۡلِ).

# ګنهکاره کس که په ایمان باندي مړ سي په دوزخ کي همېشه نه پاته کېږي

٦٨:- وَأَهْلُ الْكَبَائِرِ مِنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ ﷺ فِي النَّارِ لَا يُخَلَّدُونَ إِذَا مَاتُوا وَهُمْ مُوَحِّدُونَ وَإِنْ لَمْ يَكُونُوا تَائِبِينَ بَعْدَ أَنْ لَقُوا اللهَ عَارِفِينَ (مُؤْمِنِينَ) وَهُمْ فِي مَشِيئَتِهِ وَحُكْمِهِ إِنْ شَاءَ غَفَرَ لَهُمْ وَعَفَا عَنْهُمْ بِفَضْلِهِ كَمَا قَالَ تَعَالَى فِي كِتَابِهِ الْعَزِيزِ ﴿إِنَّ اللهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾ [النساء: ٤٨] وَإِنْ شَاءَ عَذَّبَهُمْ فِي النَّارِ بِعَدْلِهِ ثُمَّ يُخْرِجُهُمْ مِنْهَا بِرَحْمَتِهِ وَشَفَاعَةِ الشَّافِعِينَ مِنْ أَهْلِ طَاعَتِهِ ثُمَّ يَبْعَثُهُمْ إِلَى جَنَّتِهِ وَذٰلِكَ بِأَنَّ اللهَ تَعَالَى تَوَلَّى أَهْلَ مَعْرِفَتِهِ وَلَمْ يَجْعَلْهُمْ فِي الدَّارَيْنِ كَأَهْلِ نُكْرَتِهِ الَّذِينَ خَابُوا مِنْ هِدَايَتِهِ وَلَمْ يَنَالُوا مِنْ وَلَايَتِهِ، اَللّٰهُمَّ يَا وَلِيَّ الْإِسْلَامِ وَأَهْلِهِ ثَبِّتْنَا عَلَى الْإِسْلَامِ حَتَّى نَلْقَاكَ بِهِ.

ژباړه: د نبيﷺ له امت څخه هغه کسان چي لوی ګناهونه يې کړي وي په دوزخ کي همېشه نه پاته کېږي په دې شرط چي د توحيد (ايمان) په حالت کي مړه سي که يې څه هم توبه نه وي ايستلې خو په دې شرط چي دوی د الله تعالی سره په داسي حال کي ملاقات کړی وي چي په توحيد سره اقرار کونکي (مؤمنين) وي (يعني د ايمان په حالت کي مړه سوي وي) دغه کسان د الله تعالی تر ارادې او حکم لاندي دي که وغواړي نو به په خپل فضل سره ببښنه ورته وکړي او معاف به يې کړي لکه څنګه چي الله تعالی پخپل عزيز کتاب کي

فرمايلي دي: (يقيناً الله تعالى دا نه ښني چي د ده سره شريک ونيول سي او له دې کفر څخه ماسوی نور ګناهونه هغه چاته ښني چي د مغفرت يې اراده وفرمايي) او که چيري الله تعالی وغواړي نو به دغو کسانو ته د خپل عدل او حکمت مطابق د دوی د جنايت په اندازه په دوزخ کي عذاب ورکړي بيا به الله تعالی دوی پخپل رحمت يا د شفاعت کونکو د شفاعت په واسطه سره چي د ده د طاعت خاوندان دي له دوزخ څخه دباندي را وباسي وروسته به يې خپل جنت ته واستوي ګناهګاره خلګو ته دغه ښنه په دې سبب ده چي الله تعالی د خپل معرفت خاوندان دوستان بللي دي دوی يې په دنيا او آخرت کي د منکرينو او مخالفينو په شان نه دي ګرځولي چي د الله تعالی له هدايت څخه بې برخي سوي دي او له الله تعالی له دوستي او نصرت څخه يې هيڅ حصه نه ده پيدا کړې. ای د اسلام او د اسلام د خاوندانو! ناصره موږ پر اسلام باندي ثابت او دائم ولره ترڅو چي په دغه اسلام سره ستا سره ملاقات کوو.

**شرح**- کوم کس چي له شرک څخه بغير يوه بله کبيره ګناه وکړي د هغه دوه حکمه دي يو دنيوي او بل اخروي دنيوي حکم يې په (۵۷) عقيده کي تېر سوی دی چي مؤمن د ګناه په کولو سره نه کافر کېږي ترڅو چي ګناه يې حلاله نه وي بللې تفصيل يې هلته وګورئ او اخروي حکم يې امام طحاوي رحمه الله په دې عقيده کي بيان کړی دی چي کوم کس کبيره ګناه وکړي او بېله توبې په ايمان باندي مړ سي نو دغه کس د عذاب مستحق دی لېکن د الله تعالی تر ارادې لاندي دی که يې چيري د ښني اراده وه ښنه به ورته وکړي او که يې د عذاب اراده وه عذاب به ورکړي، کوم مؤمنان چي الله تعالی د دوی د ګناهونو په اندازه عذاب ورکړي په آخر کي به يې له دوزخ څخه پخپل رحمت يا د شفاعت کونکو په شفاعت سره را وباسي او جنت ته به يې داخل کړي. د دې تفصيل او

دلائل په (۴۱) عقیده کي وګورئ.

اما کوم کسان چي د الله تعالی په توفیق یې د سره ګناه نه وي کړې یا یې کړې وي خو سمه توبه یې ایستلې وي او تر توبې وروسته یې ګناه نه وي کړې دا کسان خو د سره دوزخ ته نه داخلیږي بلکي په اول وخت کي به د الله تعالی په فضل جنت ته داخل سي، مطلب دا دی چي کوم کس پر ایمان باندي مړ سي هغه بېله شکه جنت ته داخلیږي یا په اول وخت کي یا تر یو څه عذاب تېرولو وروسته- همدغه د اهل سنت والجماعت مسلک دی له کتاب او سنت څخه ښکاره دلائل لري. د لا زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ[1].

امام طحاوي رحمه الله په دې عقیده سره په خوارجو او معتزله ډلي باندي رد کړی دی د خوارجو په آند چي کوم کس کبیره ګناه وکړي هغه کافر دی او د معتزله ډلي په آند بیا له ایمان څخه وتلی دی او که چیري دغه کس بېله توبې مړ سي د دوی په اتفاق همېشه په دوزخ کي دی د دوی د دغي فاسدي عقیدې شبهات او د اهل سنت والجماعت جوابونه په (۵۷) عقیده کي وګورئ. په ذکر سوي عبارت کي د (من أمة محمد ﷺ) قید د دې لپاره نه دی چي نور امتونه په وایستل سي بلکي دا قید یې له دې کبله راوړی دی چي دلته یوازي د نبي ﷺ د امت څخه بحث کېږي، نو په دې حکم کي (چي کوم مؤمنان لوی ګناهونه وکړي همېشه په دوزخ کي نه پاته کېږي) ټوله امتونه سره شریکان دي ځکه چي په صحیح حدیث کي راغلي دي چي په آخر کي به هغه څوک هم له دوزخ څخه را ویستل سي چي په زړه کي یې یوه ذره قدر ایمان وي[2].

حتی د (العقيدة الطحاوية) په بعضي نسخو کي دغه د (من امة محمد ﷺ)

---

[1] شرح العقيدة الطحاوية للميداني رحمه الله (١٠٦) مخ.

[2] صحيح البخاري (٧٤٣٩)، مسلم (١٨٣).

قيد د سره وجود نه لري عبارت په داسي ډول ذکر دی: (واهل الکبائر فی النار لا يخلدون) (وَبِاللهِ التَّوْفِيْقُ وَمِنْهُ الْوُصُوْلُ إِلَى التَّحْقِيْقِ).

## لوی او واړه ګناهونه

ګناهونه په دوه ډوله دي: اول- لوی ګناهونه، دوهم- واړه ګناهونه لکه څنګه چي دا آيت دلالت ورباندي کوي:

﴿ اَلَّذِيْنَ يَجْتَنِبُوْنَ كَبٰٓئِرَ الْاِثْمِ وَالْفَوَاحِشَ اِلَّا اللَّمَمَ ؕ اِنَّ رَبَّكَ وَاسِعُ الْمَغْفِرَةِ﴾. [النجم: ۳۲].

ژباړه: (نېکو کاران) هغه کسان دي کوم چي له لويو ګناهونو او بې شرمه ګناهونو څخه ځان ساتي مګر واړه ګناهونه له دې کبله ور ښنل کېږي چي يقيناً ستا رب ﷻ د پراخه مغفرت درلودنکی دی.

له دغه آيت څخه دا په ښکاره ډول معلومېږي چي په ګناهونو کي لوی او واړه ګناهونه سته.

د لوی ګناه ډېر تعريفونه سوي دي خو کوم تعريف چي علماؤ ښه بللی دی هغه دادی:

- هغه ګناه چي په قرآن کريم يا نبوي احاديثو کي وعيد ورباندي راغلی وي،- پر کوونکي يې لعنت ويل سوی وي،- کونکي ته يې شرعي حد ټاکل سوی وي،- کونکي ته يې فاسق او فاجر ويل سوی وي، دا ټول لوی ګناهونه دي همدا رنګه هغه ګناه هم کبيره ده چي بل څه ته د وسيلې په ډول نه وي بلکي مقصود بالذات وي. همدا شان پر وړه ګناه همېشتوب هم له هغې څخه لويه ګناه جوړوي او کومه ګناه چي کونکي يې د الله تعالی څخه نه وېرېږي او نه يې په

کولو پښېماني کوي یا يو څوک ګناه په داسي ډول کوي چي د هيڅ چا پروا نه لري نو دا هم کبيره ګناه ګرځي همدا شان هغه ګناه هم کبيره ګرځي چي تاوان يې د لويو ګناهونو سره برابر يا تر هغو هم زيات وي[1].

لوی ګناهونه پخپل منځ کښې سره يو شی نه دي بلکي فرق سره لري ځيني يې تر ځينو نورو ډېر لوی دي ترڅو چي اکبر الکبائر يعني شرک ته رسېږي دليل يې دا دی چي نبيﷺ په يو حديث کي، د الله تعالی سره شريک نيول، او مور او پلار ته آزار رسول او د دروغو شاهدي ورکول. اکبرالکبائر يعني ډېر لوی ګناهونه بللي دي[2].

د کبيره ګناهونو پوره تفصيل د شيخ ابن حجر الهيتميرحمه الله په کتاب (الزواجر عن اقتراف الکبائر) کي وګورئ، د (وړو ګناهونو) مثال همهغه دی چي حضرت ابن عباسرضي الله عنه د حضرت ابوهريرهرضي الله عنه له يوه روايت څخه را ايستلی دی د حديث الفاظ دا دي:

(عَنِ ابْنِ عَبَّاسٍ رضي الله عنه قَالَ مَارَأَيْتُ شَيْئًا أَشْبَهَ بِاللَّمَمِ مِمَّا قَالَ أَبُو هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ ﷺ إِنَّ اللهَ كَتَبَ عَلَى ابْنِ آدَمَ حَظَّهُ مِنَ الزِّنَى أَدْرَكَ ذٰلِكَ لَامَحَالَةَ فَزِنَى الْعَيْنِ النَّظَرُ وَزِنَى اللِّسَانِ الْمَنْطِقُ وَالنَّفْسُ تَمَنَّى وَتَشْتَهِي وَالْفَرْجُ يُصَدِّقُ ذٰلِكَ كُلَّهُ أَوْيُكَذِّبُهُ)[3].

ژباړه: حضرت ابن عباسرضي الله عنه فرمايلي دي د وړو ګناهونو د تعيين په اړوند ماته د ابو هريرهرضي الله عنه تر حديث کوم بل شی بهتر نه دی معلوم ابو هريرهرضي الله عنه له نبيﷺ څخه داسي روايت کړی دی چي نبيﷺ وفرمايل يقيناً الله تعالی د ابن آدم په ذمه باندي له زنا څخه د ده برخه مقرره کړې ده دغه برخه خامخا ده ته

---

[1] الزواجر، اول جزء- ۱۴، ۱۵، ۱۶ مخونه.
[2] صحيح البخاري (۲۶۵۴) مسلم ۸۷.
[3] صحيح البخاري (۶۲۴۳) و مسلم (۲۶۵۷).

رسېدونکې ده، نو د زنا په فعل کې د سترګو برخه حرام کتل دي او د ژبې برخه د هغو خبرو ویل دي چې د زنا مقدمات او اسباب پیدا کوي او د نفس برخه دا ده چې د زنا غوښتنه کوي خو فرج د دې ټولو تصدیق وکړي یعني زنا وکړي یا یې تکذیب وکړي یعني زنا ونه کړي.

په دغه روایت کې حضرت ابن عباس رضي الله عنه، حرام کتل، او د هغو خبرو ویل چې د زنا مقدمات او اسباب پیدا کوي، او دا چې نفس د زنا غوښتنه کوي، له وړو ګناهونو څخه بللي دي.

## د لویو ګناهونو د مغفرت اسباب

د بنده ګانو لوی ګناهونه الله تعالیٰ په لاندې وجوهو سره ښښي:

۱: چې بنده له ګناه څخه سمه توبه وباسي حتّی چې یو څوک له کفر څخه توبه وباسي او ایمان راوړي هم په تېر سوي کفر باندې نه نیول کېږي. په دې باره کې ښکاره نصوص سته.

۲: چې چاته شفاعتګر شفاعت وکړي، چې په ډېرو نصوصو کې ثابت دی (۴۱) عقیده وګورئ.

۳: چې په چا باندې صرف د الله تعالیٰ لطف او مهرباني وسي خو په دې ډول همدا شان په دوهم ډول کې دا شرط دی چې ګناه به تر کفر را ښکته وي لکه څنګه چې الله تعالیٰ فرمایلي دي:

﴿إِنَّ اللَّهَ لَا يَغْفِرُ أَنْ يُشْرَكَ بِهِ وَيَغْفِرُ مَا دُونَ ذَٰلِكَ لِمَنْ يَشَاءُ﴾. [النساء: ۴۸].

ژباړه: یقیناً الله تعالیٰ دا نه ښښي چې د ده سره شریک ونیول سي (څوک پرې کافر سي) او له دې کفر څخه ماسېوا نور ګناهونه هغه چاته ښښي چې د مغفرت اراده یې وفرمایي:

له دې آیت څخه دا ښکاره معلومېږي چې که چیري د الله تعالیٰ اراده وسي نو بېله قیده او شرطه پخپل فضل او کرم سره هم د یو چا ګناهونه ببښي خو په دې شرط چې شرک (کفر) نه وي.

## د وړو ګناهونو د مغفرت اسباب

د کوچنیو (وړو) ګناهونو د مغفرت اسباب همهغه دمخه ذکر سوي سببونه دي خو د هغو تر څنګ نېک عملونه يې هم اسباب دي يعني په نېکو عملونو سره هم الله تعالیٰ واړه ګناهونه ببښي لکه څنګه چې الله تعالیٰ فرمایلي دي:

﴿إِنَّ الْحَسَنَاتِ يُذْهِبْنَ السَّيِّئَاتِ﴾. [هود: ۱۱۴].

ژباړه: بېشکه چې نېکۍ (لکه پنځه وخته لمونځ) واړه ګناهونه له منځه وړي. حضراتو مفسرینو د (السیئات) تفسیر په وړو ګناهونو سره کړی دی[1].

همدا راز نبي ﷺ فرمایلي دي: (الصَّلَوَاتُ الْخَمْسُ وَالْجُمُعَةُ إِلَى الْجُمُعَةِ وَرَمَضَانُ إِلَى رَمَضَانَ مُكَفِّرَاتٌ لِمَا بَيْنَهُنَّ إِذَا اجْتُنِبَتِ الْكَبَائِرُ)[2].

ژباړه: پنځه لمونځونه او د جمعې لمونځ د بلي جمعې تر لمانځه پوري او د رمضان د میاشتي روژه تر بلي رمضان د میاشتي تر روژې پوري محوه کونکي (د منځه وړونکي) دي هغو وړو ګناهونو لره چې د ذکر سوو عبادتونو په منځ کي واقع سوي وي کله چې له لويو ګناهونو څخه پرهېز وکړل سي.

يعني لوی ګناهونه په ذکر سوو عبادتونو سره نه ببښل کېږي بلکي توبه غواړي. په دې باره کي نصوص ډېر دي علماء کرامو ته معلوم دي، دغه ذکر

---

[1] وګورئ تفسير الجلالين (۱۸۹) مخ.. او نور تفسيرونه.
[2] صحيح مسلم (۲۳۳).

سوي اسباب د هغو ګناهونو اسباب دي چي د حقوق الله مربوط وي اما هغه ګناهونه چي حقوق العباد پوري ارتباط لري دا الله تعالیٰ تر هغه پوري نه ښني ترڅو چي بنده ګان له ګناه څخه ورتېر سي او يا عوض ورڅخه واخلي، او بله خبره دا ده چي دغه ذکر سوي شيان د ګناهونو د مغفرت اسباب دي يعني دا جائزه ده چي الله تعالیٰ يو چاته د ده د نېکو اعمالو په وجه واړه ګناهونه ورمعاف کړي يا يو چاته يوازي پخپل فضل او کرم سره ګناهونه ور معاف کړي خو دغه د ګناهونو عفوه لازمي نه ده ځکه چي ټوله ګناهونه لوی دي که واړه د الله تعالیٰ تر ارادې لاندي دي که د يو چا په باره کي د الله تعالیٰ د عفوي اراده وه عفوه به ورته وکړي که نه نو عذاب به ورکړي همدغه د (سورة النساء) (۴۸) آيت مضمون دی چي لږ دمخه موږ سره د ژباړي وليکی په دغه آيت کي الله تعالیٰ له شرک څخه ماسپوٰی د نورو ګناهونو د مغفرت وعده کړې ده خو د دغه مغفرت تعلق يې تر خپلي ارادې پوري ورکړی دی نو کېدای سي چي الله تعالیٰ ځيني کسانو ته د ګناهونو ښنه ونه کړي او کېدای سي چي يو چاته پر وړه ګناه باندي عذاب ورکړي که يې څه هم له لويو ګناهونو څخه پرهېز کړی وي. همدغه د اهل سنت والجماعت مسلک دی[1].

د ذکر سوو اسبابو ترڅنګ د ګناهونو د مغفرت نور اسباب هم سته:

۱: ځوک چي له الله تعالیٰ څخه مغفرت وغواړي او استغفار يې قبول سي.

۲: چي په چا باندي په دنيا کي مصيبتونه راسي او صبرورباندي وکړي.

۳: د ځينو ګناهګارانو لپاره د قبر عذاب هم د ګناه د محوه کېدلو سبب ګرځي.

۴: هغه ځوک چي بل مؤمن دعاء ورته وکړي او مغفرت ورته وغواړي په

---

[1] وګورئ تفسير النسفي، اول جلد (۳۵۳) مخ او شرح العقائد (۸۶) مخ.

ژوند کي يا تر مرګ وروسته.

**۵:** کله چي يوه مړي ته د ژونديو د پلوه د عبادتونو ثوابونه ور اهداء (سوغات) کړل سي لکه: صدقه، قرائت، حج او داسي نور.

**۶:** د قيامت د ورځي سختي هم د مؤمنانو لپاره د ګناهونو د محوه کېدلو سبب جوړېږي.

**۷:** څوک چي د صراط د پله تر تېرېدلو وروسته د بل پله په سر چي د جنت او دوزخ په منځ کي دی انتقام ورڅخه واخيستل سي لکه څنګه چي په يو صحيح حديث کي راغلي دي[1].

له دغو اسبابو څخه د ځينو بيان وروسته را روان دی.

## له ټولو ګناهونو څخه توبه واجب ده

توبة په لغت کي رجوع ته ويل کېږي او په شريعت کي يې داسي تعريف سوی دی:

(هی الندم على المعصية من حيث هي معصية مع عزم ان لا يعود إليها اذا قدر عليها كذا عرفه المتكلمون)[2].

يعني- توبه پر ګناه باندي په دې حيث چي ګناه ده پښېماني کول دي سره د پخې ارادې چي دی به بيا دغه ګناه نه کوي کله چي ورباندي قادر سي متکلمينو علماؤ يې همدغه سي تعريف کړی دی.

له دغه تعريف څخه دا معلومېږي چي که چيري يو کس پر مباح شي يا طاعت باندي پښېماني وکړي نو دا توبه نه بلل کېږي همدا شان که چيري يو کس د

---

[1] صحيح البخاري (۲۴۴۰)، شرح العقيدة الطحاوية (۳۰۸) مخ.

[2] شرح الفقه الاكبر (۲۶۳) مخ.

شرابو پر څيښلو باندي له دې کبله پښېماني وکړي چي بدن او عقل ته تاوان لري عزت او مال ته نقصان رسوي دا هم شرعا توبه نه ده، امام نووي رحمه الله او ملا علي القاري رحمه الله د شرعي توبې لپاره داسي شرطونه بيان کړي دي:

۱:- له کومي ګناه څخه چي تاسو توبه کوئ هغه ګناه سمدستي پرېږدئ.

۲:- په راتلونکي کي کلکه اراده وکړئ چي بيا به دا ګناه نه کوو.

۳:- په دغه ګناه باندي پښېماني وکړئ او داسي وګڼئ چي دا راڅخه ډېر بد کار سوی دی.

۴:- د دغي ګناه په وجه که له تاسي څخه د الله تعالیٰ کوم حق ضائع سوی وي نو هغه پوره کړئ يعني لمونځ، روژه او داسي نور درڅخه پاته سوي وي د هغو قضا راوړئ او که د بنده کوم حق درڅخه ضائع سوی وي يعني د هغه مال مو اخيستی وي يا مو ظلم ورباندي کړی وي او داسي نور نو د هغه حق بيرته ده ته يا د ده وکيل يا وارث ته ورکړئ او يا له ده څخه ښښنه وغواړئ.

که چيري په دغو شرطونو کي يو نه وي نو توبه يې نه صحيح کېږي، همدغسي توبه له ټولو ګناهونو څخه واجب ده که چيري يو کس له يوې ګناه څخه توبه وباسي نو له همدغي ګناه څخه يې توبه صحيح ده او باقي ګناهونه يې په ذمه باندي پاته دي همدغه د اهل سنت والجماعت مسلک دی، د دې لپاره چي له ګناهونو څخه توبه واجب ده له کتاب او سنت څخه ډېر دلائل سته همدا شان د امت ورباندي اجماع ده، اوس د مثال په ډول څو آيتونه وګورئ:

۱:- ﴿وَتُوْبُوْٓا اِلَى اللهِ جَمِيْعًا اَيُّهَ الْمُؤْمِنُوْنَ لَعَلَّكُمْ تُفْلِحُوْنَ﴾. [النور:۳۱].

ژباړه: تاسو ټول الله جل جلاله ته توبه وباسئ ای مؤمنانو! د دې لپاره چي تاسو په دواړو دارينو کي فلاح (خلاصی) ومومی.

۲:- ﴿وَّاَنِ اسْتَغْفِرُوْا رَبَّكُمْ ثُمَّ تُوْبُوْٓا اِلَيْهِ﴾. [هود:۳].

ژباړه: او (پس له توحيده امر کوم) چي له خپل رب څخه د پخوانيو ګناهونو مغفرت وغواړئ او بيا همده ته رجوع وکړئ.

۳: - ﴿يَاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا تُوْبُوْٓا اِلَى اللّٰهِ تَوْبَةً نَّصُوْحًا﴾. [التحريم:۸].

ژباړه: ای هغو کسانو! چي ايمان يې راوړی دی (يعني ای مؤمنانو!) تاسي الله ﷻ ته توبه وباسئ توبه خالصه رښتيا د زړه له کومي.

که چيري يو کس په ذکر سوي طريقه سره له خپلو ګناهونو څخه توبه وباسي الله تعالی يې توبه قبلوي لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَهُوَ الَّذِیْ یَقْبَلُ التَّوْبَةَ عَنْ عِبَادِهٖ وَیَعْفُوْا عَنِ السَّیِّاٰتِ وَیَعْلَمُ مَا تَفْعَلُوْنَ﴾. [الشوریٰ:۲۵].

ژباړه: او الله ﷻ هغه (مهربان ذات) دی چي د خپلو بندګانو څخه توبه قبلوي او له ګناهونو څخه يې عفوه کوي (تر پښېمانۍ وروسته) او هم په هغو کارونو عالم دی چي تاسو يې کوئ.

د ډېرو معلوماتو لپاره شرح الفقه الاکبر (۲۵۸) مخ، او رياض الصالحين (۲۴) مخ ته مراجعه وکړئ. (اللّٰهُمَّ ارْزُقْنَا التَّوْبَةَ مِنْ جَمِيْعِ الذُّنُوْبِ).

## د فاسق د امامت په اړوند د اهل سنت والجماعت عقيده

۶۹: - وَنَرَى الصَّلَاةَ خَلْفَ كُلِّ بَرٍّ وَّفَاجِرٍ مِنْ أَهْلِ الْقِبْلَةِ وَعَلٰى مَنْ مَاتَ مِنْهُمْ.

ژباړه: له مسلمانانو څخه د هر نېک او بد (فاسق) تر شا لمونځ جائز بولو او

کوم کس چي له دوی څخه مړ سي د جنازې لمونځ ورته حق بولو.

**شرح**- په دې عبارت کي دوې مسئلې بیان سوي دي:

**اوله مسئله**:- د جماعت لمونځونه د جمعې لمونځونه د اختر لمونځونه د امام د فسق له کبله موږ معطله نه پرېږدو بلکي په فاسق امام پسي لمونځ جائز بولو په دې شرط چي مسلمان وي.

(**دلائل**) ۱:- نبي ﷺ فرمایلي دي: (صَلُّوا خَلْفَ كُلِّ بَرٍّ وَفَاجِرٍ)[۱].

یعني- تاسو د هرنېک او بد شاته لمونځ وکړئ.

۲:- په صحیح حدیث کي راغلي دي چي عبیدالله بن عدي حضرت عثمان ﷺ ته په داسي حال کي ورغلی چي هغه د باغیانو له خوا پخپل کور کي محاصره سوی وو نو یې داسي ورته و ویل: ته خو د ټولو خلکو یعني د جماعت امام یې او په تا باندي هغه حالت نازل سوی دی چي ته یې وینې یعني د خوارجو له خوا محاصره سوی یې او موږ ته د فتنې امام لمونځ راکوي او د ده په متابعت کي موږ خپل ځانونه ګنهګاره ګڼو (نو اوس موږ څه وکړو) حضرت عثمان ﷺ په جواب کي داسي ورته وفرمایل: (الصَّلَاةُ أَحْسَنُ مَا يَعْمَلُ النَّاسُ فَإِذَا أَحْسَنَ النَّاسُ فَأَحْسِنْ مَعَهُمْ وَإِذَا أَسَاؤُا فَاجْتَنِبْ إِسَاءَتَهُمْ)[۲].

یعني- لمونځ د خلکو په عملونو کي ډېر ښه عمل دی کله چي دوی ښه کار کوي (لکه لمونځ) نو ته هم په دغه ښه کار کي موافقت ورسره وکړه (یعني د ده فسق او نور بد کارونه ستا لمانځه ته تاوان نه رسوي) او کله چي بیا بد کار کوي له بد کار څخه یې ځان وساته (موافقت مه ورسره کوه).

---

[۱] اخرجه الدارقطني (۲/ ۷۵)، والبیهقي (۴/ ۱۹).

[۲] صحیح البخاري (۶۹۵).

۳:- له صحابه کرامو رضي الله عنهم همدا شان له تابعينو څخه صحيح نقل راغلی دی چي دوی په ظالمانو او فاجرانو امامانو پسې لمونځ کړی دی لکه څنګه چي حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه په لوی ظالم حجاج بن یوسف پسي لمونځ کړی دی[1].

په دغه ذکر سوي مسئله باندي د اهل سنت والجماعت اتفاق دی حتی دغه مسئله د دوی د اصولو او شعائرو څخه بلل کيږي، دا چي له بعضي سلفو څخه په فاسق پسي د لمانځه کولو څخه منع راغلې ده مراد ورڅخه کراهت دی ځکه چي په کراهت کي يې خبره نسته نو له همدغي وجهي څخه دا مسئله علماؤ په عقائدو کي راوړې ده که نه نو دا مسئله په اصل کي له فقهې د احکامو څخه ده.

نو د يو امام د فسق له کبله د جمعې او جماعت يو مخ پرېښودل د مبتدعينو طريقه ده.

د اهل سنت والجماعت دا خبره چي په فاسق امام پسي دي لمونځ وکړي دا په هغه صورت کي ده چي په بل چا پسي د لمانځه کولو امکان نه وي اما که چيري په يو عادل امام پسي لمونځ ممکن وو بيا نو بېله شکه په دغه عادل امام پسي لمونځ بهتر دی که چيري د يو چا سره د دغه فاسق امام د ليري کولو توان ؤ نو پرده باندي دا واجب ده چي دغه فاسق او مبتدع امام به ايسته کوي او پر ځای به يې يو عادل امام دروي، دا خبره هم د يادولو ده چي په فاسق پسي لمونځ هغه وخت جائز دی چي فسق او بدعت يې کفر ته نه وي رسېدلی او که يې چيري فسق او بدعت کفر ته رسېدلی وو نو بيا بېله شکه لمونځ نه دی پسي جائز.

**دوهمه مسئله:-** که چيري فاسق او فاجر مؤمن مړ سي د ده لپاره د جنازې لمونځ حق بولو که څه هم باغيان او قطاع الطريق (د لويو لارو غله) او د امام ابويوسف رحمه الله عليه په نزد د خپل ځان قاتل له دغه عام حکم څخه وتلی دی يعني

---

[1] صحيح البخاري (١٦٦٠).

دوی ته به د زجر له مخي د جنازې لمونځ نه ورکول کېږي لېکن د امام طحاوي رحمه الله مطلب دا دی چي کوم مبتدع او فاجر مؤمن مړ سي نو موږ په هغه باندي د جنازې لمونځ نه پرېږدو مطلب يې دا نه دی چي هر فاسق ته به د جنازې لمونځ ورکول کېږي.

د دې مسئلې دليل د امت اجماع ده ځکه چي سلف صالحين له صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه را شروع تر نن ورځي پوري فاسقانو مؤمنانو ته د جنازې لمونځ ورکوي، همدا شان په دې باره کي له نبي ﷺ څخه داسي حديث را نقل سوی دی (صَلُّوا عَلٰى مَنْ قَالَ – لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ وَصَلُّوا خَلْفَ مَنْ قَالَ لَاإِلٰهَ إِلَّا اللهُ)[1].

يعني– هغه کس چي د توحيد کلمه يې ويلې وي په هغه باندي د جنازې لمونځ وکړئ همدا شان د دغسي کس شا ته د جماعت لمونځ وکړئ.

دا حديث که څه هم علماؤ ضعيف بللی دی لېکن معنٰی يې له دې کبله صحيح ده چي نور نصوص دلالت ورباندي کوي[2].

## موږ يوازي د ګمان له مخي په يو چا باندي د کفر فيصله نه کوو

**۷۰:– وَلَا نُنْزِلُ أَحَدًا مِنْهُمْ جَنَّةً وَلَا نَارًا وَلَا نَشْهَدُ عَلَيْهِمْ بِكُفْرٍ وَلَا بِشِرْكٍ وَلَا بِنِفَاقٍ مَالَمْ يَظْهَرْ مِنْهُمْ شَيْءٌ مِنْ ذٰلِكَ وَنَذَرُ سَرَائِرَهُمْ إِلَى اللهِ تَعَالٰى.**

ژباړه: موږ له مسلمانانو څخه د هيچا په باره کي نه د جنت فيصله کوو او نه د

---

[1] رواه الدار قطني فی سننه (۱۷۶۱).

[2] وګورئ شرح العقيدة الطحاوية (۳۵۹) مخ، شرح العقائد (۱۱۵) مخ، او شرح الفقه الاکبر (۱۲۳) مخ.

دوزخ او نه په مسلمانانو باندي د کفر شرک او نفاق فتوی کوو ترڅو چي له دوی څخه یو له دغو درو شیانو څخه ښکاره سوی نه وي د دوی باطني (پټ) احوال الله تعالی ته سپارو.

**شرح**- په دې عبارت کي درې عقیدې ذکر سوي دي:

**اوله عقیده**:- موږ د هیڅ یو معین او مشخص مسلمان په باره کي نه د جنتي او نه د دوزخي فیصله کوو ماسوی له هغو کسانو څخه چي نبي ﷺ جنتیان بللي دي لکه لس (۱۰) مشهور صحابه کرام رضي الله عنهم او داسي نور چي نبي ﷺ د دوی په باره کي د جنت شاهدي ورکړې ده دا ځکه چي د یو معین کس د باطن په حقیقت او د ده په خاتمه باندي یوازي الله تعالی علم لري موږ علم نه ورباندي لرو لېکن د نېکانو مؤمنانو په باره کي د الله تعالی د مغفرت امید لرو او د ګنهکاره مؤمنانو په باره کي د الله تعالی له عذاب څخه وېرېږو. د دې عقیدې یو څه بیان په (۵۹) عقیده کي تېر سوی دی.

**دوهمه عقیده**:- موږ په هیڅ یو مسلمان باندي صرف د ګمان له مخي د کفر فیصله نه کوو ترڅو چي کفر یې ښکاره سوی نه وي که یې چیري کفر ښکاره سو یعني داسي خبره یې وکړه چي په هغه سره دی د شریعت له مخي کافر بلل کېدی یا یې داسي عمل وکړ چي هغه د کفر سبب وو نو بیا دغه کس کافر بولو. الله تعالی فرمایلي دي:

۱:- ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِّنَ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ﴾.

[الحجرات: ۱۲].

ژباړه: ای هغو کسانو! چي ایمان یې راوړی دی (ای مؤمنانو) ځان وساتئ تاسي ډېر له بد ګمانیو څخه بېشکه ځیني بد ګمانو نه ګناه ده.

۲:- ﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهِ عِلْمٌ﴾. [الاسراء: ۳۶].

ژباړه: او ته هغه شي پسي مه ګرځه (پيروي يې مه کوه) په کوم باندي چي تاته علم نه وي.

**دريمه عقيده**:- موږ د هر چا په باره کي د ده ظاهري حال معتبر بولو د ده په همدغه ظاهري حال باندي د دنيا احکام جاري کېږي کوم کس چي ظاهري حال يې ښه وي د کفر سبب په کي موجود نه وي هغه مسلمان بولو په دنيا کي د مسلمان احکام ورباندي جاري دي او کوم کس چي ظاهر يې کفر وي هغه کافر بولو. نور نو د خلګو د باطني احوالو پلټنه نه کوو بلکي هغه الله تعالیٰ ته سپارو، لکه څنګه چي نبي ﷺ فرمايلي دي:

۱:- إِنِّيْ لَمْ أُوْمَرْ أَنْ أَنْقُبَ قُلُوْبَ النَّاسِ وَلَا أَشُقَّ بُطُوْنَهُمْ[1].

يعني- زه په دې نه يم امر سوی چي د خلګو د زړونو تفتيش وکړم او نه په دې امر سوی يم چي د خلګو نسونه څيري کړم، (ترڅو د دوی د پټو عقائدو معلومات راته وسي).

۲:- أُمِرْتُ أَنْ أُقَاتِلَ النَّاسَ حَتَّى يَشْهَدُوا أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّااللهُ وَأَنَّ مُحَمَّدًا رَسُوْلُ اللهِ وَيُقِيْمُوا الصَّلَاةَ وَيُؤْتُوا الزَّكَاةَ فَإِذَا فَعَلُوا ذٰلِكَ عَصَمُوْا مِنِّيْ دِمَاءَهُمْ وَأَمْوَالَهُمْ إِلابِحَقِّ الْإِسْلَامِ وَحِسَابُهُمْ عَلَى اللهِ[2].

ژباړه: زه امر سوی يم چي د مشرکينو سره جنګ وکړم ترڅو چي دوی د توحيد کلمه وايي او لمونځ کوي او زکات ورکوي کله چي دوی دغه کارونه وکړي نو يې زما څخه د دویويني او مالونه وساتل (يعني نور به نو دوی نه وژل کېږي او نه به د دوی مالونه مباح بلل کېږي) مګر د اسلام په حق سره به

[1] صحيح البخاري (۲۳۵۱) و مسلم (۱۰۶۳).
[2] صحيح البخاري (۲۵) و مسلم (۲۲). من حديث ابن عمر رضي الله عنهما.

مجازات کېږي نور نو د دوی د پټو شیانو حساب پر الله ﷻ دی.

## د مسلمانانو په منځ کې قتل او قتال حرام دی

**۷۱:- وَلَانَرَىٰ السَّيْفَ عَلٰى أَحَدٍ مِّنْ أُمَّةِ مُحَمَّدٍ ﷺ إِلَّامَنْ وَجَبَ عَلَيْهِ السَّيْفُ.**

ژباړه- موږ د نبي ﷺ له امت څخه پر هیچا د توري او سلاح پورته کول جائز نه بولو مګر پر هغه چا چې پر هغه باندې د توري او سلاح استعمال د شریعت له مخې واجب وي.

**شرح**- یعني موږ د هیڅ یو مسلمان قتل او قتال جائز نه بولو بلکې حرام یې بولو مګر هغه څوک چې د هغه قتل او قتال له شرعي اسبابو څخه په یو سبب سره واجب وي د دغو اسبابو تفصیل د فقهې په کتابونو کې وګورئ.

(**دلائل**) ۱:- ﴿وَمَنْ يَّقْتُلْ مُؤْمِنًا مُّتَعَمِّدًا فَجَزَاۤؤُهٗ جَهَنَّمُ خَالِدًا فِيْهَا وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ وَاَعَدَّ لَهٗ عَذَابًا عَظِيْمًا۝﴾.[النساء: ۹۳].

ژباړه: او هر څوک چې یو مؤمن په قصد سره و وژني (او د مؤمن دغه قتل روا هم وګڼي) نو د هغه جزاء دوزخ دی چې په دې دوزخ کې به همېشه وي او هم په ده باندې الله ﷻ په غضب دی او له خپل رحمت څخه یې لیرې کړی دی او ډېر لوی عذاب یې ورته تیار کړی دی.

۲:- ﴿فَاِنْ تَابُوْا وَاَقَامُوا الصَّلٰوةَ وَاٰتَوُا الزَّكٰوةَ فَخَلُّوْا سَبِيْلَهُمْ ؕ﴾.[التوبة: ۵].

ژباړه: نو که یې (له کفر څخه) توبه وکړه او لمونځونه یې سم ودرول او زکاتونه یې ورکړه نو تاسې یې بیا لاره پرېږدئ (څه مه ورته وایاست).

۳:- نبي ﷺ فرمايلي دي: لَا يَحِلُّ دَمُ امْرِئٍ مُسْلِمٍ يَشْهَدُ أَنْ لَا إِلٰهَ إِلَّا اللهُ وَأَنِّي رَسُولُ اللهِ إِلَّا بِإِحْدَىٰ ثَلَاثٍ النَّفْسُ بِالنَّفْسِ وَالثَّيِّبُ الزَّانِي وَالْمَارِقُ لِدِينِهِ التَّارِكُ الْجَمَاعَةَ[1].

ژباړه- يو مسلمان كس چي دغه ذكر سوي دوې كلمې د شهادت وايي د وينې بهول (قتل) يې نه دی جائز مګر له درو خصلتونو څخه په يوه خصلت سره قتل كېږي.

۱:- يو نفس د بل نفس په مقابل كي وژل كېږي، (يعني كه يو كس بل معصوم شخص قتل كړي نو د قصاص د شرائطو د وجود په صورت كي يې جزاء قتل دی).

۲:- متزوج زاني وژل كېږي (يعني زاني سړی چي خپله ښځه ولري او زانيه ښځه چي خپل خاوند ولري د رجم د شرائطو د وجود په صورت كي رجم كېږي يعني په ډبرو وژل كېږي).

۳:- هغه كس چي د مسلمانانو جماعت پرېږدي او له خپل دين څخه و وزي (يعني مرتد سي) سزا يې قتل دی. د دې درو مسئلو پوره تفصيل د فقهي په كتابونو كي وګورئ.

## د مشروع امام اطاعت واجب دی

۷۲:- وَلَا نَرَىٰ الْخُرُوجَ عَلَىٰ أَئِمَّتِنَا وَوُلَاةِ أُمُورِنَا وَإِنْ جَارُوا وَلَا نَدْعُو عَلَيْهِمْ وَلَا نَنْزِعُ يَدًا مِنْ طَاعَتِهِمْ وَنَرَىٰ طَاعَتَهُمْ مِنْ

[1] صحيح البخاري (۶۸۷۸) و مسلم (۱۶۷۶).

طَاعَةِ اللهِ عَزَّوَجَلَّ فَرِيْضَةً مَالَمْ يَأْمُرُوْا بِمَعْصِيَةٍ وَنَدْعُو لَهُمْ بِالصَّلَاحِ وَالْمُعَافَاةِ.

ژباړه: موږ زموږ پر مشروع امامانو او حاکمانو باندي په سلاح او قتال سره راوتل جائز نه بولو که يې څه هم ظلم کړی وي او نه دوی ته بده دعا (ښرا) کوو او نه د دوی له طاعت څخه لاس راکاږو او په شرعي امورو کي د دوی طاعت د الله تعالی د طاعت له جملې څخه فرض بولو ترڅو چي په ګناه سره يې امر نه وي کړی او دوی ته د صلاح (نېکي) او مغفرت دعا کوو.

**شرح**- په دې عبارت کي درې مسئلې ذکر سوي دي:

**اوله مسئله**:- د مسلمانانو پر مشروع اميرانو او رهبرانو باندي په جنګ سره راوتل جائز نه بولو که څه هم فاسقان وي ترڅو چي له دين څخه وتلي نه وي ځکه چي پر دوی باندي راوتل د مسلمانانو د دين او دنيا د فساد او د کافرانو د تسلط سبب ګرځي نو د امام فسق د دې لپاره برداشت کېږي چي لوی فساد دفعه سي.

(دلائل) (۱).نبي ﷺ فرمايلي دي:- (مَنْ أَطَاعَنِي فَقَدْ أَطَاعَ اللهَ وَمَنْ عَصَانِيْ فَقَدْ عَصَي اللهَ وَمَنْ أَطَاعَ أَمِيْرِيْ فَقَدْ أَطَاعَنِيْ وَمَنْ عَصَى أَمِيْرِيْ فَقَدْ عَصَانِيْ)[1].

ژباړه: هغه کس چي زما اطاعت وکړي نو هغه د الله ﷻ اطاعت وکړ او هغه کس چي زما نافرماني وکړي هغه د الله تعالی نافرماني وکړه او هغه کس چي زما د امير اطاعت وکړي هغه زما اطاعت وکړ او هغه کس چي زما د امير نافرماني وکړي نو هغه زما نافرماني وکړه.

---

[1](صحيح البخاري (۷۱۳۷) و مسلم (۱۸۳۵).

۲:- عبادة بن الصامت رضي الله عنه فرمايلي دي:

(فِيمَا أَخَذَ عَلَيْنَا أَنْ بَايَعَنَا عَلَى السَّمْعِ وَالطَّاعَةِ فِي مَنْشَطِنَا وَمَكْرَهِنَا وَعُسْرِنَا وَيُسْرِنَا وَأَثَرَةٍ عَلَيْنَا وَأَنْ لَا نُنَازِعَ الْأَمْرَ أَهْلَهُ إِلَّا أَنْ تَرَوْا كُفْرًا بَوَاحًا عِنْدَكُمْ مِنَ اللهِ فِيهِ بُرْهَانٌ)[1].

ژباړه: د هغو شيانو له جملې څخه چي نبي ﷺ پر موږ باندي شرط کړي دي يو دا ؤ چي زموږ سره يې د امير د خبرو په اورېدلو او د ده په اطاعت باندي زموږ د خوښي او ناخوښی په حالت کي همدا شان زموږ د سختي او آساني په حالت کي او کله چي اميران خپل ځانونه پر موږ باندي مختاره وګڼي بيعت وکړ او دا يې راته و ويل چي موږ به د امير سره د ده په امارت کي منازعه نه کوو مګر که تاسو له امير څخه ښکاره کفر ووينئ او د ده په کفر کي ستاسو سره د الله تعالی له طرفه برهان (دليل) وي.

**دوهمه مسئله**:- د مشروع اميرانو اطاعت واجب بولو ترڅو چي په ګناه سره يې امر نه وي کړی. د دې مسئلې دلائل همهغه دمخه دوه ذکر سوي حديثونه دي. همدا شان الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا أَطِيعُوا اللهَ وَأَطِيعُوا الرَّسُولَ وَأُولِي الْأَمْرِ مِنْكُمْ ﴾.[النساء: ۵۹].

ژباړه: ای هغو کسانو! چي ايمان يې راوړی دی د الله جل جلاله اطاعت وکړئ او هم د نبي ﷺ اطاعت وکړئ او هم د حاکمانو او مشرانو اطاعت وکړئ چي ستاسو (مسلمانانو) څخه وي.

---

[1] صحيح البخاري (۷۰۵۶) و مسلم (۱۷۰۹).

همدا شان نبيﷺ فرمايلي دي: (السَّمْعُ وَالطَّاعَةُ عَلَى الْمَرْءِ الْمُسْلِمِ فِيمَا أَحَبَّ أَوْكَرِهَ مَالَمْ يُؤْمَرْ بِمَعْصِيَةٍ فَإِذَا أُمِرَ بِمَعْصِيَةٍ فَلَا سَمْعَ وَلَا طَاعَةَ)(١).

ژباړه- پر مسلمان کس د امير د خبرو اورېدل او د ده اطاعت په هغه څه کي چي د دغه کس خوښ وي يا يې خوښ نه وي واجب دی تر څو چي په معصيت (ګناه) سره نه وي امر سوی او که چيري د حاکم او امير له خوا په ګناه سره امر کړل سو نو بيا يې نه د خبرو اورېدل سته او نه يې اطاعت سته.

په دې باره کي نصوص ډېر دي.

**دريمه مسئله**:- موږ خپلو مشروع حاکمانو او اميرانو ته بده دعا نه کوو بلکي دوی ته د صلاح او هدايت دعا کوو ځکه چي د دوی صلاح او هدايت د مسلمانانو صلاح او هدايت دی.

نبيﷺ فرمايلي دي: (الدِّيْنُ النَّصِيْحَةُ قُلْنَا لِمَنْ قَالَ لِلهِ وَلِكِتَابِهِ وَلِرَسُوْلِهِ وَلِأَئِمَّةِ الْمُسْلِمِيْنَ وَعَامَّتِهِمْ)(٢).

ژباړه- د دين لوی رکن نصيحت دی صحابه کرامو رضي الله عنهم سوال وکړ دا نصيحت د چا لپاره دی نبيﷺ وفرمايل (لله ولكتابه ولرسوله ولأئمة المسلمين وعامتهم). د (النصيحة لله).

معنٰی:- دا ده چي په الله تعالی او د ده په اسماؤ او صفاتو باندي ايمان راوړل سي او له ټولو نقصاناتو څخه دده تنزيه وسي او د ده طاعت او عبادت وسي او له نافرماني څخه يې پرهېز وکړل سي.

او د (النصحية لكتابه) معنٰی دا ده چي د الله تعالی په کتاب باندي ايمان

---

(١) صحيح البخاري (٧١٤٤) و مسلم (١٨٣٩).

(٢) صحيح مسلم (٥٥) ومشكوة، دوهم جلد (٤٢٢) مخ.

راوړل سي او عمل په وسي او تلاوت يې وسي.

او د (النصيحة لرسوله) معنٰی دا ده چي د نبيﷺ په نبوت باندي تصديق وسي او اطاعت يې وسي.

او د (النصيحة لأئمة المسلمين) معنٰی داده چي د مسلمانانو د اميرانو په شرعي امورو کي معاونت او اطاعت وسي او د دوی سره جنګ ونه سي او د دوی لپاره د صلاح او هدايت دعا وسي.

او د (النصيحة لعامتهم) معنٰی دا ده چي عامو خلګو ته د دوی د آخرت او دنيا مصالح (د ګټي شيان) ورو ښودل سي او له دوی څخه ضرر دفع کړل سي او دوی ته نفع راجلب کړل سي.

د ډېر تفصيل لپاره د امام نوويرحمه الله کلام د ذکر سوي حديث په شرح کي وګورئ موږ يې صرف يو څو ټکي رانقل کړه.

## ذکر سوې عقيده مطلقه نه ده

شيخ محمدتقي عثمانيرحمه الله ليکلي دي: د فقهاؤ له دې قول څخه چي د سلطان طاعت واجب دی ترڅو چي کفر ځني ښکاره سوی نه وي لکه څنګه چي ظاهري نصوص همدغسي دي ځينو خلګو دا فهم کړی دی چي پر جابر او ظالم امام باندي په هيڅ حال کي په جنګ سره راوتل روا نه دي ترڅو چي د اسلام په نوم سره يادېږي خو ذکر سوی حکم دغسي مطلق نه دی په خاص طور بيا د امام ابو حنيفهرحمه الله په مذهب باندي امام ابو بکر الجصاصرحمه الله په (احکام القرآن) کي تر دغه آيت: ﴿لَا يَنَالُ عَهۡدِي الظّٰلِمِيۡنَ۝﴾.[البقرة: ۱۲۴]. لاندي داسي ليکلي دي:

(وَكَانَ مَذْهَبُهُ مَشْهُورًا فِيْ قِتَالِ الظَّلَمَةِ وَأَئِمَّةِ الْجَوْرِ).

**يعني- د امام ابوحنيفه رحمه الله مذهب د جائرانو او ظالمانو امامانو په قتال (جنګ) کي مشهور دی. وروسته شیخ محمد تقي عثماني لیکلي دي:**

(فالذی يظهر لهذا العبد الضعيف عفاالله عنه بعد مراجعة النصوص الشرعية وكلام الفقهاء والمحدثين فی هذا الباب (والله اعلم) ان فسق الإمام علی قسمين الأول ماكان مقتصرا علی نفسه فهذا لايبيح الخروج عليه وعليه يحمل قول من قال. ان الإمام الفاسق أوالجائر لايجوز الخروج عليه والثانی. ماكان متعد يا وذلك بترويج مظاهر الكفر وإقامة شعائره وتحكيم قوانينه واستخفاف أحكام الدين والا متناع من تحكيم شرع الله مع القدرة علی ذلك لاستقباحه وتفضيل شرع غير الله عليه فهذا مايلحق بالكفر البواح ويجوز حينئذ الخروج بشروطه)[1].

**ژباړه: د شرعي نصوصو او په دغه باب کي د فقهاؤ او محدثینو د کلام تر مراجعې وروسته چي کوم شی ماته ښکاري (والله اعلم) هغه دا دی چي د امام (سلطان) فسق په دوه ډوله دی اول ډول يې دا دی چي دغه فسق یوازي ترده پوري خاص وي (بل چاته يې تجاوز نه وي کړی) په دغه صورت کي پردغه فاسق سلطان په جنګ سره راوتل جواز نه لري په همدغه صورت باندي د هغه چا قول حمل کېږي چي ویلي يې دي: پر فاسق او ظالم امام په جنګ سره راوتل جواز نه لري، د امام د فسق دوهم ډول دا دی چي نورو خلګو ته يې تجاوز کړی وي په لاندي صورتونو سره:**

**(۱) د کفر رسمونو ته رواج ورکول، (۲) د کفر د شعائرو (علامو) درول،**

[1] تکملة فتح الملهم دریم جلد (۱۸۴) مخ.

(۳) د کفر د قوانينو نافذول، (۴) د دين احکام سپک ګڼل، (۵) د قدرت په صورت کي د الله تعالیٰ د شريعت له نافذولو څخه مخ اړول له دې کبله چي دی يې بد بولي، (۶) د الله تعالیٰ څخه ماسېوا د بل چا قوانين د الله تعالیٰ پر قوانينو ښه بلل.

دا هغه سي فسق دی چي په ښکاره کفر پوري غوټه کېږي (يعني حکم يې د ښکاره کفر دی) او په دغه وخت کي پر فاسق سلطان په جنګ سره راوتل په څو شرطونو سره جواز لري.

وروسته شيخ محمدتقي عثماني رحمة الله عليه ليکلي دي: کوم څه چي ما په دغه موضوع کي ليدلي دي تر ټولو ښه د حکيم الامت اشرف علي تهانوي رحمة الله عليه کلام دی د ده په رساله (جزل الکلام فی عزل الامام) کي، دغه رساله د (امداد الفتاوی) په پنځم جلد کي چاپ سوې ده، وروسته شيخ محمد تقي عثماني رحمة الله عليه د دغي رسالې خلاصه ذکر کړې ده په دغه خلاصه کي يې پر فاسق سلطان په جنګ سره د راوتلو شرطونه هم ذکر کړي دي[1].

(وَبِاللهِ التَّوْفِيْقُ وَمِنْهُ الوُصُوْلُ إِلَى التَّحْقِيْقِ).

## له اهل السنة والجماعة څخه بېله لار اختيارول ګمراهي ده

۷۳:- وَنَتَّبِعُ السُّنَّةَ وَالْجَمَاعَةَ وَنَجْتَنِبُ الشُّذُوْ ذَوَالْخِلَافَ وَالْفُرْقَةَ.

---

[1] تکملة فتح الملهم دريم جلد (۱۸۷) مخ.

ژباړه: موږ د نبيﷺ د طريقې او د مسلمانانو د جماعت پيروي کوو د يوازي والي او د مسلمانانو د اتفاقي لاري د خلاف او جلا والي څخه پرهېز کوو.

**شرح**- له سنت څخه مراد د نبيﷺ طريقه ده او له جماعت څخه مراد صحابه کرام رضي الله عنهم او د قيامت تر ورځې پورې د دوی پيروان دي نو مطلب دا دی چې موږ د نبيﷺ د سنت اتباع او پيروي لازمه ګڼو لکه څنګه چې الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَاتَّبِعُوْهُ لَعَلَّكُمْ تَهْتَدُوْنَ۝﴾.[الاعراف: ۱۵۸].

۱:- ژباړه: او د همده (يعني نبيﷺ) متابعت وکړئ د دې لپاره چې تاسي لاره ومومی.

۲:- ﴿قُلْ اِنْ كُنْتُمْ تُحِبُّوْنَ اللّٰهَ فَاتَّبِعُوْنِيْ يُحْبِبْكُمُ اللّٰهُ﴾.[آل عمران: ۳۱].

ژباړه: و وايه ای پيغمبره! (دوی ته) که چيري تاسو ياست چې د الله تعالی سره محبت کوئ نو زما متابعت وکړئ الله تعالی به ستاسي سره محبت وکړي (در څخه راضي به سي)

په دې باره کي آيتونه ډېر دي.

همدا شان موږ د مسلمانانو د جماعت چې صحابه کرام رضي الله عنهم او د دوی پيروان دي اتباع او پيروي کوو په کوم شي باندي چې مسلمانانو اتفاق کړی وي هغه نه پرېږدو، همدغه د صحابه کرامو پيروان الله تعالی د صحابه کرامو رضي الله عنهم سره داسي ستايلي دي:

﴿وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا ؕ﴾.[التوبة: ۱۰۰].

ژباړه: او سبقت کونکي لومړني کسان چي له مهاجرينو او انصارو صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه عبارت دی او نور هغه کسان چي د دوی (مهاجرينو او انصارو) يې په احسان (اخلاص) سره متابعت کړی دی له دوی څخه الله تعالی راضي سوی دی او دوی هم له الله جَلَّ جَلَالُهُ څخه راضي سوي دي او هم الله جَلَّ جَلَالُهُ دوی (ټولو) ته داسي جنتونه تيار کړي دي چي د (ونو او ماڼيو) لاندي يې (ځلور ډوله) ويالې بهيږي دوی به هلته تل ترتله همېشه وي.

نو کوم کسان چي د نبي ﷺ په سنت او د صحابه کرامو رضي الله عنهم او د دوی د تابعينو په طريقه باندي روان دي همدغه کسان اهل السنة والجماعة بلل کيږي په اوس وخت کي اهل سنت والجماعت د ځلورو مشهورو مذهبونو په پيروانو کي حصر سوي دي په اوس وخت کي چي کوم خلګ له دغو ځلورو مشهورو مذهبونو څخه وتلي دي او مذهب شرک يا بدعت بولي دغه کسان د اهل سنت والجماعت څخه نه دي او نه په هغه ډله کي داخل دي چي نبي ﷺ له دوزخ څخه خلاصه ډله بللې ده. د دې موضوع په اړوند د کتاب په اول کي تفصيلي بحث تېر سوی دی هلته يې مطالعه کړئ.

همدا راز موږ د شاذو او نادرو لارو او د اختلاف له اسبابو څخه پرهېز کوو پر کومه لاره چي مسلمانانو اتفاق کړی دی له هغې څخه نه جلا کيږو. الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَاعۡتَصِمُوۡا بِحَبۡلِ اللّٰهِ جَمِيۡعًا وَّلَا تَفَرَّقُوۡا﴾. [آل عمران: ۱۰۳].

ژباړه: او ټول د الله تعالی رسی (قرآن کريم) کلک ونيسئ او مه سره مختلف کيږئ.

همدا شان نبي ﷺ فرمايلي دي: (إِنَّ هٰذِهِ الْأُمَّةَ سَتَفْتَرِقُ عَلٰى ثَلَاثٍ وَسَبْعِيْنَ

فِرْقَةً كُلُّهَا فِي النَّارِ إِلَّا وَاحِدَةً قِيلَ مَنْ هِيَ يَارَسُوْلَ اللهِ قَالَ مَنْ كَانَ عَلٰى مِثْلِ مَا أَنَا عَلَيْهِ الْيَوْمَ وَأَصْحَابِيْ)(۱).

ژباړه: يقيناً دغه امت به ژر په (۷۳) ډلو باندي سره جلا سي له يوې ډلي څخه ماسېوٰی نوري دغه ټولي ډلي په دوزخ کي دي صحابه کرامو وفرمايل: دغه ډله چي له دوزخ څخه خلاصه ده کومه يوه ده نبيﷺ وفرمايل دا هغه کسان دي چي پر داسي طريقه روان وي لکه څنګه چي دا اوس زه ورباندي يم او زما صحابه ورباندي دي.

نو کوم کسان چي د مسلمانانو له جماعت څخه جلا سي او په امت کي اختلاف غواړي لکه د اوس وخت وهابيان او سلفيان چي د امت له اتفاقي لاري څخه چي تقليد او مذهب دی جلا سوي دي او د خپلو نفسي خواهشاتو سره يې برابره لاره پيدا کړې ده يوازي خپل ځانونه مسلمانان بولي نور مذهبي مسلمانان مشرکين بولي دغسي کسان د مستقيمي او برابري لاري څخه وتلي او عاقبت يې ډېر خراب دی لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ؕ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴾. [النساء: ۱۱۵].

ژباړه: او هغه څوک چي د دې څخه وروسته چي ده ته سمه لاره ښکاره سوه د رسولﷺ سره مخالفت کوي او د مؤمنانو له لاري څخه ماسېوٰی د بلي لاري پيروي کوي نو دغه کس به هغه خواته ور وګرځوو چي دی ورګرځېدلی دی او دوزخ ته به يې ور داخل کړو او دا دوزخ بد ځای د ورتلو دی.

(۱) الترمذي (۲۶۴۱)، والحاكم (۱/ ۱۲۸)، والطبراني فی الأوسط (۸/ ۲۲).

همدا شان نبي ﷺ فرمايلي دي: (إِنَّ اللهَ لَا يَجْمَعُ أُمَّتِي أَوْقَالَ أُمَّةَ مُحَمَّدٍ ﷺ عَلَى ضَلَالَةٍ وَيَدُاللهِ عَلَى الْجَمَاعَةِ وَمَنْ شَذَّ شُذَّ فِي النَّارِ). الترمذي (۲۱۶۷).

ژباړه: يقيناً الله تعالى زما امت يا يې داسي وفرمايل: د محمد ﷺ امت پر ضلالت باندي نه راټولوي او د الله تعالى د قدرت او احسان يد پر جماعت باندي دی (يعني الله تعالى د مسلمانانو د لوی جماعت حافظ او ناصر دی)، او هغه کس چي د مسلمانانو د لوی جماعت څخه و وزي (خپل ځان ته بېله لاره مختاره کړي) نو به دی د دوزخ په اور کي واچول سي. (هوالله الموفق).

## د عادلانو خلکو سره محبت او د ظالمانو سره بغض لرو

**۷۴:- وَنُحِبُّ أَهْلَ الْعَدْلِ وَالْأَمَانَةِ وَنُبْغِضُ أَهْلَ الْجَوْرِ وَالْخِيَانَةِ.**

ژباړه: موږ د عدل (انصاف) او امانت د خاوندانو سره محبت لرو او د ظلم او خيانت د خاوندانو سره بغض لرو.

**شرح**- قانون دا دی چي يو محبت لرونکی کس هغه څه خوښوي چي د ده محبوب يې خوښوي او هغه څه بد بولي چي د ده محبوب يې بد بولي او د هغه چا سره دوستي کوي چي د ده محبوب دوستي ورسره کوي او هغه څوک دښمن بولي چي د ده محبوب يې دښمن بولي او د خپل محبوب د رضا په وجه راضي کېږي او د غضب له وجهي يې په غضب کېږي او په هغه څه امر کوي چي د ده محبوب امر په کوي او له هغه شي څخه منع کوي چي د ده محبوب منع ځني کوي، خلاصه دا چي دی د خپل محبوب سره په هر حال کي موافق وي په قرآن

کریم کي راغلي دي چي الله تعالی چي د ټولو مؤمنانو محبوب دی د محسنانو، متقیانو، توابینو او متطهرینو خلګو سره محبت لري نو موږ هم محبت ورسره لرو او الله تعالی د خائنانو، مفسدینو او متکبرینو خلګو سره محبت نه لري نو موږ هم محبت نه ورسره لرو بغض ورسره لرو همدغه محبت او بغض ته (الْحُبُّ فِيْ اللهِ وَالْبُغْضُ فِيْ اللهِ) ویل کېږي لکه څنګه چي په یو حدیث کي له نبي ﷺ څخه نقل راغلی دی: (أَوْثَقُ عُرَىٰ الْإِيْمَانِ الْحُبُّ فِيْ اللهِ وَالْبُغْضُ فِيْ اللهِ)[1].

یعني- د ایمان له کړیو څخه ډېره محکمه کړۍ حب فی الله او بغض فی الله دی.

نو موږ د الله تعالی د انبیاؤ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ او نورو صالحو بندګانو سره محبت لرو او دا محبت واجب ګڼو که څه هم هغه محبت چي د الله تعالی سره یې لرو د هغه وړ او لائق بل هیڅوک نه دی د دوی سره زموږ محبت د هر یوه د خپلي مرتبې په اندازه دی د مثال په ډول د یو ولي سره د نبي په شان محبت نه لرو بلکي د ولي د مرتبې په اندازه محبت ورسره لرو همدا شان د ظالمانو او خائنانو سره زموږ بغض هم د دوی د ظلم او خیانت په اندازه دی په لوړه کچه بغض مو د کافرانو سره دی تر کافرانو را وروسته د نورو فاسقانو او ظالمانو سره د دوی د فسق او ظلم په اندازه بغض لرو او دا بغض مو د دوی د فسق او ظلم له کبله دی نه د نورو اغراضو له وجهي څخه دغسي محبت او بغض د ایمان د لوازمو څخه دی او د ایمان کمال دی لکه څنګه چي نبي ﷺ فرمایلي دي:

(مَنْ اَحَبَّ لِلّٰهِ وَأَبْغَضَ لِلّٰهِ وَأَعْطَى لِلّٰهِ وَمَنَعَ لِلّٰهِ فَقَدِ اسْتَكْمَلَ الإِيْمَانَ)[2].

---

[1] رواه الطیالسي (۳۷۶) و ابن ابي شیبه فی المصنف (۱۵/ ۶۳۰)، والحاکم (۲/ ۴۸۰).

[2] رواه ابوداؤد (۴۶۸۱)، والطبراني فی الکبیر (۷۷۳۷).

ژباړه– هغه کس چي د يو چا سره محبت او بغض يې د الله تعالی لپاره وي همدا شان د مال ورکول او منع يې هم د الله تعالی لپاره وي نو دغه کس خپل ايمان کامل کړ.

همدا شان نبيﷺ فرمايلي دي: (ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيْهِ وَجَدَ حَلَاوَةَ الْإِيْمَانِ أَنْ يَكُوْنَ اللهُ وَرَسُوْلُهُ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِمَّا سِوَاهُمَا وَأَنْ يُحِبَّ الْمَرْءَ لَايُحِبُّهُ إِلَّالِلّٰهِ...) [1].

ژباړه: درې خصلتونه (خويونه) دي هغه کس چي په ده کي دغه درې خصلتونه وي نو ده د ايمان شيريني حاصله کړه اول دا چي الله تعالی او د الله تعالی رسولﷺ ده ته تر بل هر څه محبوب وي دوهم دا چي د کوم کس سره محبت کوي (دوست يې بولي) نو هغه محبت يې نه وي مګر د الله تعالی لپاره. دا خبره هم ياد وساتئ چي يوازي په ژبه سره د محبت دعوی کول کفايت نه کوي بلکي د محبت په مقتضی عمل ضروري دی يعني دا ضروري ده چي د محبت آثار به پر اندامونو باندي ښکاره کېږي د الله تعالی او د الله تعالی د رسولﷺ د محبت آثار په دين سره عمل کول دي يعني د الله جل جلاله او د الله جل جلاله د رسولﷺ طاعت کول دي او د نورو مؤمنانو سره د محبت آثار دوی ته د خير او نفعي راجلبول او له دوی څخه د ضرر دفع کول دي نو هغه کس چي دی د الله جل جلاله او د الله جل جلاله د رسولﷺ د محبت دعوی کوي او طاعت يې نه کوي او د مؤمنانو سره د محبت دعوی کوي خو د دوی د خير لپاره کار نه کوي بلکي چمونه ورسره کوي د الله تعالی اولياؤ او صالحو بندګانو ته ضرر رسوي طعنونه او عيبونه ورباندي وايي نو دغه کس پخپله دعوی کي دروا غجن دی. همدا شان د کافرانو او نورو ظالمانو، خائنانو او فاسقانو سره يوازي په ژبه سره د بغض

[1] الحديث، صحيح البخاري (۱۶)، و مسلم (۴۳).

دعویٰ کول کفايت نه کوي بلکي د دغه بغض په مقتضیٰ عمل ضروري دی يعني د دغه بغض آثار به په اندامونو باندي ښکاره کېږي ترڅو قول او فعل سره موافق سي نو که چيري يو کس د مثال په ډول د کافرانو سره د بغض او دښمنۍ دعویٰ کوي او په عمل کي دوستي ورسره کوي همکاري يې کوي نو دا کس هم پخپله دعویٰ کي درواغجن دی.

ډېر تعجب خو بيا هغو کسانو ته دی چي په ژبه سره يې هم دوستان بولي يعني د کافرانو سره په ژبه او عمل دواړو سره دوستي کوي خپل ژوند د دوی په دوستي کي ويني دغه کسان دي له لاندي دوو آيتونو څخه عبرت واخلي:

۱: – ﴿يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا لَا تَتَّخِذُوا الْيَهُودَ وَالنَّصَارَىٰ أَوْلِيَاءَ ۘ بَعْضُهُمْ أَوْلِيَاءُ بَعْضٍ ۚ وَمَن يَتَوَلَّهُم مِّنكُمْ فَإِنَّهُ مِنْهُمْ ۗ إِنَّ اللَّهَ لَا يَهْدِي الْقَوْمَ الظَّالِمِينَ﴾. [المائدة: ٥١].

ژباړه: ای هغو کسانو! چي ايمان يې راوړی دی يهودان او نصارا (د خپلو ځانونو لپاره) کومکيان او دوستان مه نيسئ (چي له دوی سره موالات او دوستي وکړي) دوی ځيني د ځينو نورو کومکيان او دوستان دي (ستاسو کومکيان او دوستان نه دي) او ستاسو څخه چي هر چا د دوی سره دوستي وکړه نو يقيناً هغه له همدوی څخه دی (څه چي هغوی ته رسېږي ده ته به هم ورسېږي) بېشکه الله ﷻ ظالمانو ته (چي پخپلو ځانونو باندي د کفارو سره په دوستي کولو ظلم کوي) هدايت نه کوي.

۲: – ﴿وَلَا تَرْكَنُوا إِلَى الَّذِينَ ظَلَمُوا فَتَمَسَّكُمُ النَّارُ وَمَا لَكُم مِّن دُونِ اللَّهِ مِنْ أَوْلِيَاءَ ثُمَّ لَا تُنصَرُونَ﴾. [هود: ١١٣].

ژباړه: او تاسو هغو کسانو ته (په دوستي سره) ميلان مه کوئ کومو چي ظلم کړی دی نو تاسو ته به د دوزخ اور ورسېږي حال دا چي تاسو ته به پرته د الله ﷻ

هيڅ دوستان نه وي (چي ومو ساتي د عذابه) بيا به ستاسو سره نصرت (کومک) ونه کړه سي.

په دې باره کې نصوص ډېر او مشهور دي.

## هر هغه شی چې زموږ تر ادراک لوړ وي د هغه تفويض الله ﷻ ته کوو

## ۷۵: – وَنَقُولُ اللهُ أَعْلَمُ فِيمَا اشْتَبَهَ عَلَيْنَا عِلْمُهُ.

ژباړه: موږ وايو چي الله تعالی ډېر ښه عالم دی په هر هغه شي چي علم يې په موږ باندي پټ وي.

**شرح** – په دې مسئله کي د اهل سنت والجماعت همدغه طريقه ده چي په کوم شي باندي علم نه لرې نو يې علم الله تعالی ته سپاري په همدغه طريقه سره الله تعالی خپل نبي ﷺ امر کړی دی داسي يې فرمايلي دي:

﴿قُلِ اللّٰهُ اَعْلَمُ بِمَا لَبِثُوْا ۚ لَهٗ غَيْبُ السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ ۭ﴾.[الكهف: ۲۶].

ژباړه: و وايه (ای محمده ﷺ! دوی ته) چي الله ﷻ د اصحاب الكهف په درنګ (ځنډ) کولو باندي ډېر ښه عالم دی خاص الله ﷻ لره د آسمانونو او ځمکو د غيبو علم دی (او بس).

همدا شان الله تعالی فرمايلي دي: ﴿وَلَا تَقْفُ مَا لَيْسَ لَكَ بِهٖ عِلْمٌ ۭ﴾.[الاسراء: ۳۶].

ژباړه: او ته هغه شي پسي مه ګرځه (تعقيب يې مه کوه) په کوم باندي چي تا ته علم نه وي.

حضرت عبدالله بن مسعود ﷺ فرمايلي: (مَنْ عَلِمَ فَلْيَقُلْ وَمَنْ لَمْ يَعْلَمْ فَلْيَقُلِ اللهُ أَعْلَمُ فَإِنَّ مِنَ الْعِلْمِ أَنْ يَقُوْلَ لِمَا لَايَعْلَمُ لَاأَعْلَمُ)[1].

يعني- هغه کس چي په يو شي باندي علم لري نو خبري دي وکړي او هغه کس چي علم نه ورباندي لري نو دي داسي و وايي (الله اعلم) ځکه چي دا هم د علم له جملې څخه دی چي يو کس د هغه شي په باره کي چي علم نه ورباندي لري (لا اعلم) و وايي (يعني د معلوم او مجهول په منځ کي فرق کول هم د علم له جملې څخه دی.

نو هغه کس چي بېله علمه خبري کوي د متشابهاتو يعني هغو نصوصو چي موږ ته يې په مراد باندي علم نه دی راکول سوی فلتهنه کوي دا کس بېله شکه د خپلي هوا پيروي کوي هر کس چي د خپلي هوا او خواهش پيروي کوي لوی ګمراه دی لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي:

﴿وَمَنْ اَضَلُّ مِمَّنِ اتَّبَعَ هَوٰىهُ بِغَيْرِ هُدًى مِّنَ اللهِ ﴾. [القصص: ٥٠].

ژباړه: او د هغه چا څخه زيات ګمراه (بې لاري) څوک دی کوم چي د الله ﷻ له طرفه د هدايت څخه پرته د خپل خواهش پيروي کوي. (يعني همدغه کس لوی ګمراه دی). د دې عقيدې په اړوند په (٢) او (٣٦) عقيده کي هم بيان تېر سوی دی هلته يې مطالعه کړئ.

## اهل السنة و الجماعة پر موزو باندي مسحه روا بولي

**٧٦ :- وَنَرَى الْمَسْحَ عَلَى الْخُفَّيْنِ فِي السَّفَرِ وَالْحَضَرِ كَمَا جَاءَ فِي الْأَثَرِ.**

---

[1] صحيح البخاري (٤٧٧٤).

ژباړه: موږ اهل سنت والجماعت د سفر او مقيم کېدلو په حالت کي پر موزو باندي مسحه روا بولو لکه څنګه چي په مشهور حديث کي دغه مسحه راغلې ده.

**شرح**- يعني موږ اهل سنت والجماعت پر موزو باندي مسحه ځکه روا بولو چي په شريعت کي په مشهورو حديثونو سره ثبوت لري حتّٰی بعضي علماء دغه حديثونه متواتر بولي اوس څو حديثونه وګورئ:

۱:- حضرت مغيرة بن شعبة رضي الله عنه فرمايلي دي: (كُنْتُ مَعَ النَّبِيِّ ﷺ فِي سَفَرٍ فَأَهْوَيْتُ لِأَنْزِعَ خُفَّيْهِ فَقَالَ دَعْهُمَا فَإِنِّي أَدْخَلْتُهُمَا طَاهِرَتَيْنِ فَمَسَحَ عَلَيْهِمَا)[1].

يعني- زه د نبي ﷺ سره د تبوک د غزا په سفر کي ملګری وم نو مي قصد وکړ چي د ده موزې راوکاږم نبي ﷺ وفرمايل موزې پرېږده ځکه چي ما دغه موزې په داسي حال کي په پښو کړي دي چي زما دواړي پښې پاکي وې نو يې پر دواړو موزو مسحه وکړه.

۲:- سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه روايت کړی دی چي نبي ﷺ پر موزو باندي مسحه وکړه[2].

۳:- د عمرو بن أمية الضمري رضي الله عنه څخه نقل راغلی دی چي ده نبي ﷺ ليدلی دی چي پر موزو يې مسحه کول[3].

۴:- حضرت حذيفه رضي الله عنه فرمايلي دي چي نبي ﷺ اودس وکړ او پر موزو يې مسحه وکړه. مسلم (۲۷۳).

۵:- د حضرت علي رضي الله عنه څخه د موزو د مسح په اړوند سوال وسو ده په

[1] صحيح البخاري (۲۰۶) و مسلم (۲۷۴).
[2] صحيح البخاري (۲۰۲).
[3] صحيح البخاري (۲۰۴).

جواب کي داسي وفرمايل:

(جَعَلَ رَسُوْلُ للهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ثَلَاثَةَ أَيَّامٍ وَلَيَالِيَهُنَّ لِلْمُسَافِرِ وَيَوْمًا وَلَيْلَةً لِلْمُقِيْمِ) (۱).

**يعني**- نبيﷺ درې ورځي او درې شپې د مسافر لپاره او يوه ورځ او يوه شپه د مقيم لپاره د موزو مسحه رخصت ګرځولې ده.

په دې باره کي حديثونه ډېر دي حتی حسن بصريرحمه الله فرمايلي دي ماته اويا (۷۰) صحابه کرامو رضي الله عنهم حديث ويلی دی چي نبيﷺ پر موزو باندي مسحه کړې ده. له همدغي وجهي څخه امام ابو حنيفهرحمه الله فرمايلي دي ما پر موزو باندي د مسح د جواز فيصله نه کوله ترڅو چي د موزو په مسحه کي ماته داسي روښانه دلائل را ورسېدل لکه د ورځي روښنايي. امام کرخيرحمه الله فرمايلي دي: زه په هغه چا باندي چي د موزو مسحي ته عقيده نه لري د کفر وېره لرم ځکه چي په دې باره کي حديثونه متواتر ښکاري (۲).

د موزو د مسح شرطونه او نور احکام يې په فقه کي وګورئ ځکه چي دا مسئله د فقهې ده دلته په عقائدو کي ځکه راوړل سوې ده چي دا د اهل سنت والجماعت له شعائرو (علامو) څخه ده. امام طحاويرحمه الله په ذکر سوې عقيده سره پر روافضو (اهل التشيع) باندي رد کړی دی ځکه چي دوی د موزو له مسح څخه انکار کوي د دوی دغه عقيده په ښکاره ډول د نبيﷺ د سنت په خلاف ده. همدا شان د دوی دا کار چي پر لڅو پښو باندي مسحه کوي په اوداسه کي د پښو وظيفه مسحه بولي هم د کتاب او سنت په خلاف دی ځکه چي الله تعالی داسي فرمايلي دي:

﴿ يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُوٓاْ إِذَا قُمۡتُمۡ إِلَى ٱلصَّلَوٰةِ فَٱغۡسِلُواْ وُجُوهَكُمۡ وَأَيۡدِيَكُمۡ إِلَى

(۱) صحيح مسلم (۲۷۶).
(۲) شرح العقائد (۱۱۸)، وشرح العقيدة الطحاوية للميداني (۱۱۲).

﴿الْمَرَافِقِ وَامْسَحُوا بِرُءُوسِكُمْ وَأَرْجُلَكُمْ إِلَى الْكَعْبَيْنِ﴾.[المائدة: ۶].

ژباړه: اى هغو كسانو! چي ايمان يې راوړى دى كله چي تاسي لمانځه ته ولاړيږئ (او تاسو بې اودسه ياست) نو خپل مخونه و وينځئ او هم تر څنګلو پوري خپل لاسونه (سره د څنګلو) و وينځئ او په خپلو سرو باندي مسحه وكړئ او هم خپلي پښې تر پړكيو پوري (سره د پړكيو) و وينځئ.

د ذكر سوي آيت د همدغه قرائت څخه چي (أَرْجُلَكُمْ) د لام په زور سره و ويل سي دا ښكاره معلوميږي چي په اوداسه كي د پښو حكم وينځل دى ځكه چي (ارجلكم) په (وجوهكم) باندي عطف دى نو د معنٰى حاصل يې دا را وځي چي خپلي پښې تر پړكيو پوري هم و وينځئ. لكه څنګه چي يې د آيت په ژباړه كي ذكر وسو. د آيت شريف همدغه مطلب په احاديثو كي ښه پوره روښانه سوى دى هر هغه صحابي رضي الله عنه چي د نبيﷺ د اوداسه صفت يې رانقل كړى دى هغه داسي ويلي دي چي نبيﷺ خپلي پښې و وينځلې لكه د حضرت عثمان رضي الله عنه [1]،

حضرت عبد الله بن عمرو رضي الله عنه فرمايلي دي په يو سفر كي نبيﷺ له موږ څخه ځان شاته كړ خو بيا په موږ پسي په داسي حال كي را ورسېدى چي د مازديګر لمونځ مو ځنډه ولى وو نو (د تلوار له مخي) مو اودسونه تازه كړه او پښې مو سپكي و وينځلې (چي پوندي يې وچي پاته سوې) نو نبيﷺ په لوړ آواز سره دوه يا درې ځلي داسي وفرمايل: (وَيْلٌ لِلْأَعْقَابِ مِنَ النَّارِ) [2].

يعني- هغو پوندو ته چي اوبه نه دي ور رسېدلي له دوزخ څخه عذاب دى.

---

[1] حديث صحيح البخاري (۱۵۹) و صحيح مسلم (۲۲۶) او د عبد الله بن زيد رضي الله عنه حديث صحيح البخاري (۱۹۱) و صحيح مسلم (۲۳۵).

[2] صحيح البخاري (۱۶۳).

له دې حديث څخه په ښکاره ډول معلومېږي چې په اوداسه کې د پښو وينځل فرض دي په دې باره کې زښت ډېر قولي او فعلي احاديث رانقل سوي دي چې ځينو علماء کرامو را غونډ کړي دي(۱)،

همدا شان ټولو صحابه کرامو ﷺ اجماع کړې ده چې په اوداسه کې پښې وينځل فرض دي يوه صحابي هم مخالفت نه دی کړی يوازي درې کسانو (علي ﷺ – عبدالله بن عباس ﷺ او انس ﷺ) مخالفت کړی دی خو دوی هم له خپل مخالفت څخه نورو صحابه کرامو رضي الله عنهم ته رجوع کړې ده(۲).

يوه صحابي هم داسي روايت نه دی کړی چې نبي کريمﷺ په اوداسه کې په پښو باندي مسحه کړې ده حال دا چې د پښو وينځل يې تقريباً د تواتر درجې ته رسېږي(۳).

## سوال او جواب

**سوال**:- په ذکر سوي آيت کي خو يو بل متواتر قرائت هم سته چې هغه (اَرۡجُلِكُمۡ) د لام په زېر سره دی په دې تقدير متبادره دا ده چې په (رُءُوۡسِكُمۡ) باندي عطف دی او د معنٰی حاصل يې دا دی چې پر خپلو پښو باندي هم مسحه وکړئ نو دا خو ظاهراً د (اهل التشيع) مسلک ثابت سو.

**جواب**: د آيت شريف مطلب همهغه دی کوم چې د نبيﷺ د احاديثو او سلفو صالحينو له عمل څخه معلومېږي له دغه څخه پرته بله هيڅ لاره نسته لږ د مخه تاسو ولوستل چې د نبيﷺ حديثونه کوم چې د اوداسه په اړوند رانقل سوي

---

(۱) وګورئ تفسير ابن کثير دوهم جلد (۲۶) مخ، شرح معاني الآثار اول جلد (۳۰) مخ.
(۲) اعلاء السنن اول جلد (۴) مخ.
(۳) تفسير المظهري دريم جلد (۴۸) مخ.

دي قولي دي كه فعلي تواتر د پښو وينځل ثابتوي د سلفو صالحينو عمل هم د پښو په وينځلو باندي دی نو د آيت شريف مطلب هم بېله شکه د پښو وينځل دی لکه څنګه چي اهل السنة والجماعة وايي: دا چي په ذکر سوي آيت کي (اَرْجُلِكُمْ) د لام په زېر سره قرائت هم راغلی دی، د دې په باره کي د علماء کرامو څو اقوال وګورئ چي د دواړو قرائتونو په منځ کي يې تطبيق کړی دی:

۱:- کوم قرائت چي د لام په زور سره دی له هغه څخه لوڅي پښې مراد دي او کوم قرائت چي د لام په زېر سره دی له هغه څخه هغه پښې مراد دي چي په موزو کي وي. تفسير المنار شپږم جلد (۲۳۵) مخ.

۲:- کوم قرائت چي د لام په زېر سره دی هغه هم هغه معنٰی ورکوي چي د لام په زور سره يې ورکوي څکه چي ذکر سوی زېر (جر) د (جرالجوار) په نامه يادېږي چي د (رُءُوسِكُمْ) د زېر سره د انډيوالي په خاطر (وَاَرْجُلِكُمْ) هم په زېر سره ويل کېږي مګر معنٰی يې له زور څخه د زېر خواته نه را اوړي. د (جرالجوار) مثالونه په عربي کلام کي ډېر دي[1].

۳:- د لام د زېر په قرائت کي د مسح څخه خفيف وينځل مراد دي[2].

پر دې صورت يې مطلب داسي راوځي چي پښې خفيفي (سپکي) و وينځئ نه دا چي مسحه پر وکړئ همدغه معنٰی د لاندي حديث څخه ډېره ښه معلومېږي. النزالﷺ په يوه اوږده حديث کي وايي چي حضرت عليﷺ مي وليد چي اوبه ورته راوړل سوي (فَمَسَحَ بِوَجْهِهِ وَيَدَيْهِ وَمَسَحَ بِرَأْسِهِ وَرِجْلَيْهِ)[3].

---

[1] التفسير الكبير (۱۱) جلد (۱۶۱) مخ.

[2] تفسير ابن کثير دوهم جلد (۲۶) مخ، احکام القرآن للجصاص، دوهم جلد (۳۴۶) مخ.

[3] شرح معاني الآثار اول جلد (۳۰) مخ.

يعني- نو يې په خپل مخ او په لاسونو باندي مسحه وکړه او هم يې په خپل سر او خپلو پښو باندي مسحه وکړه.

نو څرنګه چي په ذکر سوي حديث کي په مخ او لاسونو کي هم د مسح لفظ رانقل سوی دی نو معلومه سوه چي دلته خفيف وينځل مراد دي.

۴:- د لام په زېر سره د مسح معنٰی نه ورکوي بلکي معنٰی يې موږل دی[۱].

پردې صورت يې معنٰی داسي راوځي چي خپلي پښې په موږلو سره و وينځئ. د لازياتو معلوماتو لپاره[۲].

## حج او جهاد د فاجر او ظالم امام په ملګري کي هم مشروع دی

**۷۷:- وَالْحَجُّ وَالْجِهَادُ فَرْضَانِ مَاضِيَانِ مَعَ أُولِي الْأَمْرِ مِنَ الْمُسْلِمِيْنَ بَرِّهِمْ وَفَاجِرِهِمْ إِلٰى قِيَامِ السَّاعَةِ لَا يُبْطِلُهُمَا شَيْءٌ وَلَا يَنْقُضُهُمَا.**

ژباړه- حج او جهاد دواړه فرض دي او د مسلمانانو د اميرانو په ملګري کي نېک وي که بد تر قيامت پوري جاري دي هيڅ شی هم حج او جهاد باطلولای نه سي او نه يې احکام له منځه وړلای سي.

**شرح**- يعني حج او جهاد له هغه وخت څخه چي الله تعالٰی فرض کړي دي مشروع دي بيا تر قيامت پوري د اميرانو ظلم او فجور يې نه سي منع کولای

---

[۱] تفسير القاسمي (۶) جلد (۱۱۰) مخ.

[۲] التفسير الكبير (۱۱) جلد (۱۶۱) مخ او روح المعاني (۶) جلد (۷۳) مخ ته مراجعه وکړئ. وبالله التوفيق.

بلکي د ظالمانو او فاجرانو امامانو په ملګري کي هم د عادلانو امامانو د ملګرۍ په شان حج او جهاد مشروع دي ځکه چي د شریعت له مخي دا واجب نه ده چي امام (امیر) به معصوم او عادل وي بلکي یو فاجر او ظالم هم امام (امیر) کېدلای سي.

(**دلائل**) ۱:- نبي ﷺ فرمایلي دي ستاسو په امیرانو کي غوره هغه امیران دي چي تاسو له دوی سره محبت لرئ او دوی ستاسو سره محبت لري تاسو دوی ته دعا کوی او دوی تاسو ته دعا کوي او ستاسو په امیرانو کي ډېر بد هغه امیران دي چي تاسو له دوی سره بغض لرئ او دوی ستاسو سره بغض لري تاسو پر دوی باندي لعنت وایاست او دوی پر تاسو باندي لعنت وایي عوف بن مالک رضي الله عنه ویلي دي: موږ صحابه کرامو و ویل: ای د الله جل جلاله رسوله! آیا موږ په دغه وخت کي د دوی سره کړی عهد په توره سره نه ماتوو نبي ﷺ وفرمایل:

(لَا مَاأَقَامُوْا فِيْكُمُ الصَّلَاةَ وَإِذَا رَأَيْتُمْ مِنْ وُلَاتِكُمْ شَيْئًا تَكْرَهُوْنَهُ فَاكْرَهُوْا عَمَلَهُ وَلَا تَنْزِعُوْا يَدًا مِنْ طَاعَتِهِ).

یعني- دا کار مه کوئ تر څو چي دوی ستاسو په منځ کي لمونځ دروي (یعني صریح کفر نه وي ځني ښکاره سوی) او کله چي تاسو له خپلو امیرانو څخه یو داسي شی و وینئ چي تاسو یې بد بولی (یعني معصیت وي) نو بیا یې عمل بد وبولئ او له طاعت (پیروي) څخه یې لاس مه کاږئ. صحیح مسلم (۱۸۵۵) دې ته ورته څو نور حدیثونه په (۷۲) عقیده کي هم لیکل سوي دي.

**۲:-** امام بخاري رحمه الله پخپل صحیح البخاري کي یو باب په داسي عنوان راوړی دی:

(بَابٌ الْجِهَادُ مَاضٍ مَعَ الْبَرِّ وَ الْفَاجِرِ) یعني- جهاد د عادل امام او فاجر امام

دوارو په ملګري کي جاري دی. وروسته امام بخاري رحمه الله د نبي ﷺ په دې قول سره دلیل ویلی دی:

(الْخَيْلُ مَعْقُودٌ فِي نَوَاصِيهَا الْخَيْرُ إِلَى يَوْمِ الْقِيَامَةِ الْأَجْرُ وَالْمَغْنَمُ).

یعني: د آسونو د سرونو د وړاندینیو برخو په را ځوړند سوو وېښتانو کي خیر (چي اجر او غنیمت دی) د قیامت تر ورځي پوري تړل سوی دی[1].

حافظ ابن حجر رحمه الله د دې حدیث په شرح کي داسي لیکلي دي تر امام بخاري رحمه الله وړاندي امام احمد رحمه الله په دغه حدیث سره استدلال کړی دی د استدلال طریقه یې دا ده چي نبي ﷺ خیر د آسونو د سرونو په وېښتانو کي د قیامت تر ورځي پوري باقي بللی دی او د خیر تفسیر یې په اجر او غنیمت سره کړی دی هغه غنیمت چي اجر ورسره وي له آسونو څخه په جهاد سره لاس ته راځي (نو د حدیث شریف د معنٰی حاصل دا راوځي چي د آسونو د سرونو په وېښتانو کي جهاد د قیامت تر ورځي پوري تړل سوی دی) نور نو دلته نبي ﷺ دا قید نه دی ذکر کړی چي امام به عادل وي نو حدیث شریف د دې دلیل دی چي د جهاد فضیلت په هر صورت حاصل دی که د عادل امام په ملګري کي وي او که د ظالم امام په ملګري کي[2].

۳:- حضرت ابو هریرة رضي الله عنه له نبي ﷺ څخه داسي روایت کړی دی:

(قَالَ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْجِهَادُ وَاجِبٌ عَلَيْكُمْ مَعَ كُلِّ أَمِيرٍ بَرًّا كَانَ أَوْ فَاجِرًا). سنن ابي داؤد - ۲۵۳۳.

ژباړه: نبي ﷺ فرمایلي دي پر تاسو باندي جهاد د هر امیر په ملګرۍ کي

---

[1] صحیح البخاري اول جلد (۳۹۹) مخ، رقم الحدیث (۲۸۵۲).
[2] فتح الباري (۶) جلد (۷۰) مخ.

عادل وي که فاجر واجب دی.

۴: – صحابه کرامو رضي الله عنهم همدا شان تابعینو د هر ډول امام په ملګري کي که به عادل ؤ او که به فاجر ؤ بېله انکاره هم حج کاوه او هم جهاد نو دا د دوی له خوا اجماع سوه[1].

همدا ډول د حج او جهاد تعلق خو تر سفر پوري دی نو يو داسي امير ته ضرورت سته چي د خلګو ضرورتونه پوره کړي نظم او ترتيب يې برابر کړي دغه کارونه لکه څنګه چي په عادل امام سره حاصلېږي همدا شان په فاجر امام سره هم حاصلېږي، امام طحاوي رحمه الله عليه په دې عقيده سره پر اهل التشيع او په خاص طور بيا پر (اماميه) ډلي باندي رد کړی دی دوی وايي جهاد نسته مګر د معصوم امام په ملګري کي او تر نبي صلى الله عليه وسلم وروسته يوازي دوولس (۱۲) امامان معصوم دي چي اول يې حضرت علي رضي الله عنه دی او آخر يې محمدبن الحسن العسکري دی دا هغه څوک دی چي دوی يې (الامام والمهدي المنتظر) بولي دوی وايي دغه آخري امام په پنځه کلنۍ کي په (۲۶۰) سنه په (سامراء) نومي ځای په يوه زېر زميني کي د دښمنانو له ويري څخه پټ سوی دی او په نژدې راتلونکی کي به ظهور وکړي ټوله دنيا به د عدل څخه ډکه کړي، او دوی د هغې زېر زميني سره يو آس يا يوه بله دابه د دې لپاره درولي وي چي کله هغه را ووزي نو به پر دغه دابه باندي سپور سي، او دوی په هغو وختونو کي چي دوی معلوم کړي دي دا آواز هم ورته کوي (يا مولانا اخرج) يا مولانا اخرج) او داسي نور...

خرافات چي دا ټوله د خندا وړ دي نو دوی د همهغه وخته څخه بيا تر اوسه پوري د دغه امام د راوتلو په امید دي او په دې عقيده دي چي جهاد يوازي د همدغه امام يا د ده د نائب په ملګري کي مشروع دی (و بس). (أَعَاذَنَااللّٰهُ مِنْ

---

[1] شرح العقيدة الطحاوية للميداني (۱۱۳) مخ.

سُوْءِإِعْتِقَادِهِمْ)[1].

## په ليكونكو ملائكو باندي ايمان لرل فرض دی

۷۸ :- وَنُؤْمِنُ بِالْكِرَامِ الْكَاتِبِيْنَ فَإِنَّ اللهَ قَدْ جَعَلَهُمْ عَلَيْنَا حَافِظِيْنَ.

ژباړه: موږ په عزتمنو ليكونكو ملائكو باندي ايمان لرو ځکه چي الله تعالى دوی پر موږ باندي (د اعمالو) ساتونكي مقرر كړي دي.

**شرح**- يعني موږ اهل سنت والجماعت په (الكرام الكاتبين) ملائكو باندي ايمان لرو دا هغه ملائكي دي چي الله تعالى د بندګانو په احوالو باندي علم وركړی دی او د بندګانو د اعمالو د ساتلو او ليكلو لپاره الله تعالى پر بندګانو باندي مقرري كړي دي.

(**دلائل**) ۱:- ﴿ وَإِنَّ عَلَيْكُمْ لَحٰفِظِيْنَ۝ كِرَامًا كَاتِبِيْنَ۝ يَعْلَمُوْنَ مَا تَفْعَلُوْنَ۝ ﴾. [الانفطار: ۱۰، ۱۱، ۱۲].

ژباړه: حال دا چي يقيناً په تاسو باندي (د خپل رب د طرفه) خامخا (د عمل) ساتونكي پرښتې (ټاكل سوي) دي (داسي پرښتې) چي د كرامت والا (او) ليكونكي دي (ستاسي د اعمالو) چي په هغو ټولو كړو وړو پوهېږي كوم چي تاسو يې كوئ (برابره خبره ده چي عقيدوي وي او كه عملي).

۲:- ﴿ اَمْ يَحْسَبُوْنَ اَنَّا لَا نَسْمَعُ سِرَّهُمْ وَنَجْوٰهُمْ ؕ بَلٰى وَرُسُلُنَا لَدَيْهِمْ

---

[1] شرح العقيدة الطحاوية (۳۷۶) مخ. شرح العقائد (۱۱۱) مخ.

يَكۡتُبُونَ ○﴾.[الزخرف: ۸۰].

ژباړه:آیا مشرکان (کفار) ګمان کوي چي بېشکه موږ د دوی پټې خبري او د دوی پټې مشورې نه اورو دغسي نه ده (لکه چي دوی خیال کوي) بلکي اورو یې او زموږ لېږلي سوي پرښتې ورسره (حاضري) دي چي په دوامداره توګه (د دوی کړه وړه) لیکي.

۳:- په قدسي حدیث کي راغلي دي:

(يَقُوْلُ اللهُ إِذَا أَرَادَ عَبْدِی أَنْ يَعْمَلَ سَيِّئَةً فَلَاتَكْتُبُوْهَا عَلَيْهِ حَتَّى يَعْمَلَهَا فَإِنْ عَمِلَهَا فَاكْتُبُوْهَا بِمِثْلِهَا وَإِنْ تَرَكَهَا مِنْ أَجْلِي فَاكْتُبُوْهَالَهُ حَسَنَةً وَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَعْمَلَ حَسَنَةً فَلَمْ يَعْمَلْهَا فَاكْتُبُوْهَالَهُ حَسَنَةً فَإِنْ عَمِلَهَا فَاكْتُبُوْهَا لَهُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا إِلَى سَبْعِمِائَةِ ضِعْفٍ) [1].

ژباړه: نبيﷺ فرمايلي دي چي: الله تعالی (خپلو فرښتو ته) داسي فرمايي کله چي زما بنده د بد عمل اراده وکړي نو تاسو دغه بد عمل پرده باندي مه لیکئ ترڅو چي دی دغه عمل کوي که یې چیري دغه عمل وکړ نو بیا یو ازي هغه بد عمل ولیکي او که یې چیري دغه بد عمل زما د وېري لکبله پرېښود نو بیا دغه بد عمل د ده لپاره حسنه (نېکي) ولیکي او کله چي بیا زما بنده د نېک عمل اراده وکړي او کړی یې نه وي نو دا د ده لپاره نېکي ولیکئ او که یې چیري دغه نېک عمل وکړ نو بیا دغه عمل د ده لپاره په لس (۱۰) چنده تر (۷۰۰) چنده پوري ولیکئ.

په دې باره کي نصوص ډېر او مشهور دي. پر لیکونکو ملائکو باندي ایمان په (الایمان بالملائکة) کي داخل دی چي تفصیل یې په (۵۳) عقیده کي تېر سوی دی. (هوالله المستعان).

---

[1] صحيح البخاري (۷۵۰۱).

# پر ملک الموت باندي ایمان لرو

**۷۹ : – وَنُؤْمِنُ بِمَلَكِ الْمَوْتِ الْمُوَكَّلِ بِقَبْضِ أَرْوَاحِ الْعَالَمِيْنَ.**

ژباړه– موږ پر ملک الموت باندي چي ده ته د ټوله عالم د ارواحو قبض سپارل سوی دی ایمان لرو.

**شرح**– په ځینو تفسیرونو کي د (ملک الموت) نوم (عزرائیل عليه السلام) ښودل سوی دی[1].

په ملک الموت باندي ایمان هم د (الایمان بالملائکة) له جملې څخه دی چي تفصیل یې په (۵۳) عقیده کي تېر سوی دی، د ملک الموت په باره کي الله تعالی داسي فرمایلي دي:

﴿ قُلْ يَتَوَفّٰىكُمْ مَّلَكُ الْمَوْتِ الَّذِىْ وُكِّلَ بِكُمْ ثُمَّ اِلٰى رَبِّكُمْ تُرْجَعُوْنَ ﴾. [السجدة: ۱۱].

ژباړه: (ورته) و وایه (ای محمده ﷺ!) چي هغه ملک الموت (عزرائیل عليه السلام) ستاسو ارواح قبض کوي کوم چي په تاسو باندي (د ارواحو د قبض لپاره) مقرر کړی سوی دی بیا به (بیرته را ژوندي کړی سي او) خپل رب ته به (د حساب کتاب لپاره) بوتلل سئ.

همدا شان د ملک الموت سره په ملګرو ملائکو باندي هغه که د رحمت ملائکي دي او که د عذاب هم موږ ایمان لرو د دغو ملائکو ذکر هم الله تعالی پخپل کتاب قرآن کریم کي کړی دی:

---

[1] روح المعاني (۲۱) جلد (۱۲۶) مخ. الدر المنثور (۶) جلد (۵۴۲) مخ.

۱:- ﴿ وَلَوْ تَرَىٰٓ إِذِ الظّٰلِمُوْنَ فِيْ غَمَرٰتِ الْمَوْتِ وَالْمَلٰٓئِكَةُ بَاسِطُوْٓا اَيْدِيْهِمْ ۚ ﴾.

[الانعام:۹۳].

ژباړه: او (ای پیغمبره!) که ته هغه وخت وګورې چي ظالمان (کافران) د مرګ په سختیو کي وي حال دا چي (د عذاب) ملائکي (ورته) د خپلو لاسونو غځونکي وي (د روح د قبض لپاره) (نو ته به وګورې چي کافران څومره د ذلت په حالت کي راګیر دي).

۲:- ﴿ الَّذِيْنَ تَتَوَفّٰهُمُ الْمَلٰٓئِكَةُ طَيِّبِيْنَ يَقُوْلُوْنَ سَلٰمٌ عَلَيْكُمُ ادْخُلُوا الْجَنَّةَ بِمَا كُنْتُمْ تَعْمَلُوْنَ ○﴾. [النحل: ۳۲].

ژباړه: متقیان هغه کسان دي چي د رحمت ملائکي يې (د کفر او معصيت څخه) د پاکيزګي په حال کي ارواح قبض کوي (دوی ته به د ارواحو د قبض په وخت کي) (د رحمت) ملائکي وايي چي په تاسو باندي سلامتيا ده (او د قيامت په ورځ به ورته و ويل سي چي) جنت ته د هغو نېکو اعمالو په سبب ننوځئ کوم چي تاسو (په دنيا کي) واست چي کول به مو.

د ملک الموت او د ده داعوانو (کومکيانو ملائکو) ذکر په ګڼ شمېر آيتونو او حديثونو کي راغلی دی. په ذکر سوي اول آيت کي د روح د قبض نسبت ملک الموت ته له دې کبله سوی دی چي اول ځل يې دی د الله تعالی په امر سره د قبض او راويستلو تصرف کوي وروسته نو که چيري پاک روح وي نو يې د رحمت ملائکي ځني اخلي او د جنت په يوه کفن کي يې ايږدي او که چيري خبيث روح وي بيا يې د عذاب ملائکي ځني اخلي دا ټوله د الله تعالی په حکم قضا او قدر سره دي همدغه وجه ده چي په دوهم او دريم آيت کي د روح د قبض نسبت ملائکو ته سوی دی همدغه معنٰی د براءبن عازب ﷺ له حديث

څخه ښکاره معلومېږي چي امام احمد رحمه الله او ابوداؤد رحمه الله يې روايت کړی دی[1].

## د روح اړوند عقيده

عبدالله بن مسعود رضي الله عنه وايي چي يوه ورځ زه د نبي ﷺ سره د مديني منورې له آبادۍ څخه بهر په خرابو کي روان وم حال دا چي نبي ﷺ د خرما د ونې په يوه ښاخ باندي تکيه کوله په عين وخت کي د يهودانو په يوه ټولګي باندي تېر سو نو له دوی څخه ځينو کسانو ځينو نورو ته وويل چي تاسو له ده څخه د روح په هکله پوښتنه وکړئ د همدغي ټولګي څخه ځينو کسانو و ويل تاسو له ده څخه دغه پوښتنه مه کوئ هسي نه چي داسي جواب درکړي چي ستاسو خوښ نه وي (چي هغه د روح تفسير نه کول دي) مګر نورو ټينګار وکړ چي خامخا به پوښتنه ورڅخه کوو نو له دوی څخه يو کس ولاړ سو او ويې ويل چي ای (اباالقاسم ﷺ) روح څه شی دی: (فَسَكَتَ فَقُلْتُ إِنَّهُ يُوحَى إِلَيْهِ فَقُمْتُ فَلَمَّا انْجَلَى عَنْهُ فَقَالَ (وَيَسْئَلُونَكَ عَنِ الرُّوحِ) الآية. صحيح البخاري (۱۲۵).

يعني- نو نبي ﷺ سکوت وکړ نو ماله خپله ځانه سره و ويل چي يقيناً وحي ورباندي نازلېږي نو زه ودرېدم نو کله چي له نبي ﷺ څخه د وحي حالت ليري سو، نو دا آيت نازل سو:

﴿ وَيَسْـَٔلُوْنَكَ عَنِ الرُّوْحِ ۭ قُلِ الرُّوْحُ مِنْ اَمْرِ رَبِّيْ وَمَآ اُوْتِيْتُمْ مِّنَ الْعِلْمِ اِلَّا قَلِيْلًا ۝ ﴾. [الاسراء: ۸۵].

ژباړه: او ای پيغمبره! کفار ستا څخه د روح په هکله پوښتنه کوي (چي

[1] احمد/۴/ ۲۸۷، ابوداؤد (۴۷۵۳).

حقيقت يې څه شی دی) (دوی ته) و وایه چي روح زما د رب له فرمان څخه (موجود شی) دی او تاسو ته د علم څخه نه دی درکول سوی مګر لږ (چي د روح حقيقت نه سي په پېژندلای).

د روح کلمه په ډېرو معناوو استعمال سوې ده لکه: راحت، قوت، نصرت، قرآن، عيسیٰ عليه السلام، جبريل عليه السلام او داسي نور مګر په دې کي اختلاف دی چي په دې آيت کي د روح کلمه په کومي معنیٰ سره ده. يا په بل عبارت په کومه معنیٰ باندي نبي ﷺ ته د روح په هکله پوښتنه راجع سوې ده په دې کي له علماء کرامو څخه ډېر اقوال رانقل سوي دي[1].

خو د جمهورو علماؤ په نظر له هغه روح څخه پوښتنه سوې ده په کوم پوري چي د يوه ساکښ ژوند توقف لري همدا نظر صحيح دی[2].

د ځينو مفسرينو کرامو نظر دا دی چي په (وما اوتيتم من العلم الاقليلا) کي خطاب يوازي يهودانو ته متوجه دی اما په دې امت کي الله تعالیٰ داسي بنده ګان پيدا کړي دي چي د روح په حقيقت باندي پوهېږي[3].

له همدې کبله د اهل سنت والجماعت له ډېرو علماؤ څخه د روح په تعريف کي ګڼ شمېر اقوال رانقل سوي دي د مثال په ډول لاندي دوه قولونه وګورئ:

۱: – انها جسم لطيف متخلل فی البدن تذهب الحياة بذهابها.

يعني – روح يو باريک جسم دی په بدن کي ګډ دی په تګ سره يې د ساکښ ژوند له منځه ځي.

۲: – هی جسم لطيف مشتبك بالبدن اشتباك الماء بالعود الأخضر.

---

[1] وګورئ. تفسير ابن کثير (۳) جلد (۶۱) مخ.

[2] تفسير ابي السعود (۵) جلد (۱۹۲) مخ. البحر المحيط (۷) جلد (۱۰۶) مخ.

[3] تفسير المظهري (۵) جلد (۴۸۵) مخ.

يعني- روح يو باريک جسم دی د بدن سره داسي ګډون لري لکه د اوبو ګډون د شنه لرګي سره[۱].

اما د ځينو مفسرينو نظر بيا دا دی چي په ذکر سوي آيت کي خطاب به ټولو انسانانو ته متوجه وي همدا نظر (علامه الطبري) صواب ګڼلی دی[۲].

له همدې کبله ځيني علماء کرام د روح د حقيقت د معلومولو کوښښ نه کوي. (اللهُ أَعْلَمُ بِحَقِيقَةِ الْحَالِ).

## د قبر عذاب او په قبر کي سوال حق دی

**۸۰ :-** وَبِعَذَابِ الْقَبْرِ لِمَنْ كَانَ لَهُ أَهْلًا وَسُؤَالِ مُنْكَرٍ وَنَكِيْرٍ فِي قَبْرِهِ عَنْ رَّبِّهِ وَدِيْنِهِ وَنَبِيِّهِ عَلَى مَاجَاءَتْ بِهِ الْأَخْبَارُ عَنْ رَّسُوْلِ اللهِ (صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ) وَعَنِ الصَّحَابَةِ (رِضْوَانُ اللهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعِيْنَ).

ژباړه: همدا شان موږ د قبر په عذاب باندي د هغه چا لپاره چي د عذاب مستحق وي ايمان لرو همدا راز له ميت څخه د ده په قبر کي د دوو ملائکو چي يوه ته يې (منکر) او بل ته يې (نکير) ويل کېږي په سوال کولو باندي د ده د رب جل جلاله او د ده د دين او د ده د نبي ﷺ په اړوند په هغه طور چي په هغه باندي له نبي ﷺ او صحابه کرامو رضي الله عنهم څخه احاديث راغلي دي ايمان لرو.

**شرح**- امام طحاوي رحمة الله عليه په دې عبارت کي دوې مسئلې ذکر کړي دي:

**اوله مسئله**:- د (عذاب القبر) ده. له قبر څخه مراد برزخ دی له برزخ څخه

---

(۱) شرح العقيدة الطحاوية للميداني (۱۱۵).

(۲) تفسير الطبري (۱۵) جلد (۵۷) مخ.

مراد د دنیا او آخرت په منځ کي جهان دی نو په کوم ځای کي چي تر مرګ وروسته د انسان ټول بدن یا د بدن یو غړی وي هغه د ده لپاره برزخ او قبر دی مطلب دا دی هر هغه کس چي مړ سي او د عذاب مستحق وي نو هغه ته به په برزخ کي له عذاب څخه خپله حصه ورسېږي هغه که د ځمکي په نس کي وي که د ځمکي په سر باندي وي که د دریاب په اوبو کي وي که یې مرغان یا نور ځناور وخوري که وسوځول سي او ایره یې په دریاب کي واچول سي یا په هوا کي وشیندله سي او یا په کوم بل داسي ځای کي وي[1].

(**دلائل**) ۱:- الله تعالی فرمایلي دي:

﴿النَّارُ يُعْرَضُوْنَ عَلَيْهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا ۚ وَيَوْمَ تَقُوْمُ السَّاعَةُ ۗ اَدْخِلُوْٓا اٰلَ فِرْعَوْنَ اَشَدَّ الْعَذَابِ﴾. [المؤمن: ۴۶].

ژباړه: (د فرعون د پېروانو په برزخ کي دا حال دی) چي دوی به هر صبا او هر بېګا د دوزخ په اور باندي وړاندي کاوه شي او د قیامت په ورځ (به ملائکو ته د الله تعالی له جانبه وویل سي) د فرعون پېروان (سره د فرعون) سخت عذاب ته ور داخل کړئ (چي همېشه پکښي واوسېږي).

۲:- د حضرت براء بن عازب رضي الله عنه په حدیث کي راغلي دي چي نبي ﷺ داسي فرمایلي دي:

(وَإِنَّ الْكَافِرَ يُفْتَحُ لَهُ بَابٌ إِلَى النَّارِ فَيَأْتِيهِ مِنْ حَرِّهَا وَسَمُومِهَا وَيُضَيَّقُ عَلَيْهِ قَبْرُهُ حَتَّى تَخْتَلِفَ فِيهِ أَضْلَاعُهُ)[2].

ژباړه- بېله شکه کافر ته به د دوزخ له اور څخه یوه دروازه خلاصه کړل سي نو

---

[1] شرح الصدور (۱۷۷) مخ.
[2] أحمد ۴/ ۲۸۷، و ابوداؤد (۴۷۵۳).

به ده ته د اور حرارت او ګرمي رسېږي او پرده باندي به خپل قبر تنګ کړل سي تر داسي اندازې پوري چي پوښتي به يې سره تېرې سي.

**٣:- د عبدالله بن عمر ﵄ څخه نقل راغلی دی چي نبي ﷺ داسي وفرمايل:**

(إِنَّ أَحَدَكُمْ إِذَامَاتَ عُرِضَ عَلَيْهِ مَقْعَدُهُ بِالْغَدَاةِ وَالْعَشِيِّ إِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ فَمِنْ أَهْلِ الْجَنَّةِ وَإِنْ كَانَ مِنْ أَهْلِ النَّارِ فَمِنْ أَهْلِ النَّارِ فَيُقَالُ هذَا مَقْعَدُكَ حَتَّى يَبْعَثَكَ اللهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ)[1].

ژباړه- يقيناً کله چي يو له تاسو څخه مړ سي نو صبا او بېګا ورباندي خپل د کېناستولو ځای وروړاندي کېږي که چيري له جنتيانو څخه وي نو د جنتيانو د ناستي له ځايونو څخه د ناستي ځای ورښودل کېږي او که چيري د دوزخيانو څخه وي نو بيا د دوزخيانو د ناستي د ځايونو څخه د ناستي ځای ورښودل کېږي او ورته ويل کېږي چي دغه ستا د ناستي (همېشه او سېدلو) هغه ځای دی کوم چي تا به الله تعالی د قيامت په ورځ له خپل قبر څخه ورته را وپاڅوي (ژوندی به دي کړي).

د عذاب القبر په اړوند احاديث ډېر دي علماء کرامو متواتر بللي دي[2].

**دوهمه مسئله:-** په قبر کي د سوال ده: لکه څنګه چي (عذاب القبر) حق دی همدا شان (سوال القبر) هم حق دی په دې باره کي د لاندي صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه احاديث رانقل سوي دي:

**١: انس ﵁، ٢: براء بن عازب ﵁، ٣: تميم الداري ﵁، ٤: بشيربن الکمال ﵁، ٥: ثوبان ﵁، ٦: جابر بن عبدالله ﵁، ٧: عبدالله بن**

---

[1] صحيح البخاري (١٣٧٩) و صحيح مسلم (٢٨٦٦).

[2] شرح العقائد (٧٧) مخ. د لا زياتو معلوماتو لپاره وګورئ شرح الصدور، (١٥٩) مخ (الی) (١٧٨) او (التذکرة) للامام القرطبي اول جلد (٢٢٧) مخ (الی) (٢٤٠).

رواحةﷺ، ۸: عبادة بن الصامتﷺ، ۹: حذيفةﷺ، ۱۰: ضمرة بن حبيبﷺ، ۱۱: ابن عباسﷺ، ۱۲: ابن عمرﷺ، ۱۳: ابن مسعودﷺ، ۱۴: عثمان بن عفانﷺ، ۱۵: عمربن الخطابﷺ، ۱۶: عمرو بن العاصﷺ، ۱۷: معاذبن جبلﷺ، ۱۸: ابوأمامةﷺ، ۱۹: ابوالدرداءﷺ، ۲۰: ابورافعﷺ، ۲۱: ابو سعيد الخدريﷺ، ۲۲: ابوقتادةﷺ، ۲۳: ابوهريرةﷺ، ۲۴: ابوموسیٰﷺ، ۲۵: أسماءﷺ، ۲۶: ام المؤمنين عائشةﷺ[۱]،

د حضرت براءبن عازبﷺ په روايت کي راغلي دي چي نبيﷺ وفرمايل کله چي ميت په قبر کي کښېښودل سي دوې ملائکي ورته راسي نو يې راکښېنوي او دا سوال ځني وکړي، رب دي څوک دی او دين دي څه شی دی او دغه کس چي په تاسو کي مبعوث سوی وو څوک دی که چيري ميت مؤمن وي نو جواب داسي ورکوي رب مي الله ﷻ دی او دين مي اسلام دی او دغه کس د الله ﷻ رسول دی او که چيري ميت کافر وي نو د ذکر سوو سوالونو په جواب کي داسي ورته وايي (هاه هاه لا أدري) نور نو حديث شريف اوږد دی ما صرف يو څو ټکي خلاصه ځني را واخيستل[۲].

له حضرت انسﷺ څخه هم دغه ته ورته حديث رانقل سوی دی صحيح البخاري (۱۳۳۸) او مسلم (۲۸۷۰) په اکثرو احاديثو کي همدغسي راغلي دي چي ميت ته دوې ملائکي ورځي يعني نور يې څرنګوالی نه دی بيان سوی لېکن د حضرت ابوهريرةﷺ په روايت کي راغلي دي چي دغه دوې ملائکي په داسي صورت کي ورځي چي تور رنګ او شنې سترګي به يې وي يوه ته يې

[۱] د تفصيل لپاره وګورئ شرح الصدور (۱۱۹) مخ (الی) (۱۴۱) او (التذکرة) اول جلد (۲۰۰) مخ.
[۲] ابوداؤد (۴۷۵۳)، احمد/۴/ ۲۸۷، النسائي (۲۰۰۳)، ابن ماجه (۱۵۴۸).

منکر او بل ته يې نکير ويل کېږي. الترمذي (۱۰۷۱)[۱]،

(اللّٰهُمَّ ثَبِّتْنَا بِالْقَوْلِ الثَّابِتِ فِي الْحَيَاةِ الدُّنْيَا وَفِي الْآخِرَةِ بِحُرْمَةِ خَيْرِ الْبَرِيَّةِ).

## ځينو ګنهکاره مؤمنانو ته هم عذاب القبر ثابت دی

ځينو ګنهکاره مؤمنانو ته هم برزخي عذاب په احاديثو کي راغلی دی خو د دوی او د کافرانو ترمنځ دا فرق دی چي د کافرانو برزخي عذاب د قيامت تر ورځي پوري دوام لري او د ګنهکاره مؤمنانو په هکله يې دوام ضرور نه دی.

دليل:- حضرت ابن عباس رضي الله عنهما فرمايلي دي چي: نبي ﷺ د مدينې منورې يا مکې مکرمې له باغونو څخه د يو باغ سره تېر سو نو يې د دوو ګنهکاره مؤمنانو آواز واورېدی چي په قبرونو کي عذاب ورکول کېدی نبي ﷺ وفرمايل دغو دوو کسانو ته عذاب ورکول کېږي او دوی ته په داسي کار کي عذاب نه ورکول کېږي چي پرېښودل يې ګران کار وو لېکن د الله تعالی په نزد دا کار کبيره ګناه ده په دوی کي يوه يې له خپلو بولو څخه ځان نه ساتئ او دا بل يې (نميمة) کوله (يعني د يوه کس خبره به يې بل کس ته د فساد لپاره رسوله) وروسته يې يو لمده لښته را وغوښتل او دوې ټوټې يې کړه د هر يوه په قبر باندي يې يوه ټوټه کېښودل له نبي ﷺ څخه سوال وسو چي دا کار دي د څه لپاره وکړ نبي ﷺ وفرمايل: (لَعَلَّهُ أَنْ يُخَفَّفَ عَنْهُمَا مَالَمْ تَيْبَسَا)، يعني- شايد شان دا دی چي له دغو دوو کسانو څخه عذاب سپک کړل سي ترڅو چي دغه دواړه لمدې لښتې نه وي وچي سوي[۲]. (اللّٰهُمَّ إِنِّي أَعُوذُبِكَ مِنْ عَذَابِ الْقَبْرِ وَمِنْ عَذَابِ

---

[۱] مشکوة اول جلد (۲۵) مخ.

[۲] صحيح البخاري (۲۱۶) و مسلم (۲۹۲).

النَّارِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَحْيَا وَالْمَمَاتِ وَمِنْ فِتْنَةِ الْمَسِيحِ الدَّجَّالِ).

## نېکانو خلګو ته په قبر کي راحت او نعمتونه ستنه

**۸۱: - وَالْقَبْرُ رَوْضَةٌ مِنْ رِّيَاضِ الْجَنَّةِ أَوْ حُفْرَةٌ مِنْ حُفَرِ النِّيْرَانِ.**

ژباړه: قبر د جنت له باغچو څخه یوه باغچه ده (د مؤمن لپاره) او یا د دوزخ له کندو څخه یوه کنده ده (د کافر لپاره).

**شرح** - په دې عبارت کي په قبر کي د عذاب ترڅنګ راحت او نعمتونو ته هم اشاره سوې ده یعني نېکانو خلګو ته به په عالم برزخ کي بېلابېل نعمتونه او راحت ورکول کېږي او بدو خلګو ته به پکي عذاب ورکول کېږي (په قبر کي د راحت.)

(**دلایل**) ۱:- کوم عبارت چي امام طحاوي رحمه الله ذکر کړی دی همدغه ته ورته حدیث شریف راغلی دی. الترمذي (۲۴۶۰).

۲:- د عبدالله بن عمر رضي الله عنهما هغه روایت دی چي لږ دمخه د (عذاب القبر) په بحث کښې تېر سو.

۳:- د براءبن عازب رضي الله عنه په روایت کي راغلي دي چي نبي صلی الله علیه وسلم وفرمایل کله چي له مؤمن څخه په قبر کي سوال وسي نو د آسمان له طرفه یو آواز کونکی آواز وکړي چي زما بنده رشتیا و ویل نو تاسو (ای ملائکو!) ده ته له جنت څخه یو فرش وغوړوئ او د جنت جامه ور واغوندئ او له جنت څخه یوه دروازه ورته پرانېزئ (فَيَأْتِيهِ مِنْ رَّوْحِهَا وَطِيبِهَا وَيُفْتَحُ لَهُ فِيهَا مَدَّ بَصَرِهِ)[1].

یعني - نو به د جنت راحت او خوش بویي ده ته را رسېږي او ده ته به په قبر کي

---

[1] ابوداؤد (۴۷۵۳).

د ده د سترګو د ليدلو په اندازه فراخي جوړه سي. په دې باره کي احاديث ډېر دي.

## په عالم برزخ کي ثواب او عذاب روح او بدن دواړو ته ورکول کېږي

که څه هم د مرګ په وخت کي روح له بدن څخه ايستل کېږي لېکن فناه کېږي نه کوم وخت چي مړی په قبر کي خښ کړل سي نو بيا روح د سوال او جواب لپاره بيرته د هغه بدن ته راګرځول کېږي لکه څنګه چي د براء بن عازب ﷺ په روايت کي راغلي دي:

(وَتُعَادُ رُوحُهُ فِي جَسَدِهِ).[1] يعني- روح يې خپل بدن ته بيا راګرځول کېږي.

امام ابو حنيفه رحمه الله فرمايلي دي: (وَإِعَادَةُ الرُّوحِ إِلَى جَسَدِ الْعَبْدِ فِي قَبْرِهِ حَقٌّ).

يعني- د بنده بدن ته د ده په قبر کي د روح راګرځول حق دی[2].

خو تر سوال او جواب وروسته هم د روح له بدن سره دومره تعلق ضرور پاته کېږي چي په هغه سره ثواب او عذاب محسوس کړای سي که څه هم بدن په دنيا کي ذره ذره سي ځکه چي الله تعالی قادر دی چي د بدن يوه جزء ته حيات را وګرځوي، همدغه قول چي ثواب او عذاب روح او بدن دواړو ته ورکول کېږي د اهل سنت والجماعت په نزد مختاره دی. لکه څنګه چي ملا علي القاري رحمه الله ويلي دي: (واعلم أن أهل الحق اتفقوا على ان الله تعالى يخلق في الميت نوع حياة في

---

[1] ابوداؤد (۴۷۵۳).
[2] شرح الفقه الاكبر (۱۷۱) مخ.

القبر قدر مايتألم أو يتلذذ)[۱].

ژباړه: پوه سه چي يقيناً (اهل الحق) پردې خبره باندي اتفاق کړی دی چي الله تعالیٰ په عالم برزخ کي په مړي کي يو ډول حيات پيدا کوي په داسي اندازه چي دی په هغه سره عذاب او ثواب محسوسولای سي.

## د بدن سره د روح تعلقات

د برزخي عذاب يا خوشالۍ لپاره د بدن او روح يو ځای والی ضرور نه دی خو يو خاص ډول تعلق يې سره ضرور دی ترڅو عذاب يا خوشالي حس کړی سي که څه هم اجزاء يې خواره واره وي د ښه وضاحت لپاره د بدن سره د روح تعلقات په لاندي ډول وګورئ:

اول:- د مور په نس (رحم) کي د روح تعلق دی د خپل بدن سره دا يو خاص تعلق دی چي بدن وربانديي ژوندی کېږي حال دا چي رحم ډېر تنګ او بند ځای دی که بالفرض څوک دوهم ځل رحم ته ور وګرځول سي سمدستي به مړ سي.

دوهم:- کله چي څوک له رحم څخه بهر سي نو بيا د روح تعلق په بل ډول صورت نيسي چي د رحم د تعلق څخه بالکل جلا دی ځکه چي هلته په تنګ ځای کي خوشاله وو او ژوند يې کاوه خو دلته په تنګ ځای کي خپه کېږي او مړ کېږي.

دريم:- د خوب په حال کي د روح تعلق دی د خپل بدن سره چي دا بيا د وښتيا سره بالکل منافي دی.

څلورم:- په عالم برزخ کي د روح تعلق دی د خپل بدن سره دا بيا داسي تعلق

---

[۱]شرح الفقه الاکبر (۱۷۲) مخ.

دی چي خپل بدن له انحلال (ذره ذره کېدلو) څخه نه سي ساتلی مګر برزخي عذاب وربانديِ حس کولای سي که څه هم اجزاءیې خواره واره وي.

پنځم:- د قیامت په ورځ کله چي مړی را ژوندی کړل سي د روح تعلق دی د خپل بدن سره دا تر ټولو قوي تعلق دی ځکه چي د دې تعلق سره بدن د همېشه لپاره له مرګ خوب او فساد څخه محفوظ پاته کېږي[1].

## تر مرګ وروسته بیا د قیامت تر ورځي پوري ارواح چیري وي

په دې باره کي د (العقيدة الطحاوية) شارح ګڼ شمېر اقوال رانقل کړي دي خو په آخر کي يې داسي ويلي دي د دغو اقوالو له دلائلو څخه معلومېږي چي په عالم برزخ کي د ارواحو ترمنځ ډېر توپیر سته ځیني يې په ډېر لوړ مقام (أعلى عليين) کي دي دا د انبیاؤ (صلوات الله عليهم وسلامه) ارواح دي چي هلته هم دوی د خپلو مرتبو په اعتبار فرق سره لري او ځیني يې د شنو مرغانو په نسونو کي دي چي په جنت کي ګرځي او را ګرځي دا د شهیدانو ارواح دي، او ځیني بیا د جنت د دروازې سره راګرځول سوي دي او ځیني بیا په قبر کي راګرځول سوي وي، او ځیني په ځمکه کي را ګرځول سوي وي، د ابن ماجه طبراني او بيهقي له یوه روایت څخه معلومېږي چي د مؤمنانو ارواح په جنت کي دي او د کافرانو ارواح په سجين (د ځمکي لاندي طبقه) کي دي والله اعلم. د دې موضوع په اړوند امام جلال الدين السيوطي رحمه الله زښت ډېر روایتونه رانقل کړي دي تاسو

---

[1] شرح العقيدة الطحاوية (۳۸۹) مخ، شرح الصدور (۲۳۱) مخ.

يې مطالعه کړئ[1].

# د قبر کنېکښل هر چاته سته

د نبي ﷺ له احاديثو څخه ښکاره معلومېږي چي د قبر کنېکښل يعني د قبر دوه طرفه د مړي پر بدن باندي سره را نژدې کېدل هر چاته سته په دې باره کي خو حديثونه ډېر دي خو زه به دلته صرف دوه حديثونه رانقل کړم.

۱:- له عبدالله بن عمر رضي الله عنه څخه نقل راغلی دی چي نبي ﷺ داسي وفرمايل:

(هٰذَا الَّذِی تَحَرَّكَ لَهُ الْعَرْشُ وَفُتِحَتْ لَهُ أَبْوَابُ السَّمَاءِ وَشَهِدَهُ سَبْعُوْنَ أَلْفًا مِنَ الْمَلَائِكَةِ لَقَدْ ضُمَّ ضَمَّةً ثُمَّ فُرِّجَ عَنْهُ)[2].

ژباړه- دغه سعد بن معاذ رضي الله عنه هغه څوک دی چي د ده روح ته د خوشالي په وجه د الله تعالی عرش حرکت وکړ او پرده مبارک باندي د رحمت د نازلېدو لپاره د آسمان دروازې خلاصي کړل سوې او د ده جنازې ته اويا زره ملائکي حاضري سوي خو يقيناً پرده باندي قبر راتنګ کړل سو خو وروسته له ده څخه دغه تنګي ليري کړل سوه.

۲:- ام المؤمنين عائشي رضي الله عنها فرمايلي دي چي نبي ﷺ وفرمايل:

(إِنَّ لِلْقَبْرِ ضَغْطَةً لَوْ نَجَا مِنْهَا أَحَدٌ لَنَجَا مِنْهَا سَعْدُ بْنُ مُعَاذٍ رضي الله عنه)[3].

ژباړه- يقيناً قبر لره کنېکښل سته که چيري يو څوک څني خلاصېدلای نو به سعد بن معاذ رضي الله عنه څني خلاص سوی وای.

ابو القاسم السعدي رحمه الله ويلي دي د قبر د ضغطي (کنېکښلو) څخه نه

---

[1] شرح الصدور (۲۲۱) مخ الی (۲۴۹).

[2] (النسائي: ۲۰۵۵).

[3] رواه البيهقي في اثبات عذاب القبر، رقم (۱۱۹).

نېک سړی خلاصېدای سي او نه بد خو د مسلمان او کافر په منځ کي دا فرق دی چي دغه د قبر تنګي کافر ته همېشه ده او مسلمان ته یوازي د قبر په اول حال کي ده خو وروسته بیا په قبر کي فراخي ورته راځي. او حکیم ترمذي رحمه الله علیه ویلي دي دا چي هر کس ته د قبر ضغطه سته سبب یې دا دی چي هیڅ یو کس له ګناه څخه خالي نسته که څه هم صالح (نېک سړی) وي نو دغه د قبر ضغطه د صالح سړي لپاره جزاء ګرځول سوې ده خو وروسته د الله تعالی رحمت ورباندي نازلېږي او د انبیاؤ علیهم السلام په باره کي موږ علم نه لرو چي دوی ته دي په قبرونو کي ضغطه وي یا سوال ځکه چي دوی معصوم دي. (صلوات الله وسلامه علیهم اجمعین)[1].

## د قبر ځیني احوال ځینو هغو کسانو ته کشف کېدای سي چي الله جل جلاله یې اراده وکړي

د قبر په عذاب او ثواب همدا شان په ټولو امورو د آخرت باندي ایمان د ایمان بالغیب له جملې څخه دی ځکه چي الله تعالی دا احوال له مخلوق څخه پټ ساتلي دي نو موږ په دغو احوالو باندي په همهغه ډول ایمان لرو لکه څنګه چي په نصوصو کي راغلي دي لېکن د قبر ځیني احوال الله تعالی ځینو هغو کسانو ته کشف کوي چي دی یې اراده وکړي لکه څنګه چي الله تعالی خپل نبي صلی الله علیه وسلم ته د هغو دوو کسانو عذاب کشف کړ چي دی یې د قبرونو سره تېر سو او د دوی د

---

[1] شرح الصدور (۱۱۳) مخ.
د لازیاتو معلوماتو لپاره وګورئ. شرح الصدور (۱۱۰) مخ الی (۱۱۴) او (التذکرة فی احوال الموتی وامور الآخرة) (۱۷۵) مخ الی (۱۷۸).

عذاب په سبب يې هم خبر کړ[۱].

دا حديث شريف لږ د مخه موږ پوره ذکر کړی دی.

همدا شان نبيﷺ له مدينې منورې څخه د ماښام په وخت کي بهر و وتی نو يې يو آواز واورېدی وروسته يې داسي وفرمايل: (يَهُوْدُ تُعَذَّبُ فِي قُبُوْرِهَا). يعني- يهودانو ته پخپلو قبرونو کي عذاب ورکول کېږي[۲].

همدا شان ځينو نورو کسانو ته هم د قبرونو ځيني احوال کشف سوي دي لکه په قبر کي د قرآن کريم قرائت او داسي نور.

شيخ جلال الدين السيوطي رحمه الله عليه په دې باره کي ډېر آثار او اخبار رانقل کړي دي تاسو يې مطالعه کړئ[۳].

## آيا مړي د ژوندو خبري اوري؟

جمهور صحابه کرام رضی الله عنهم او د امت لوی فقهاء په دې نظر دي چي مړی د ژوندو خبري اورېدلئ سي.

**(دلائل)** ۱:- نبيﷺ په يوه حديث کي فرمايلي دي: (إِنَّ الْعَبْدَ إِذَا وُضِعَ فِي قَبْرِهِ وَتَوَلَّى عَنْهُ أَصْحَابُهُ إِنَّهُ لَيَسْمَعُ قَرْعَ نِعَالِهِمْ)[۴].

ژباړه: کله چي بنده پخپل قبر کي کېښودل سي او له ده څخه خپل ملګری بيرته را وګرځي نو يقيناً دغه ميت د خښوونکو خلګو د څپليو کړپهار اوري.

۲:- عبدالله بن عمر رضي الله عنه وايي چي نبيﷺ د بدر په غزا کي د هغه خام کوهي

[۱] صحيح البخاري (۲۱۶) و مسلم (۲۹۲).
[۲] صحيح البخاري (۱۳۷۵) ومسلم (۲۸۶۹).
[۳] شرح الصدور (۱۸۲) مخ الی (۱۹۴).
[۴] صحيح البخاري (۱۳۷۴) و مسلم (۷۲۱۶).

په غاړه باندي ودرېدی په کوم کي چي د مشرکانو مړي اچول سوي وه او مړي يې مخاطب کړه داسي يې ورته وفرمايل: (هَلْ وَجَدْتُمْ مَّاوَعَدَ رَبُّكُمْ حَقًّا) يعني- آيا تاسو هغه وعده حقه پيدا کړه کومه چي ستاسو رب ﷻ ستاسو سره کړې وه (چي آخرت حق دی، قرآن حق دی او داسي نور) حضرت عمر رضي الله عنه نبي ﷺ ته وويل آيا ته مړو ته آواز کوې نبي ﷺ يې په جواب کي داسي وفرمايل:

(مَا أَنْتُمْ بِأَسْمَعَ مِنْهُمْ وَلٰكِنْ لَا يُجِيبُوْنَ) يعني- هغه څه چي زه يې وايم تاسو د هغه تر دوی ښه اورېدونکي نه یاست خو صرف دا فرق سته چي دوی د جواب ويلو توان نه لري[1].

۳:- لوی محدث شيخ محمدانورکشميري رحمه الله ليکلي دي د (سماع الأموات) په باره کي احاديث د تواتر حد ته رسېدلي دي په يوه حديث کي چي ابوعمرو رحمه الله صحيح بللی دی داسي راغلي دي: (أَنَّ أَحَدًا إِذَا سَلَّمَ عَلَى الْمَيِّتِ فَإِنَّهُ يَرُدُّ عَلَيْهِ وَيَعْرِفُهُ إِنْ كَانَ يَعْرِفُهُ فِي الدُّنْيَا).

يعني- يو کس چي کله په مړي باندي سلام و وايي نو يقيناً دغه مړی د ده د سلام جواب ورکوي او سلام ويونکي پېژني که يې چيري په دنيا کي پېژندی[2].

## سوال او جواب

**سوال**: عائشې صديقې (ام المؤمنين رضي الله عنها) له دې څخه انکار کړی دی چي مړي د ژوندو خبري اوري استدلال يې د لاندي دوو آيتونو څخه دی: ۱:- ﴿

---

[1] صحيح البخاري (۱۳۷۰).
[2] فيض الباري (۳) جلد (۴۲) مخ.

اِنَّكَ لَا تُسْمِعُ الْمَوْتٰى ﴾.[النمل: ۸۰].

ژباړه: بې شکه ته خپل دعوت عنادي کفارو ته چي د مړو سره مشابه دي نه سي اورولی.

۲:- ﴿ وَمَآ اَنْتَ بِمُسْمِعٍ مَّنْ فِي الْقُبُوْرِ ﴾.[فاطر: ۲۲].

ژباړه: او ته (ای پیغمبره!) کفارو ته اورونکی (هدایت کونکی) نه يې کوم چي د هغو کسانو سره مشابه دي چي په قبرونو کي مړه پراته دي.

له دغو دوو آيتونو څخه ښکاره معلومېږي چي نبيﷺ مړو ته اسماع (اورول) نه سي کولای.

او عائشې صديقې ﷺ د عبدالله بن عمر ﷺ ذکر سوي روايت چي د (سماع الموتي) په اثبات دلالت کوي د حقيقي معنٰی په لحاظ نه دی منلی[1].

همدا شان ځينو وروستنيو احنافو هم له (سماع الموتي) څخه انکار کړی دی. فيض الباري (۳) جلد (۴۲) مخ.

جواب: ملا علي قاري رحمه الله ليکلي دي زموږ له امامانو څخه هيڅ يو امام د سماع الموتي څخه انکار نه دی کړی دا چي ځينو احنافو د سماع الموتي څخه انکار کړی دی استدلال يې د لاندي فقهې مسئلې څخه دي: (حلف رجل ان لايكلّم فلانا فكلّمه بعد مادفن لايحنث).

يعني- يو سړي دا سي قسم کړی وي چي د فلاني کس سره به خبري نه کوي نو دی د هغه فلاني کس سره هغه وخت خبري وکړي چي هغه مړ او دفن کړل سوی وي نو دا سړی په خپل قسم کي حانث نه دی.

ملا علي قاري رحمه الله ويلي دي په دغه مسئله کي د دوی پر خبره باندي دليل

[1] صحيح البخاري (۳۹۷۹).

نسته ځکه چي د قسمونو بنا په عرف باندي ده دا چي د يو کس سره د ده تر مرګ وروسته خبري وسي دا د خلګو په اصطلاح کي کلام او خبري نه بلل کېږي. نو له همدغي وجهي څخه دی پخپل قسم کي حانث نه دی[۱].

او دا چي عائشې صديقې ﷺ د عبدالله بن عمر ﷺ ذکر سوی روايت د حقيقي معنا په لحاظ نه دی منلی په دې باره کي علامه بدرالدين عيني رحمه الله عليه او حافظ ابن حجر رحمه الله عليه دواړو ليکلي دي چي جمهور صحابه کرام رضی الله عنهم د عائشې صديقې ﷺ سره په دغه خبره کي موافق نه دي بلکي دوی د حضرت عبدالله بن عمر ﷺ ذکر سوی روايت قبول کړی دی ځکه چي د دغه حديث روايت نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم هم کړی دی (سهيلي رحمه الله عليه ويلي دي چي عائشه صديقه ﷺ د نبي ﷺ په هغه قول کي چي حضرت عبدالله بن عمر ﷺ يې روايت کړی دی حاضره نه وه نو کوم کسان چي هلته حاضر وه د هغوی د نبي ﷺ لفظ تر عائشې ﷺ ښه ياد وو[۲].

ځينو علماء کرامو ليکلي دي چي: عائشې ﷺ له خپل قول څخه د عبدالله بن عمر ﷺ قول ته رجوع کړې ده او هغه ورته غوره بريښېدلی دی[۳]،

اما دا چي عائشې صديقې ﷺ د مړو په نه اورېدلو باندي په ذکر سوو دوو آيتونو سره استدلال کړی دی په دې باره کي علماء کرامو داسي ليکلي دي په ذکر سوو دوو آيتونو کي د إسماع (اورولو) نفي سوي دي د سماع (اورېدلو) نفي نه دي سوي دلته خو مطلب إسماع نه بلکي (سماع الموتى) مطلوب ده.

نو علماء کرامو د آيت معنا داسي بيان کړې ده: يقيناً ته پخپله مړو ته خبري نه سې اورولای خو کله چي الله تعالی د دوی د اورولو اراده وکړي بيا يې اوري.

---

[۱] فيض الباري (۳) جلد (۴۲۰) مخ.
[۲] عمدة القاري (۸) جلد (۲۹۷) مخ، فتح الباري (۳) جلد (۲۹۸) مخ.
[۳] اضواء البيان (۶) جلد (۴۲۹) مخ.

او شيخ جلال الدين سيوطي رحمه الله د آيت معنا په لاندي ټکو کي بيان کړې ده:

سماع موتی کلام الخلق قاطبة　　　قد صح فيها لنا الآثار بالکتب
و آية النفي معناها سماع هدی　　　لا يسمعون ولا يصغون للأدب

يعني- (سماع الموتي) د ټولو خلګو خبره ده په دې باره کي موږ ته صحيح آثار (حديثونه) را رسېدلي دي او په کوم آيت کي چي د مړو اورېدل نفي سوی دی له هغه څخه مراد د نفعي او هدايت اورېدل دي. نو په همدغه ډول د آيت حاصل داسي راوزي چي دغه کفار د مړو په شان دي نو مړو ته خو ستا هدايت فائده نه لري ځکه چي دوی ته ستا هدايت په دنيا کي فائده درلوده اوس چي دوی مړه دي نو يې د هدايت وخت تېر سوی دی دغه کفار که څه هم ژوندي دي خو ستا هدايت دوی ته ځکه فائده نه لري چي دوی د مړو په شان ستا له هدايت څخه نفعه نه اخلي[1].

له دې بيان څخه دا خبره ښکاره معلومه سوه چي د ذکر سوو دوو آيتونو او د عبدالله بن عمر رضي الله عنه د روايت په منځ کي هيڅ منافات نسته او دا خبره هم ثابته سوه چي د امت جمهور علماء (سماع الموتي) مني، د زياتو معلوماتو لپاره وګورئ[2].

# د زيارة القبور مسئله

د قبرونو زيارت د علماء کرامو په اتفاق جائز بلکي مستحب دی حتى امام

[1] فيض الباري (۳) جلد (۴۲) مخ.
[2] عمدة القاري (۸) جلد (۲۹۷) مخ، فتح الباري (۳) جلد (۲۹۸)، ارشاد الساري (۳) جلد (۱۳۲)، فيض الباري (۳) جلد (۴۲) مخ، البصائر (۲۱) مخ.

نووي رحمه الله ويلي دي چي د قبرونو زيارت د علماء كرامو په اتفاق د نارينه وو لپاره سنت دى. مرقاة ۴ جلد (۱۱۲) مخ.

د قبرونو زيارت د نبي ﷺ په فعل او قول دواړو سره ثابت دى اوس تاسو په دې باره كي څو حديثونه وګورئ:

۱:- عائشې صديقې رضي الله عنها ويلي دي چي: هر كله به له نبي ﷺ څخه د عائشې رضي الله عنها د نوبت شپه وه نو به نبي ﷺ د شپې په آخر كي د مدينې منورې مقبرې ته چي د (بقيع) په نوم ده بهر وتى او هړو ته به يې داسي سلام ويلى:

(السَّلَامُ عَلَيْكُمْ دَارَ قَوْمٍ مُؤْمِنِينَ وَأَتَاكُمْ مَاتُوعَدُونَ غَدًا مُؤَجَّلُونَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَاللهُ بِكُمْ لَاحِقُونَ). او داسي دعا به يې ورته كول (اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِأَهْلِ بَقِيعِ الْغَرْقَدِ)[1].

۲: - حضرت بريده رضي الله عنه ويلي دي چي كله به صحابه كرام رضی الله عنهم مقبرو ته وتل نو به نبي ﷺ د سلام او دعاء لپاره دا الفاظ ور وښودل: (السَّلَامُ عَلَيْكُمْ أَهْلَ الدِّيَارِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُسْلِمِينَ وَإِنَّا إِنْ شَاءَاللهُ لَلَاحِقُونَ أَسْأَلُ اللهَ لَنَا وَلَكُمُ الْعَافِيَةَ). مسلم (۲۲۵۷).

۳:- حضرت ابن عباس رضي الله عنهما ويلي دي: چي نبي ﷺ د مدينې منورې د قبرونو سره تېر سو نو بيا دوى ته مخامخ ودرېدى او داسي الفاظ يې و ويل: (السَّلَامُ عَلَيْكُمْ يَا أَهْلَ الْقُبُورِ يَغْفِرُاللهُ لَنَا وَلَكُمْ أَنْتُمْ سَلَفُنَا وَنَحْنُ بِالْأَثَرِ)[2].

ملا علي قاري رحمه الله ويلي دي: له دغه حديث څخه دا معلومېږي چي پر مړي باندي د سلام ويلو په حال كي مستحب كار دا دى چي د سلام ويونكى مخ د

[1] مسلم (۲۲۵۵).
[2] جامع الترمذي (۱۰۵۳).

مړي د مخ طرفته وي یعني شا يې قبلې ته وي او په دعا کي هم پر دغه ډول وي (وعليه عمل عامة المسلمين). یعني- په همدغه طرز او طريقه باندي دعا مو مسلمانانو عمل دی[۱].

۴:- نبي ﷺ فرمايلي دي: (كُنْتُ نَهَيْتُكُمْ عَنْ زِيَارَةِ الْقُبُوْرِ فَزُوْرُوْهَا)[۲].

یعني- ما تاسي دمخه د قبرونو له زيارت کولو څخه منع کړي واست خو اوس د قبرونو زيارت کوئ (هغه پخوانی حکم چي له زيارت کولو څخه منعه وه منسوخ وګنئ).

(طيبي رحمه الله) د حديث شريف مفهوم داسي بيان کړی دی: یعني ما پخوا تاسو د زيارت کولو څخه ځکه منع کړي واست چي د مړو په ډېر والی سره یو پر بل باندي فخر کول د جاهليت فعل دی (دا وېره وه چي تاسو به دغه فعل وکړئ ځکه چي تاسو د جاهليت وخت ته نژدې واست) اما اوس چي د اسلام ژرنده وګرځېدل او د شرک بنيادونه ونړېدل نو تاسو د قبرونو زيارت کوئ ځکه چي د قبرونو زيارت زړونه نرموي او سړي ته مرګ او د هډوکو زوړوالی وريادوي او له دې څخه ماسېولی نوري فائدې هم لري[۳].

## د نېکانو خلګو د قبرونو زيارت ته سفر جائز بلکي مستحب دی

په دمخه بحث کي تاسو ولوستل چي د قبرونو زيارت د نبي ﷺ په فعل او قول دواړو سره ثابت دی او د علماء کرامو په اتفاق مستحب دی ښکاره خبره ده چي

[۱] مرقاة (۴) جلد (۱۱۴) مخ.
[۲] مسلم (۲۲۶۰)
[۳] مرقاة (۴) جلد (۱۱۲) مخ.

د دغسي کار لپاره سفر هم مستحب دی ځکه چي په حديثونو کي د زيارت لفظ راغلی دی د زيارت معنٰی له يو ځای څخه هغه چاته حاضرېدل چي د هغه د زيارت کولو قصد سوی وي نو سفر پخپله د زيارت په نوم کي داخل دی زيارت خو د علماء کرامو په اتفاق مستحب او قربت دی نو زيارت ته سفر هم مستحب او قربت دی، او دمخه مو دا حديث شريف هم ولوستی چي نبي ﷺ به د (بقيع) هديرې ته د زيارت لپاره ور وتی، نو چي کله نژدې قبرونو ته وتل جائز دي بيا خو ليري قبرونو ته هم د زيارت لپاره وتل جائز دي[1].

نو د نېکانو خلګو د قبرونو زيارت ته سفر کول قربت (د ثواب کار) دی په خاص ډول بيا د انبياؤ عليهم السلام د مبارکو قبرونو زيارت ته او په خاص ډول بيا د نبي ﷺ د قبر شريف زيارت ته امام تقي الدين السبکي رحمه الله يوازي د نبي ﷺ د زيارت په اړوند (۱۵) حديثونه ذکر کړي دي[2].

همدا شان يې د څلورو مذهبونو د علماء کرامو اقوال راوړي دي چي هغوی د نبي ﷺ زيارت مستحب بللی دی د قاضي عياض رحمه الله يې دا خبره هم رانقل کړې ده چي د نبي ﷺ د قبر شريف زيارت د مسلمانانو د سنتونو څخه يو سنت دی د ټولو مسلمانانو ورباندي اتفاق دی او يو داسي فضيلت دی چي د ټولو مسلمانانو ورته رغبت او ميل دی همدا شان يې د احنافو دا خبره هم رانقل کړې ده چي د نبي ﷺ د قبر شريف زيارت د واجباتو درجې ته نژدې دی[3].

همدا راز يې له د حضراتو فقهاؤ څخه دا نقل کړی دی چي د حج کونکي لپاره د نبي ﷺ زيارت مستحب دی، ښکاره خبره ده چي په دغه زيارت کي به ضرور سفر وي همدا شان يې د حضرت بلال رضي الله عنه په اړوند هغه روايت راوړی دی چي

---

[1] شفاء السقام (۲۶۳) مخ.
[2] شفاء السقام (۸۷) مخ.
[3] شفاء السقام (۲۰۲) مخ.

له شام ځخه يې مدينې منورې ته د نبيﷺ د قبر شريف د زيارت لپاره سفر کړی دی[۱].

خو د دې ټولو سره سره ځيني کسان د قبرونو زيارت ته سفر جائز نه بولي حتّٰی د نبيﷺ د قبر شريف زيارت ته هم سفر جائز نه بولي البته د نبوي مسجد د زيارت په نيت سفر مستحب بولي خو کله چي سړی هلته ورسيږي نو بيا د نبيﷺ د قبر شريف زيارت هم ورته مستحب بولي خو يوازي د نبيﷺ د قبر شريف د زيارت په نيت سفر جائز نه بولي دا د حافظ ابن تيميه او د ده د پيروانو مسلک دی د دوی استدلال د لاندي حديث شريف ځخه دی نبيﷺ فرمايلي دي:

(لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَّا إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ الْمَسْجِدُ الْحَرَامُ وَمَسْجِدُ الرَّسُوْلِ وَمَسْجِدُ الْأَقْصَى)[۲].

د دوی په آند د حديث شريف معنٰی داسي ده- هيڅ ځای ته بارونه نه تړل کيږي (يعني هيڅ ځای ته سفر نه کيږي) مګر درو مسجدونو ته چي يو يې مسجد حرام او دوهم د رسولﷺ مسجد او دريم بيت المقدس دی.

دوی وايي د نبيﷺ قبر شريف خو له دغو درو مسجدنو ځخه بغير دی نو سفر نه دی ورته جائز[۳].

د حافظ ابن تيميه دغه مسلک د امت د جمهورو فقهاؤ او علماؤ د مسلک په خلاف دی ځکه چي د ځلورو مذهبونو فقهاء او علماء ټوله د نبيﷺ د قبر شريف زيارت کول او سفر ورته کول مستحب بولي لکه ځنګه چي دا بيان دمخه تېر

[۱] شفاء السقام (۱۸۴) مخ.
[۲] صحيح البخاري اول جلد (۱۵۸) مخ، رقم الحديث (۱۱۸۹) ومسلم (۳۲۶۱).
[۳] (فيض الباري) دوهم جلد (۵۸۸).

سو، او علماء کرامو د ده د استدلال ګڼ شمېر جوابونه ورکړي دي خو زه به دلته یوازي هغه جواب رانقل کړم چي لوی محدث او د خپلي زماني امام شیخ محمد انورشاه کشمیري رحمه الله علیه په جوابونو کي ډېر ښه جواب بللی دی ده داسي لیکلي دي: (وأحسن الأجوبة عندى أن الحديث لم يرد فى مسألة القبور لما فى المسند لأحمد رحمه الله علیه – لَا تُشَدُّ الرِّحَالُ إِلَى مَسْجِدٍ لِيُصَلّٰى فِيْهِ إِلَّا إِلَى ثَلَاثَةِ مَسَاجِدَ) فدل على أن نهى شد الرحال يقتصر على المساجد فقط ولا تعلق له بمسألة زيارة القبور فجره إلى المقابر مع كونه فى المساجد ليس بسديد)[1].

ژباړه: زما په آند د حافظ ابن تیمیه د استدلال په جوابونو کي ډېر ښه جواب دا دی چي ذکر سوی حدیث د قبرونو په مسئله کي د سره وارد نه دی ځکه چي د امام احمد رحمه الله علیه په مسند کي حدیث شریف په داسي لفظ سره راغلی دی: یو مسجد ته د دې لپاره سفر نه کېږي چي په هغه کي لمونځ وکړل سي مګر درو مسجدونو ته، نو له دغه حدیث څخه دا ښکاره معلومېږي چي د سفر کولو څخه منعه یوازي پر مسجدونو باندي قصر ده د زیارة القبور تر مسئلې پوري هیڅ تعلق نه لري نو د سفر کولو څخه منعه قبرونو ته کشول سره له دې چي هغه یوازي په مسجدونو کي ده صحیح کار نه دی.

او بله خبره دا ده چي که چیري د حدیث شریف معنٰی همهغه وبلل سي لکه څنګه چي حافظ ابن تیمیه فهمولې ده نو بیا خو موږ باید پخپلو کورونو او دائرو کي خپل ځانونه بندیان کړو هیڅ یو ځای ته سفر ونه کړو ځکه چي پر دغه صورت خو له درو مسجدونو څخه بغیر بل هر ځای ته سفر ممنوع دی حال دا چي ډېر سفرونه مشروع او په شریعت کي امر په سوی دی د مثال په ډول یو څو

[1] فیض الباري دوهم جلد (۵۸۸) مخ.

وګورئ: (۱) د جهاد لپاره سفر، (۲) د کافرانو د وطن څخه د مسلمانانو وطن ته د هجرت سفر، (۳) د علم د طلب لپاره سفر، (۴) د مور او پلار او نورو قريبانو د زيارت لپاره سفر، (۵) د تجارت لپاره سفر.

نو د حديث شريف معنٰی داسي نه ده لکه څنګه چي حافظ ابن تيميه فهمولې ده بلکي معنٰی يې هغه سي ده لکه څنګه چي لوی محدث محمد انور کشميري رحمة الله عليه او د امت نورو اکابرو فهمولي ده، همدا راز شاه صاحب رحمة الله عليه ليکلي دي: حافظ ابن تيميه د همدغه مسلک او دغه استدلال له وجهي په شام کي دوه ځله په فتنه اخته سوی دی يو ځل د خپل شاګرد ابن القيم سره يو ځای بندي سوی دی او بل ځل يوازي بندي سوی دی تر څو چي په داغه محبس کي وفات سوی دی.

وناظره فى تلك المسألة سراج الدين الهندى الحنفى رحمة الله عليه وكان حسن التقرير فلما شرع فى المناظرة جعل الحافظ ابن تيمية يقطع كلام الهندى فقال له ما أنت يا ابن تيمية إلا كالعصفور... إلخ).

يعني- د حافظ ابن تيميه سره په داغه مسئله کي سراج الدين الهندی الحنفی رحمة الله عليه مناظره کړې ده د شيخ سراج الدين ډېر ښه تقرير ؤ کله چي شيخ په مناظره کي شروع وکړه نو حافظ ابن تيميه يې خبري ور پرې کولې نو شيخ هندي ورته و ويل ای ابن تيميه! ته په دې کار کي نه يې مګر د مرغۍ (چغکي) په شان چي خالي چغي وهي او زما خبري را پرې کوي[1].

(د بحث خلاصه) د نبي صلى الله عليه وسلم د قبر شريف زيارت او د نبي صلى الله عليه وسلم د قبر شريف د زيارت لپاره سفر کول د ټولو مسلمانانو سنت دی او د علماء کرامو په اتفاق

---

[1] فيض الباري دوهم جلد (۵۸۸) مخ.

مستحب او قربت دی او په همدغه لاره باندي د سلفو صالحينو عمل دی يوازي د يو کس يا دوو کسانو اختلاف اعتبار نه لري حق همهغه دی چي سلف صالحين ورباندي تېر سوي دي لکه څنګه چي شاه صاحب رحمه الله ويلي دي:

(وهوالحق عندی فان آلاف الألوف من السلف كانوا يشدون رحالهم لزيارة النبي ﷺ ويزعمونها من أعظم القربات وتجريد نياتهم أنها كانت للمسجددون الروضة المباركة باطل كانوا ينوون زيارة قبر النبي ﷺ قطعا)[1].

يعني: د شيخ ابن الهمام رحمه الله دا خبره چي د نبي ﷺ د قبر شريف زيارت مستحب دی او واجب ته نژدې دی (نو يې سفر هم قربت [د ثواب کار] دی) زما په نزد حق ده ځکه چي په ملينونو سلفو صالحينو د نبي ﷺ زيارت ته سفر کاوه او دا يې د ثواب په کارونو کي لوی کار ګڼی او دا ګمان کول چي د دوی نيتونه يوازي د مسجد شريف لپاره وه نه د مبارکي روضې لپاره باطل دی دوی په قطعي ډول د نبي ﷺ د قبر شريف د زيارت نيت کاوه.

بس همدغه د سلفو صالحينو عمل زموږ لپاره کافي دی نور څه ته ضرورت نسته د دوی دغه عمل بېله شکه حق دی ځکه چي اصلي شرف او فضيلت د نبي ﷺ دی نبوي مسجد ته چي کوم فضيلت ورکول سوی دی هغه د نبي ﷺ په وسيله دی که چيري دغه مسجد نبي ﷺ ته منسوب نه وای نو به دا مسجد هم د نورو مسجدونو په شان وای نو لکه څنګه چي د نبي ﷺ شرف او فضيلت اصلي دی او د مسجد فضيلت طفيلي دی همدا شان به په سفر کي هم اصلي مقصود د نبي ﷺ د قبر شريف زيارت وي د مسجد نبوي زيارت به طفيلي کېږي، د دې مسئلې تفصيل په لاندي کتابونو کي زما تر نظر تېر سوی دی.

---

[1] فيض الباري، دوهم جلد (۵۸۸) مخ.

۱:- عمدة القاري (۷) جلد (۳۷۷) مخ، ۲:- فتح الباري (۳) جلد (۸۴) مخ، ۳:- فيض الباري دوهم جلد (۵۸۸) مخ، ۴:- مرقاة المفاتيح دوهم جلد (۱۹۰) مخ، ۵:- فتح الملهم شپږم جلد (۲۳۴) مخ، ۶:- شفاء السقام فی زيارة خيرالأنام ، ۷:- البصائر (۳۳۱) مخ، ۸:- ارشاد الساري دوهم جلد (۵۸۸) مخ.

## آيا ښځو ته د قبرونو زيارت جائز دی که نه

د ښځو د زيارت په اړوند له نبيﷺ څخه داسي حديث رانقل سوی دی، حضرت ابو هريره رضي الله عنه ويلي دي: (أَنَّ رَسُوْلَ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ لَعَنَ زَوَّارَاتِ الْقُبُوْرِ).

يعني- يقيناً نبيﷺ پر هغو زيارت کونکو ښځو چي په زيارت کي اضطراب (بې صبري) ژړا او د غم اظهار کوي لعنت ويلی دی[1].

امام ترمذي رحمة الله عليه د دې حديث سره داسي فرمايلي دي: د ځينو علماء کرامو عقيده دا ده چي دا حديث په هغه وخت کي وو چي نبيﷺ د زيارة القبور اجازه نه وه کړې خو کله چي نبيﷺ د زيارت کولو اجازه وکړه نو په دغه رخصت کي نارينه او ښځينه دواړه داخل سوه او ځينو علماء کرامو بيا ويلي دي چي نبيﷺ د ښځو لپاره د قبرونو زيارت ځکه مکروه بللی دی چي د دوی صبر لږ دی او بې صبري يې ډېره ده[2].

او س راسئ د علامه ابن عابدين رحمة الله عليه عبارت وګورئ چي په هغه کي د ښځو د زيارت کولو مسئله په ډېر ښه ډول سره څېړل سوې ده نور څه ته ضرورت نسته ابن عابدين رحمة الله عليه داسي ليکلي دي: (وقيل تحرم عليهن والاصح أن الرخصة

---

[1] الترمذي (۱۰۵۶) ابن ماجه (۱۵۷۶).
[2] جامع الترمذي (۱) جلد (۳۲۹) مخ.

ثابتة لهن (بحر) وجزم فی شرح المنية بالكراهة لما مرّفي اتباعهن الجنازة وقال الخير الرملي رحمة الله عليه ان كان ذلك لتجديد الحزن والبكاء والندب على ماجرت به عادتهن فلاتجوز وعليه حمل حديث (لَعَنَ اللهُ زَائِرَاتِ الْقُبُوْرِ) وان كان للاعتبار والترحم من غير بكاء والتبرك بزيارة قبور الصالحين فلابأس اذاكن عجائز ويكره اذا كن شواب كحضور الجماعة فی المساجد (آه) وهو توفيق حسن)[1].

يعني- د ښځو د زيارت کولو په اړوند له علماء کرامو څخه درې قولونه راغلي دي:

۱:- پر ښځو باندي د قبرونو زيارت حرام دی.

۲:- علامه ابن نجيم رحمة الله عليه په (بحرالرائق) کي ويلي دي چي اصح قول دا دی چي په زيارت کولو کي رخصت ښځو ته هم ثابت دی يعني ښځو ته زيارت جائز دی.

۳:- په (شرح المنية) کي راغلي دي چي د ښځو زيارت مکروه دی.

الخيرالرملي رحمة الله عليه د دغو درو قولونو د توفيق په اړوند داسي ويلي دي که چيري د ښځو زيارت د غم د تجديد (تازه کولو) ژړا او د غم د اظهار لپاره وي لکه څنګه چي دا د دوی عادت دی نو بيا نه دی جائز په همدغه صورت باندي هغه حديث محمول دی چي په هغه کي پر زيارت کونکو ښځو باندي لعنت راغلی دی او که چيري د دوی زيارت د عبرت ترحم او د صالحينو خلګو د قبرونو په زيارت سره د تبرک لپاره وي ژړا او بې صبري پکښې نه وي او ښځي هم د ډېر عمر لرونکي وي نو بيا د دوی زيارت جائز دی او که چيري ښځي ځواناني وي نو بيا يې زيارت مکروه دی لکه څنګه چي يې په مساجدو کي

---

[1] رد المحتار (۱) جلد (۶۰۴) مخ.

جماعت ته حاضرېدل مکروه دي. (وَهُوَ تَوْفِيْقٌ حَسَنٌ).

## د قبرونو د زيارت کولو طريقه

لږ دمخه تاسو ولوستل چي د قبرونو زيارت د نبيﷺ په فعل او قول دواړو سره ثابت دی خو د زيارت کولو لپاره په شريعت کي خپله طريقه ښودل سوې ده علماء کرامو دغه طريقه د احاديثو په رڼا کي په لاندي ډول بيان کړې ده، زيارت کونکی چي کله مقبرې ته ورسي نو دي مخ د قبر طرفته او شا قبلې ته وګرځوي مخامخ دي مړي ته ودرېږي سلام دي ورته و وايي وروسته دي (سورة الفاتحة) او درې ځله (سورة الاخلاص) و وايي، شيخ ابوبکر بن سعد رحمه الله ويلي دي (سورة الاخلاص) اووه ځله ويل مستحب دی يوولس ځله ويل يې هم له يوه روايت څخه معلومېږي، او له شيخ محمد بن ابراهيم رحمه الله څخه نقل راغلی دی چي (سورة الملک) دي و وايي او په يو بل روايت کي راغلي دي چي (سورة يس) دي و وايي وروسته دي د خپل قرائت ثواب ميت يا امواتو ته وبښي او د همدغي ولاړي په حال کي دي دعا ورته وکړي په زيارت کولو کي همدغه دعا او استغفار عمده شی دی. مړو ته دعا کول او دوی ته د عباداتو ثواب بښل بېله شکه دوی ته نفعه لري. تفصيل يې په (۸۹) عقيده کي را روان دی.

نور دي نو زيارت کونکي له هغو کارونو څخه ډډه وکړي چي په شريعت کي اصل نه لري او يا حرام بلل سوي دي په لباب المناسک کي د نبيﷺ د زيارت په اړوند داسي راغلي دي:

ولايمس عندالزيارة الجدار ولايلتصق به ولا يطوف ولايَنْحَنِ ولايقبل الارض فانه

بدعة[۱].

يعني- زيارت كونكى دي د زيارت په وخت كي د حجرې شريفي دېوال نه مسحه كوي او نه دي خپل ځان ور پوري چسپوي او نه دي پر قبر شريف طواف كوي او نه دي ورته كړېږي او نه دي هغه ځمكه مچوي ځكه چي دغه هر كار بدعت دی.

ملا علي قاري رحمه الله داسي ليكلي دي: (ولا يمسحه ولايقبله فان ذلك من عادة النصارى)[۲].

يعني- زيارت كوونكي دي قبر نه مسحه كوي او نه دي يې مچوي ځكه چي دا كار د نصاراؤ د عادت څخه دی.

شيخ محدث عبدالحق دهلوي رحمه الله داسي ليكلي دي: (*ومسح نكند قبر را بدست وبوسه ندهد آن را و منحنی نشود و روی بخاك نمالد كه این عادت نصاری ست*)[۳].

يعني- زيارت كونكى دي په لاس سره قبر نه مسحه كوي او نه دي يې مچوي او نه دي ورته كړېږي او نه دي مخ په خاورو پوري موږي چي دا د نصاراؤ عادت دی[۴].

همدا شان علامه ابن عابدين رحمه الله ليكلي دي پر قبر باندي كېناستل او په قبر باندي ختل او د قبر سره خوب كول او قضاء حاجت كول او له مقبرې څخه

---

[۱] ارشاد الساري (۵۶۶) مخ.
[۲] مرقاة (۴) جلد (۱۱۵) مخ.
[۳] اشعة اللمعات (۱) جلد (۷۶۳) مخ.
[۴] د لازياتو معلوماتو لپاره وګورئ: مرقاة (۴) جلد (۱۱۵) مخ. اشعة اللمعات (۱) جلد (۷۶۳) مخ. ردالمحتار (۱) جلد (۶۰۴) مخ.

لانده نباتات پرېکول دا ټوله مکروه دي[۱].

مطلب دا دی چي زيارت بايد په سنت برابر وسي له هغو بدعاتو او منکراتو څخه په کلکه پرهېز وسي چي ځينو جاهلانو رواج کړي دي لکه زموږ په زمانه کي چي ځينو جاهلانو زيارتونه مېله ځايونه جوړ کړي دي هلته خلګ ډولونه او د سروز آلات ږغوي رقصونه کوي په ځينو ځايونو کي نارينه او ښځينه هم سره ګډوي دا سي نور منکرات.

ابن حجر رحمه الله پخپله فتاوی کي ويلي دي د دغسي فسادونو او منکراتو په وجه زيارت نه پرېښودل کېږي ځکه چي د ثواب کارونه د دغسي منکراتو په سبب نه پرېښودل کېږي بلکي دا ضروري ده چي انسان د ثواب کارونه وکړي او پر بدعاتو او منکراتو رد وکړي بلکي د قدرت په صورت کي يې دفعه ضروري ده[۲].

## د زيارت کولو لپاره غوره ورځ

ملا علي قاري رحمه الله ويلي دي: په هره هفته کي يوه ورځ د قبرونو زيارت مستحب دی مګر غوره ورځي جمعه، شنبه، دوشنبه، پنجشنبه، دي او محمد بن واسع رحمه الله ويلي دي د جمعې په ورځ او يوه ورځ تر جمعې دمخه او يوه ورځ تر جمعې وروسته مړی پر زيارت کونکو باندي ښه علم لري. نو دا خبره ښکاره معلومه سوه چي جمعه د زيارت کولو لپاره غوره ورځ ده او په دغه ورځ مړی په زيارت کونکو باندي تر نورو ورځو ډېر علم لري[۳].

---

[۱] ردالمحتار (۱) جلد (۶۰۶) مخ.
[۲] ردالمحتار (۱) جلد (۶۰۴) مخ. (هوالله الهادی الی سواء السبيل).
[۳] ارشاد الساری (۵۶۹) مخ.

شيخ عبد الحق دهلوي رحمه الله ويلي دي: د جمعې په ورځ زيارت تر نورو ورځو غوره دی په خاص طور بيا د جمعې د ورځې په اول کي په مکه مکرمه او مدينه منوره کي همدغسي عادت دی چي خلک د جمعې د ورځې په اول کي (معلا مقبرې) او (بقيع الغرقد) مقبرې ته ځي. په رواياتو کي راغلي دي چي مړي ته د جمعې په ورځ تر نورو ورځو ډېر علم او ادراک ورکول کېږي تر داسي اندازې چي زيارت کونکی تر نورو ورځو ښه پېژني[1].

## د توسل مسئله

د توسل معنٰی په داسي ټکو سره سوې ده، يو څه يا څوک يو چاته وسيله او ذريعه ګرځول، علماء کرامو مشروع توسل په درې قسمه کړي دي اوس يې تاسو يو په يو تفصيل وګورئ:

## اول قسم توسل

د الله تعالیٰ د نېکو بندګانو څخه د دوی په ژوند کي دعا غوښتل د دې قسم توسل په جواز کي د چا اختلاف نسته امام تقي الدين السبکي رحمه الله ويلي دي:

(هذا شئ لاينكره مسلم بل متدين بملة من الملل)[2].

يعني- دا يو داسي توسل دی چي هيڅ يو مسلمان انکار نه ځني کوي بلکي هغه څوک چي له ملتونو (دينونو) څخه په يو دين باندي وي انکار نه ځني کوي.

په دې باره کي حديثونه مشهور او متواتر دي چي مسلمانان به نبي ﷺ ته ورتلل او دعا به يې ځني غوښتل لکه څنګه چي په صحيح حديث کي راغلي دي

---

[1](اشعة اللمعات) اول جلد (۷۶۳) مخ. (وَاللّٰهُ أَعلَمُ).

[2]شفاء السقام (۳۷۷) مخ.

چي يو كس د جمعې په ورځ په داسي حال كي مسجد شريف ته داخل سو چي نبي ﷺ ولاړ وو او خطبه يې ويل نو دغه كس نبي ﷺ ته مخامخ ودرېدی او ويې ويل: ای د الله ﷻ رسوله! مالونه هلاک سوه لاري قطعه (پرې) سوې نو ته دعا وکړه چي الله تعالی پر موږ باندي باران وكړي نو نبي ﷺ خپل مبارک لاسونه پورته کړه او دا دعا يې وکړه:

(اللَّهُمَّ اسْقِنَا اللَّهُمَّ اسْقِنَا اللَّهُمَّ اسْقِنَا- الحديث)[1].

يعني اې الله جل جلاله پر موږ باندي باران وكړه دا دعا يې درې واره وکړه.
همدغه توسل له لاندي آيت څخه ښكاره معلومېږي.

﴿ وَلَوْ اَنَّهُمْ اِذْ ظَّلَمُوْٓا اَنْفُسَهُمْ جَآءُوْكَ فَاسْتَغْفَرُوا اللّٰهَ وَاسْتَغْفَرَ لَهُمُ الرَّسُوْلُ لَوَجَدُوا اللّٰهَ تَوَّابًا رَّحِيْمًا۝ ﴾.[النساء: ۶۴].

ژباړه: او كه چيري يقيناً دغه منافقان په هغه وخت كي تاته درغلي وای چي دوی پخپلو ځانونو باندي ظلم وکړ (ستا حكم يې ونه مانه او پخپل دغه جنايت باندي پښېمانه سوي وای او ستا څخه يې دعا غوښتې وای) نو د الله تعالی څخه يې بخښنه غوښتې وای او نبي ﷺ هم دوی ته مغفرت غوښتی وای نو خامخا به يې الله تعالی ښه توبه قبلونكی او مهربان موندلی وای.

## دوهم قسم توسل

په نيكو اعمالو لكه: لمونځ، روژه، د مور او پلار سره نېكي كول، صدقه، ذكر، تلاوت او له ګناهونو څخه په ځان ساتني سره الله تعالی ته توسل دی.
د دغه قسم توسل په جواز كي هم د چا شک نسته لكه څنګه چي يې په دې

[1]صحيح البخاري (۱۰۱۳) و مسلم (۸۹۷).

آیت کي ذکر راغلی دی:

﴿يَٰٓأَيُّهَا ٱلَّذِينَ ءَامَنُواْ ٱتَّقُواْ ٱللَّهَ وَٱبۡتَغُوٓاْ إِلَيۡهِ ٱلۡوَسِيلَةَ﴾. [المائدة: ۳۵].

ژباړه: ای هغو کسانو! چي ایمان یې راوړی دی له الله ﷻ څخه و وېرېږئ او همده ته (په طاعت سره) وسیله (نژدېکت) طلب کړئ.

همدا شان په صحیح حدیث کي راغلي دي چي یو وخت درو نفرو تګ کاوه په دغه حال کي د باران څخه په تنګ سوه نو یې په غره کي یو غار ته پناه وروړه ناڅاپه له غره څخه د غار پر خوله یو لویه ډبره راولوېدل او د غار خوله یې پر دوی باندي بنده کړه وروسته دوی پخپلو عملونو کي وکتل نو یوه یې د مور او پلار سره احسان کول او دا بل یې د مزدور سره احسان کول او بل یې په زنا باندي تر قادر کېدلو وروسته له زنا څخه خپل ځان ساتل الله تعالی ته وسیله کړه یعني د الله تعالی څخه یې د خپلو دغو اعمالو په وسیله د هغې لویی ډبري ایسته کېدل وغوښتل چي د غار خوله یې بنده کړې وه نو الله تعالی د دوی دعاوي قبولي کړې هغه لویه ډبره چي د غار خوله یې بنده کړې وه الله تعالی لیري کړه ترڅو دوی را ووتل او پر خپله مخه ولاړه[1].

د دې حدیث شریف څخه ښکاره معلومېږي چي د انسان لپاره دا مستحب کار دی چي د مشکل په وخت کي په خپلو نېکو عملونو سره الله تعالی ته توسل وکړي او د مشکل حل ځني وغواړي لکه څنګه چي دغو درو کسانو دا کار کړی او الله تعالی یې دعاوي قبولي کړي دي.

## دریم قسم توسل

په انبیاءکرامو علیهم السلام شهیدانو او نورو نیکو بندګانو سره توسل دي، که

[1] صحیح البخاري (۵۹۷۴)، و مسلم (۶۹۴۹).

دوی ژوندي وي او که وفات سوی وي په هر صورت په دوی سره توسل یعني د دوی په وسیله له الله تعالی څخه دعا غوښتل مشروع او جائز کار دی.

(**دلائل**) **اول دلیل**: - الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ وَكَانُوا مِن قَبْلُ يَسْتَفْتِحُونَ عَلَى الَّذِينَ كَفَرُوا فَلَمَّا جَاءَهُم مَّا عَرَفُوا كَفَرُوا بِهِ فَلَعْنَةُ اللَّهِ عَلَى الْكَافِرِينَ ﴾. [البقرة: ۸۹].

ژباړه: حال دا چي دوی (بني اسرائیلو د قرآن کریم تر نزول دمخه) (په قرآن کریم او محمد ﷺ) سره په هغو کسانو باندي نصرت غوښت کومو چي کفر غوره کړی وو نو کله چي دوی ته هغه رسول ﷺ راغی چي دوی (د تورات په ستایلو سره) پېژندلی ؤ نوورباندي کافران سول نو په کافرانو باندي د الله ﷻ لعنت دی (چي حق يې پټ او باطل يې څرګند کړ).

د دې آیت په تفسیر کي علامه الالوسي رحمه الله داسي ویلي دي:

(نزلت في بني قريظة والنضير كانوا يستفتحون على الأوس والخزرج برسول الله صلى الله عليه وسلم قبل مبعثه) - قاله ابن عباس رضي الله عنه وقتادة رحمه الله.

یعني - حضرت عبدالله بن عباس رضي الله عنه او قتادة رحمه الله دواړو ویلي دي چي دا آیت د بني قریظه او بني النضیر چي د یهودانو دوې ډلي وې په باره کي نازل سوی دی دغو یهودانو پر اوس او خزرج باندي چي په هغه وخت کي د مشرکینو دوې ډلي وې په نبي ﷺ سره د ده تر بعثت دمخه له الله تعالی څخه نصرت غوښت.

وروسته علامه الألوسي رحمه الله دغه ذکر سوی قول د (سُدِّی رحمه الله) په روایت سره داسي تشریح کړی دی: أنهم كانوا إذا اشتد الحرب بينهم وبين المشركين أخرجوا التوارة و وضعوا أيديهم على موضع ذكر النبي ﷺ وقالوا - (اللهم إنا نسئلك بحق نبيك

الذى وعدتنا أن تبعثه فى آخر الزمان ان تنصرنا اليوم على عدونا فينصرن)[1].

ژباړه- د دغو يهودانو عادت داسي ؤ چي کله به د دوی او مشرکينو په منځ کي جنګ شديد سو نو به يې تورات بهر را ويستی او په هغه ځای باندي به يې لاسونه کېښودل چي په هغه کي به د نبي ﷺ ذکر راغلی ؤ او دا دعا به يې وکړه (يا الله ﷻ موږ ستا څخه ستا د هغه نبي ﷺ په حق (منزله رتبه) سره سوال کوو کوم چي تا يې په آخر الزمان کي زموږ سره د بعثت وعده کړې ده چي ته موږ ته نن ورځ زموږ پر دښمن باندي نصرت "برى" راکړه) کله چي به دوی دغه دعا وکړه نو به دوی ته نصرت ورکول سو. په دې باره کي تفسير البيضاوي اول جلد (۹۳) مخ، او تفسير القرطبي دوهم جزء (۴۵۰) مخ هم کتلای سئ.

همدا شان په ذکر سوي آيت کي د (يستفتحون) تفسير په (يستنصرون) سره امام بخاري رحمة الله عليه هم را نقل کړی دی[2].

له دې آيت څخه دا خبره ښکاره معلومه سوه چي دوی په نبي ﷺ سره د ده تر بعثت دمخه بلکي د ده تر ولادت دمخه توسل کاوه دا د نبي ﷺ په روحانيت سره توسل ؤ ښکاره خبره ده چي دغه معنٰى تر وفات وروسته نه بدلېږي ځکه چي روحانيت خو له منځه نه ځي بلکي نور هم قوي کېږي نو له دې آيت څخه په نبي ﷺ سره توسل د ده تر وفات وروسته هم ثابت دی. که چيري يو څوک سوال وکړي چي دا خو د يهودو په فعل او قول سره استدلال دی نو دا استدلال قابل قبول نه دی.

جواب: دا د قرآن کريم په تقرير سره استدلال دی الله تعالى په نبي ﷺ سره د دوی توسل په قرآن کريم کي ذکر کړی دی او انکار يې نه دی ورباندي کړی

---

[1] روح المعاني اول جلد (۳۲۰) مخ.

[2] صحيح البخاري دوهم جلد (۶۴۳) مخ.

بلکي انکار يې د دوی پر کفر باندي کړی دی دا يوه منل سوې قاعده ده چي د مخکنيو امتونو شرائع پر موږ باندي لازم دی چي کله يې الله تعالی او د الله تعالی رسول ﷺ بېله انکاره رانقل کړي[۱].

**دوهم دليل:** - په حديث شريف کي راغلي دي چي کله آدم عليه السلام په جنت کي تېر وتنه وکړه نو يې داسي دعا وکړه (يَا رَبِّ أَسْئَلُكَ بِحَقِّ مُحَمَّدٍ ﷺ لَمَا غَفَرْتَ لِيْ).

يعني- ای زما ربه! زه ستا څخه د محمد ﷺ په منزله او رتبه سره سوال کوم چي ته ماته مغفرت وکړه. د حديث شريف په آخر کي داسي راغلي دي: (إِنَّهُ لَأَحَبُّ الْخَلْقِ إِلَيَّ إِذْ سَأَلْتَنِي بِحَقِّهِ فَقَدْ غَفَرْتُ لَكَ وَلَوْلَا مُحَمَّدٌ ﷺ مَا خَلَقْتُكَ)[۲].

يعني- الله تعالی ورته وفرمايل: يقيناً محمد ﷺ ماته احب المخلوقات دی نو کله چي تا زما څخه د ده په رتبه سره سوال وکړ نو ما تاته بخښنه وکړې او که چيري محمد ﷺ نه وای نو به ماته نه وای پيدا کړی.

دا حديث امام ذهبي رحمة الله عليه موضوع او امام بيهقي رحمة الله عليه ضعيف بللی دی لېکن د امام ذهبي رحمة الله عليه سره په دغه خبره کي نور علماء کرام موافق نه دي پخپله امام حاکم رحمة الله عليه په (المستدرک) کي دا حديث صحيح بللی دی او نورو علماء کرامو د دغه حديث لپاره قوي شواهد راوړي دي[۳].

**دريم دليل:** - د حضرت عثمان بن حنيف رضي الله عنه څخه نقل راغلی دی چي يو کس په سترګو معيوب نبي ﷺ ته راغلی او داسي عرض يې وکړ چي ته ماته دعا وکړه چي الله تعالی ماته عافيت راکړي نبي ﷺ ورته وفرمايل که دي خوښه وي

---

[۱] اصول السرخسي ۲ جلد (۱۰۰) مخ.

[۲] المستدرک علي الصحيحين (۴۲۲۸)، البيهقي فی دلائل النبوة (۲۲۳۰)، الطبراني فی المعجم الأوسط (۶۴۹۸) کنز العمال (۳۲۱۳۵).

[۳] وګورئ (الشفاء السقام) (۳۶۰) مخ، محق التقول (۱۳۶) مخ.

دعا به درته وکړم او که دي خوښه وي چي صبر وکړې نو دا صبر ستا لپاره خیر دی هغه کس ورته و ویل چي دعا راته وکړه نو نبي ﷺ امر ورته وکړ چي ښه په ترتیب سره اودس وکړئ او دوه رکعته لمونځ وکړی او دغه دعا وکړئ:

(اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ وَأَتَوَجَّهُ إِلَيْكَ بِمُحَمَّدٍ نَبِيِّ الرَّحْمَةِ يَا مُحَمَّدُ إِنِّي قَدْ تَوَجَّهْتُ بِكَ إِلَى رَبِّي فِي حَاجَتِي هَذِهِ لِتُقْضَى اللَّهُمَّ فَشَفِّعْهُ فِيَّ).

یعني- ای الله یقیناً زه ستا څخه سوال کوم او تاته په محمد ﷺ سره چي د رحمت نبي دی توجه (توسل) کوم ای محمده ﷺ! یقینًا ما په تا سره خپل رب ته زما د دغه حاجت د پوره کېدلو لپاره توسل کړی ای الله ته د ده شفاعت زما په حق کي قبول کړه[1].

د طبراني رحمه الله په روایت کي د حدیث راوي فرمایلي دي چي کله هغه معیوب کس ذکر سوی عمل وکړ نو بالکل جوړ او روغ سو[2].

دغه حدیث شریف لویو امامانو لکه امام ترمذي رحمه الله حافظ بیهقي رحمه الله ابواسحاق رحمه الله امام ابن خزیمة رحمه الله او داسي نورو امامانو صحیح بللی دی[3].

په دغه حدیث شریف کي که څه هم هغه معیوب کس له نبي ﷺ څخه د دعا غوښتنه کړې ده لېکن نبي ﷺ دعا نه ده ورته کړې بلکي ده ته یې امر وکړ چي اودس او لمونځ وکړي او وروسته د حاجت دغه ذکر سوې دعا وکړي په دغه دعا کي په ښکاره ډول د نبي ﷺ په مبارک ذات او د ده په رتبه سره توسل دی.

---

[1] الترمذي (۳۵۷۸) وابن ماجه (۱۳۸۵) والامام احمد فی المسند (۱۶۷۸۹)، والامام الحاکم فی المستدرک (۱۱۸۰) والامام ابن خزیمة فی صحیحه (۱۲۱۹).

[2] المعجم الکبیر للطبراني (۸۲۳۱).

[3] د لازیاتو معلوماتو لپاره وګورئ شفاء السقام (۳۶۹) مخ.

هر هغه څوک چي دغه حديث شريف له خپل ظاهر څخه بل طرفته اړوي د هغه په باره کي علامه محمد زاهد کوثري رحمه الله داسي ليکلي دي:

(وصرفه عن ظاهره تحريف للكلم عن مواضعه بهوى) [1].

يعني- دغه حديث له خپلي ظاهري معنىٰ څخه بل طرفته اړول د کلماتو تحريف دی له خپلو ځايونو څخه په هوی (نفسي خواهش سره).

لوی محدث شيخ محمد انور کشميري رحمه الله د ذکر سوي حديث په اړوند داسي ويلي دي:

(فثبت منه التوسل القولى أيضا وحينئذٍ انكار الحافظ ابن تيمية تطاول).

ژباړه- له دغه حديث څخه قولي توسل (يعني نېکان خلک الله تعالىٰ ته په دعا کي وسيله ګرځول) هم ثابت سو اوس نو د حافظ ابن تيميه انکار عبث دی [2].

**څلورم دليل**: د طبراني رحمة الله عليه په روايت کي راغلي دي چي يو کس له حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه څخه د يو حاجت د پوره کېدلو غوښتنه درلوده خو ده ته دومره وخت نه پيدا کېدی چي حضرت عثمان رضي الله عنه ته خپل حاجت ور وړاندي کړي نو حضرت عثمان بن حنيف رضي الله عنه همهغه د حاجت دعا چي په د مخه حديث کي يې ذکر وسو ور وښودل کله چي هغه کس اودس او لمونځ وکړ او هغه دعا يې وکړه نو يې حاجت پوره سو [3].

له دې حديث څخه دا خبره ښکاره معلومه سوه چي دغه د حاجت دعا چي په هغه کي په نبي ﷺ سره توسل دی او نبي ﷺ هغه معيوب کس ته ورښودلې وه

---

[1] محق التقول (۱۰۲) مخ.

[2] فيض الباري (۴) جلد (۴۸۴) مخ.

[3] المعجم الكبير (۸۲۳۲) مجمع الزوائد/۲ (۲۷۹)، الترغيب/ (۶۰۶)، البيهقي/ ۲ (۱۶۶).

یوازي د نبي ﷺ تر ژوند پورې خاصه نه وه بلکې د نبي ﷺ تر وفات وروسته هم دغه دعاء کېدای شي ځکه چې حضرت عثمان بن حنیف رضي الله عنه د نبي ﷺ تر وفات وروسته د حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه په خلافت کې دغه د حاجت دعا هغه کس ته ور وښودل چې حاجت یې درلودی او هیڅچا هم انکار نه دی ورباندې کړی نو له دې حدیث شریف څخه په نبي ﷺ سره توسل د ده تر وفات وروسته هم ثابت سو.

**پنځم دلیل**:- د طبراني رحمة الله علیه په روایت کې راغلي دي چې نبي ﷺ فاطمة بنت أسد رضي الله عنها ته دعا وکړه او په دعا کې یې داسې وویل: (بِحَقِّ نَبِيِّكَ وَالْأَنْبِيَاءِ الَّذِيْنَ مِنْ قَبْلِيْ فَإِنَّكَ أَرْحَمُ الرَّاحِمِيْنَ).

یعني- ای الله جل جلاله! ته فاطمة بن اسد رضي الله عنها ته ستا د نبي ﷺ او د هغو انبیاؤ چې ترما دمخه تېر سوي دي په حق (رتبه) سره مغفرت وکړه ځکه چې ته ارحم الراحمین یې[1].

په دې حدیث کې نبي ﷺ په ښکاره ډول په هغو انبیاؤ علیهم السلام سره هم توسل کړی دی چې وفات سوي وه.

**شپږم دلیل**:- د حضرت ابوسعید الخدري رضي الله عنه په روایت کې راغلي دي چې نبي ﷺ وفرمایل چې کوم کس له خپل کور څخه لمانځه ته و وزي او دا دعا وکړي: (اللّٰهُمَّ إِنِّيْ أَسْأَلُكَ بِحَقِّ السَّائِلِيْنَ عَلَيْكَ- الحديث. یعني- ای الله جل جلاله زه ستا څخه د سوال کونکو په هغه حق (رتبه) سره چې تا ورکړې ده سوال کوم[2].

د دې حدیث اسناد که څه هم ځینو علماء کرامو ضعیف بللی دی لېکن نورو

---

[1] المعجم الکبیر (۲۵)- (۳۵۲) دا حدیث ابن حبان او حاکم صحیح بللی دی. محق التقول (۱۳۵) مخ.
[2] سنن ابن ماجه (۷۷۸).

علماء كرامو بيا صحيح بللي دى[1].

په دې حديث كي په عامو مسلمانانو سره توسل دى ژوندي وي كه مړه.

د توسل د اثبات لپاره دلائل ډېر دي خو دا قدر چي ذكر سوه دلته كفايت كوي د لازياتو معلوماتو لپاره هغه كتابونه مطالعه كړئ چي په توسل كي مستقل ليكل سوي دي يا د توسل مسئله تفصيلي پكښې راغلې ده لكه: (محق التوسل فى مسئلة التوسل)، للعلامة محمد زاهد الكوثري رحمة الله عليه، (حول التوسل والاستغاثة) للعالم المحدث محمد عابد السندي رحمة الله عليه، (شفاء السقام فى زيارة خير الانام)، للامام المحقق تقى الدين السبكي رحمة الله عليه، (التأمل فى حقيقة التوسل) للعالم المحدث عيسى بن عبد الله/ (البصائر) لمولانا حمد الله جان الداجوى رحمة الله عليه.

## پر توسل باندي د اسلامي امت تعامل دی

د صحابه كرامو رضى الله عنهم له زمانې څخه را شروع تر نن ورځي پوري اسلامي امت په انبياؤ عليهم السلام او نورو نېكو اشخاصو سره توسل كوي نو دا د اهل سنت والجماعت له مسائلو څخه يوه مسئله ده.

امام تقي الدين السبكي رحمة الله عليه د توسل په اړوند داسي ليكلي دي:

(اعلم انه يجوز ويحسن التوسل والاستغاثة والتشفع بالنبى ﷺ الى ربه سبحانه وتعالى جواز ذلك وحسنه من الأمور المعلومة لكل ذى دين المعروفة من فعل الأنبياء والمرسلين وسير السلف الصالحين والعلماء والعوام من المسلمين ولم ينكر احد ذلك من اهل الأديان ولاسمع به فى زمن من الازمان حتى جاء ابن تيمية فتكلم فى ذلك

---

[1] د تحقيق لپاره وګورئ محق التقول (۱۴۰) مخ.

بكلام يلبس فيه على الضعفاء الأغمار وابتدع مالم يسبق اليه فى سائر الأعصار)[۱].

ژباړه- يوه سه چي په نبي ﷺ سره د ده رب جلاله ته توسل استغاثه تشفع روا او ښه كار دى د دغه كار جواز او ښه والى له هغو امورو (كارونو) څخه دى چي هر ديندار ه كس ته معلوم دى او د انبياؤ او رسولانو عليهم السلام له فعل څخه معروف او مشهور دى د سلفو صالحينو علماء كرامو او عامو مسلمانانو له سيرتونو (طريقو) څخه معلوم دي د توسل څخه انكار هيڅ يو دين درلودنكي كس نه دى كړى او نه دغه انكار په يوه زمانه كي له يو چا څخه اوريدل سوى دى تر څو چي ابن تيميه راغلى او د توسل په اړوند يې هغه څه و ويل چي په هغه سره دى پر ضعيفو او بې تجربې خلګو باندي حق پټ وي او هغه څه يې نوي پيدا كړه چي په مخكنيو زمانو كي د يو چا له خوا نه وه پيدا سوې.

همدا شان علامه محمد زاهد كوثري رحمة الله عليه ليكلي دي:

(وعمل الأمة المتوارث طبقة فطبقة فى ذلك مما يصعب استقصاؤه وفى ذلك كتب خاصة)[۲].

ژباړه: په توسل كي د اسلامي امت عمل چي له پيړۍ پيړۍ څخه را شروع دى په هغسي اندازه دى چي پوره يادول يې مشكل كار دى په دې باره كي په خاص طور كتابونه ليكل سوي دي.

پخپله (محمد زاهد كوثري رحمة الله عليه) د ذكر سوي رسالې په آخر كي د دغسي كتابونو مثال په داسي ډكو كي بيان كړى دى: (ومن اراد أن يعرف عمل الأمة فى التوسل بخير الخلق فليراجع (مصباح الظلام فى المستغيثين بخير الأنام) (للامام القدوة

---

[۱] شفاء السقام (۳۵۷) مخ.

[۲] محق التقول (۱۰۹) مخ.

أبي عبدالله النعمان بن محمد بن موسى التلمساني المالكي المتوفى سنة (٦٨٣) وهومن محفوظات دار الكتب المصرية)[1].

کله چي دا خبره ثابته سوه چي پر توسل باندي د اسلامي امت تعامل دی نو په ښکاره ډول ویلای سو چي توسل حق دی ځکه چي د حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه په یوه روایت کي راغلي دي چي نبي ﷺ داسي وفرمایل: (إِنَّ اللهَ لَا يَجْمَعُ أُمَّتِي عَلَى ضَلَالَةٍ)[2]،

یعني – یقیناً الله تعالی زما امت پر ګمراهي باندي نه راجمعه کوي.

دا حدیث که څه هم امام ترمذي رحمه الله غریب بللی دی لېکن د ابوداؤد یو مرفوع روایت یې تائید کوي د ابوداؤد په روایت کي داسي راغلي دي: یقیناً الله تعالی تاسي له درو خویونو څخه ساتلي یاست له دغو درو څخه یو دا دی (وَأَنْ لَا تَجْتَمِعُوا عَلَى ضَلَالَةٍ)، یعني تاسو به پر ګمراهي باندي اتفاق نه کوئ[3].

## په نیکو اشخاصو سره توسل د دیوبندي علماؤ له نظره

مولانا خلیل احمد سهارنپوري رحمه الله د دیوبندي علماء کرامو په نمایندګي داسي لیکلي دي:

(عندنا وعند مشائخنا يجوز التوسل فى الدعوات بالأنبياء والصالحين من الأولياء والشهداء والصديقين فى حياتهم وبعد وفاتهم بان يقول فى دعائه اللهم إنى اتوسل إليك

[1] محق التقول (١٥٤) مخ.
[2] الترمذي (٢١٦٧).
[3] التلخيص الحبير / ٣ / ١٦٢.

بفلان أن تجيب دعوتي وتقضي حاجتي الى غير ذلك)[1].

ژباړه: په دعاؤ کي په انبياؤ عليهم السلام او نورو صالحينو بندګانو لکه اولياء الله شهداء صديقينو سره توسل د دوی په ژوند کي او د دوی تر وفات وروسته زموږ او زموږ د مشائخو په نزد جائز او روا کار دی په داسي ډول چي يو بنده پخپله دعا کي داسي و وايي: (ای الله! زه تا ته په فلاني ولي سره توسل کوم چي ته زما دعا قبوله کړه او زما حاجت را پوره کړه، او يا دې ته نژدې نور الفاظ دي و وايي، ذکر سوی کتاب (المهند على المفند) چي د (عقائد اهل السنة والجماعة) په نوم يادېږي هغه کتاب دی چي پر هغه باندي د مکې مکرمې، (مدينې منورې)، مصر، شام، برصغير هند، د علماء کرامو تصديقونه موجود دي نو په نېکو اشخاصو سره توسل د دغو ټولو علماء کرامو په نزد جائز بلکي ښه کار دی.

اوس نو د هغو کسانو په باره کي څه وايا ست چي خپل ځانونه ديوبندي علماء بولي ديوبندي يې د خپلو ځانو لپاره شعار ګرځولي وي په ديوبند افتخار کوي خلګو ته وايي چي موږ د ديوبندي مشائخو پر مسلک روان يو پخپلو خبرو کي د ديوبندي مشائخو خورا ډېره مدحه کوي او په نېکو اشخاصو سره توسل حرام يا شرک بولي دا کسان درواغجنان بولي که نه غالباً به ستاسو جواب (هو) وي، په اوسنۍ ټولنه کي د دغسي درواغجنانو وجود بې مثاله نه دی ځکه چي په مخکنيو زمانو کي هم دغسي درواغجنان پيدا سوي دي حتی داسي لوی درواغجنان هم پيدا سوي دي چي په نبي ﷺ پوري يې د درواغو د تړلو هڅه کړې ده خو د اسلامي امت د امامانو لخوا دغه درواغجنان رسوا سوي او خلګو ته ښودل سوي دي نو د اوسنۍ زمانې درواغجنان به هم د هغو په څېر رسوا

[1](المهند على المفند) (السوال الثالث والرابع) (۲۳) مخ.

کېږي او خلګو ته به ښودل کېږي، (وَمِنَ اللهِ الْهِدَايَةُ وَالتَّوْفِيْقُ).

## سوال او جواب

**سوال**:- د حنفي مذهب په ډېرو کتابونو کي له امام ابوحنيفه رحمة الله عليه، امام ابويوسف رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه څخه نقل راغلی دی چي په دعا کي داسي الفاظ استعمالول لکه: (أَسأَلُكَ بِحَقِّ فُلَانٍ) (أَسأَلُكَ بِحَقِّ أَنْبِيَائِكَ وَرُسُلِكَ) او داسي نور مکروه دي همدا شان داسي دعا کول (اللّٰهُمَّ إِنِّي أَسأَلُكَ بِمَعْقِدِ الْعِزِّمِنْ عَرْشِكَ) هم د امام ابوحنيفه رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه په نزد مکروه ده خو امام ابويوسف رحمة الله عليه دغه دعا مکروه نه ده بللې. نو له دغه عبارت څخه خو دا معلومېږي چي امام ابوحنيفه رحمة الله عليه او امام ابويوسف رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه په نيکو اشخاصو سره توسل مکروه بللی دی او تاسو يې جائز بولئ؟

**جواب**: امام ابوحنيفه رحمة الله عليه او امام محمد رحمة الله عليه دا دعا (اللهم انی اسألك بمعقد العز من عرشك) ځکه مکروه بللې ده چي له دغي دعا څخه دا توهم کېږي چي(عز) چي د الله تعالیٰ صفت دی تر عرش پوري تعلق لري عرش خو حادث (نوی پيدا) دی نو کوم شی چي تر عرش پوري تعلق ولري هغه به هم حادث وي او الله تعالیٰ خو له دې څخه پاک دی چي د ده (عز) تر يو حادث شي پوري تعلق ولري ځکه چي د الله تعالیٰ (عز) د ده د ذات او نورو صفاتو په څير قديم او ازلي دی او په (بحق فلان) سره يې دعا بيا ځکه منعه کړې ده چي مخلوق لره پر الله تعالیٰ باندي حق (واجب) نسته دا يوازي د معتزله ډلي عقيده ده چي پر الله

تعالیٰ باندي نېکو بندګانو ته ثواب ورکول او بدو خلګو ته عذاب ورکول واجب بولي.

نو ذکر سوو امامانو په دغو خاصو الفاظو سره توسل د يوې خاصي معنیٰ په اعتبار مکروه بللی دی مطلق توسل يې مکروه نه دی بللی د مثال په ډول کچيري يو کس په دعا کي (بحرمة فلان) يا (بوسيلة فلان) و وايي نو د دې هيڅ يو امام او فقيه رد نه دی کړی حتیٰ علماء کرامو ليکلي دي چي که چيري په (بحق فلان) سره هغه حق واخيستل سي چي الله تعالیٰ د خپل فضل له مخي دغه (فلان) ته ورکړی دی نو بيا په (بحق فلان) سره هم توسل جائز دی لکه څنګه چي لږ دمخه په حديثونو کي تاسو (بحق محمد ﷺ) او (بحق السائلين عليك) ولوستل. همدا شان په صحيح حديث کي راغلي دي چي نبي ﷺ وفرمايل: (حَقُّ الْعِبَادِ عَلَى اللهِ أَنْ لَّا يُعَذِّبَهُمْ). صحيح البخاري (٦٥۰۰).

ښکاره خبره ده چي په دغه حديث شريف کي هم (حق) د واجب په معنیٰ نه دی بلکي له حق څخه مراد هغه حق دی چي الله تعالیٰ د خپل فضل له مخي ځينو بندګانو ته مقرر کړی دی، او يا په حق سره مراد حرمة عظمة او رتبه ده نو پر دغه صورت هم په (بحق فلان) سره توسل جائز دی.

دا جواب د ملا علي قاري رحمه الله له عبارت څخه را اخيستل سوی دی اوس تاسو د ده عبارت وګورئ:

(قيل ويحرم قوله في الدعاء– أسألك بمعقد العزمن عرشك) و قد روى بتقديم القاف على العين فلا يجوز اتفاقا لا ستحالة معناه على الله سبحانه وتعالى و روى بعكسه فكذا يحرم لا نه يوهم تعلق العز بالعرش والعرش حادث ومايتعلق به يكون حادثا والله

سبحانه متعال عن تعلق عزه بالحوادث فان عزه قديم كذاته وسائر صفاته وعن ابي يوسف انه لابأس به وبه أخذ الفقيه أبوالليث قيل ويحرم ان يقول فى دعائه بحق فلان نبياكان أو وليا أوبحق البيت أو المشعر الحرام لأنه لاحق للخلق على الله لكن قديقال إنه لاحق لهم وجوبامن أصله لكن الله سبحانه جعل لهم حقا من فضله أويراد بالحق الحرمة والعظمة فيكون من باب الوسيلة وقد قال الله تعالیٰ ﴿ وَابۡتَغُوۡٓا اِلَيۡهِ الۡوَسِيۡلَةَ ﴾. [المائدة: ۳۵]. وقدعدمن آداب الدعاء التوسل بالأنبياء والأولياء على مافى (الحصن الحصين) وجاء فى رواية اللهم إنى أسألك بحق السائلين عليك وبحق ممشاى إليك فإنى لم اخرج أشراً ولا بطراً- الحديث)[1].

د دې عبارت مضمون همهغه دی چې ما دمخه ذکر کړ نو يې پښتو ژباړې ته ضرورت نسته عربي عبارت مې صرف د علماء کرامو لپاره رانقل کړ، د دې موضوع په اړوند (شفاء السقام)، (۳۶۶) مخ هم کتلای سئ.

## سوال او جواب

**سوال:-** ځيني هغه کسان چې له دين څخه ناخبره دي لکه مجسمه ډله چې وهابيان هم له دوی څخه دي داسي سوال کوي؟ په نېکو اشخاصو سره توسل ځکه شرک دی چې دا خو له الله تعالیٰ څخه ماسېوٰی له بل چا څخه غوښتنه ده که تاسو وایاست چې دا توسل خو موږ د دې لپاره کوو چې د نیکو اشخاصو په وسيله موږ الله تعالیٰ ته نږدې سو تر څو الله تعالیٰ زموږ دعاء قبوله کړي نو دا خو هم کټ مټ هغه کار دی چې مشرکين يې کوي مشرکين هم وايي چې موږ د

[1] فتح باب العناية (۴) جلد (۴۹) مخ.

خپلو بتانو عبادت یوازي د دې لپاره کوو چي الله تعالی ته مو په رتبه کي نژدې کړی ترڅو الله تعالی له دوزخ څخه نجات راکړي لکه څنګه چي الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَالَّذِيْنَ اتَّخَذُوْا مِنْ دُوْنِهٖٓ اَوْلِيَآءَ ۘ مَانَعْبُدُهُمْ اِلَّالِيُقَرِّبُوْنَآ اِلَى اللّٰهِ زُلْفٰى ؕ﴾. [الآية الزمر: ۳].

ژباړه: او هغه کسان چي د الله تعالی څخه په غیر یې نور دوستان (معبودان) نیولي دي (وايي چي) موږ د خپلو معبودانو عبادت د بل هیڅ سببه نه کوو مګر د دې لپاره چي دوی موږ الله تعالی ته ورنژدې کړي نژدې کول (او له دوزخ څخه نجات راکړې).

نو کوم کسان چي زیارتونو ته ځي او په نېکو اشخاصو سره توسل کوي یا په ژوندیو نېکانو سره توسل کوي دا کسان د هغو مشرکینو په شان دي چي د بتانو عبادت کوي او کوم شخص چي دوی توسل په کوي هغه د بت په شان دی. (نعوذبالله منه).

دا ټولي هغه خبري دي چي ما پخپله له دوی څخه اورېدلي او هم مي د دوی په کتابونو کي لوستي دي؟

**جواب**: تاسو مخکي ولوستل چي په نېکو اشخاصو سره توسل له قرآن کریم او نبوي سنتو څخه ثابت دی او د اسلامي امت وربانديي تعامل دی نو بیا دغسي یو کار څرنګه شرک کېدای سي آیا الله تعالی او د الله تعالی رسول ﷺ په شرک سره امر کوي (معاذالله) د دوی دا خبره چي په توسل کي له الله تعالی څخه ماسېوٰی د بل چا څخه غوښتنه ده. مطلق غلطه ده ځکه چي د توسل څخه مراد دا دی چي د نېکو اشخاصو یا نېکو اعمالو په وسیله د الله تعالی څخه

غوښتنه وسي نو په توسل کي يوازي له الله تعالیٰ څخه غوښتنه ده نه د بل چا څخه او که چيري يو کس د الله تعالیٰ څخه ماسېوی بل څوک حقيقي متصرف وګڼي او له هغه څخه مستقيم خپل حاجت وغواړي او د مشکلاتو حل کونکی يې وګڼي، حقيقي موثر يې وبولي نو دا خو بيا توسل نه دی بلکي شرک دی موږ پر هيڅ يو مسلمان دا ګمان نه سو کولای چي دی به دغه د شرک عمل کوي ځکه چي شرک خو د هيڅ يو مسلمان کار نه دی البته په عوامو خلګو کي ځيني داسي کسان سته چي د زيارت او توسل د آدابو مرعات نه کوي نو دا بيا د علماء کرامو وظيفه ده چي په نرمي سره يې سمي لاري ته برابر کړی.

دغه غريبان چي د توسل په وجه مسلمانان د شرک په غشي ولي ډېر بې پروا دي دا فکر نه کوي چي دغه غشی به پر دوی باندي را وګرځي. حضرت ابوهريره ﷺ له نبي ﷺ څخه داسي روايت کړی دی: (إِذَا قَالَ الرَّجُلُ لِأَخِيهِ كَافِرٌ فَقَدْ بَاءَ بِهِ أَحَدُهُمَا) [1].

ژباړه- کله چي يو کس خپل مسلمان ورور ته و وايي چي ته کافر يې نو په دوی کي يوه يې دغه کفر واخيست.

دا ځکه چي که چيري د دغي خبري ويونکی په واقع کي صادق وي يعني هغه بل کس کافر وي نو بيا خو هغه کس کافر دی او که چيري ويونکی درواغجن وي يعني هغه بل کس کافر نه بلکي مؤمن وي نو بيا دغه ويونکی کافر دی ځکه چي ده پر ايمان باندي د کفر فيصله وکړه کوم کس چي پر ايمان باندي د کفر فيصله وکړي هغه کافر دی دغه حديث شريف امام بخاري رحمه الله پر همدغه معنیٰ باندي حمل کړی دی که څه هم نورو علماء کرامو بيا پر زجر او تغليظ

---

[1] صحيح البخاري (۶۱۰۳).

باندي حمل کړی دی. ارشاد الساري (۱۰) جلد (۲۸۶) مخ.

د پښتو ژبي صوفي شاعر عبدالرحمٰن بابا وايي:

کرد ګلو کړه چي سيمه دي ګلزار شي
اغزی مه کره په پښو کي به دي خار شي
ته چي بل په غشو ولې هسي پوه شه
چي هم دا غشی به ستا په لور ګزار شي
کوهي مه کنه د بل سړي په لار کي
چيري ستا به د کوهي په غاړه لار شي

د دوی دا خبره (چي په نيکو اشخاصو سره توسل د مشرکينو د عمل په شان دی) ښکاره ګمراهي ده هيڅ يو مسلمان نېک اشخاص معبودان نه بولي نه يې حقيقي متصرفين بولي بلکي د الله تعالیٰ نېک بنده ګان يې بولي الله تعالیٰ ته يې وسيله ګرځوي غوښتنه له الله تعالیٰ څخه کوي او دا کار د شريعت له مخي جائز دی لکه څنګه چي يې لږ دمخه بيان تېر سو، او کوم عمل چي مشرکين يې کوي هغوی خو خپل بتان آلهه (معبودان) بولي عبادت يې کوي حقيقي متصرفين يې بولي د الله تعالیٰ سره يې شريکان بولي کوم آيت چي دوی په استدلال کي ذکر کړی دی له هغه څخه د مشرکينو دغه عمل ښکاره معلومېږي ځکه چي په آيت کي (مانعبدهم) راغلی دی له (مانعبدهم) څخه ښکاره معلومېږي چي مشرکين خپل بتان معبودان بولي عبادت يې کوي نو دا خو بېله شکه هغه شرک دی چي الله تعالیٰ په ګڼ شمېر آيتونو کي منعه ځني کړې ده او الله تعالیٰ يې هيڅ کله نه ښني نو د مسلمانانو د توسل او د مشرکينو د عمل ترمنځ ښکاره توپير سته دوی يې ځکه توپير نه کوي چي شيطان وربانديغالب سوی او پر سترګو يې د جهالت پردې غوړېدلي دي او يا سخت متعصبين دي له

همدغي وجهي څخه دوی د خپلي باطلي مدعي لپاره داسي دلائل راوړي چي په هغو کي د دوی جواب وي يو مثال يې همدغه دی چي تاسو وليدی. (هُوَاللهُ الْهَادِی إِلٰی سَوَاءِ السَّبِیْلِ).

## د تبرک مسئله

وهابيان مطلق تبرک شرک بولي حال دا چي د نبيﷺ په مبارکو وېښتانو چپنه او نورو جامو او آثارو سره صحابه کرامورضی الله عنهم تبرک کړی دی چي دا د نبيﷺ په تبرکاتو سره توسل دی اوس تاسو د دغو تبرکاتو د اثبات لپاره څو لاندي مضمونونه وګورئ:

### د نبيﷺ په مبارکو وړ ويښتانو سره تبرک

د نبيﷺ په مبارکو وېښتانو سره تبرک په ګڼ شمېر روايتونو سره ثابت دی خو دلته د بېلګي په ډول صرف څلور حديثونه وګورئ:

**اول حديث**:- حضرت انسرضي الله عنه ويلي دي: کله چي نبيﷺ (په حج کي د لوی اختر په ورځ) جمرة العقبه (آخري څلی) و ويشتی او خپله قرباني يې وکړه او د سر خرولو اراده يې وکړه نو يې سر خرونکي ته د خپل مبارک سر راسته طرف ور وړاندي کړ سرخرونکي دغه راسته طرف ور وخروئ وروسته يې حضرت ابو طلحهرضي الله عنه راطلب کړ او دغه وېښتان يې ورکړه وروسته يې د خپل مبارک سر چپه طرف ور وړاندي کړ او داسي يې ورته و ويل: د سر دغه طرف وخروه سر خرونکي هم هغسي وکړه وروسته يې دغه وېښتان هم حضرت ابو طلحهرضي الله عنه ته ورکړه وروسته يې ابو طلحهرضي الله عنه ته داسي وفرمايل: (اقْسِمْهُ

بَيْنَ النَّاسِ)، يعني- دغه وېښتان خلګو ته ور تقسيم کړه[1].

امام نووي رحمه الله د دغه حديث شريف په شرحه کي داسي ليکلي دي، له دغه حديث د فائدو څخه يوه فائده د نبي ﷺ په وېښتانو سره تبرک دی او د تبرک لپاره د ده مبارک د وېښتانو د ساتلو جواز دی[2].

شيخ محدث عبد الحق دهلوي رحمه الله د دغه حديث په شرحه کي داسي ليکلي دي: همدا شان نبي ﷺ خپل نوکان هم پرې کړه او حاضرينو ته يې ور تقسيم کړه د نبي ﷺ دغه تبرکات په امت کي تر نن ورځي پوري پاته دي. اشعة اللمعات دوهم جلد (۳۸۰) مخ.

**دوهم حديث:-** محمد بن سيرين رحمه الله ويلي دي چي ما حضرت عبيده رحمه الله ته و ويل چي زموږ سره د نبي ﷺ د وېښتانو څخه څه شی سته چي موږ ته د حضرت انس رضي الله عنه له خوا را رسېدلی دی نو حضرت عبيده رحمه الله داسي و فرمايل:

(لَأَنْ تَكُوْنَ عِنْدِی شَعَرَةٌ مِنْهُ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنَ الدُّنْيَا وَمَافِيْهَا).

يعني- زما سره د نبي ﷺ د يوه وېښته وجود ماته تر دنيا او مافيها ډېر محبوب دی[3].

**دريم حديث:-** عثمان بن عبدالله رحمه الله ويلي دي: چي زه خپلي کورنۍ ام سلمي رضي الله عنها ته د اوبو د يوې داسي پيالې سره ولېږلم چي په سپينو زرو سره ښايسته سوې وه او د نبي ﷺ د مبارکو وېښتانو څخه څه شی پکښي موجود ؤ عادت داسي ؤ چي کله به يو انسان ته نظر يا يو بل مرض ورسېدی نو به يې ام

---

[1] صحيح مسلم (۳۱۵۵)، اللفظ له (صحيح البخاري) (۱۷۱) مشکوة اول جلد (۲۳۲) مخ.
[2] مسلم اول جلد (۴۲۱) مخ.
[3] صحيح البخاري (۱۷۰) مخ.

سلميؓ ته يوه لويه كاسه واستوله (د دې لپاره چې د نبيﷺ په مباركو وېښتانو سره استشفاء وكړي) (فَاطَّلَعْتُ فِي الْجُلْجُلِ فَرَأَيْتُ شَعَرَاتٍ حُمْراً).

يعني- نو مې په جلجل كې (چې د نبيﷺ مبارك وېښتان پكښې ساتل سوې وه) د معلوماتو راغونډولو لپاره د كتلو هڅه وكړه نو مې څو سره وېښتان وليدل[1].

شهاب الدين احمد القسطلانيؒ د حديث مراد داسې بيان كړى دى، ام سلميؓ د نبيﷺ له مباركو وېښتانو څخه څو وېښتان په جلجل كې چې د زنګولې په شان يو شىٔ ساتلې وه د خلكو عادت داسې وو چې د دغو وېښتانو په وسيله يې له الله تعالىٰ څخه د ناروغيو شفا غوښتل، د شفا غوښتلو يې دوه ډوله وه:

اول- دغه مبارك وېښتان به يې په يوه داسې پياله كې واچول چې په هغه كې به اوبه وې بيا به يې د شفا لپاره څښلې (لكه څنګه چې د عثمان بن عبدالله‌ؒ اهل (كورنى) همدغه كار كړى دى.

دوهم- په لويه كاسه (لګن) كې به يې اوبه واچولې او هغه جلجل به يې هم پكښې واچوئ چې د نبيﷺ مبارك وېښتان پكښې ساتل سوي وه وروسته به خلګ په دغو اوبو كې د شفا لپاره كېناستل[2].

**څلورم حديث**:- حضرت انسؓ وېلي دي يقيناً ما نبيﷺ په داسې حال كې وليدى چې سر خرونكى د ده مبارك سر ورخروئ او صحابه كرام رضى الله عنهم چار چاپېره ورباندې را تاؤ سوي وه (فَمَا يُرِيْدُوْنَ أَنْ تَقَعَ شَعْرَةٌ إِلَّا فِي يَدِرَجُلٍ). يعني- دوى دا قصد نه درلودى چې د نبيﷺ يو مبارك وېښته

---

[1] صحيح البخاري (۵۸۹۶).

[2] ارشاد الساري (۱۰) جلد (۱۵۶) مخ، همدا شان وګورئ عمدة القاري (۲۲) جلد (۷۶) مخ.

ولوېږي مگر د يو سړي په لاس کي[۱].

## د نبي ﷺ په مبارکه چپنه او نورو جامو سره تبرک

**اول حديث**:- د صحيح مسلم په يوه روايت کي داسي راغلي دي: د أسماء رضي الله عنها مولى عبد الله رحمة الله عليه ويلي دي چي ماته أسماء رضي الله عنها يوه داسي چپنه را ويستل چي طيالسه او كسروانيه ورته ويل كېږي او د گرېبان ټوټه يې د وربښمو وه همدا شان د چپني دوه چاکه چي يو يې مخ ته او بل يې شاته درلودی په وربښمو گنډل سوې وه نو يې داسي وفرمايل: (هٰذِهِ كَانَتْ عِنْدَ عَائِشَةَ حَتَّى قُبِضَتْ فَلَمَّا قُبِضَتْ قَبَضْتُهَا وَكَانَ النَّبِيُ ﷺ يَلْبَسُهَا فَنَحْنُ نَغْسِلُهَا لِلْمَرْضٰى لِنَسْتَشْفِيَ بِهَا).

يعني- دغه چپنه د ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها سره وه ترڅو چي وفات سوه کله چي عائشه رضي الله عنها وفات سوه نو بيا هغه چپنه ما واخيستل دغه چپنه نبي ﷺ پخپل ژوند کي اغوستله نو موږ دغه چپنه مريضانو ته د شفا د طلب لپاره پرېولو (مطلب يې دا دی چي موږ د دغي چپني اوبه مريضانو ته د شفا لپاره ورکوو)[۲].

د دغه حديث په شرحه کي امام نووي رحمة الله عليه داسي ليکلي دي:

(وفي هذا الحديث دليل على استحباب التبرك بآثار الصالحين وثيابهم)[۳].

ژباړه: په دغه حديث کي پر دا خبره دليل دی چي د صالحينو خلکو په آثارو او د دوی په جامو سره تبرک مستحب دی.

**دوهم حديث**:- د بخاري شريف په يوه روايت کي راغلي دي چي يوې ښځي نبي ﷺ ته يو څادر هديه کړ نو نبي ﷺ دغه څادر لنگ کړ عبد الرحمٰن بن عوف رضي الله عنه ورته و ويل دا څومره ښه څادر دی ماته يې راکړه نبي ﷺ ورته و ويل

---

[۱] مسلم (۶۰۴۳).

[۲] صحيح مسلم (۵۴۰۹) مشکوة دوهم جلد (۳۷۴).

[۳] مسلم دوهم جلد (۱۹۰) مخ.

ښه دی درکوم یې صحابه کرامورضی الله عنهم پر عبد الرحمٰن بن عوف رضي الله عنه باندې په دغه کار کې ملامتیا و ویل عبد الرحمٰن بن عوف رضي الله عنه د دوی په جواب کې داسې و ویل: (رَجَوْتُ بَرَكَتَهَا حِيْنَ لَبِسَهَا النَّبِيُّ ﷺ لَعَلِّي أُكَفَّنُ فِيْهَا)،

یعنې- کله چې نبي ﷺ دغه څادر واغوست نو یې زه د برکت امید لرم او زه په دې امید یم چې په دغه څادر کې به کفن کړل سم[1].

**دریم حدیث**:- د بخاري او مسلم په یوه روایت کې راغلي دي چې ام عطیې رضي الله عنها وفرمایل: نبي ﷺ موږ ته په داسې حال کې راغلی چې موږ د ده لور زینب رضي الله عنها ته غسل ورکاوه نو یې د غسل د ترتیب تر ښودلو وروسته وفرمایل کله چې مو غسل پای ته ورسوئ بیا ما خبر کړی کله چې مو غسل خلاص کړ نو مو نبي ﷺ ته خبر ورکړ وروسته نبي ﷺ خپل ازار (لنګ) موږ ته راکړ او داسې یې وفرمایل: (أَشْعِرْنَهَا إِيَّاهُ) یعنې- زینب رضي الله عنها ته دغه ازار تر کفن لاندې ورکړئ (د دې لپاره چې برکت یې زینب رضي الله عنها ته ور ورسیږي)[2].

شهاب الدین احمد القسطلاني رحمه الله لیکلي دي: نبي ﷺ دغه کار د دې لپاره وکړ چې د ده د جامې برکت زینب رضي الله عنها ته ورسیږي او دا کار نبي ﷺ په آخر کې وکړ په اول کې یې ونه کړ د دې لپاره چې د نبي ﷺ له مبارک بدن څخه د ازار د را جلا کېدو وخت نږدې سي ترڅو بېله ځنډه د زینب رضي الله عنها مبارک بدن ته د نبي ﷺ مبارک ازار ور ورسیږي[3].

شیخ عبد الحق دهلوي رحمه الله د دغه حدیث په شرحه کې داسې لیکلي دي:

(وهذاالحديث اصل فی التبرك بآثار الصالحين ولباسهم). یعنې- د صالحینو په

---

[1] صحیح البخاري (۶۰۳۶).

[2] صحیح البخاري (۱۲۵۴) مسلم (۲۱۶۸).

[3] ارشاد الساري (۳) جلد (۲۱) مخ.

آثارو او د دوی په لباس سره په تبرک کي دا حديث اصل او دليل دی[۱].

## د نبي ﷺ په عَرَق (خوله) سره تبرک

حضرت انس رضي الله عنه فرمايلي دي چي ام سليم رضي الله عنها به نبي ﷺ ته چرمي فرش وغوړاوه نو به نبي ﷺ د دې په خونه کي پر دغه فرش د غرمې خوب کاوه کله چي به نبي ﷺ ولاړ سو نو به ام سليم رضي الله عنها د نبي ﷺ عَرَق (خوله) او هغه وېښتان چي د نبي ﷺ له مبارک سر او ږيري څخه به لوېدلي وه را واخيستل او په يوه شيښه کي به يې واچول بيا به يې په (سک) کي چي يو قسم خوشبويي ده واچول د حديث راوي ثمامه رحمه الله ويلي دي:

(فَلَمَّا حَضَرَ أَنَس بْنَ مَالِكٍ الْوَفَاةُ أَوْصَىٰ أَنْ يُجْعَلَ فِي حَنُوْطِهِ مِنْ ذٰلِكَ السُّكِّ قَالَ فَجُعِلَ فِي حَنُوطِهِ).

يعني- کله چي أنس بن مالک رضي الله عنه ته وفات حاضر سو نو يې وصيت وکړ چي له هغې خوشبويي څخه چي د نبي ﷺ مبارکه خوله او وېښتان پکښي اچول سوي وه يو څه د ده په حنوط يعني هغه خوشبويي کي چي د ميت لپاره جوړېږي واچول سي حضرت ثمامه رحمه الله ويلي دي هغه خوشبويي همهغه ډول لکه څنګه چي ده وصيت کړی وو د ده په حنوط کي واچول سوه[۲].

علامه بدرالدين عيني رحمه الله د دغه حديث په شرحه کي داسي ليکلي دي: يقيني خبره ده چي ام سليم رضي الله عنها د نبي ﷺ مبارکه خوله او وېښتان د تبرک لپاره اخيستي دي او د نبي ﷺ مبارکه خوله يې په نوره خوشبويي کي ځکه اچولې ده چي پر يوازي خوله باندي د وچېدلو وېره وه او حضرت انس رضي الله عنه هم ذکر سوی

---

[۱] لمعات څلورم جلد (۳۱۸) مخ.

[۲] صحيح البخاري (۶۲۸۱) و طرفه فی مسلم (۶۰۵۵).

کار د تبرک او له مشقتونو څخه د پناه غوښتلو لپاره کړی دی[۱].

د مسلم شریف په یوه روایت کي راغلي دي چي کله ام سلیم ﷺ د نبيﷺ مبارکه خوله راټولوله نو نبيﷺ ورته وفرمایل دا څه کوئ (یا ام سلیم) ام سلیم ﷺ ورته وویل:

(يَا رَسُوْلَ اللهِ نَرْجُو بَرَكَتَهُ لِصِبْيَانِنَا قَالَ أَصَبْتِ).

ژباړه: ای د الله ﷻ رسوله! موږ د خپلو ماشومانو لپاره د دغي مبارکي خولې د برکت امید لرو نبيﷺ ورته وفرمایل: ستا دغه کار سم دی[۲].

## د نبيﷺ په ځینو شمېر آثارو سره تبرک

امام بخاري رحمه الله په صحیح البخاري کي په لاندي عنوان یو باب ذکر کړی دی:

بَابُ مَا ذُكِرَ مِنْ دِرْعِ النَّبِيِّ ﷺ وَعَصَاهُ وَسَيْفِهِ وَقَدَحِهِ وَخَاتَمِهِ وَمَا اسْتَعْمَلَ الْخُلَفَاءُ بَعْدَهُ مِنْ ذَلِكَ مِمَّا لَمْ يُذْكَرْ قِسْمَتُهُ وَمِنْ شَعَرِهِ وَنَعْلِهِ وَآنِيَتِهِ مِمَّا يَتَبَرَّكُ أَصْحَابُهُ وَغَيْرُهُمْ بَعْدَ وَفَاتِهِ.

امام بخاري رحمه الله په دغه ترجمة الباب کي د نبيﷺ لاندي آثار ذکر کړي دي:
۱: ځغره، ۲: لکړه، ۳: توره، ۴: پیاله، ۵: انګشتري، ۶: وېښتان، ۷: چوټی، ۸: لوښي، او دا یې ویلي دي چي له دغو آثارو څخه ځیني یې خلفاء الراشدینو تر نبيﷺ وروسته استعمال کړي دي خو د تقسیم ذکر یې نه دی سوی او دا یې هم ویلي دي چي په دغو آثارو سره د نبيﷺ تر وفات وروسته صحابه کرامو رضی الله عنهم او نورو کسانو تبرک کړی دی. وروسته امام

---

[۱] عمدة القاري (۲۲) جلد (۴۰۰) مخ.
[۲] مسلم (۶۰۵۶).

بخاري رحمه الله په دغه باب کي څو هغه روايتونه راوړي دي چي په هغو کي د نبي ﷺ د انګشترۍ، چپلکو، پيالې او توري يادونه سوې ده[1].

حافظ ابن حجر رحمه الله د دغه باب په شرحه کي داسي ليکلي دي:

(الغرض من هذه الترجمة تثبيت أنه صلى الله عليه وسلم لم يورث ولابيع موجوده بل ترك بيدمن صار إليه للتبرك به).

ژباړه- د امام بخاري رحمه الله له ذکر سوي ترجمة الباب څخه مطلب د دې خبري ثابتول دي چي نبي ﷺ هيڅ يو مال په ميراث نه دی پرې ايښی او نه د ده سره موجود شيان د ده تر وفات وروسته خرڅ سوي دي بلکي دغه شيان يې د هغه چا په لاس کي چي ور ورسېږي د تبرک لپاره پرې ايښي دي[2].

همدا شان د مسلم په يوه روايت کي ابوحازم رحمه الله ويلي دي چي سهل بن سعد رضي الله عنه موږ ته هغه پياله راويستل چي نبي ﷺ اوبه پکښي څښلې وې نو موږ په هغه پياله کي اوبه وڅيښلې (ثُمَّ اسْتَوْهَبَهُ بَعْدَ ذٰلِكَ عُمَرُ بْنُ عَبْدِالْعَزِيْزِ فَوَهَبَهُ لَهُ).

يعني- تردغه وروسته حضرت عمر بن عبدالعزيز رحمه الله له حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه څخه د دغي پيالې د هبې طلب وکړ نو حضرت سهل بن سعد رضي الله عنه هم هغه پياله ور هبه کړه[3].

امام نووي رحمه الله د دغه حديث په شرحه کي داسي ليکلي دي: (هذافيه التبرك بآثار النبي ﷺ)، يعني په دغه حديث کي د نبي ﷺ په اثارو سره د تبرک اثبات

---

[1] صحيح البخاري اول جلد (۴۳۸).

[2] فتح الباري (٦) جلد (۲۵۵) مخ.

[3] صحيح مسلم (۵۲۳٦).

دی[1].

## د نبيﷺ د اوداسه څخه په پاته سوو اوبو سره تبرک

**اول حديث**:- حضرت ابو جحيفهرضي الله عنه ويلي دي چي نبيﷺ پر موږ باندي په سخته ګرمي کي را ووتی نو د اوداسه اوبه ورته راوړل سوې نو يې له دغو اوبو څخه اودس تازه کړ (فَجَعَلَ النَّاسُ يَأْخُذُوْنَ مِنْ فَضْلِ وَضُوئِهِ فَيَتَمَسَّحُوْنَ بِهِ).

يعني- نو خلګو د نبيﷺ د اوداسه د پاته سوو اوبو څخه يا د هغو اوبو څخه چي د نبيﷺ د اوداسه د اندامونو څخه څڅېدلي اوبه اخيستلې او خپل ځانونه يې د تبرک لپاره په مسحه کول[2].

که چيري دغه را اخيستل سوي اوبه هغه اوبه وي چي د نبيﷺ له اوداسه څخه پاته سوي وي نو صحابه کرامو رضی الله عنهم په دغو اوبو سره تبرک ځکه کاوه چي نبيﷺ خپل مبارک لاس پکښي ايښی وو او که چيري هغه اوبه وي چي د نبيﷺ له مبارکو اندامونو څخه څڅېدلې نو بيا يې په دغو اوبو سره تبرک ځکه کاوه چي د نبيﷺ پر مبارکو اندامونو باندي تېري سوي وي[3].

**دوهم حديث**:- د بخاري شريف په يوه روايت کي داسي راغلي دي:

(وَإِذَا تَوَضَّأَ النَّبِيُّ ﷺ كَادُوا يَقْتَتِلُونَ عَلَى وَضُوئِهِ). يعني- کله چي به نبيﷺ اودس تازه کړ نو نژدې وه چي صحابه کرام رضی الله عنهم د نبيﷺ د اوداسه پر اوبو باندي جګړه سره وکړي. صحيح البخاري (۱۸۹).

**دريم حديث**:- ابو موسیٰ رضي الله عنه ويلي دي چي: نبيﷺ يوه داسي پياله را طلب کړه چي په هغه کي اوبه وې نو يې خپل مبارک لاسونه او مبارک مخ په دغه

---

[1] صحيح مسلم دوهم جلد (۱٦۹) مخ.
[2] صحيح البخاري (۱۸۷).
[3] وګورئ ارشاد الساري اول جلد (۳۷۸) مخ.

پياله کي پرېولل او هغه اوبه يې هم پکښي واچولې چي نبيﷺ پخپله مبارکه خوله کي اخيستي وې وروسته يې حضرت بلال رضي الله عنه او حضرت ابو موسیٰ رضي الله عنه ته داسي وفرمايل:

(اشْرَبَا مِنْهُ وَأَفْرِغَا عَلَى وُجُوهِكُمَا وَنُحُورِكُمَا) يعني- تاسي دواړه له دغو اوبو څخه څه وڅيښئ او پر خپلو مخونو او ځيګرونو يې هم توی کړئ[1].

د دغه حديث شريف روايت امام مسلم رحمة الله عليه هم کړی دی خو د مسلم شريف په روايت کي لاندي زيادت راغلی دی. (فَأَخَذَا الْقَدَحَ فَفَعَلَا مَا أَمَرَهُمَا بِهِ رَسُولُ اللهِ ﷺ فَنَادَتْهُمَا أُمُّ سَلَمَةَ مِنْ وَرَاءِ السِّتْرِ أَفْضِلَا لِأُمِّكُمَا مِمَّا فِي إِنَائِكُمَا فَأَفْضَلَا لَهَا مِنْهُ طَائِفَةً).

يعني- نو حضرت بلال رضي الله عنه او حضرت ابو موسیٰ رضي الله عنه هغه پياله واخيستله او هغه عمل يې وکړ چي نبيﷺ دوی په امر کړې وه ام سلمي رضي الله عنها ل حجاب د شا څخه دوی ته آواز وکړ چي تاسو د خپلي مور لپاره ستاسي د پيالې له اوبو څخه يو څه پرېږدي نو دوی هم د ام المؤمنين ام سلمي رضي الله عنها لپاره د هغو اوبو څخه يو څه پرېښودلې[2].

## د نبيﷺ په مبارکو لاسونو سره تبرک

**اول حديث**:- حضرت انس رضي الله عنه ويلي دي، عادت داسي وو چي کله به نبيﷺ د سهار لمونځ وکړ نو به د مدينې منورې خادمان د خپلو هغو لوښو سره يو ځای راغلل چي په هغو کي به اوبه وې (فَمَا يُؤْتَى بِإِنَاءٍ إِلَّا غَمَسَ يَدَهُ فِيهِ وَرُبَّمَا جَاءَهُ فِي الْغَدَاةِ الْبَارِدَةِ فَيَغْمِسُ يَدَهُ فِيهَا).

---

[1] صحيح البخاري (۱۸۸).
[2] صحيح مسلم دوهم جلد (۳۰۳) مخ. رقم الحديث (۶۴۰۵).

یعني- نبيﷺ ته هيڅ يو لوښی نه راوړل کېدی مگر چي نبيﷺ به خپل مبارک لاس په هغه لوښي کي غوټه کړ ډېر ځله داسي هم کېدل چي خادمانو به نبيﷺ ته لوښی په داسي سهار کي راوړل چي په هغه کي به يخ ؤ خو بيا هم نبيﷺ خپل مبارک لاس په هغو لوښو کي غوټه کاوه[1].

ښکاره خبره ده چي صحابه کرامو رضی الله عنهم دغه کار د تبرک لپاره کاوه.

**دوهم حديث**:- د بخاري شريف په يوه روايت کي داسي راغلي دي:

(وَقَامَ النَّاسُ فَجَعَلُوا يَأْخُذُونَ يَدَيْهِ فَيَمْسَحُونَ بِهِمَا وُجُوهَهُمْ قَالَ فَأَخَذْتُ بِيَدِهِ فَوَضَعْتُهَا عَلَى وَجْهِي فَإِذَا هِيَ أَبْرَدُ مِنَ الثَّلْجِ وَأَطْيَبُ رَائِحَةً مِنَ الْمِسْكِ).

ژباړه: حضرت ابو جحيفه رضي الله عنه ويلي دي، خلک ولاړ سول نو يې د نبيﷺ مبارک لاسونه رانيول او خپل مخونه يې په مسحه کول حضرت ابو جحيفه رضي الله عنه ويلي دي نو ما هم د نبيﷺ مبارک لاس را ونيوی او پر خپل مخ مي کېښودی صفت يې داسي ؤ چي تر واوري يخ او بوی يې تر مشکو ډېر ښه ؤ[2].

## د نبيﷺ په مبارکو ناړو سره تبرک

په صحيح حديث کي راغلي دي چي أسماء رضي الله عنها وفرمايل: زما حمل په عبد الله بن زبير رضي الله عنه سره په مکه مکرمه کي ؤ او ولادت يې په قباء کي وسو بيا مي نبيﷺ ته ور وړی او د ده مبارک په بغل کي مي کېښودی، (ثُمَّ دَعَا بِتَمْرَةٍ فَمَضَغَهَا ثُمَّ تَفَلَ فِي فِيهِ فَكَانَ اَوَّلَ شَيْءٍ دَخَلَ جَوْفَهُ رِيقُ رَسُولِ اللهِﷺ ثُمَّ حَنَّكَهُ بِتَمْرَةٍ ثُمَّ دَعَالَهُ وَبَرَّكَ عَلَيْهِ).

یعني- وروسته يې يوه خرما را وغوښتل او وېژول بيا يې د خپلي مبارکي

---

[1] صحيح مسلم دوهم جلد (۲۵۶) مخ رقم الحديث (۶۰۴۲).
[2] صحيح البخاري اول جلد (۵۰۲) مخ، رقم الحديث (۳۵۵۳).

خولې او به د عبد الله بن زبير رضي الله عنه په خوله کي واچولې اول شی چي د عبد الله بن زبير رضي الله عنه نس ته داخل سو هغه د نبي ﷺ مبارکي ناړي وې بيا يې د عبد الله بن زبير رضي الله عنه په خوله کي ژول سوې خرما واچول او دعا يې ورته وکړه همدا شان يې د برکت دعا ورته وکړه[1].

همدا شان حضرت انس رضي الله عنه ويلي دي چي کله د عبد الله بن ابي طلحه رضي الله عنه ولادت وسو نو ما نبي ﷺ ته د څو خرماوو سره ور وړی نو يې هغه خرماوي پخپله مبارکه خوله کي وژولې او د عبد الله بن ابي طلحه رضي الله عنه په خوله کي يې ور واچولې او د عبد الله نوم يې ورباندي کېښودی[2].

همدا شان ام المؤمنين عائشې رضي الله عنها ويلي دي چي نبي ﷺ ته به ماشومان راوړل کېدل نو به ده د برکت دعا ورته کول او خرما به يې ژول بيا به يې د دوی په خوله کي وراچول[3].

په دې باره کي حديثونه ډېر دي، امام نووي رحمه الله د حضرت انس رضي الله عنه د روايت په شرحه کي داسي ليکلي دي:

(وفي هذا الحديث فوائد منها تحنيك المولود عند ولادته وهو سنة بالاجماع ومنها ان يحنكه صالح من رجل او امرأة ومنها التبرك بآثار الصالحين وريقهم وكل شئ منهم ومنها كون التحنيك بتمر وهو مستحب ولو حنك بغيره حصل التحنيك ولكن التمر افضل)[4].

ژباړه: په دغه حديث کي څو فائدې دي چي يوه يې ماشوم ته د ولادت په

---

[1] صحيح البخاري دوهم جلد (۸۲۲) مخ، رقم الحديث (۵۴۶۹) مسلم (۵۶۱۷).
[2] مسلم (۵۶۱۳).
[3] مسلم (۵۶۱۹).
[4] صحيح مسلم دوهم جلد (۲۰۹) مخ.

وخت کي د خرما يا يو بل داسي شی ژول او په خوله کي ور اچول دي (چي دغه ته تحنيک ويل کېږي) همدغه تحنيک د علماء کرامو په اتفاق سنت دی، د حديث شريف بله فائده دا ده چي دغه تحنيک بايد يو نېک سړی يا يوه نېکه ښځه وکړي، او بله فائده يې د صالحينو په آثارو د دوی په ناړو او د دوی په هر شي سره تبرک دی. بله فائده يې دا ده چي تحنيک په خرما سره مستحب دی که يې چيري په بل شي سره تحنيک وکړ نو بيا هم سنت تحنيک اداء سو ليکن په خرما سره تحنيک افضل دی.

## د نبيﷺ د مبارکي پزي په اوبو سره تبرک

د بخاري شريف په يوه روايت کي داسي راغلي دي: (وَمَا تَنَخَّمَ النَّبِيُّ ﷺ نُخَامَةً إِلَّا وَقَعَتْ فِي كَفِّ رَجُلٍ مِنْهُمْ فَدَلَكَ بِهَا وَجْهَهُ وَجِلْدَهُ)[۱].

ژباړه: نبيﷺ له خپلي پزي څخه اوبه نه دي را ايستلي مګر چي هغه به له صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه د يو صحابيؓ په لاس کي ولوېدلې نو به يې دغه اوبه پخپل مخ او پوست پوري وموښلي. دغه کار صحابه کرامو رضی الله عنهم د تبرک او د نبيﷺ د تعظيم لپاره کاوه[۲].

## د نبيﷺ د حضور او لمانځه په ځايونو سره تبرک

**اول حديث:**- حضرت موسیٰ بن عقبهؒ ويلي دي چي ما سالم بن عبدالله رحمه الله وليدی چي د مدينې منورې او مکې مکرمې په منځ کي په لار کي يې په څو خاصو ځايونو کي لمونځ کاوه او ويل يې چي د ده پلار حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه په دغو ځايونو کي لمونځ کاوه او عبدالله بن عمر رضي الله عنه بيا نبيﷺ ليدلی ؤ چي په دغو ځايونو کي يې لمونځ کاوه. په وروسته روايت کي

[۱] صحيح البخاري اول جلد (۳۸) مخ.
[۲] وګورئ ارشاد الساري اول جلد (۴۳۴) مخ.

عبد الله بن عمر رضي الله عنه دغه ځايونه په تفصيل سره بيان کړي دي[۱].

امام کرماني رحمة الله عليه د دغه حديث په شرحه کي داسي ليکلي دي: حضرت عبد الله بن عمر رضي الله عنه په دغو ځايونو کي لمونځ د تبرک لپاره کاوه او همېشه خلګ د صالحينو خلګو په ځايونو سره تبرک کوي[۲].

**دوهم حديث**:- د بخاري شريف په يوه روايت کي راغلي دي: چي حضرت عتبان بن مالک رضي الله عنه له نبي ﷺ څخه سوال وکړ چي ته راسه او زما په خونه کي لمونځ وکړه ترڅو زه هغه ځای مصلی (د لمانځه ځای) وګرځوم نو نبي ﷺ هم د ده سوال قبول کړ کله چي نبي ﷺ د ده خوني ته داخل سو نو يې داسي ورته وفرمايل: (أَيْنَ تُحِبُّ أَنْ أُصَلِّيَ مِنْ بَيْتِكَ قَالَ فَأَشَرْتُ لَهُ إِلَى نَاحِيَةٍ مِنَ الْبَيْتِ فَقَامَ رَسُوْلُ اللهِ ﷺ فَكَبَّرَ فَقُمْنَا فَصَفَفْنَا فَصَلَّى رَكْعَتَيْنِ ثُمَّ سَلَّمَ).

يعني- ستا په خونه (کوټه) کي دي کوم ځای خوښ دی چي زه لمونځ پکښي وکړم عتبان بن مالک رضي الله عنه ويلي دي چي ما د خوني يو طرف ور وښودی نو نبي ﷺ ودرېدی او تکبير يې ووايه موږ هم ودرېدلو او صف مو جوړ کړ نو نبي ﷺ دوه رکعته لمونځ وکړ وروسته يې سلام وګرځاوه[۳].

حافظ ابن حجر رحمة الله عليه د دغه حديث په شرحه کي داسي ليکلي دي:

(وفيه التبرك بالمواضع التى صلى فيها النبى ﷺ او وطئها ويستفادمنه أن من دعي من الصالحين للتبرك به أنه يجيب اذا امن الفتنة).

يعني- په دغه حديث کي په هغو ځايونو سره د تبرک اثبات دی چي نبي ﷺ

---

[۱] صحيح البخاري اول جلد (۷۰) مخ.

[۲] شرح الکرماني دريم جلد (۲۰۰) مخ، همدا شان وګورئ فتح الباري اول جلد (۷۳۶) مخ، ارشاد الساري اول جلد (۶۷۳) مخ.

[۳] صحيح البخاري اول جلد (۶۰) مخ، رقم الحديث (۴۲۵).

لمونځ پکښي کړی دی او یا یې مبارک قدم ورباندي ایښی دی او له دغه حدیث څخه دا هم معلومېږي چي که چیري یو صالح او نېک کس یو ځای ته د تبرک لپاره دعوت سي نو یې دی باید دعوت قبول کړي که چیري له فتنې څخه په امن کي ؤ[۱].

همدا شان حافظ ابن حجر رحمة الله علیه د دغه حدیث په اړوند بل ځای داسي لیکلي دي:

(فهوحجة فی التبرك بآثار الصالحين)، یعني- دغه حدیث د صالحینو خلګو په آثارو سره په تبرک کي حجت او دلیل دی[۲].

اوس نو د هغو کسانو خبري خوشي افسانې دي چي دوی وایي دغسي تبرکات یوازي تر نبي ﷺ پوري خاص وه بل څوک نه ورباندي قیاسېږي، آیا دوی به پر دغه خبره باندي یو دلیل راوړي هیڅکله به یې رانه وړي (ولوكان بعضهم لبعض ظهيرا).

**دریم حدیث**:- همدا شان د بخاري شریف په یوه بل روایت کي راغلي دي: چي حضرت سالم رحمة الله علیه په ذوالحلیفه د (وادي العقيق) په منځ کي په هغه ځای کي نزول کاوه چیري چي به د ده پلار حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه نزول کاوه حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه بیا په دغه ځای کي استراحت ځکه کاوه چي دا د نبي ﷺ معرس (د شپې په آخر کي د استراحت ځای) وو[۳].

---

[۱] فتح الباري اول جلد (۶۷۷) مخ.
[۲] فتح الباري اول جلد (۷۳۶) مخ.
[۳] فتح الباري (۶) جلد (۱۰۸) مخ. ارشاد الساري (۵) جلد (۳۱۱) مخ. صحیح البخاري اول جلد (۲۰۸) مخ، رقم الحدیث (۱۵۳۵).

## په نېکانو خلکو سره تبر ک

امام بخاري رحمه الله په صحيح البخاري کي په داسي عنوان يو باب راوړی دی:

(بَابُ مَنِ اسْتَعَانَ بِالضُّعَفَاءِ وَالصَّالِحِيْنَ فِي الْحَرْبِ).

حافظ ابن حجر رحمه الله او شهاب الدين احمد القسطلاني رحمه الله د دغه باب په شرحه کي داسي ليکلي دي (ای ببرکتهم ودعائهم)[1].

يعني دا باب د هغه چا په باره کي دی چي د ضعفاؤ او صالحينو خلکو په برکت او دعا سره په جنګ کي مدد (کومک) وغواړي يعني دغه کار يې مشروع او جائز دی.

وروسته امام بخاري رحمه الله په دغه باب کي څو حديثونه ذکر کړي دي چي يو يې د حضرت ابوسعيد الخدري رضي الله عنه روايت دی چي نبي ﷺ وفرمايل، يوه داسي زمانه به راسي چي په هغه کي به له خلکو څخه يو جماعت غزا کوي نو به و ويل سي آيا په تاسو کي يو صحابي سته نو به جواب ورکړل سي چي (هو) سته نو به پر دغه صحابي مبارک باندي فتحه راسي بيا به داسي زمانه راسي چي وبه ويل سي آيا په تاسو کي يو تابعي سته دلته به هم جواب د (هو) وي نو به پر دغه تابعي باندي فتحه راسي بيا به داسي زمانه راسي چي وبه ويل سي آيا په تاسو کي له تبع تابعينو څخه يو څوک سته جواب به ورکول سي چي (هو) سته نو به پر دغه کس باندي هم فتحه راسي[2].

## له يوه وطن څخه بل وطن ته د تبرکاتو انتقال جائز دی

د نسائي په يوه روايت کي راغلي دي: طلق بن علي رضي الله عنه ويلي دي چي موږ څو کسان له خپل وطن څخه د نبي ﷺ طرفته د بيعت لپاره و وتلو نو مو بيعت

---

[1] صحيح البخاري اول جلد (۴۰۵) مخ.
[2] صحيح البخاري اول جلد (۴۰۵) مخ. رقم الحديث (۲۸۹۷).

ورسره وکړ او لمونځ مو ورسره وکړ او خبر مو ورکړ چي زموږ په وطن کي موږ لره يوه کليسا سته (دغه خلګ نصارٰی وه کله چي يې ايمان راوړی نو يې وغوښتل چي کليسا ماته کړي) نو مو له نبيﷺ څخه د ده له اوداسه څخه د پاته سوو اوبو د هبې طلب وکړ نو نبيﷺ اوبه راطلب کړې اودس يې تازه کړ او پخپله مبارکه خوله کي يې اوبه واچولې وروسته يې دغه اوبه په لوښي کي توی کړې او موږ ته يې و ويل تاسي ولاړ سئ کله چي خپل وطن ته ورسئ نو کليسا مو ماته کړئ او پر ځای يې دغه اوبه وشندئ او مسجد ورباندي جوړ کړئ موږ ورته و ويل وطن مو ليري دی ګرمي سخته ده په لوښي کي اوبه وچېږي نو نبيﷺ وفرمايل: (مُدُّوهُ مِنَ الْمَاءِ فَإِنَّهُ لَا يَزِيْدُهُ إِلَّا طِيْبًا).

يعني- دغو اوبو ته نوري اوبه وربالا کړې يقيناً دغه اوبه هغو نورو اوبو ته ښه والی او برکت وربخښي[1].

ملا علي قاريرحمه الله له حافظ ابن حجررحمه الله څخه د دغه حديث په شرحه کي داسي نقل کړی دی:

(وفيه التبرك بفضله عليه السلام ونقله الى البلاد ونظيره ماء زمزم فانه عليه السلام كان يستهديه من أمير مكة ليتبرك به أهل المدينة ويؤخذ من ذلك أن فضلة وارثيه من العلماء والصالحين كذالك)[2].

ژباړه- په دغه حديث کي د نبيﷺ له اوداسه څخه په پاته سوو اوبو سره د تبرک او نورو ښارونو او ځايونو ته يې د نقل کولو استحباب دی د دې مثال د زمزم اوبه دي ځکه چي نبيﷺ د مکې مکرمې له امير څخه د زمزم د اوبو طلب د

[1] سنن النسائي (۷۰۱)، مشکوة اول جلد (۶۹) مخ.
[2] مرقاة، دوهم جلد (۲۰۴) مخ.

دې لپاره کاوه چې د مدينې منورې خلګ تبرک په وکړي له دغه حديث څخه دا حکم هم را اخيستل کېږي چې د نبيﷺ د وارثانو چې علماء او صالحين دي له اوداسه څخه پاته سوي اوبه هم دغسي دي (يعني تبرک په جائز دی)

شيخ مولانا عبدالحق دهلويؒ هم دغسي مضمون ذکر کړی دی په آخر کي يې داسي ليکلي دي: (وفضل وارثان او که علما وصلحاء اند و تبرک بآثار وانوار ايشان همبرين قياس است)[1].

## کوم کسان چې له تبرک څخه انکار کوي د هغوی دليل

هغه کسان چې د صالحينو په آثارو سره د تبرک څخه انکار کوي استدلال يې د لاندي دوو روايتونو څخه دی:

**اول روايت:-** له حضرت نافعؒ څخه نقل راغلی دی چې کله حضرت عمرؓ ته خبر ورسېدی چې خلګ د حديبيې هغي درختي (وني) ته ورځي چې تر هغې لاندي صحابه کرامو رضی الله عنهم له نبيﷺ سره بيعت کړی ؤ او هلته لمونځ کوي نو حضرت عمرؓ دغه خلګ و وېرول او د وني د پرېکولو امر يې وکړ نو هغه ونه هم پرېکړل سوه[2].

**دوهم روايت:-** معرور بن سويدؒ ويلي دي چې موږ د حضرت عمرؓ سره په حج کي و وتلو کله چې له حج څخه را وګرځېدی نو يې خلګ وليدل چې يو مسجد ته په تلوار ورتلل نو حضرت عمرؓ پوښتنه وکړه چې دا څه شی دی خلګو په جواب کي ورته و ويل چې دا يو داسي مسجد دی چې نبيﷺ لمونځ پکښي کړی دی نو حضرت عمرؓ وفرمايل: همدغسي تر تاسو دمخه اهل الکتاب هلاک سوي دي هغوی د خپلو انبياؤ آثار کليساوي

---

[1] اشعة اللمعات اول جلد (۳۵۵) مخ.
[2] فتح الباري (۷) جلد (۵۵۸) مخ.

ګرځولي وې نو هغه کس چې پرده باندي په دغه مسجد کي د لمانځه وخت را ورسېږي نو دي لمونځ پکښې وکړي که نه نو پر خپله مخه دي ولاړ سي[۱].

جواب: له حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه او حضرت مسيب رضي الله عنه څخه د حديبيې د درختي په اړوند داسي نقل راغلی دی چي دغه درخته پر موږ باندي په راتلونکي کال کي پټه سوه يعني له موږ څخه يې ځای ورک سو[۲].

طارق بن عبدالرحمٰن رحمة الله عليه ويلي دي چي زه د حج لپاره روان سوم په لار کي د داسي خلګو سره تېر سوم چي لمونځ يې کاوه ما ورته و ويل دا کوم مسجد دی دوی و ويل دا هغه درخته ده چي تر هغې لاندي نبي صلى الله عليه وسلم بيعة الرضوان کړی دی (دوی تر هغې درختي لاندي د لمانځه لپاره مسجد جوړ کړی ؤ) نو زه سعيد بن المسيب رحمة الله عليه ته ورغلم او د دغو خلګو بيان مي ورته وکړ سعيد بن المسيب رحمة الله عليه وفرمايل ماته خپل پلار مسيب رضي الله عنه چي دی هم له هغو صحابه کرامو رضی الله عنهم څخه دی چي هغو په حديبيه کي تر درختي لاندي د نبي صلى الله عليه وسلم سره بيعت کړی دی داسي حديث ويلی دی، کله چي موږ د حديبيې تر صلحې وروسته په دا بل کال کي ور و وتلو نو د هغې درختي ځای راڅخه هېر کړل سو پيدا مو نکړه حضرت سعيد بن المسيب رحمة الله عليه و ويل:

(إِنَّ أَصْحَابَ مُحَمَّدٍ صلى الله عليه وسلم لَمْ يَعْلَمُوهَا وَعَلِمْتُمُوهَا أَنْتُمْ فَأَنْتُمْ أَعْلَمُ).

يعني- د نبي صلى الله عليه وسلم اصحابو ته د هغې درختي ځای نه ؤ معلوم او تاسي ته معلوم دی نو تاسو تر دوی ډېر خبرداره ياست[۳].

له دغه حديث شريف څخه داسي ښکاري چي کومه درخته چي دا خلګو د

---

[۱] تکملة فتح الملهم (۳) جلد (۲۰۷) مخ.

[۲] وګورئ صحيح البخاري دوهم جلد (۵۹۹) مخ، رقم الحديث (۴۱۶۴) همدا شان صحيح البخاري اول جلد (۴۱۵) مخ، رقم الحديث (۲۹۵۸) صحيح مسلم دوهم جلد (۱۳۰) مخ، رقم الحديث (۴۷۸۱).

[۳] صحيح البخاري دوهم جلد (۵۹۹)، رقم الحديث (۴۱۶۳).

هغې سره لمونځ کاوه هغه درخته نه وه چې تر هغې لاندې بيعت سوی ؤ حضرت سعيد بن المسيب رحمة الله عليه هم د دوی پردغه کار باندې انکار کړی دی چې دوی د لمانځه لپاره يوه داسې درخته معلومه کړې وه چې تر هغې لاندې بيعت نه ؤ سوی په دې خاطر يې انکار نه دی ورباندې کړی چې دوی هلته په لمانځه سره تبرک کاوه نو کېدای سي چې حضرت عمر رضي الله عنه هم له همدغې وجهې څخه هغه درخته پرې کړې وي نه له دې کبله چې ده تبرک جائز نه ګڼئ اما کوم چې د حضرت جابر رضي الله عنه څخه نقل راغلی چې که چيرې زما سترګې روغې وای نو به ما تاسې ته د هغې درختې ځای ښودلی وای[1].

له دغه حديث څخه هم داسې نه ښکاري چې حضرت جابر رضي الله عنه ته د هغې درختې ځای يقيني معلوم ؤ کېدای سي چې ده دې دا خبره د غالب ګمان له مخې کړې وي نو بيا خو د هغې درختې ځای په يقيني ډول نه سو معلوم[2].

او که چيرې حقيقت داسې وي چې دا درخته ځينو صحابه کرامو ته لکه حضرت جابر رضي الله عنه په يقيني ډول معلومه وه لکه څنګه چې د حافظ ابن حجر رحمة الله عليه همدغسې رأيه ده او حضرت عمر رضي الله عنه هم د هغې معلومې درختې د پرېکولو امر کړی وي نو بيا حضرت عمر رضي الله عنه دا کار ځکه کړی دی چې ده ته وېره پيدا سوه چې خلګ به په دغه ځای کې د لمانځه التزام وکړي کوم کسان چې تر دوی وروسته راځي له هغو څخه به حقيقت ورک سي په دغه ځای کې به لمونځ واجب وبولي د همدغې وېرې له کبله يې پر هغو کسانو هم انکار کړی دی چې دوی هغه مسجد ته په تلوار ورتلل چې په هغه کې نبي صلى الله عليه وسلم لمونځ کړی ؤ حافظ ابن حجر رحمة الله عليه د دغې موضوع په اړوند داسې ليکلي دي: (او خشی ان

---

[1] مسلم (۴۷۷۴).

[2] تکملة فتح الملهم (۳) جلد (۲۰۵) مخ.

يشكل ذلك على من لايعرف حقيقة الأمر فيظنه واجبا).

يعني- حضرت عمر رضي الله عنه پر هغو کسانو چي دوی هغه ځای ته ورتلل چي په هغه کي نبي ﷺ لمونځ کړی ؤ انکار ځکه کړی دی چي دی بېرېدلی دی چي دا کار به پر هغه چا باندي مشکل سي چي حقيقت يې نه وي ورته معلوم نو به د واجب ګمان ورباندي وکړي[1].

همدا شان علامه ابن بطال رحمه الله ليکلي دي: (انما خشى عمر رضي الله عنه أن يلتزم الناس الصلاة فى تلك المواضع حتى يشكل ذلك على من يأتي بعدهم ويرى ذلك واجبا).

يعني- حضرت عمر رضي الله عنه پر ذکر سوو کسانو باندي انکار ځکه کړی دی چي دی وېرېدلی دی چي خلګ به په دغو ځايونو کي د لمانځه التزام وکړي نو به دغه کار پر هغو کسانو باندي مشکل سي چي تر دوی وروسته راځي او په دغو ځايونو کي به لمونځ واجب وبولي[2].

خلاصه دا ده چي حضرت عمر رضي الله عنه دغه کار له دې کبله نه دی کړی چي ده د صالحينو په آثارو سره يې تبرک جائز نه بلی يا يې د تبرکاتو بندول غوښتل لکه څنګه چي سلفيان او وهابيان وايي تاسو وګورئ له ده څخه پخپله د نبي ﷺ په آثارو سره تبرک ثابت دی. د بخاري شريف په يوه روايت کي راغلي دي چي نبي ﷺ د حضرت زبير رضي الله عنه څخه هغه نېزه په عاريت وغوښتله چي ده په بدر کي ابو ذات الکرش په وژلی ؤ نو حضرت زبير رضي الله عنه هم هغه نېزه نبي ﷺ ته ورکړه کله چي نبي ﷺ وفات سو نو حضرت زبير رضي الله عنه هغه نېزه بيرته واخيستله وروسته هغه نېزه حضرت ابوبکر رضي الله عنه څني طلب کړه حضرت زبير رضي الله عنه هم هغه نېزه ورکړه

[1] فتح الباري اول جلد (۷۳۶).
[2] شرح ابن بطال دوهم جلد (۱۷۱) مخ، همدا شان وګورئ عمدة القاري (۴) جلد (۴۰۹) مخ، شرح الکرماني (۳) جلد (۲۰۰) مخ، ارشاد الساري اول جلد (۶۷۴) مخ.

کله چي حضرت ابوبکر رضي الله عنه وفات سو بیا حضرت عمر رضي الله عنه ځني طلب کړه ده هم هغه نېزه ورکړه کله چي حضرت عمر رضي الله عنه وفات سو بیا حضرت زبیر رضي الله عنه واخیستله وروسته حضرت عثمان رضي الله عنه ځني طلب کړه نو ده هم هغه نېزه ورکړه کله چي حضرت عثمان رضي الله عنه قتل کړل سو بیا د حضرت علي رضي الله عنه په لاس کي ولوېدل وروسته عبدالله بن زبیر رضي الله عنه ځني طلب کړه نو هغه نېزه د عبدالله بن زبیر رضي الله عنه سره وه ترڅو چي قتل کړل سو[۱].

شیخ محمد تقي عثماني رحمه الله د دغه حدیث تر ذکر کولو وروسته داسي لیکلي دي:

(وهذا يدل على اهتمام الخلفاء الراشدين ومنهم الفاروق رضي الله عنه بالمحافظة على عنزة والعنزات في العالم كثيرة وما ذلك الا لانها بقيت عند رسول الله ﷺ زمانا فارادوا التبرك بها).

یعني- له دغه حدیث څخه معلومېږي چي خلفاء راشدینو چي حضرت عمر فاروق رضي الله عنه هم له دوی څخه دی د نېزې پر ساتلو باندي اهتمام درلودی نوري نېزې هم په عالم کي ډېري دي (چي خلګو ساتلي دي) دغه کار دوی نه دی کړی مګر له دې کبله چي دغه نېزې د نبي ﷺ سره څه زمانه پاته سوې ده نو دوی په دغو نېزو سره د تبرک قصد کړی ؤ[۲].

اوس نو د هغو کسانو په باره کي تاسو فیصله وکړئ چي د تبرک په اړوند ګڼ شمېر ښکاره نصوص چي یو څه یې مو دذکر کړه ټوله شاته غورځوي او د تبرک پر حراموالي دغسي بې ځایه دلیلونه وایي لکه څنګه چي تاسي ولیدل. (وَبِاللّٰهِ التَّوْفِيْقُ وَمِنْهُ الْوُصُوْلُ إِلَى التَّحْقِيْقِ).

---

[۱] صحيح البخاري دوهم جلد (۵۷۰) مخ، رقم الحديث (۳۹۹۸).
[۲] تكملة فتح الملهم (۳) جلد (۲۰۷) مخ.

## پر بعث ، جزاء او د قيامت په نورو احوالو باندي ايمان لرو

**۸۲ :-** وَنُؤْمِنُ بِالْبَعْثِ وَجَزَاءِ الْأَعْمَالِ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَالْعَرْضِ وَالْحِسَابِ وَقِرَاءَةِ الْكِتَابِ وَالثَّوَابِ وَالْعِقَابِ وَالصِّرَاطِ وَالْمِيزَانِ وَالْمِيزَانُ يُوزَنُ فِيهِ أَعْمَالُ الْمُؤْمِنِينَ مِنَ الْخَيْرِ وَالشَّرِّ وَالطَّاعَةِ وَالْمَعْصِيَةِ.

ژباړه- موږ تر مرګ وروسته پر ژوندون او د قيامت په ورځ د اعمالو پر جزاء ايمان لرو همدا شان د الله تعالیٰ پر دربار باندي د بندګانو پر وړاندي کېدلو او د بندګانو سره د الله تعالیٰ په حساب کولو او د هر سړي د خپلي عمل نامې پر ويلو او نېکانو خلګو ته پر ثواب او بدانو ته پر عذاب او په هغه پل چي پر دوزخ باندي پروت دی او په ترازو باندي ايمان لرو دا هغه ترازو دی چي په هغه کي د مؤمنانو عملونه خير دی که شر طاعت دی که معصيت تلل کېږي.

**شرح-** دغه ټولي مسئلې په (الايمان باليوم الآخر) کي داخلي دي چي يو څه بحث يې په (۶۶) عقيده کي تېر سوی دی. پر بعث يعني تر مرګ وروسته ژوندون باندي ايمان هغه سي عقيده ده چي ټوله انبياء عليهم السلام ورباندي متفق دي همدا شان مسلمانان، يهودان او نصرانيان ټوله اتفاق ورباندي لري يوازي فلاسفه ملاحده ځني منکر دي. بعث همدا شان د دې عقيدې نور اجزاء په ګڼ شمېر آيتونو او حديثونو سره ثابت دي خو دلته تاسو د بېلګي په ډول د دې عقيدې د هر جزء لپاره يو يو آيت وګورئ:

**اول آيت:** ﴿وَنُفِخَ فِي الصُّورِ فَإِذَا هُمْ مِنَ الْأَجْدَاثِ إِلَىٰ رَبِّهِمْ يَنْسِلُونَ﴾.

[يس:۵۱].

ژباړه: او (بيا به) په شپیلۍ کي (دوهم ځل) پوکی وکړی شي نو ناڅاپه به دوی د قبرونو څخه خپل رب ته ور وځغلي.

**دوهم آيت:** ﴿يَوْمَ تَجِدُ كُلُّ نَفْسٍ مَّا عَمِلَتْ مِنْ خَيْرٍ مُّحْضَرًا ۛ وَّمَا عَمِلَتْ مِنْ سُوْٓءٍ ۛ تَوَدُّ لَوْ اَنَّ بَيْنَهَا وَبَيْنَهٗٓ اَمَدًا بَعِيْدًا﴾.[آل عمران: ۳۰].

ژباړه: له هغې ورځي څخه (و ویریږئ) چي هر څوک هر هغه څه حاضر کړی سوي (پکښي) ومومي چي ده کړي وي له خیره او هر هغه څه چي ده کړي وي له بدي څخه دا نفس به آرزو کوي چي کاشکي د ده او د دغه بدعمل په منځ کي ډېره اوږده مسافه وای.

**دريم آيت:** ﴿وَعُرِضُوْا عَلٰى رَبِّكَ صَفًّا﴾.[الكهف: ۴۸].

ژباړه: او دوی به په رب ستا صف صف وړاندي کړل سي.

**څلورم آيت:** ﴿وَكَفٰى بِنَا حٰسِبِيْنَ﴾.[الأنبياء: ۴۷].

ژباړه: او موږ د حساب کونکو په حیث بس (او کافي) یو.

**پنځم آيت:** ﴿اِقْرَاْ كِتٰبَكَ ؕ كَفٰى بِنَفْسِكَ الْيَوْمَ عَلَيْكَ حَسِيْبًا﴾.[الاسراء: ۱۴].

ژباړه: (هر انسان ته به د قیامت په ورځ کي و ویل سي چي) خپل کتاب (عملنامه) دي پخپله ولوله چي نن ورځ ستا خپل ځان په همدا تا باندي د حساب کوونکي په حیث کفایت کوي.

**شپږم آيت:** ﴿وَمَنْ يُّرِدْ ثَوَابَ الْاٰخِرَةِ نُؤْتِهٖ مِنْهَا﴾.[آل عمران: ۱۴۵].

ژباړه: او هر څوک چي (پخپل عمل سره) د آخرت ثواب غواړي نو هغه ته به د همدغه اخروي ثواب څخه څه ورکړو.

**اووم آيت**: ﴿ وَاللّٰهُ شَدِيْدُ الْعِقَابِ ○ ﴾.[آل عمران: ۱۱].

ژباړه: او د الله تعالی عذاب (پر کافرانو) ډېر سخت دی.

**اتم آيت**: ﴿ وَاِنْ مِّنْكُمْ اِلَّا وَارِدُهَا ۚ كَانَ عَلٰى رَبِّكَ حَتْمًا مَّقْضِيًّا ○ ﴾.[مریم: ۷۱].

ژباړه: او (ای انسانانو!) ستاسو څخه هيڅوک نسته مګر په دوزخ باندي تېرېدونکی (ای پيغمبره!) دا کار ستا په رب باندي حتمي فيصله کړی سوی دی.

د اکثرو مفسرينو په آند له دغه آيت څخه مراد په پل صراط باندي تېرېدل دي لکه څنګه چي نبيﷺ په يوه اوږده حديث کي فرمايلي دي: (وَيُضْرَبُ الصِّرَاطُ بَيْنَ ظَهْرَى جَهَنَّمَ فَأَكُوْنُ أَنَا وَأُمَّتِي أَوَّلَ مَنْ يُجِيْزُ)[1].

يعني- پل صراط به د دوزخ پر منځ باندي جوړ کړل سي نو به زه او زما امت اولني هغه کسان وي چي په دغه پل باندي تېرېږي.

د آيت شريف د ذکر سوي معنٰی په اعتبار يې حاصل داسي کېږي چي ټوله انسانان به په پل صراط باندي تېرېدونکي وي چي ځيني به د مراتبو په تفاوت سره تېر سي او ځيني نور به د مراتبو په تفاوت سره له دغه پل څخه دوزخ ته ور ولوېږي چي څوک به ورڅخه بيرته را ووځي او څوک به په دايمي توګه پکښي پاته سي.

د پل صراط په اړوند نبيﷺ په يوه اوږده حديث کي داسي فرمايلي دي: (په دوزخ باندي يو پل سته چي تر وېښته نرى او تر توري تېره دى چي ورباندي د اوسپني چنګکونه او اغزي سته چي هغه څوک رانيسي کومو ته چي د الله تعالی اراده وسي خلګ به په دغه پله باندي په داسي ډولونو سره وي چي ځيني

[1] صحيح البخاري دوهم جلد (۱۱۰۶) مخ، رقم الحديث (۷۴۳۸).

به وربانديي د سترګو د رپ په اندازه وخت کي تېرېږي ځيني به وربانديي د برېښنا په څېر وي ځيني به وربانديي د باد غونديي وي ځيني به داسي وي لکه چي په ښه غښتلو آسونو بانديي سواره وي ځيني به لکه چي په اوښانو بانديي سواره وي په دغه حال کي به ملائکي دعاء کوي چي اى ربه! روغ رمټ يې پوري باسې، اى ربه روغ يې تېر کړې نو ځيني خلګ به د سلامتيا په حال نجات ومومي او ځيني نور به زخمي سوي د سلامتيا خاوندان سي او ځيني نور به نسکور په دوزخ کي واچول سي)[۱].

همدغه مضمون په نورو احاديثو کي هم په څه تفاوت سره راغلى دى[۲].

امام قرطبي رحمة الله عليه ليکلي دي په آخرت کي دوه پلونه سته يو يې لوى پل دى چي د ټوله اهل المحشر لپاره د دوزخ پر منځ بانديي دى لکه څنګه چي يې د مخه ذکر وسو او بل پل بيا د جنت او دوزخ په منځ کي خاص د هغو مؤمنانو لپاره دى چي تر لوى پله ور تېر سي لکه څنګه چي نبي ﷺ فرمايلي دي: (مؤمنان به له اور څخه خلاص سي وروسته به د جنت او دوزخ په منځ کي پر يو پل بانديي را وګرځول سي نو به ځينو ته د ځينو نورو څخه د هغو ظلمونو قصاص ور واخيستل سي چي په دنيا کي د دوى ترمنځ وه، (حَتَّىٰ إِذَا هُذِّبُوا وَنُقُّوا أُذِنَ لَهُمْ فِي دُخُولِ الْجَنَّةِ).

يعني- نو کله چي دوى پاک کړل سي نو به جنت ته د داخلېدلو اجازه ورکول سي[۳].

**نهم آيت**: ﴿وَنَضَعُ الْمَوَازِينَ الْقِسْطَ لِيَوْمِ الْقِيَامَةِ فَلَا تُظْلَمُ نَفْسٌ شَيْئًا﴾.

---

[۱] مسند امام احمد بن حنبل (۹) جلد (۴۱۵) مخ.
[۲] صحيح البخاري دوهم جلد (۱۱۰۷) مخ، رقم الحديث (۷۴۳۹)، صحيح مسلم اول جلد (۱۰۲) مخ، رقم الحديث (۱۸۳).
[۳] صحيح البخاري دوهم جلد (۹۶۷) مخ رقم الحديث (۶۵۳۵) التذکرة دوهم جزء (۱۷۹) مخ.

[الانبياء: ۴۷].

ژباړه: او موږ به د قيامت په ورځ کي د انصاف درلودنکي تلي کښېږدو نو په هيڅ نفس به د هيڅ شي ظلم ونه کړل سي.

موازين د ميزان جمعه ده چي د ترازو (تلي) په معنٰی دی د آيت شريف ظاهري معنٰی دا ده چي د قيامت په ورځ به ډېري تلي وي لکه څنګه چي د ځينو علماؤ همدغه قول دی چي د هر سړي يا هر امت لپاره به ځانګړې تله وي خو عام علماء کرام په دې نظر دي چي تله به يوه وي موازين د تعظيم لپاره يا د موزوناتو يعني اعمالو په اعتبار جمعه راغلې ده. (وَاللّٰهُ أَعْلَمُ).

## د قيامت په ورځ تله څنګه ده

د قيامت په ورځ کي چي موږ په کومه تله (ترازو) باندي عقيده لرو د هغې په ټولو کيفياتو باندي موږ علم نه لرو او نه ورباندي د پوهېدلو مکلفيت لرو د دې تلي په باره کي موږ په هومره کيفيت باندي معتقد يو څومره چي په نصوصو کي ثابت دی د مثال په ډول له عبدالله بن عباس رضي الله عنه څخه د ترازو د کيفيت په اړوند داسي نقل راغلی دی:

(الْمِيزَانُ لَهُ لِسَانٌ وَكَفَّتَانِ يُوزَنُ فِيهِ الْحَسَنَاتُ وَالسَّيِّئَاتُ) (۱).

ژباړه: د قيامت د ورځي تله يو موټی او دوې پلې لري چي نېکي او بدي پکښې تلل کېږي.

## د قيامت په ورځ څه شی تلل کېږي

د اهل السنة والجماعة پخه عقيده دا ده چي د قيامت په ورځ به د اعمالو د

(۱) الدرالمنثور (۳) جلد (۴۲۰) مخ.

تول لپاره د محشر په میدان کي تله ودروله سي دغه تله په زښتو ډېرو آيتونو او حديثونو سره ثابته ده چي ځينو مفسرينو کرامو را غونډ کړي دي[۱].

نو دغو ټولو نصوصو ته تاويل ورکول او د معتزله وو غوندي په سوچه عقل باندي اعتماد کول د بې عقلي څخه په غير بل شی نه دی، پاته سوه دا خبره چي څه شی به تلل کېږي په دې باره کي مختلف احاديث رانقل سوي دي نو له همدغي وجهي څخه علماء کرام پکښي په لاندي ډول اختلاف النظر لري:

**اول نظر**: د ځينو علماء کرامو په نظر پخپله اعمال تلل کېږي[۲].

لکه څنګه چي د عبدالله بن عباس رضي الله عنه هغه روايت چي په مخکني مضمون کي مو ږ ذکر کړ دلالتورباندي کوي، همدا شان د بخاري شريف آخرنی حديث (كَلِمَتَانِ حَبِيبَتَانِ إِلَى الرَّحْمٰنِ خَفِيفَتَانِ عَلَى اللِّسَانِ ثَقِيلَتَانِ فِي الْمِيْزَانِ سُبْحَانَ اللهِ وَبِحَمْدِهِ سُبْحَانَ اللهِ الْعَظِيْمِ) هم دلالت ورباندي کوي. اعمال که څه هم اعراض او کيفيات دي خو هغه ذات اقدس جل جلاله چي اعمال يې پيدا کړي دي هغه يې په تول باندي هم قادر دی د آخرت کارونه په دنيا باندي قياس کول غلطي ده ځکه چي د هر جهان جدا احکام دي موږ ته همدومره کفايت کوي چي عقيده ورباندي وکړو او په کيفيت باندي د نه پوهېدلو له کبله د ثابت شي څخه انکار ونه کړو.

**دوهم نظر**: د ځينو علماء کرامو په نظر صحيح خبره دا ده چي اعمال نامې يعني هغه کاغذات چي اعمال پکښي ثبت سوي دي تلل کېږي[۳].

دا ځکه چي نبي صلی الله علیه وسلم په يو اوږد حديث کي فرمايلي دي، چي د يو سړي (۹۹)

---

[۱] وګورئ تفسير المظهري (۳) جلد (۳۶۶) مخ.

[۲] تفسير المراغی (۸) جلد (۱۰۷) مخ.

[۳] تفسير النسفي دوهم جلد (۴۰۷) مخ، تفسير القرطبي (۸) جلد (۱۶۵) مخ.

ډېري لويي اعمالنامې به د قيامت په ورځ د تلی په يوه پله کي واچول سي او د ده تر اعمالو پوري مربوط يو وړوکی کاغذ به د تلی په بله پله کي واچول سي چي پردغه کوچني کاغذ به ليکل سوي وي (أَشْهَدُأَنْ لَاإِلٰهَ إِلَّااللهُ وَأَشْهَدُ أَنَّ مُحَمَّدًا عَبْدُهُ وَرَسُوْلُهُ) (فَطَاشَتِ السِّجِلَّاتُ وَثَقُلَتِ الْبَطَاقَةُ).

يعني- نو ټولي لويي اعمالنامې به سپکي سي او کوچنی کاغذ ګوټي به دروند سي[1].

**دريم نظر**: ځيني علماء کرام بيا وايي چي د قيامت په ورځ به الله تعالی له اعمالو څخه اجسام جوړ کړي له نېکو اعمالو څخه به ښايسته او له بدو اعمالو څخه به بد رنګه اجسام جوړ کړي او په تله (ترازو) کي به وتلل سي. ځکه چي نبيﷺ فرمايلي دي: (يَجِيْءُ الْقُرْآنُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ كَالرَّجُلِ الشَّاحِبِ فَيَقُوْلُ أَنَا الَّذِی أَسْهَرْتُ لَيْلَكَ وَأَظْمَأْتُ نَهَارَكَ)[2].

ژباړه: قرآن کريم به د قيامت په ورځ (قاري ته) د يوه ډنګر سړي په څېره ورشي (ته به وايې چي په قرائت سره ډنګر سوی دی) نو به ورته و وايي چي زه هغه يم چي ستا شپه مي بې خوبه کړې وه او ستا ورځ مي تږې کړې وه (زما په قرائت سره به د شپې بې خوبه وې او د ورځي به تږی وې)

د اعمالو د تول په اړوند همدغه درې نظرونه مشهور دي، د الله تعالی د قدرت څخه څه ليري نه ده چي اعمال هم پخپله څېره کي وتلي او هم يې د اعمالنامو په ضمن کي وتلي او هم يې مجسم وګرځوي او د تول لاندي يې راولي. (وَاللهُ أَعْلَمُ).

---

[1] جامع الترمذي (۲) جلد (۹۲) مخ.
[2] سنن ابن ماجه (۲۶۷) مخ، رقم الحديث (۳۷۸۱).

## د کافرانو اعمال هم تلل کېږي

د نصوصو له ظاهري عباراتو څخه معلومېږي چې د اعمالو تول عام دی یوازي تر مؤمنانو پوري خاص نه دی بلکي د کافرانو اعمال هم تلل کېږي همدغه د ځینو علماء کرامو قول دی(۱).. دغه قول ډېرو مفسرینو غوره بللی دی اما کوم چې دا آیت راغلی دی:

﴿فَلَا نُقِيمُ لَهُمْ يَوْمَ الْقِيٰمَةِ وَزْنًا﴾.[الکهف: ۱۰۵]. له دغه آیت څخه خو ظاهراً دا معلومېږي چې د کافرانو اعمال باطل دي نو به د دوی لپاره د قیامت په ورځ تله ونه درول سي لکه څنګه چې د ځینو علماء کرامو همدغه قول دی لېکن هغه علماء کرام چې دوی د اعمالو تول عام بولي د دغه آیت شریف تفسیر داسي کوي، نو دوی (کافرانو) ته به د قیامت په ورځ د نفعي تله ونه درووِ یعني وزن خو سته مګر دوی ته هیڅ نفعه نه رسوي بلکي زیان ورته رسوي، یا یې معنٰی دا ده: چې موږ به کافرانو ته په څه ارزښت باندي قائل نه سو یعني موږ به دوی ته هیڅ قدر ورنه کړو(۲).

## سوال او جواب

**سوال**:- د مؤمنانو د اعمالو د تول وجه خو ښکاره ده نېکي به یې د بدیو سره مقابل سي نو به حقیقي تول وسي کافر لره خو د سره نېکي نسته نو هغه به کوم شی وي چې د ده د کفر او بدیو سره مقابل سي ترڅو تول راسي؟

**جواب**: کافر ته به ترازو ودرول سي د ده کفر او بدي به د تلي په یوه پله کي

---

(۱) روح المعاني (۸) جلد (۸۵) مخ

(۲) تفسیرالجلالین (۲۵۳) مخ، تفسیر النسفي (۲) جلد (۳۲۲) مخ.

واچول سي وروسته به ورته و ويل سي آيا ستا سره يوه نېکي سته چي په دا بله پله کي يې واچوي دی به پخپلو اعمالو کي وګوري خو هيڅ يوه نېکي به پيدا نه کړي نو به د ترازو هغه پله چي د ده کفر او بدي پکښي اچول سوي وي کښته ولوېږي او هغه بله خالي پله به يې لوړه وخېږي همدغه د ده د ترازو سپک والی دی چي الله تعالی په دغه آيت کي اشاره ورته کړې ده:

﴿وَأَمَّا مَنْ خَفَّتْ مَوَازِينُهُ ۝ فَأُمُّهُ هَاوِيَةٌ ۝﴾(۱).

## د اعمالو په وزن کي څه حکمت دی

که څه هم د قيامت په ورځ د الله تعالی په علم باندي علاوه د اعمالو وزن ته څه حاجت نسته ځکه چي د هر شي وزن او ارزښت الله تعالی ته معلوم دی لېکن علماء کرامو يې لاندي حکمتونه بيان کړي دي:

اول:- ترڅو د الله تعالی عدل د خلګو په حضور کي په ډاګه سي او هر څوک يې وګوري.

دوهم:- ترڅو بنده ګان خپل دنياوي کړه وړه پخپلو سترګو وګوري.

دريم:- ترڅو په بندګانو باندي د الله تعالی حجت په څرګنده توګه اثبات سي.

څلورم:- ترڅو په دنيا کي خلګورباندي امتحان کړي چي عقيده ورباندي کوي او که دا کار ورته (العياذبالله) دروغ ښکاري(۲).

اوس نو د معتزله ډلي دا خبره خوشي افسانه ده چي دوی وايي اعمال خو ټوله الله تعالی ته معلوم دي نو يې وزن او تول عبث دی.

---

(۱)[القارعة: ۹-۸]. (التذكرة) دوهم جزء (۱۳۸) مخ.

(۲)تفسير القاسمي (۷) جلد (۱۴) مخ، زاد المسير (۳) جلد (۱۱۶) مخ.

علامه تفتازاني رحمه الله خو لا داسي هم ليکلي دي، ښايي د اعمالو په تول کي يو داسي حکمت وي چي موږ علم نه ورباندي لرو د يو شي په حکمت باندي زموږ نه پوهېدل عبث نه واجبوي[1].

## جنت او دوزخ همدا اوس موجود او د همېشه لپاره باقي دي

**۸۳: – وَالْجَنَّةُ وَالنَّارُ مَخْلُوقَتَانِ لَاتَفْنَيَانِ أَبَدًا وَلَا تَبِيْدَانِ وَإِنَّ اللهَ تَعَالٰى خَلَقَ الْجَنَّةَ وَالنَّارَ قَبْلَ الْخَلْقِ وَخَلَقَ لَهُمَا أَهْلًا فَمَنْ شَاءَ مِنْهُمْ إِلَى الْجَنَّةِ أَدْخَلَهُ فَضْلًا مِنْهُ وَمَنْ شَاءَ مِنْهُمْ إِلَى النَّارِ أَدْخَلَهُ عَدْلاً مِنْهُ وَكُلٌّ يَعْمَلُ لِمَا قَدْ فُرِغَ لَهُ وَصَائِرٌ إِلٰى مَا خُلِقَ لَهُ.**

ژباړه: جنت او دوزخ همدا اوس مخلوق او موجود دي هيڅکله فنا (نېستي) کېږي نه او الله تعالی جنت او دوزخ د پېريانو او انسانانو تر ايجاد دمخه پيدا کړي دي او د دواړو يعني جنت او دوزخ لپاره يې اهل پيدا کړي دي نو کوم کس چي الله تعالی يې له دوی څخه جنت ته د روانولو اراده وکړي نو به يې د خپل فضل له مخي جنت ته داخل کړي او کوم کس چي بيا الله تعالی يې له دوی څخه دوزخ ته د روانولو اراده وکړي نو به يې د خپل عدل له مخي دوزخ ته داخل کړي او هر کس د هغه څه عمل کوي چي د ده لپاره د هغه فيصله سوې وي او هر کس هغه شي ته ميل کونکی دی چي دی د هغه لپاره پيدا سوی وي.

نو کوم کس چي د جنت لپاره پيدا سوی وي نو هغه په نېک عمل سره جنت ته

---

[1] شرح العقائد (۷۹) مخ.

ميل کونکی وي او کوم کس چي د دوزخ لپاره پيدا سوی وي نو هغه بيا په بد عمل سره دوزخ ته ميل کونکی وي.

**شرح**- امام طحاوي رحمة الله عليه په دې عبارت کي پنځه عقيدې ذکر کړي دي اوس يې تاسو په تفصيل وګورئ:

**اوله عقيده**:- جنت او دوزخ همدا اوس مخلوق او موجود دي، د دې عقيدې دلائل له کتاب او سنت څخه په هغه اندازه دي چي د ټولو راوړل ناشوني کار دی خو د بېلګي په ډول يو څو وګورئ:

۱:- ﴿النَّارُ يُعۡرَضُوۡنَ عَلَيۡهَا غُدُوًّا وَّعَشِيًّا﴾. [المؤمن: ۴۶].

ژباړه: (په برزخ کي د فرعون د پيروانو دا حال دی چي) دوی په اور د دوزخ باندي هر صبا هر بېګا ور وړاندي کړل کېږي.

۲:- ﴿عِنۡدَهَا جَنَّةُ الۡمَاۡوٰى﴾. [النجم: ۱۵].

ژباړه: چي د سدرة المنتهى په نزد جنة المأوى هم موقعيت لري.

۳:- ﴿اُعِدَّتۡ لِلۡمُتَّقِيۡنَ﴾. [آل عمران: ۱۳۳].

ژباړه: دغه جنت د پرهېزګارانو لپاره تيار کړل سوی دی.

۴:- ﴿وَاتَّقُوا النَّارَ الَّتِىۡٓ اُعِدَّتۡ لِلۡكٰفِرِيۡنَ﴾. [آل عمران: ۱۳۱].

ژباړه: او له هغه اور څخه ځانونه وساتئ کوم چي د کافرانو لپاره تيار کړل سوی دی.

**۵**:- د آدم عليه السلام او حواء رضي الله عنها هغه قرآني قصه چي الله تعالى دوی ته په جنت کي سکونت ورکړ او بيا يې د هغې خطا له کبله چي له دوی څخه وسول بيرته د جنت څخه ځمکي ته راکښته کړل. د دې ښکاره دليل دی چي جنت لا د پخوا څخه موجود ؤ.

۶:- ټوله هغه دلائل چي د عذاب القبر او د قبر د استراحت په اړوند راغلي دي همهغه د دوزخ او جنت په وجود باندي دلالت کوي ځکه چي د قبر عذاب د دوزخ څخه او استراحت يې د جنت څخه دی لکه څنګه چي په دې باره کي صحيح حديثونه راغلي دي چي يو څو يې موږ د عذاب القبر په بحث کي وليکل. په دې عقيده سره په معتزله وو باندي رد دی چي دوی وايي جنت او دوزخ اوس نه دي موجود بلکي الله تعالیٰ يې د قيامت په ورځ پيدا کوي.

د دوی دغه عقيده په ښکاره ډول د کتاب او سنت په خلاف ده.

**دوهمه عقيده**:- جنت او دوزخ او اهل يې د همېشه لپاره باقي دي هيڅکله نه فنا کېږي.

(**دلائل**) ۱:- ﴿أُكُلُهَا دَآئِمٌ وَّظِلُّهَا﴾. [الرعد: ۳۵].

ژباړه: د جنت مېوې او سوري به همېشه وي.

۲:- ﴿إِنَّ هٰذَا لَرِزْقُنَا مَا لَهُ مِن نَّفَادٍ﴾.[ص: ۵۴].

ژباړه: يقيناً دغه د جنت نعمتونه هرومرو زموږ (درکړه سوې) روزي ده چي هيڅ فنا او ختم نه لري.

۳:- ﴿خٰلِدِيْنَ فِيْهَآ اَبَدًا﴾.[التوبة: ۲۲].

ژباړه: حال دا چي دوی به په دغو جنتونو کي همېشه تل ترتله وي.

۴:- ﴿يُرِيْدُوْنَ اَنْ يَّخْرُجُوْا مِنَ النَّارِ وَمَا هُمْ بِخٰرِجِيْنَ مِنْهَا وَلَهُمْ عَذَابٌ مُّقِيْمٌ﴾.[المائدة: ۳۷].

ژباړه: کافران به (د قيامت په ورځ) غواړي چي له دوزخ څخه و وځي حال دا چي دوی به له هغه اور څخه وتونکي نه وي او دوی لره دائمي عذاب دی.

۵:- ﴿كُلَّمَآ أَرَادُوٓا۟ أَن يَخْرُجُوا۟ مِنْهَا مِنْ غَمٍّ أُعِيدُوا۟ فِيهَا﴾.[الحج: ۲۲].

ژباړه: هر کله چي دوزخيان د غم له کبله اراده وکړي چي له دوزخ څخه و وځي نو بيرته په دغه اور کي ورګرځول کيږي.

۶:- ﴿فَأَمَّا ٱلَّذِينَ شَقُوا۟ فَفِى ٱلنَّارِ لَهُمْ فِيهَا زَفِيرٌ وَشَهِيقٌ○ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ۚ إِنَّ رَبَّكَ فَعَّالٌ لِّمَا يُرِيدُ○ وَأَمَّا ٱلَّذِينَ سُعِدُوا۟ فَفِى ٱلْجَنَّةِ خَٰلِدِينَ فِيهَا مَا دَامَتِ ٱلسَّمَٰوَٰتُ وَٱلْأَرْضُ إِلَّا مَا شَآءَ رَبُّكَ ۖ عَطَآءً غَيْرَ مَجْذُوذٍ○﴾.[هود: ۱۰۶- ۱۰۸].

ژباړه: نو هر څه هغه کسان چي بدبختان سوي دي نو دوی به په اور کي وي (او) دوی له به (هلته د خرو غوندي) لوړ آواز او ټيټ آواز وي په داسي حال کي چي دوی به هلته دومره مده وي لکه په دنيا کي د آسمانونو او ځمکي دوام بغير له هغه زيادت څخه چي الله تعالی يې اراده وکړي (چي هغه له نو پای نسته) (معنٰی يې دا ده چي دوی به په دوزخ کي همېشه وي) يقيناً رب ستا (په کامل قدرت سره) د هر هغه کار کونکی دی چي اراده يې وکړي او هر څه هغه کسان چي نېک بختان سوي دي نو دوی به په جنت کي وي په داسي حال کي چي دوی به هلته دومره مده وي لکه په دنيا کي د آسمانونو او ځمکي دوام بغير له هغه زيادت څخه چي الله تعالی يې اراده وکړي (چي هغه له نو پای نسته) (معنٰی يې دا ده چي دوی به په جنت کي همېشه وي) (دا ستا د رب ورکړه ده) داسي ورکړه چي بې انتهاء ده (پای نه لري).

د دې تفسير حاصل دا دی چي په (الاماشاءربك) کي د (الا) کلمة د استثناء لپاره نه بلکي د (غير) په معنٰی ده. حضراتو مفسرينو د دغو آيتونو تفسير په ډېرو ډولونو سره کړی دی خو موږ يې هغه تفسير وکړ کوم چي شيخ جلال الدين

السیوطي رحمه الله علیه غوره او له تکلف څخه خالي بللی دی[1].

اوس نو دغه آیتونه پردې خبره باندې دلیل نه سي کېدای چي جنتیان په جنت کي او دوزخیان په دوزخ کي همېشه نه دي بلکي پردې خبره دلیل دی چي جنتیان په جنت کي او دوزخیان په دوزخ کي همېشه دي لکه څنګه چي نور محکم آیتونه چي یو څو یې موږ لږ دمخه ولیکل ښکاره دلالت ورباندي کوي.

**سوال**:- الله تعالی فرمایلي دي: ﴿كُلُّ شَيۡءٍ هَالِكٌ إِلَّا وَجۡهَهُۥۚ﴾.[القصص: ۸۸].

ژباړه: هر شی فنا موندونکی دی مګر ذات د الله جل جلاله (چي تل باقي دی).

نو له دې آیت څخه خو ظاهراً دا معلومېږي چي جنت او دوزخ هم فنا کېږي؟

**جواب**: له آیت څخه مراد همهغه دی چي د اسلام امامانو بیان کړی دی دوی داسي ویلي دي یعني هر هغه شی چي الله تعالی د فنا او هلاک فیصله ورباندي کړې ده هغه به هالک فنا موندونکی وي، نو جنت او دوزخ خو د فنا لپاره نه بلکي د بقاء لپاره پیدا سوي دي[2].

نو دا عقیده اتفاقي ده چي جنت او دوزخ د همېشه لپاره باقي دي یوازي جهمیه ډله وایي چي جنت او دوزخ فنا کېږي خو د دوی دغه قول د کتاب او سنت او اجماع په خلاف دی هیڅ دلیل ورباندي نسته[3].

**دریمه عقیده**:- الله تعالی د جنت او دوزخ لپاره خپل خپل اهل پیدا کړي دي. لکه څنګه چي الله تعالی فرمایلي دي:

﴿وَلَقَدۡ ذَرَأۡنَا لِجَهَنَّمَ كَثِيرٗا مِّنَ ٱلۡجِنِّ وَٱلۡإِنسِۖ﴾.[الأعراف: ۱۷۹].

ژباړه: او بېشکه موږ د جهنم لپاره د پېریانو او انسانانو څخه ډېر پیدا کړي

---

[1] تفسیر جلالین اول جلد (۱۸۸) مخ.
[2] شرح العقیدة الطحاویة (۴۱۷) مخ.
[3] شرح العقائد (۸۲) مخ.

دي.

همدا شان د مسلم په یوه روایت کي نبي ﷺ داسي فرمایلي دي:

(إِنَّ اللهَ خَلَقَ لِلْجَنَّةِ أَهْلًا خَلَقَهُمْ لَهَا وَهُمْ فِي أَصْلَابِ آبَائِهِمْ وَخَلَقَ لِلنَّارِ أَهْلًا خَلَقَهُمْ لَهَا وَهُمْ فِي أَصْلَابِ آبَائِهِمْ)[1].

ژباړه: یقیناً الله تعالی د جنت لپاره اهل پیدا کړي دي دوی یې د جنت لپاره په داسي حال کي پیدا کړي دي چي دوی د خپلو پلرونو په ملاوو کي وي، او الله تعالی د دوزخ لپاره هم اهل پیدا کړي دي دوی یې د دوزخ لپاره په داسي حال کي پیدا کړي دي چي دوی د خپلو پلرونو په ملاوو کي وي.

**څلورمه عقیده**:- الله تعالی جنتیان جنت ته د خپل فضل له مخي داخلوي او دوزخیان دوزخ ته د خپل عدل له مخي داخلوي. یعني د بندګانو په باره کي د الله تعالی حکم د فضل او عدل په منځ کي ګرځي او راګرځي، په دې باره کي نصوص ډېر او مشهور دي.

**پنځمه عقیده**:- هر کس هغه شي ته میل کونکی او رجوع کونکی دی کوم چي دی د هغه لپاره پیدا کړل سوی دی. د دې عقیدې تفصیل او دلیل په (۴۴) عقیده کي وګورئ.

د جنت او دوزخ په اړوند نور معلومات په هغو کتابونو کي وګوري چي خاص په دغسي موضوعاتو کي لیکل سوي دي لکه (التذکرة) للامام القرطبي دوهم جزء.

---

[1] صحیح مسلم دوهم جلد (۳۳۷) مخ، رقم الحدیث (۶۷۶۸).

# ټوله شيان د الله تعالی په تقدير سره دي

**۸۴: – وَالْخَيْرُ وَالشَّرُّ مُقَدَّرَانِ عَلَى الْعِبَادِ.**

ژباړه: هر خير او شر چي پر بندګانو باندي راځي له پخوا څخه پر دوی باندي مقدر او نوشته سوي دي.
د تقدير مسئله په دې کتاب کي څو ځله تېره سوې ده خو تفصيل يې په (۷) عقيده کي تېر سوی دی هلته يې مطالعه کړئ.

# د بنده قدرت په دوه ډوله دی

**۸۵: – وَالْإِسْتِطَاعَةُ الَّتِي يَجِبُ بِهَا الْفِعْلُ مِنْ نَحْوِ التَّوْفِيقِ الَّذِي لَايَجُوزُ أَنْ يُوصَفَ الْمَخْلُوقُ بِهِ فَهِيَ مَعَ الْفِعْلِ وَأَمَّا الْإِسْتِطَاعَةُ مِنْ جِهَةِ الصِّحَّةِ وَالْوُسْعِ وَالتَّمَكُّنِ وَسَلَامَةِ الْآلَاتِ فَهِيَ قَبْلَ الْفِعْلِ وَبِهَا يَتَعَلَّقُ الْخِطَابُ وَهُوَ كَمَاقَالَ اللهُ تَعَالٰى: ﴿لَا يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا اِلَّا وُسْعَهَا﴾.** [البقرة: ۲۸۶].

ژباړه: هغه قدرت چي د هغه په سبب سره د بنده فعل (کار) ضروري ګرځي هغه د الله تعالی د توفيق اثر دی هسي توفيق چي هغه د مخلوق لپاره صفت نه سي کېدای (بلکي د الله تعالی صفت دی) نو همدغه قدرت د بنده د فعل سره يو ځای وي اما هغه قدرت چي هغه د مکلف د صحت، طاقت، آلاتو او اسبابو له

جهته دی هغه بیا د بنده تر فعل (کار) دمخه وي په همدغه قدرت پوري د الله تعالیٰ خطاب او تکلیف تعلق نیسي (یعني د بنده د مکلف کېدلو بنیاد او اساس همدغه قدرت دی) لکه څنګه چي الله تعالیٰ فرمایلي دي: (الله جل جلاله هیڅوک نه مکلف کوي مګر د هغه د قدرت په اندازه).

**شرح**- امام طحاوي رحمه الله چي قدرت دوه ډوله ته تقسیم کړ همدغه د عامو اهل السنة والجماعة قول دی امام طحاوي رحمه الله په دې عقیده سره په معتزله ډلي باندي رد کړی دی چي دوی وایي بنده لره یوازي هغه قدرت سته چي په هغه سره فعل ضروري ګرځي او دا قدرت به هم تر فعل دمخه وي ځکه چي بنده تر فعل دمخه مکلف دی د مثال په ډول کله چي د لمانځه وخت داخل سي نو هغه کس چي لمونځ نه کوي هغه هم په لمانځه سره مکلف دی نو که چیري بنده ته تر فعل دمخه قدرت ثابت نه سي نو به عاجز سړی مکلف سي ښکاره خبره ده چي د عاجز سړي تکلیف نه دی جائز.

د امام طحاوي رحمه الله د رد حاصل دا دی چي د بنده د کار کولو قدرت په دوه ډوله دی:

اول هغه قدرت دی چي په هغه سره د بنده کار خامخا کیږي دغه قدرت یو صفت او عرض دی چي الله تعالیٰ یې د خپلي ارادې له مخي بنده ته ورکوي بنده په همدغه قدرت سره خپل اختیاري کارونه کوي نو کله چي دغه قدرت صفت او عرض دی نو به ضرور د فعل سره یو ځای وي که نه نو د بنده فعل به بېله قدرته وسي ځکه چي عرض لره خو بقا نسته چي له یوې زمانې څخه بلي زمانې ته پاته سي د بنده کار بېله قدرته کېدل ناشونی دی قدرت په همدغي معنیٰ سره الله تعالیٰ له کافرانو څخه په دې آیت کي نفي کړی دی: ﴿ مَا كَانُوا يَسْتَطِيعُونَ السَّمْعَ وَمَا كَانُوا يُبْصِرُونَ ۝ ﴾.[هود: ۲۰]. د آیت معنیٰ دا نه ده چي

کافرانو د حق د اورېدلو توان ځکه نه درلودی چي دوی کاڼه وه او د توحيد د دلائلو د ليدلو توان يې ځکه نه درلودی چي دوی ړانده وه ځکه چي د دوی سترګي او غوږونه بالکل سالم او روغ وه بلکي معنٰی يې دا ده چي د دوی سره د ضد او عداوت له کبله هغه قدرت نه وو چي د فعل يعني ايمان راوړلو سره يو ځای وي دغه قدرت د تکليف بنياد او اساس نه دی تاسو وګورئ الله تعالٰی له دوی څخه دغه قدرت نفي کړی دی خو بيا هم دوی په ايمان راوړلو سره مکلف وه.

دوهم قدرت بيا د آلاتو او هغو اسبابو د سلامتيا په معنٰی دی چي په کار کولو کي ورته ضرورت وي دغه قدرت تر فعل دمخه وي او د بنده د مکلف کېدلو بنياد او اساس همدغه قدرت دی لکه څنګه چي الله تعالٰی فرمايلي دي:

﴿وَلِلَّهِ عَلَى النَّاسِ حِجُّ الْبَيْتِ مَنِ اسْتَطَاعَ إِلَيْهِ سَبِيلًا﴾. [آل عمران: ۹۷].

ژباړه: او په خلګو باندي خاص د الله ﷻ لپاره د بيت الله زيارت کول فرض دی (خو دا په) هغه چا باندي چي د بيت الله طرفته د لاري قدرت لري.

حضراتو مفسرينو د (سبيل) معنٰی په سورلۍ او توښه سره کړې ده همدا شان له بدني طاقت څخه هم چاره نشته. الله تعالٰی په دغه آيت کي د حج د اداء کولو فرضيت په سورلۍ توښه او بدني طاقت باندي موقوف کړی دی ښکاره خبره ده چي دغه شيان له اسبابو څخه دي او تر حج دمخه وي نو دا خبره ثابته سوه چي قدرت د آلاتو او اسبابو د سلامتيا په معنٰی د تکليف بنياد او اساس دی او دا قدرت تر فعل دمخه وي اوس نو د معتزله وو دا خبره عبث ده چي که چيري قدرت د فعل سره يو ځای وي نو به عاجز سړی مکلف کړل سي دغه خبره عبث ځکه ده چي قدرت په لومړۍ معنٰی سره که څه هم د فعل سره يو ځای دی خو هغه د تکليف بنياد او اساس نه دی او قدرت په دوهمه معنٰی سره چي هغه د

تکلیف اساس او بنیاد دی او ټوله خلګ مطیع دي که عاصي پکښې یو شان دي، د بنده تر فعل دمخه وي نو د عاجز سړي مکلف کېدل نه لازمېږي[1].

## د بنده ګانو د افعالو خالق الله تعالی دی

۸۶: - وَأَفْعَالُ الْعِبَادِ خَلْقُ اللهِ تَعَالٰى وَكَسْبٌ مِنَ الْعِبَادِ.

ژباړه- د بنده ګانو کارونه د الله تعالی مخلوق دي او د بنده ګانو په کسب سره دي.

**شرح**- لکه څنګه چي الله تعالی د بنده ګانو خالق دی همدا شان یې د افعالو (کارونو) هم خالق دی خو بنده پخپلو کارونو کي مجبور نه دی ځکه چي الله تعالی د کسب قدرت ورکړی دی همدغه د اهل السنة والجماعة مسلک دی.

امام طحاوي رحمه الله په دې عقیده سره پر معتزلهؤ او جبریهؤ دواړو باندي رد کړی دی معتزله ډله وایي چي بنده د خپلو اختیاري افعالو خالق دی او جبریه ډله بیا وایي چي بنده پخپلو کارونو کي مجبور دی هیڅ قسم قدرت ورسره نسته. د دې مسئلې تفصیل او دلائل په (۷) عقیده کي وګورئ.

## الله تعالی هیڅوک د هغه تر طاقت بالا نه دی مکلف کړی

۸۷: - وَلَمْ يُكَلِّفْهُمُ اللهُ تَعَالَى إِلَّا مَا يُطِيْقُوْنَ وَلَا يُطِيْقُوْنَ إِلَّا مَا كَلَّفَهُمْ وَهُوَ تَفْسِيْرُ (لَاحَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللهِ) نَقُوْلُ لَاحِيْلَةَ لِأَحَدٍ وَلَا

---

[1] د لا زیاتو معلوماتو لپاره وګورئ شرح العقائد (۶۷ مخ الی ۷۰).

حَرَكَةَ لِأَحَدٍ وَلَا تَحَوُّلَ لِأَحَدٍ عَنْ مَعْصِيَةِ اللهِ إِلَّا بِمَعُونَةِ اللهِ وَلَا قُوَّةَ لِأَحَدٍ عَلَى إِقَامَةِ طَاعَةِ اللهِ وَالثُّبَاتِ عَلَيْهَا إِلَّا بِتَوْفِيقِ اللهِ تَعَالَى.

ژباړه- الله تعالى خپل بنده ګان نه دي مکلف کړي مګر په هغه څه سره چي دوی یې طاقت لري، او دوی طاقت نه لري مګر د هغه څه چي الله تعالى دوی ته قدرت ورباندي ورکړی دی همدغه دوهم قول د دغه حدیث (لاحول ولاقوة إلابالله) تفسیر دی موږ د دغه حدیث په تفسیر کي داسي وايو هیڅ کس لره نه یوه حیله سته نه حرکت او نه له معصیت څخه ګرځېدل مګر د الله تعالى په معونت (کومک) سره او نه یو کس لره د الله تعالى د طاعت کولو او په هغه باندي د ثابت پاته کېدلو قوت سته مګر د الله تعالى په توفیق سره.

**شرح**- په دې عبارت کي دوې عقیدې راغلي دي.

**اوله عقیده**:- الله تعالى چي هر څه احکام پر بندګانو لازم کړي دي هغه ټوله د دوی د طاقت استعداد او قدرت سره برابر دي په دغو ټولو احکامو کي داسي یو حکم نسته چي هغه د بنده تر طاقت وتلی وي، لکه څنګه چي الله تعالى فرمایلي دي:

﴿لَا يُكَلِّفُ اللهُ نَفْسًا إِلَّا وُسْعَهَا﴾.[البقرة: ۲۸۶].

ژباړه: الله تعالى هیڅوک نه مکلف کوي مګر د هغه د قدرت په اندازه.

د دې عقیدې په اړوند نور مباحث په شرح العقائد (۷۱) مخ کي کتلای سئ.

**دوهمه عقیده**:- بنده ګان یوازي د هغه څه قدرت لري چي الله تعالى قدرت ورباندي ورکړی وي بنده په خپل سر د الله تعالى له ارادې څخه پرته هیڅ هم نه سي کولای لکه څنګه چي الله تعالى فرمایلي دي:

﴿وَمَا تَشَآءُوْنَ اِلَّآ اَنْ يَّشَآءَ اللّٰهُ﴾. [الدهر: ۳۰].

ژباړه: او تاسو (د هيڅ لاري د طاعت) اراده نه سئ کولای مګر په هغه وخت کي چي الله جَلَّ جَلَالُهُ (ورته) اراده وکړي (او توفيق درکړي).

د دې عقيدې دليل هغه حديث هم دی چي امام طحاوي په متن کي ذکر کړی او تفسير يې هم کړی دی بشپړ حديث خو اوږد دی خو يوه ټوټه يې په دا ډول ده:

حضرت ابو موسیٰ أشعري رضي الله عنه ويلي دي چي نبي صلى الله عليه وسلم ماته وفرمايل آيا زه تاته د جنت له خزانو څخه يوه خزانه نه ښيم ما ورته و ويل (هو) راته يې وښيه نو نبي صلى الله عليه وسلم وفرمايل هغه خزانه دغه ده (لاحول ولاقوة إلابالله)[1].

له دغه حديث شريف څخه دا هم معلومېږي چي (لَاحَوْلَ وَلَاقُوَّةَ إِلَّابِاللّٰهِ) يو عظيم الشان ذکر دی.

# په عالم کي چي هر شی جاري دی هغه د الله تعالی په اراده سره دی

۸۸:- وَكُلُّ شَيْءٍ يَجْرِىْ بِمَشِيْئَةِ اللهِ تَعَالَى وَعِلْمِهِ وَقَضَائِهِ وَقَدْرِهِ غَلَبَتْ مَشِيْئَتُهُ الْمَشِيْئَاتِ كُلَّهَا وَغَلَبَ قَضَاؤُهُ الْحِيَلَ كُلَّهَا يَفْعَلُ مَايَشَاءُ وَهُوَ غَيْرُ ظَالِمٍ أَبَدًا تَقَدَّسَ عَنْ كُلِّ سُوْءٍ وَحَيْنٍ وَتَنَزَّهَ عَنْ كُلِّ عَيْبٍ وَشَيْنٍ ﴿لا يُسْئَلُ عَمَّا يَفْعَلُ وَهُمْ يُسْئَلُوْنَ﴾. [الانبياء: ۲۳].

---

[1] صحيح البخاري دوهم جلد (۹۴۹) مخ، رقم الحديث (۶۴۰۹) و مسلم (۲۷۰۴) و اللفظ له.

ژباړه: په عالم کي هر شی د الله تعالی په اراده علم قضاء (فیصله) او تقدیر سره جاري دی د الله تعالی اراده د مخلوق په ټولو ارادو باندي غالبه ده او د الله تعالی فیصله پر ټولو حیلو او اسبابو باندي غالبه ده الله تعالی هغه کار کوي چي اراده يې وکړي او الله تعالی هیڅکله ظالم نه دی او له هري بدی او نقصان څخه پاک دی همدا شان له هر بد صفت او عیب څخه پاک دی (الله تعالی فرمایلي) له الله جل جلاله څخه د هغه شي پوښتنه نه سي کېدلی کوم چي پخپله يې کوي او بنده ګان چي دي (د الله تعالی د پلوه) ورڅخه پوښتنه کول کېږي.

**شرح**- مطلب دا دی چي په دنیا او آخرت کي ټوله شیان د الله تعالی په اراده علم قضاء او تقدیر سره دي بنده لره اراده سته خو هغه هم د الله تعالی تر ارادې لاندي ده بنده د اسبابو په فعل سره مأمور دی خو هغه هم د الله تعالی تر قضاء لاندي دي. د دې عقیدې تفصیل او دلائل په (۷) عقیده کي وګورئ.

او د الله تعالی کارونه د عدل او حکمت له مخي جاري دي د فضل او عدل په منځ کي ګرځي او راګرځي الله تعالی پر هیچا باندي ظلم نه کوي لکه څنګه چي الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ وَمَا رَبُّكَ بِظَلَّامٍ لِّلْعَبِيدِ ﴾. [حم السجدة: ۴۶].

ژباړه: او ستا رب پر بندګانو ظلم کونکی نه دی.

﴿ إِنَّ اللَّهَ لَا يَظْلِمُ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ ﴾. [النساء: ۴۰].

ژباړه: یقیناً الله تعالی د یوې ذرې په اندازه ظلم نه کوي.

او الله تعالی له هر عیب او نقصان څخه پاک دی لکه څنګه چي د الله تعالی په نومونو کي د (الْقُدُّوسُ) همدغه معنی ده الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ الْمَلِكُ الْقُدُّوسُ السَّلَامُ ﴾. [الحشر: ۲۳].

ژباړه: الله ﷻ کامل واکدار (له ټولو قبائحو او نواقصو څخه) ښه پاک (له ټولو عیبو څخه) منزه او سالم دی.

## د ژوندیو کسانو په عمل سره مړو ته نفعه رسیږي

**۸۹: – وَفِي دُعَاءِ الْأَحْيَاءِ لِلْأَمْوَاتِ وَصَدَقَاتِهِمْ مَنْفَعَةٌ لِلْأَمْوَاتِ.**

ژباړه: د مړو لپاره د ژوندو خلکو په دعاء کي او د دوی په صدقاتو (خیراتو) کي مړو ته نفعه سته.

**شرح** – په دې عبارت کي دوې عقیدې ذکر سوي دي:

**اوله عقیده**: – ژوندي کسان چي د مړو لپاره د مغفرت او رحمت کومه دعاء کوي نفعه یې مړو ته رسیږي.

(**دلائل**) ۱: – الله تعالی فرمایلي دي:

﴿ وَالَّذِيْنَ جَآءُوْ مِنْۢ بَعْدِهِمْ يَقُوْلُوْنَ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ ﴾. [الحشر: ۱۰].

ژباړه: او (همدا رنګه د فئ مالونه) هغو (کسانو لره دي) چي د اولنیو مهاجرینو او انصارو څخه وروسته (دنیا ته) راغلي وي حال دا چي دوی وایي ای زموږ ربه! موږ ته مغفرت وکړه او هغو کسانو ته هم کوم چي زموږ څخه په ایمان راوړلو کي دمخه دي.

په دغه آیت کي الله تعالی پر هغو کسانو باندي ثناء ویلې ده چي مخکنیو مؤمنانو ته دعاء کوي نو دا خبره ثابته سوه چي د ژوندو کسانو دعاء مړو ته نفعه رسوي.

۲: – الله تعالی مړو ته د جنازې په لمانځه کي دعاء مشروع ګرځولې ده همدا

شان د مړي د دفن په وخت کي او تر دفن وروسته او د قبرونو د زيارت په وخت کي هم الله تعالیٰ د مؤمنانو مړو لپاره دعاء مشروع ګرځولې ده. په دې باره کي حديثونه مشهور دي يو څو يې موږ د زيارة القبور په مسئله کي وليکل دا ټوله د دې دلائل دي چي د ژوندو کسانو دعاء مړو ته نفعه رسوي نو د مؤمنانو خلګو او مؤمنانو ښځو لپاره بېله شکه دعاء مشروع ده مړه وي که ژوندی.

**دوهمه عقيده:** – ژوندي کسان چي د مړو لپاره کوم خيراتونه کوي نفعه يې مړو ته رسېږي.

(دليل) حضرت عبدالله بن عباس ﷻ ويلي دي چي د سعد بن عبادة ﷻ مور په داسي حال کي وفات سوه چي دی حاضر نه ؤ نو سعد بن عبادة ﷻ نبي ﷺ ته راغلی او ويې ويل ای د الله ﷻ رسوله! زما مور وفات سوه او زه حاضر نه وم نو اوس که زه يو شی د مور لپاره صدقه کړم آيا نفعه يې ورسېږي نبي ﷺ ورته وفرمايل (هو) ور رسېږي سعد بن عبادة ﷻ و ويل:

فَإِنِّي أُشْهِدُكَ أَنَّ حَائِطِي الْمِخْرَافَ صَدَقَةٌ عَلَيْهَا.

يعني – يقيناً زه تا شاهد ګرځوم چي زما باغ چي د مخراف په نوم دی پردې باندي صدقه دی[1].

کومه عقيده چي امام طحاوي رحمه الله ذکر کړه همدغه د ټوله اهل سنت والجماعت عقيده ده بلکي هر هغه کس چي بدني عبادت وکړي لکه: لمونځ، روژه، تلاوت، ذکر، يا مالي عبادت وکړي لکه خيرات، او ثواب يې بل چاته وبخښي مړ وي که ژوندی دا جائز کار دی او ثواب يې هغه کس ته رسېږي نور نو فرق نه لري چي د عبادت کولو په وخت کي د هغه کس نيت وکړي او يا عبادت د خپل ځان لپاره وکړي وروسته يې ثواب بل چاته وبخښي او پخپله په

[1] صحيح البخاري اول جلد (۳۸۷) مخ. رقم الحديث (۲۷۶۲).

عبادت کي هم فرق نسته فرض وي که نفل همدغه د اهل سنت والجماعت مسلک دی[1].

امام طحاوي رحمه الله په دې عقيده سره پر هغو مبتدعينو رد کړی دی چي دوی وايي مړو ته د ژوندو کسانو له عمل څخه هيڅ نفعه نه رسيږي هغه که دعاء وي او که بل عمل د دوی دغه قول په کتاب او سنت سره مردود دی لکه څنګه چي تاسو ولوستل.

## سوال او جواب

سوال: له مخکنيو نصوصو څخه دا ثابته سوه چي د ژوندو کسانو د عمل نفعه مړو ته رسيږي او له ځينو نصوصو څخه بيا ظاهراً دا معلوميږي چي انسان ته يوازي د خپل عمل نفعه رسيږي او د بل چا د عمل ورته هيڅ ګټه نه رسيږي لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي:

۱:- ﴿وَاَنۡ لَّيۡسَ لِلۡاِنۡسَانِ اِلَّا مَا سَعٰى﴾.[النجم: ۳۹].

ژباړه: او بله دا ده چي هيڅ انسان ته نسته مګر د هغه (عمل ثواب) چي پخپله يې کړی وي.

۲:- ﴿لَهَا مَا كَسَبَتۡ وَعَلَيۡهَا مَا اكۡتَسَبَتۡ﴾.[البقرة: ۲۸۶].

ژباړه: د هر چا لپاره د هغه عمل ثواب دی چي ده کړی دی او د هغه عمل (وبال) ورباندي دی چي ده کړی دی.

اوس نو د دغسي نصوصو په منځ کي تطبيق څه ډول دی.

جواب: د العقيدة الطحاوية شارح ويلي دي علماء کرامو د دې سوال ډېر

[1] ردالمحتار اول جلد (۶۰۵) مخ.

جوابونه کړي دي خو دوه يې اصح دي. موږ به يې يوازي هغه جواب رانقل کړو چي ده ډېر قوي بللی دی هغه دا دی، د آيتونو معنٰی دا نه ده چي يو کس د بل چا له عمل څخه نفعه نه سي اخيستلی بلکي معنٰی يې دا ده چي يو کس يوازي د خپل عمل مالک دی د بل چا د عمل مالک نه سي کېدای خو له دې څخه دا نه لازمېږي چي يو کس د بل چا له عمل څخه نفعه نه سي اخيستلی چي کله يې هغه د ده لپاره وکړي يا يې ثواب ور وبخښي نو د بل چا د عمل پخپله عمل کونکی مالک دی د عمل مالک کولای سي چي د خپل عمل ثواب بل چاته وبخښي او يا يې د خپل ځان لپاره پرېږدي د دې يو ښکاره مثال دا دی چي انسان لره نسته مګر د ده خپل مال يعني انسان يوازي د خپل مال مالک دی د بل چا د مال مالک نه دی خو له دې څخه دا نه لازمېږي چي انسان د بل چا د مال څخه نفعه نه سي اخيستلی بلکي کېدای سي چي هغه کس ده ته خپل مال هديه يا صدقه کړي او دی نفعه ور څخه واخلي[1].

## الله تعالی د بندګانو دعاوي قبلوي

**۹۰: – وَاللّٰهُ تَعَالَى يَسْتَجِيبُ الدَّعَوَاتِ وَيَقْضِي الْحَاجَاتِ.**

ژباړه: الله تعالی د بندګانو دعاوي قبلوي او حاجتونه يې اداء کوي.

**شرح**– مطلب دا دی چي الله تعالی د بندګانو جائزي دعاوي قبلوي او جائز حاجتونه يې اداء کوي د ټولو خلکو په منځ کي دا خبره اتفاقي ده چي دعاء د منافعو په راجلبولو او د ضررونو په دفعه کولو کي لوی سبب دی.

(دلائل) الله تعالی فرمايلي دي:

---

[1] شرح العقيدة الطحاوية (۴۴۹) مخ.

۱:- ﴿ وَإِذَا سَأَلَكَ عِبَادِىْ عَنِّىْ فَإِنِّىْ قَرِيْبٌ ۖ أُجِيْبُ دَعْوَةَ الدَّاعِ إِذَا دَعَانِ ﴾.[ البقرة: ۱۸۶].

ژباړه: او کله چي زما په باره کي زما بنده ګان درڅخه پوښتنه وکړي (چي زه ورته نژدې یم او که لیري) نو زه ورته نژدې یم (په علم او اجابت سره) د غوښتونکي سوال قبلوم کله چي ما وبولې.

۲:- ﴿ وَقَالَ رَبُّكُمُ ادْعُوْنِىْٓ أَسْتَجِبْ لَكُمْ ۚ ﴾.[غافر: ۶۰].

ژباړه: او ستاسو رب فرمایي چي زما څخه سوال کوئ چي زه یې درته قبول کړم.

## سوال او جواب

**سوال**:- له ذکر سوو آیتونو څخه معلومېږي چي د دعاء او سوال قبلېدل حتمي دي او د الله تعالی وعده ده چي کله ورڅخه څوک څه وغواړي هغه به ضرور ورکوي خو د دې سره سره موږ ګورو چي زموږ ډېري دعاوي نه قبلېږي.

**جواب**: په دې کي شک نسته چي د الله تعالی هره وینا حقه ده او وعدې یې تېولي د واقع سره برابري دي او هیڅ خلف پکښي نسته خو د دعاء قبلېدل یوازي دا نه دي چي بنده ته د ده غوښتل سوی شی ورکول سي کله همدغسي وسي چي الله تعالی بنده ته د ده غوښتل سوی شی په عین وخت کي ورکړي او کله بیا دغه شی په بل وخت کي ورکړي کله بیا ورته بالکل آخرت ته وساتل سي کله کله یې بیا د غوښتل سوي شي په عوض کي له ضرر څخه بچ کړي[1].

همدغه جواب له احادیثو څخه ښکاره معلومېږي د مثال په ډول دوه حدیثونه

[1] تفسیر النسفي اول جلد (۱۶۱) مخ.

وګورئ:

اول: – مَا مِنْ أَحَدٍ يَدْعُو بِدُعَاءٍ إِلَّا آتَاهُ اللهُ مَا سَأَلَ أَوْ كَفَّ عَنْهُ مِنْ سُوءٍ مِثْلَهُ مَا لَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْ قَطِيعَةِ رَحِمٍ[(۱)].

ژباړه: هيڅوک يوه دعاء نه کوي مګر الله ﷻ همهغه شی ورکوي چي غواړي يې او يا به ورڅخه د همهغه سوال په مثل بدي ليري کړي ترڅو چي يې په ګناه او يا د صله رحمي په قطعه کولو باندي سوال نه وي کړی.

دوهم: – په يوه بل روايت کي دا هم ورسره سته (وَإِمَّا أَنْ يُدَّخَرَ لَهُ فِي الْآخِرَةِ وَإِمَّا أَنْ يُكَفَّرَ عَنْهُ مِنْ ذُنُوبِهِ بِقَدْرِ مَا دَعَا)[(۲)].

ژباړه: او يا به ورته په آخرت کي ذخيره کړل سي او يا به ورڅخه د سوال په اندازه ګناهونه عفوه کړل سي.

## د دعاء د قبلېدو موانع

لاندي څو شيان د دعاء د اجابت موانع ښودل سوي دي.

اول: د خوراک، څښاک، لباس او غذا حراموالی د اجابت موانع دی ځکه چي نبي ﷺ په يو اوږد حديث کي فرمايلي دي: (الرَّجُلُ يُطِيلُ السَّفَرَ أَشْعَثَ أَغْبَرَ يَمُدُّ يَدَيْهِ إِلَى السَّمَاءِ يَا رَبِّ يَا رَبِّ وَمَطْعَمُهُ حَرَامٌ وَمَشْرَبُهُ حَرَامٌ وَمَلْبَسُهُ حَرَامٌ وَغُذِيَ بِالْحَرَامِ فَأَنَّى يُسْتَجَابُ لِذَالِكَ)[(۳)].

ژباړه: يو سړی چي اوږد سفر کوي ببر سر خړ پړ چي دواړه لاسونه يې آسمان

---

[(۱)] جامع الترمذي دوهم جلد (۱۷۵) مخ، رقم الحديث (۳۳۸۱).
[(۲)] جامع الترمذی دوهم جلد (۲۰۱) مخ، رقم الحديث (۳۶۰۴).
[(۳)] صحيح مسلم اول جلد (۳۲۶) مخ، رقم الحديث (۲۳۴۶).

ته پورته کړي وي او داسي وايي ای زما ربه! ای زما ربه! حال دا چي خوراک يې حرام وي، څښاک يې حرام وي، لباس يې حرام وي او په حرامو باندي لوی سوی وي نو څنگه به د دغه ډول سړي دعاء قبوله سي.

دوهم: د مطلب په لاسته راوړلو کي عجله (تلوار) کول.

دريم: د گناه او د صله رحمي د قطعي سوال کول، لکه څنگه چي نبيﷺ فرمايلي دي:

(لَايَزَالُ يُسْتَجَابُ لِلْعَبْدِ مَالَمْ يَدْعُ بِإِثْمٍ أَوْقَطِيعَةِ رَحِمٍ مَالَمْ يَسْتَعْجِلْ قِيلَ يَارَسُولَ اللهِ مَاالْإِسْتِعْجَالُ قَالَ يَقُولُ قَدْ دَعَوْتُ وَقَدْ دَعَوْتُ فَلَمْ أَرَ يَسْتَجِيبُ لِي فَيَسْتَحْسِرُ عِنْدَ ذٰلِكَ وَيَدَعُ الدُّعَاءَ)[1].

ژباړه: همېشه د بنده دعاء قبلېږي ترڅو چي د گناه او يا د صله رحمي د پرېکولو سوال ونه کړي او ترڅو چي عجله (تلوار) ونه کړي پوښتنه وسوه چي ای د الله ﷻ رسوله! عجله څه شی ده؟ نبيﷺ وفرمايل عجله دا ده چي يو کس داسي و وايي سوال مي وکړ سوال مي وکړ نو مي ونه ليدل چي سوال راته قبول سي نو ستومانه سي او د سوال څخه لاس واخلي.

څلورم: خپلي دعاء ته نه متوجه کېدل، لکه څنگه چي نبيﷺ په يو حديث کي فرمايلي دي: ای خلکو! تاسو له الله تعالی څخه په داسي حال کي سوال کوئ چي په اجابت سره يقين کونکي ياست (فَإِنَّ اللهَ لَا يَسْتَجِيبُ لِعَبْدٍ دَعَاهُ عَنْ ظَهْرِ قَلْبٍ غَافِلٍ).

يعني: دا ځکه چي الله تعالی د داسي بنده سوال نه قبلوي چي د غافل زړه له شا څخه يې بولي.

---

[1] صحيح البخاري (۶۳۴۰)، و مسلم دوهم جلد (۳۵۲) مخ، رقم الحديث (۲۷۳۵) واللفظ له.

يعني سوال ورڅخه کوي خو ورته متوجه نه وي چي څه غواړي یوازي د سوال ګردان کوي[1].

پنځم: په دعاء کي تر حد تجاوز کول، لکه څنګه چي الله تعالی فرمایلي دي:

﴿إِنَّهُۥ لَا يُحِبُّ ٱلۡمُعۡتَدِينَ﴾. [الاعراف: ۵۵].

ژباړه: بې شکه الله ﷻ تجاوز کونکي نه خوښوي.

په دعاء کي د تجاوز خو ډېر ډولونه دي خو دلته یې تاسو صرف دوه ډولونه وګورئ:

اول: یو داسي سوال کول چي هغه د سوال کوونکي سره مناسب نه وي د مثال په ډول چي یو څوک د خپل ځان لپاره شفاعت کبري وغواړي چي هغه د نبي ﷺ له خواصو څخه دی.

دوهم: یوه ورځ عبدالله بن مغفل رضي الله عنه له خپل زوی څخه واورېدل چي داسي سوال یې کاوه ای الله! زه در څخه هغه سپینه ماڼۍ غواړم چي کله زه جنت ته ور داخل سم زما په راسته طرف کي وي پلار یې ورته و ویل: ای زویه! له الله ﷻ څخه جنت وغواړه او له دوزخ څخه ورباندي پناه ونیسه (نور وړاندي مه ځه) ځکه چي ما له نبي ﷺ څخه اورېدلي دي چي ویل یې: (سَيَكُونُ فِي هَذِهِ الأُمَّةِ قَوْمٌ يَعْتَدُونَ فِي الطُّهُورِ وَالدُّعَاءِ).

یعني – ژر دی چي په دغه امت کي به داسي خلګ پیدا سي چي په اوداسه او دعاء کي به تر حد تجاوز کوي، یعني ستا دعاء تر حد تجاوز دی[2].

---

[1] مسند احمد بن حنبل دوهم جلد (۵۹۲) مخ.
[2] مسند احمد ۴/ ۸۷، و ابوداؤد (۹۶).

## په دعاء کي لاسونه پورته کول

دا چي د دعاؤ د قبول ځايونه او وختونه کوم دي او آداب يې څه دي او هغه کومي دعاوي دي چي له نبيﷺ څخه رانقل سوي دي دا يو اوږد بحث دی جدا رساله غواړي تفصيل يې د حديثو په کتابونو کي دی لکه (کتاب الدعوات) د بخاري شريف او (ابواب الدعوات) د ترمذي شريف او داسي نور. د دعاء کولو له آدابو څخه دا هم دی چي لاسونه پورته کړل سي او ورغوي د آسمان طرفته ونيول سي او د لاسونو شاګاني د ځمکي طرفته وګرځول سي کله چي دعاء ختمه سي نو دواړه لاسونه دي په مخ باندي راکش کړل سي ځکه چي نبيﷺ همداسي کړي دي[۱].

## په اجتماعي ډول سره دعاء کول

لکه څنګه چي په انفرادي ډول (يوازي يوازي) دعاء کول له احاديثو څخه ثبوت لري همدا شان په اجتماعي ډول دعاء کول چي يو څوک دعاء کوي او نور خلګ آمين ورباندي وايي هم ثبوت لري لکه څنګه چي په حديث شريف کي راغلي دي:

(لَا يَجْتَمِعُ مَلَأٌ فَيَدْعُو بَعْضُهُمْ وَيُؤَمِّنُ بَعْضُهُمْ إِلَّا أَجَابَهُمُ اللهُ).

يعني- يوه ټولۍ خلګ به نه سي سره راجمعه چي ځيني يې دعاء کوي او ځيني يې آمين ورباندي وايي مګر چي الله تعالی به د دوی دعاء قبوله کړي[۲].

---

[۱]صحيح البخاري دوهم جلد (۹۳۸) مخ، سنن ابي داؤد اول جلد (۲۰۹) مخ، معارف السنن (۳) جلد (۱۲۱) مخ.

[۲]المستدرک (۳) جلد (۳۴۷) مخ، کنزالعمال اول جلد (۱۷۷) مخ، مجمع الزوائد (۱۰) جلد (۱۹۴) مخ، رقم الحديث (۱۷۳۴۷) المعجم الکبير ۴/ ۲۲.

علامه بنوري رحمه الله د دغه حديث تر راوړلو وروسته داسي ليکلي دي:

(وهو دليل الدعاء بهيئة الإجتماعية ومظنة قبولها اكثر من دعاء الوحدان)

يعني – دغه حديث په اجتماعي ډول سره د دعاء دليل دی او د اجتماعي دعاء د قبول اميد تر انفرادي دعاء ډېر دی[1].

همدا شان ملا علي القاري رحمه الله ليکلي دي:

(فَإِنَّ الْهَيْئَةَ الْإِجْتِمَاعِيَّةَ لَهَا بَرَكَةٌ كَثِيرَةٌ فِي الْعِبَادَاتِ الْإِلَهِيَّةِ).

يعني – اجتماعي هيئت لره په الهي عباداتو کي ډېر برکت سته[2].

قاضی بیضاوي رحمه الله پخپل تفسير (۸) مخ کي همدغه ته ورته خبره ليکلې ده.

اوس نو د هغو خلکو خبره خوشي افسانه ده چي دوی وايي تر لمانځه او د مړي تر دفن کولو وروسته په اجتماعي ډول سره دعاء بدعت ده ځکه چي نبي ﷺ نه ده کړې دا خبره ځکه افسانه ده چي د ذکر سوي حديث حکم چي د اجتماعي دعاء په اړوند دی عام دی ټولو خلکو او ټولو وختونو ته شمول لري هغه که تر لمانځه وروسته وي او که د مړي تر دفن وروسته وي يا يو بل وخت وي تر څو چي منعه ثابتېږي. آيا دغه کسان چي تر لمانځه او د مړي تر دفن وروسته په اجتماعي ډول سره دعاء بدعت بولي دا به ثابته کړي چي نبي ﷺ په دغو وختونو کي د اجتماعي دعاء څخه منعه کړې ده هيڅکله نه (وَلَوْ كَانَ بَعْضُهُمْ لِبَعْضٍ ظَهِيرًا).

---

[1] معارف السنن (۳) جلد (۱۲۲) مخ.
[2] مرقاة (۱۰) جلد (۴۲۵) مخ.

# آيا داويل جائز دي چي د کافر دعاء قبلېږي

جمهور علماء کرام په دې نظر دي چي دا ويل نه دي جائز چي د کافر دعاء قبلېږي ځکه چي الله تعالى فرمايلي دي: ﴿وَمَا دُعَآءُ الْكٰفِرِيْنَ اِلَّا فِيْ ضَلٰلٍ﴾.

[الرعد: ۱۴].

ژباړه: او (حقيقت دا دی چي) د کافرانو دعاء نه ده مګر په ګمراهي کي (چي ګټه ورته نه کوي)

او ځيني علماء کرام بيا وايي دا جائزه ده چي د کافر دعاء قبوله سي ځکه چي الله تعالى له ابليس (عليه اللعنة) څخه دا سي حکايت کړی دی:

﴿قَالَ رَبِّ فَاَنْظِرْنِيْٓ اِلٰى يَوْمِ يُبْعَثُوْنَ ○ قَالَ فَاِنَّكَ مِنَ الْمُنْظَرِيْنَ ○﴾.

[الحجر: ۳۶- ۳۷].

ژباړه: ابليس و ويل ای زما ربه! ماته تر هغې ورځي پوري مهلت راکړه چي مخلوقات له قبرونو څخه را پورته کړل کيږي الله تعالى ورته وفرمايل نو يقيناً ته د مهلت ورکړل سوو څخه يې (مهلت درکړل سو).

همدغه د کافر د دعاء قبلېدل دي همدغه د کافر د دعاء قبلېدل د ابو القاسم الحکيم رحمه الله او ابونصر الدبوسي رحمه الله قول دی الصدر الشهيد رحمه الله ويلي دي په همدغه قول باندي فتوی ده[1].

او ځينو علماء کرامو بيا ويلي دي چي د کافرانو دعاء د دنيا په اړوند قبلېږي او د آخرت په اړوند نه قبلېږي په همدغه قول سره نصوص سره جمعه کيږي. الخيالي علي شرح العقائد النسفية (۱۴۹) مخ. (والله اعلم).

---

[1] شرح العقائد (۱۲۳) مخ.

# الله تعالی د هر شي مالک دی

**۹۱:-** وَيَمْلِكُ كُلَّ شَيْءٍ وَلَا يَمْلِكُهُ شَيْءٌ وَلَا غِنَى عَنِ اللهِ تَعَالَى طَرْفَةَ عَيْنٍ وَمَنِ اسْتَغْنَى عَنِ اللهِ تَعَالَى طَرْفَةَ عَيْنٍ فَقَدْ كَفَرَ وَصَارَ مِنْ أَهْلِ الْحَيْنِ.

ژباړه: الله تعالی د هر شي مالک دی د الله تعالی هیڅوک مالک کېدای نه سي او د سترګو د رف په اندازه هم د الله تعالی څخه غنٰی (بې نیازي) نسته او کوم کس چي د سترګو د رف په اندازه د الله تعالی څخه خپل ځان غني وبولي نو بېله شکه کافر دی او د هغو کسانو له جملې څخه دي چي د هلاکت وړتیا لري.

**شرح-** مطلب دا دی چي الله تعالی د هر شي مالک او متصرف دی (الملک) د الله تعالی د نومونو څخه دی او الله ﷻ غني دی هیڅ شي ته محتاج نه دی ټوله مخلوقات الله تعالی ته په وجود او نورو حالاتو کي محتاج دي هیڅوک د سترګو د رف په اندازه له الله تعالی څخه غني کېدای نه سي بلکي ټوله مخلوقات همېشه په هره لحظه کي الله تعالی ته محتاج دي.

(**دلائل**) ۱:- ﴿فَسُبْحَٰنَ الَّذِي بِيَدِهِۦ مَلَكُوتُ كُلِّ شَيْءٍ وَإِلَيْهِ تُرْجَعُونَ﴾.

[يٰس: ۸۳].

ژباړه: نو هغه اقدس ذات ﷻ ته پاکي ده چي د ده په (بلاکیفه) ید کي د هر شي ټینګه واکداري ده او خاص همده ته به (تاسو ټول په آخرت کي) بیرته بېول کېږئ.

۲:- ﴿قُلِ اللَّهُمَّ مَٰلِكَ الْمُلْكِ﴾.[آل عمران: ۲٦].

ژباړه: و وايه چي ای الله ﷻ ! ای د واکداري مالکه!.

۳: - ﴿يَاَيُّهَا النَّاسُ اَنْتُمُ الْفُقَرَآءُ اِلَى اللهِ ۚ وَاللهُ هُوَ الْغَنِيُّ الْحَمِيْدُ﴾

[فاطر: ۱۵].

ژباړه: ای خلکو! تاسي الله ﷻ ته فقيران محتاجان ياست او الله ﷻ چي دی همدی غني بې پروا ښه ستايل سوی دی.

نو کوم کس چي د الله ﷻ څخه خپل ځان غني وبولي هغه بېله شکه کافر دی.

## غضب او رضا د الله تعالی له صفتونو څخه دي

**۹۲: - وَإِنَّ اللهَ تَعَالَى يَغْضَبُ وَيَرْضَى لَا كَأَحَدٍ مِنَ الْوَرَى.**

ژباړه: الله تعالی پر ګنهکاره بندګانو باندي په غضب کېږي او د نېکانو خلکو څخه راضي کېږي خو غضب او رضا يې په مخلوق کي د يوچا په شان نه دي.

**شرح**- د امام طحاوي رحمه الله مطلب دا دی چي غضب او رضا د الله تعالی له صفتونو څخه دی لېکن د الله تعالی غضب او رضا داسي نه دي لکه د مخلوق غضب او رضا لکه څنګه چي د الله تعالی ټوله صفتونه همدغسي دي چي د مخلوق د صفتونو سره مشابهت نه لري لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي:

﴿لَيْسَ كَمِثْلِهِ شَيْءٌ ۚ وَهُوَ السَّمِيْعُ الْبَصِيْرُ﴾.[الشوری:۱۱].

ژباړه: د الله تعالی په مثل هيڅ شی نسته (نه په اقدس ذات کي او نه په عالي صفاتو کي) او همدی ښه اورېدونکی ډېر ښه ليدونکی دی.

امام طحاوي رحمه الله په دې عقيده سره پر معتزله ډلي او مشبهه ډلي دواړو باندي رد کړی دی تفصيل يې په دوهمه عقيده کي وګورئ. د الله تعالی د

غضب او رضا ذكر په ډېرو آيتونو او حديثونو كي راغلى دى خو دلته د بېلګي په ډول څو آيتونه وګورئ:

اول: - ﴿مَنْ لَّعَنَهُ اللّٰهُ وَغَضِبَ عَلَيْهِ﴾. [المائدة: ۶۰].

دوهم: - ﴿وَغَضِبَ اللّٰهُ عَلَيْهِ وَلَعَنَهٗ﴾. [النساء: ۹۳].

دريم: - ﴿وَبَآءُوْ بِغَضَبٍ مِّنَ اللّٰهِ﴾. [البقرة: ۶۱].

څلورم: - ﴿رَضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ﴾. [المائدة: ۱۱۹].

پنځم: - ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللّٰهُ عَنِ الْمُؤْمِنِيْنَ اِذْ يُبَايِعُوْنَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ﴾. [الفتح: ۱۸].

## د صحابه كرامو ﷺ په شان كي د اهل السنة والجماعة طريقه

**۹۳: - وَنُحِبُّ أَصْحَابَ رَسُولِ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَلَا نُفْرِطُ فِي حُبِّ أَحَدٍ مِنْهُمْ وَلَا نَتَبَرَّأُ مِنْ أَحَدٍ مِنْهُمْ وَنُبْغِضُ مَنْ يُبْغِضُهُمْ وَبِغَيْرِ الْخَيْرِ يَذْكُرُهُمْ وَلَا نَذْكُرُهُمْ إِلَّا بِخَيْرٍ وَنَرَى حُبَّهُمْ دِيْنًا وَإِيْمَانًا وَإِحْسَانًا وَبُغْضَهُمْ كُفْراً وَنِفَاقاً وَطُغْيَاناً.**

ژباړه: موږ د نبي ﷺ د اصحابو ﷺ سره محبت لرو له دوى څخه د يوه په محبت كي تر حد تجاوز نه كوو او نه له يو صحابي څخه بېزاره كېږو او هر هغه څوك چي د صحابه كرامو رضى الله عنهم سره بغض لري (بد يې بولي) او په بدي سره يې يادوي موږ د هغه كس سره بغض لرو او بد يې بولو موږ صحابه

كرام نه يادوو مګر په نېکي سره او د دوی سره محبت د دين ايمان او احسان علامه بولو او د دوی سره بغض د کفر نفاق او سر کي علامه بولو.

**شرح**- صحابي هغه څوک دی چي د نبيﷺ سره يې په داسي حال کي ملاقات کړی وي چي ايمان يې ورباندي راوړی وي او پر اسلام باندي وفات سوی وي[۱].

امام طحاوي رحمه الله په دې عقيده سره پر اهل التشيع او خوارجو باندي رد کړی دی اهل التشيع هغه ګمراه ډله ده چي د حضرت علي رضي الله عنه او د ده د اولاد په محبت کي تر حد تېری کوي حتی حضرت علي رضي الله عنه يې د پيغمبري تر مرتبې پوري رسولی دی او له اهل بيت څخه ماسېوا د نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم سره بغض لري بد يې بولي په خاص طور بيا حضرت ابوبکر رضي الله عنه او حضرت عمر رضي الله عنه چي د دوی په شان کي بيا ډېره ګستاخي کوي د اهل التشيع په مقابل کي بيا خوارج دي دا بيا هغه ګمراه ډله ده چي د حضرت علي رضي الله عنه او نورو صحابه کرامو سره بغض او عداوت لري حتی د کفر نسبت يې ورته کړی دی (اعاذناالله من سوء اعتقاد هم) وهابيان او سلفيان هم د دغو ګمراه ډلو پر مسلک باندي روان دي دوی هم د دغو ګمراهانو په څېر د ځينو صحابه کرامو په باره کي ډېره ګستاخي کوي حتی حضرت عمر رضي الله عنه او حضرت عثمان رضي الله عنه ته يې د بدعت نسبت کړی دی ځکه چي حضرت عمر رضي الله عنه تراويح شل رکعته کړي دي او حضرت عثمان رضي الله عنه بيا د جمعې د لمانځه لپاره دوهم اذان چي اوس اول کېږي مقرر کړی دی.

خو اهل السنة والجماعة د دغو ټولو ګمراهانو د فاسدو عقائدو څخه بېزاره دي بلکي د دغو ټولو ګمراهانو سره بغض واجب بولي نو موږ اهل سنت

---

[۱] نخبة الفکر (۱۴۸) مخ.

والجماعة د ټولو صحابه کرامو رضی الله عنهم سره محبت لرو د هیڅ یو صحابي په محبت کې تر حد تجاوز نه کوو او نه د یو صحابي څخه بېزاره کېږو د صحابه کرامو رضی الله عنهم سره محبت د ایمان علامه او بغض یې د کفر علامه بولو.

د صحابه کرامو رضی الله عنهم د فضیلت په اړوند ګڼ شمېر آیتونه او حدیثونه راغلي دي خو دلته د بېلګې په ډول یو څو وګورئ، الله تعالی فرمایلي دي:

۱: ﴿ وَالسّٰبِقُوْنَ الْاَوَّلُوْنَ مِنَ الْمُهٰجِرِيْنَ وَالْاَنْصَارِ وَالَّذِيْنَ اتَّبَعُوْهُمْ بِاِحْسَانٍ رَّضِيَ اللّٰهُ عَنْهُمْ وَرَضُوْا عَنْهُ وَاَعَدَّ لَهُمْ جَنّٰتٍ تَجْرِيْ تَحْتَهَا الْاَنْهٰرُ خٰلِدِيْنَ فِيْهَاۤ اَبَدًا ؕ ذٰلِكَ الْفَوْزُ الْعَظِيْمُ ﴾. [التوبة: ۱۰۰].

ژباړه: او سبقت کونکي لومړني کسان چې له مهاجرینو او انصارو څخه عبارت دي او نور هغه کسان چې د دوی (مهاجرینو او انصارو) په نېکي سره متابعت کوي له دوی څخه الله ﷻ راضي سوی دی او دوی هم د الله ﷻ څخه راضي سوي دي او الله ﷻ دوی ته داسي جنتونه تیار کړي دي چې د (ونو او ماڼیو) لاندي یې (څلور ډوله) ویالې بهیږي دوی به هلته تل تر تله همېشه وي دغه (رضا او جنت) ډېر لوی بری دی.

۲: همدا شان الله تعالی د مهاجرینو او انصارو صحابه کرامو رضی الله عنهم په باره کي داسي فرمایلي دي:

﴿ اُولٰٓئِكَ هُمُ الْمُؤْمِنُوْنَ حَقًّا ؕ لَهُمْ مَغْفِرَةٌ وَّرِزْقٌ كَرِيْمٌ ﴾. [الانفال: ۷۴].

ژباړه: دغه (مهاجرین او انصار) همدوی په حقه سره مؤمنان دي دوی لره مغفرت او د کرامت څخه ډکه روزي ده (چې جنت دی).

۳: ﴿لَقَدْ رَضِيَ اللَّهُ عَنِ الْمُؤْمِنِينَ إِذْ يُبَايِعُونَكَ تَحْتَ الشَّجَرَةِ﴾. [الفتح: ۱۸].

ژباړه: بې شکه الله ﷻ له مؤمنانو (صحابه کرامو رضی الله عنهم) څخه په هغه وخت کې راضي سوی دی کله چې هغوی د ونې لاندې له تا سره (د جهاد) بیعت کاوه.

همدا شان د صحابه کرامو رضی الله عنهم د فضیلت په اړوند نبي ﷺ فرمایلي دي:

۱: - (خَيْرُ النَّاسِ قَرْنِي ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ ثُمَّ الَّذِينَ يَلُونَهُمْ - [1]

ژباړه: په خلګو کې بهترين زما د زمانې خلک دي (يعني صحابه کرام رضی الله عنهم) وروسته بيا هغه کسان بهترين دي چې دوی ته نژدې دي (يعني تابعين) وروسته بيا هغه کسان بهترين دي چې دوی ته نژدې دي يعني (اتباع التابعين).

۲: - (لَا تَسُبُّوا أَصْحَابِي فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَابَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلَا نَصِيفَهُ) [2].

ژباړه: تاسو زما صحابه کرامو رضی الله عنهم ته ښکنځل مه کوئ که چيري ستاسو څخه يو نفر د احد د غره په اندازه سره زر د الله ﷻ په لار کې نفقه کړي بيا به هم د هغوی د يو نفر يوه چاريک ته ونه رسيږي او نه به نيم چاريک ته ورسيږئ.

۳: - (آيَةُ الْإِيمَانِ حُبُّ الْأَنْصَارِ وَآيَةُ النِّفَاقِ بُغْضُ الْأَنْصَارِ) [3].

---

[1] الحديث). صحيح البخاري (۲۶۵۲) و مسلم (۲۵۳۳).
[2] صحيح البخاري (۳۶۷۳) واللفظ له، ومسلم (۲۵۴۱).
[3] صحيح البخاري (۱۷) و مسلم (۷۴).

ژباړه: د ایمان علامه د انصارو صحابه کرامو رضی الله عنهم سره محبت دی او د نفاق علامه د انصارو صحابه کرامو سره بغض دی.

همدغه د انصارو صحابه کرامو رضی الله عنهم حکم د مهاجرینو صحابه کرامو رضی الله عنهم هم دی.

دا خو د عامو صحابه کرامو رضی الله عنهم په باره کي څو آیتونه او حدیثونه دي چي تاسو ولوستل همدا شان د لویو صحابه کرامو رضی الله عنهم د هر فرد په فضیلت کي هم نصوص راغلي دي وګورئ د بخاري شریف کتاب المناقب او د احادیثو نور کتابونه. نو د دغو آیتونو او حدیثونو په رڼا کي موږ ټوله صحابه کرام عادلان بولو محبت ورسره واجب بولو او ثناء وربانديي وایو لکه څنګه چي الله تعالی ثناء وربانديي ویلې ده پر هیڅ یو صحابي باندي طعن نه وایو، علامه تفتازاني رحمة الله علیه لیکلي دي د صحابه کرامو رضی الله عنهم په منځ کي چي کوم اختلافونه او جنګونه راغلي دي هغه ټوله د تأویلاتو له مخي وه یعني دوی ټولو د حق طلب کاوه خو ځیني یې په اجتهاد کي حق ته رسېدلي دي او ځیني یې خطا سوي دي کوم مجتهد چي پخپل اجتهاد کي خطا سي هغه خو معذور دی بلکي مأجور دی.

(فسبهم والطعن فیهم ان کان مما یخالف الادلة القطعیة فکفر کقذف عائشة رضی الله عنها والا فبدعة وفسق).

یعني- صحابه کرامو رضی الله عنهم ته ښکنځل کول او پر دوی باندي طعن ویل که چیري د قطعي دلائلو په خلاف وو نو بیا دا کار کفر دی لکه پر عائشې رضي الله عنها باندي طعن ویل (لکه څنګه چي اکثره اهل التشیع دغه طعن وایي دغه طعن ویل له دې کبله کفر دی چي دا له قرآن کریم څخه انکار دی ځکه چي د عائشې رضي الله عنها په برائت (پاکي) کي آیتونه راغلي دي) او که چیري پر صحابه

كرامو باندي طعن ویل د قطعي دلائلو په خلاف نه وو نو بیا دا کار بدعت او فسق دی[1].

د صحابه کرامو د فضیلت په باره کې که مو اوږدو کتابو ته لاس رسی نه کیږي نو بیا د دوو دیوبندي علماؤ مولانا ابوبکر رحمه الله او مولانا عبدالخالق رحمه الله کتاب چې نوم یې دی (صحابه کرام رضی الله عنهم د اهل حدیثو "سلفیانو" په نظر کې) مطالعه کړئ په دغه کتاب کې په لنډ ډول د صحابه کرامو رضی الله عنهم فضیلت بیان سوی دی وروسته هغه طعنونه او عیبونه پکښې راټول کړل سوي دي چې د سلفیانو مشرانو پر صحابه کرامو رضی الله عنهم باندي ویلي دي او د دوی د طعنونو ښه کافي جوابونه پکښې سوي دي کوم کس چې دغه کتاب مطالعه کړي نو به د سلفیانو ګستاخي او فساد ښه ورته معلوم سي او دا فیصله به وکړي چې سلفیان کټ مټ د اهل التشیع او خوارجو پر مسلک باندي روان دي او له اهل سنت والجماعت څخه وتلي دي.

## تر نبي ﷺ وروسته خلفاء راشدین

**۹۴:- وَنُثْبِتُ الْخِلَافَةَ بَعْدَ النَّبِيِّ ﷺ اَوَّ لًا لِأَبِي بَكْرٍ الصِّدِّيقِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ تَفْضِيلًا لَهُ وَتَقْدِيمًا عَلَى جَمِيعِ الْأُمَّةِ ثُمَّ لِعُمَرَ بْنِ الْخَطَّابِ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ثُمَّ لِعُثْمَانَ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ ثُمَّ لِعَلِيِّ بْنِ أَبِي طَالِبٍ رَضِيَ اللهُ عَنْهُ وَهُمُ الْخُلَفَاءُ الرَّاشِدُوْنَ وَالْأَئِمَّةُ الْمُهْتَدُوْنَ الَّذِيْنَ قَضَوْا بِالْحَقِّ وَكَانُوْا بِهِ يَعْدِلُوْنَ.**

---

[1] شرح العقائد (۱۱۶) مخ.

ژباړه: موږ اهل سنت والجماعت تر نبيﷺ وروسته اول ځل حضرت ابوبکر رضي الله عنه ته خلافت ځکه ثابت بولو چي ده ته تر نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم فضیلت سته او تر ټوله امت وړاندي دی وروسته بیا حضرت عمر رضي الله عنه ته خلافت ثابت بولو، وروسته بیا حضرت عثمان رضي الله عنه ته خلافت ثابت بولو، وروسته بیا حضرت علي رضي الله عنه ته خلافت ثابت بولو همدغه څلور حضرات خلفاء راشدین دي او هغسي امامان دي چي دوی هدایت حاصل کړی دی دوی هغه کسان دي چي په حق سره يې قضاء کول او په حق سره يې عدل کاوه.

**شرح**- مطلب دا دی چي په صحابه کرامو رضی الله عنهم کي همدغه څلور خلفاء راشدين دي د نبوت خلافت همدوی ته ثابت دی او د دوی د أفضلیت او خلافت ترتیب همهغه دی چي په متن کي ذکر سو دغو حضراتو صحابه کرامو ته د خلفاء راشدینو لقب پخپله نبيﷺ ورکړی دی لکه څنګه چي يې فرمايلي دي: (فَعَلَيْكُمْ بِسُنَّتِي وَسُنَّةِ الْخُلَفَاءِ الرَّاشِدِينَ الْمَهْدِيِّينَ- الحديث).

يعني- زما پر سنت باندي ټينګ ودرېږئ همدا شان د خلفاء راشدینو پر سنت باندي چي دوی ته هدایت ورکول سوی دی هم ټینګ ودرېږئ[1].

## لومړی خلیفه حضرت ابوبکر رضي الله عنه

د ده مبارک نوم عبدالله لقب يې صدیق او کنیت يې ابوبکر ؤ د ده نسب په (مرة) کي د نبيﷺ د مبارک نسب سره ګډېږي د ده د پلار نوم عثمان او کنیت يې ابوقحافه ؤ دی د نبيﷺ له مبارک ولادت څخه دوه کاله او څو میاشتي وروسته په مکه مکرمه کي پیدا سوی دی په نارینه ؤ کي تر ټولو په اسلام کي

[1] ابوداؤد (۴۶۰۷) والترمذي (۲۶۷۶) وأحمد/ ۴/ ۱۲۶.

دمخه دی د (۱۳) هجري کال د جمادیٰ الآخرة میاشتي په (۲۲) د سه شنبې په شپه د (۶۳) کالو په عمر وفات سوی دی حضرت ابوبکر رضي الله عنه تر نبي ﷺ وروسته تر ټولو أفضل او لومړی خلیفه دی. کله چي نبي ﷺ وفات سو نو په هغه ورځ صحابه کرام رضی الله عنهم د بنو ساعده په یو سایه درلودنکي ځای کي سره راټول سول تر یو څه مباحثې او منازعي وروسته یې د حضرت ابوبکر رضي الله عنه پر خلافت باندي اجماع راغلل او بیعت یې ورسره وکړ. صحیح البخاري (۳۶۶۸). حضرت علي رضي الله عنه هم تر یو څه توقف وروسته د صحابه کرامو رضی الله عنهم په حضور کي بیعت ورسره وکړ[1].

په دې کار کي الله تعالیٰ صحابه کرامو رضی الله عنهم ته د هغه څه توفیق ورکړ چي نبي ﷺ اشاره ورته کړې وه نبي ﷺ د حضرت ابوبکر رضي الله عنه خلافت ته په ګڼ شمېر حدیثونو کي اشاره کړې ده خو دلته د بېلګي په ډول یو څو وګورئ:

۱:- نبي ﷺ د خپلي مریضي په حالت کي داسي وفرمایل: (مُرُوا أَبَا بَكْرٍ فَلْيُصَلِّ بِالنَّاسِ).

یعني: تاسي ابوبکر رضي الله عنه ته امر وکړئ چي خلګو ته لمونځ ورکړي[2].

نو حضرت ابوبکر رضي الله عنه هم د نبي ﷺ د امر سره مطابق د صحابه کرامو رضی الله عنهم امام ؤ حتیٰ په هغه وخت کي هم امام وو چي نبي ﷺ په هغه وخت کي وفات سو نو دا په ښکاره ډول دې طرفته اشاره ده چي تر نبي ﷺ وروسته حضرت ابوبکر رضي الله عنه په خلافت سره احق دی.

۲:- نبي ﷺ عائشې رضي الله عنها ته وویل ما دا قصد کړی ؤ چي ابوبکر رضي الله عنه او د ده زوی ته څوک واستوم ترڅو راسي او د خلافت وصیت ورته وکړم ځکه چي دا

---

[1] شرح العقائد (۱۰۸).

[2] صحیح البخاري (۶۶۴) و مسلم (۴۱۸).

ښه نه ده چي بيا يو څوک و وايي چي خلافت زما دی او يا يو څوک د خلافت تمنٰی وکړي (ثُمَّ قُلْتُ يَأْبَى اللهُ وَيَدْفَعُ الْمُؤْمِنُونَ).

يعني- بيا مي دا فيصله وکړه چي الله تعالٰی د ابوبکر رضي الله عنه د خلافت څخه ماسېوٰی د بل چا د خلافت څخه منعه کوي او مؤمنان هم د بل چا خلافت دفعه کوي. (نو وصيت کولو ته ضرورت نسته)[1].

۳:- جبير بن مطعم رضي الله عنه ويلي دي چي نبي ﷺ ته يوه ښځه راغلل نو يې د يو شي په باره کي خبري ورسره وکړې نبي ﷺ امر ورته وکړ چي بل وخت مراجعه وکړي ښځي ورته و ويل: ای د الله رسوله! ماته خبر راکړه که چيري زه راغلم او ته مي پيدا نه کړې (د ښځي مراد دا ؤ که چيري زه راغلم او ته وفات سوی وې نو زه څه وکړم) نبي ﷺ ورته وفرمايل: (إِنْ لَمْ تَجِدِينِي فَأْتِي أَبَابَكْرٍ) يعني- که دي زه پيدا نه کړم نو بيا ابوبکر رضي الله عنه ته ورسه[2].

دا خبره چي حضرت ابوبکر رضي الله عنه تر نبي ﷺ وروسته تر ټولو افضل دی هم په ګڼ شمېر حديثونو سره ثابته ده خو دلته يوازي يو حديث وګورئ: عمرو بن العاص رضي الله عنه ويلي دي چي ما نبي ﷺ ته و ويل تاته په خلګو کي څوک ډېر محبوب دی نبي ﷺ و ويل عائشه رضي الله عنها، ما ورته و ويل په نارينه ؤ کي نبي ﷺ و ويل د عائشې رضي الله عنها پلار ابوبکر رضي الله عنه، ما ورته و ويل وروسته څوک دی نبي ﷺ وفرمايل وروسته عمر بن الخطاب رضي الله عنه دی، وروسته يې څو نور خلګ وشمېرل[3].

---

[1] صحيح البخاري (۵۶۶۶) و اللفظ له ومسلم (۲۳۸۷).
[2] صحيح البخاري (۷۲۲۰) و مسلم (۲۳۸۶).
[3] صحيح البخاري (۳۶۶۲) و مسلم (۲۳۸۴).

# دوهم خليفه حضرت عمر فاروق رضي الله عنه

د ده مبارک نوم عمر لقب يې فاروق او کنيت يې ابو حفص دی د ده نسب په (کعب) کي د نبي ﷺ د مبارک نسب سره يو ځای کيږي د پلار نوم يې خطاب ؤ د فيل تر واقعې (۱۳) کاله وروسته په مکه مکرمه کي پيدا سوی دی د نبوت په شپږم کال يې اسلام قبول کړی دی د ده په اسلام سره په مکه مکرمه کي اسلام ښکاره سو او مسلمانان ډېر ورباندي خوشحاله سوه دی مبارک د هجرت په (۲۳) کال د ذوالحجې د مياشتي په (۲۶) د (۶۳) کالو په عمر د مجوسي کافر ابو لؤلؤه له خوا په خنجر سره زخمي کړل سو بيا وروسته شهيد سو، (إِنَّا لِلَّهِ وَإِنَّا إِلَيْهِ رَاجِعُونَ).

حضرت عمر رضي الله عنه په دا ډول خليفه وټاکل سو چي حضرت ابوبکر رضي الله عنه د خپل عمر په آخر کي د خلافت وصيت ورته وکړ او خلک يې أمر کړه چي د ده سره بيعت وکړي خلکو هم په اتفاق د ده سره بيعت وکړ نو د حضرت عمر رضي الله عنه خلافت د حضرت ابوبکر رضي الله عنه په وصيت او د أمت په اتفاق سره ثابت دی[۱].

په دې کي شک نسته چي تر حضرت ابوبکر رضي الله عنه وروسته حضرت عمر رضي الله عنه په خلافت سره احق ؤ دی د حضرت ابوبکر رضي الله عنه سره په ډېرو هغو نصوصو کي ملګری دی چي د حضرت ابوبکر رضي الله عنه په فضيلت کي راغلي دي د مثال په ډول نبي ﷺ به ويل:

(جِئْتُ أَنَا وَأَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ وَ دَخَلْتُ أَنَا وَأَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ وَخَرَجْتُ أَنَا وَأَبُوبَكْرٍ وَعُمَرُ)[۲].

---

[۱] شرح العقائد (۱۰۸) مخ او تاريخ الخلفاء (۸۳) مخ.
[۲] صحيح البخاري (۳۶۷۷) و مسلم (۲۳۸۹) واللفظ له.

# دریم خلیفه حضرت عثمان رضي الله عنه

د ده مبارک نوم عثمان لقب یې ذوالنورین او کنیت یې ابو عبدالله او ابو عمرو ؤ د ده نسب په (عبدمناف) کې د نبي ﷺ د مبارک نسب سره یو ځای کېږي، د فیل له واقعې څخه په شپږم کال کې پیدا سوی دی د پخوانیو اسلام راوړونکو څخه دی ده ته نبي ﷺ خپله لور (رقیه رضي الله عنها) تر نبوت دمخه په نکاح ورکړې وه کله چې (رقیه رضي الله عنها) د بدر د غزا په شپو کې وفات سوه نو بیا نبي ﷺ خپله بله لور ام کلثوم رضي الله عنها په نکاح ورکړه همدغه وجه ده چې ده ته ذوالنورین (د دوو رڼاګانو خاوند) ویل کېږي د هجرت په (۳۵) کال د تشریق د ورځو په منځ کې د (۸۲) کالو په عمر شهید سو او په بقیع هدیره کې خاورو ته وسپارل سو.

حضرت عثمان رضي الله عنه په دا ډول خلیفه وټاکل سو چې کله حضرت عمر رضي الله عنه زخمي کړل سو نو یې د خلافت د تعین کار شپږو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته وسپارئ چې نومونه یې په لاندې ډول دي:

۱: حضرت علي رضي الله عنه، ۲: حضرت عثمان رضي الله عنه، ۳: حضرت زبیر رضي الله عنه، ۴: حضرت طلحة رضي الله عنه، ۵: سعد بن ابي وقاص رضي الله عنه، ۶: عبدالرحمٰن بن عوف رضي الله عنه.

د حضرت عمر رضي الله عنه مطلب دا ؤ چې تاسي شپږ کسان پخپل منځ کې یو خلیفه وټاکئ خو تر څه بحث وروسته د خلیفه د ټاکلو کار حضرت عبدالرحمٰن بن عوف رضي الله عنه ته وسپارل سو حضرت عبدالرحمٰن بن عوف رضي الله عنه تر ډېرو مشورو وروسته حضرت عثمان رضي الله عنه خلیفه کړ او د صحابه کرامو په حضور کې یې بیعت ورسره وکړ وروسته حضرت علي رضي الله عنه او نورو صحابه کرامو مهاجرینو

او انصارو بیعت ورسره وکړ[۱].

د اهل سنت والجماعت عقیده دا ده چي د خلفاء راشدینو د خلافت ترتیب د دوی د فضیلت د ترتیب سره موافق دی تر نبيﷺ وروسته په ټوله امت کي حضرت ابوبکر رضي الله عنه افضل دی وروسته حضرت عمر رضي الله عنه دی وروسته حضرت عثمان رضي الله عنه دی وروسته حضرت علي رضي الله عنه دی.

حضرت عبدالله بن عمر رضي الله عنه ویلي دي:

(كُنَّا نُخَيِّرُ بَيْنَ النَّاسِ فِي زَمَنِ النَّبِيِّ ﷺ فَنُخَيِّرُ أَبَابَكْرٍ ثُمَّ عُمَرَ بْنَ الْخَطَّابِ ثُمَّ عُثْمَانَ بْنَ عَفَّانَ).

یعني- موږ صحابه کرامو د نبيﷺ په زمانه کي ځيني صحابه کرام پر نورو خیر بلل حضرت ابوبکر رضي الله عنه مو تر نبيﷺ وروسته تر ټوله امت افضل بلی وروسته مو حضرت عمر بن الخطاب رضي الله عنه أفضل ګڼی او وروسته مو حضرت عثمان بن عفان رضي الله عنه أفضل ګڼی[۲].

## څلورم خلیفه حضرت علي رضي الله عنه

د ده مبارک نوم علي لقب یې أسد الله او مرتضیٰ کنیت یې ابوالحسن او ابو تراب ؤ د نبيﷺ تر بعثت لس کاله دمخه په مکه مکرمه کي پیدا سوي دي د ده پلار ابوطالب د نبيﷺ سکه أکا ؤ نو دی نبيﷺ ته په نسب کي تر نورو خلفاء راشدینو ورنژدې ؤ دی هم د نورو خلفاء راشدینو په څېر د هغو کسانو څخه دی چي د جنت زېری وربادي سوی دی او نبيﷺ خپل وروړ ګرځولی ؤ په ماشومانو کي اول ماشوم دی چي ایمان یې راوړی دی هیڅ وخت یې د بت

[۱] صحیح البخاري (۳۷۰۰) ومسلم (۵۶۷) وایضاً صحیح البخاري (۷۲۰۷).
[۲] صحیح البخاري (۳۶۵۵).

عبادت نه دی کړی نبي ﷺ خپله ګرانه لور (فاطمه رضي الله عنها) ده ته په نکاح ورکړې وه د هجرت په (۴۰) کال د روژې د میاشتې په (۱۷) په کوفه کې د خوارجو د یو کس ابن ملجم لخوا زخمي کړل سو او د دغې میاشتې په (۱۹) د (۶۳) کلنۍ په عمر شهید سو او هلته په کوفه کې خاورو ته وسپارل سو.

حضرت علي رضي الله عنه د حضرت عثمان رضي الله عنه تر شهادت وروسته په دا ډول خلیفه وټاکل سو چې د مهاجرینو او أنصارو مشران ورباندې راټول سوه او د خلافت د قبلولو مطالبه یې ځنې وکړه او بیعت یې ورسره وکړ ځکه چې دی د خپلې زمانې په خلګو کې تر ټولو په خلافت سره أحق ؤ[1].

د خلفاء راشدینو په اړوند دغه ذکر سوي معلومات د تاریخ الخلفاء او د حدیثو د کتابونو څخه را اخیستل سوي دي د دوی په اړوند نور معلومات او د دوی فضائل په همدغو کتابونو کې په تفصیل سره ذکر سوي دي.

## د نبوت خلافت دېرش کاله ؤ

تر نبي ﷺ وروسته کامل خلافت دېرش کاله ؤ ځکه چې نبي ﷺ فرمایلي دي:

خِلَافَةُ النُّبُوَّةِ ثَلَاثُونَ سَنَةً ثُمَّ يُؤْتِي اللهُ الْمُلْكَ مَنْ يَشَاءُ[2].

ژباړه: د نبوت خلافت دېرش کاله دی وروسته بیا الله تعالی سلطنت (بادشاهي) هغه چاته ورکوي چې اراده یې وکړي.

د خلفاء راشدینو رضی الله عنهم د هر یوه د خلافت مده ځینو علماء کرامو داسې بیان کړې ده: حضرت ابوبکر رضي الله عنه دوه کاله او درې میاشتې. حضرت عمر رضي الله عنه لس کاله او شپږ میاشتې، حضرت عثمان رضي الله عنه څو ورځې کم دوولس

---

[1] شرح العقائد (۱۰۹) مخ.

[2] الترمذي (۲۲۲۶) وابوداؤد (۴۶۴۶) واللفظ له.

کاله، حضرت علي رضي الله عنه څلور کاله او (۹) میاشتي[۱].

اوس نو د دېرشو کالو څخه شپږ میاشتي او څو ورځي پاته سوي شیخ جلال الدین السیوطي رحمه الله ویلي دي چي حضرت حسن بن علي رضي الله عنه د خپل پلار تر شهادت وروسته شپږ میاشتي او څو ورځي خلافت وکړ[۲].

اوس نو د نبوت د خلافت هغه دېرش کلونه پوره سوه چي نبي ﷺ یې یادونه کړې وه.

## هغه لس کسان چي د جنت زېرى ورباندي سوى دى

**۹۵:-** وَأَنَّ الْعَشَرَةَ الَّذِيْنَ سَمَّاهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَبَشَّرَهُمْ بِالْجَنَّةِ نَشْهَدُ لَهُمْ بِالْجَنَّةِ عَلَى مَاشَهِدَ لَهُمْ رَسُوْلُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ وَقَوْلُهُ الْحَقُّ وَهُمْ (أَبُوبَكْرٍ (وَعُمَرُ (وَعُثْمَانُ (وَعَلِيٌّ) وَطَلْحَةُ) وَالزُّبَيْرُ) وَسَعْدٌ) وَسَعِيْدٌ) وَعَبْدُالرَّحْمٰنِ بْنُ عَوْفٍ) وَأَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ) وَهُوَ أَمِيْنُ هٰذِهِ الْأُمَّةِ رِضْوَانُ اللهِ عَلَيْهِمْ أَجْمَعِيْنَ).

ژباړه: یقیناً هغه لس کسان چي نبي ﷺ یې نومونه یاد کړي دي او دوی ته یې په جنت سره زېری ورکړی دی موږ هم هغوی ته په جنت سره شاهدي ورکوو په هغه ډول چي نبي ﷺ دوی ته شاهدي ورکړې ده او د نبي ﷺ قول حق دی، هغه لس کسان دا دي:

---

[۱] النبراس (۵۰۴) مخ.

[۲] تاریخ الخلفاء (۱۹۶) مخ.

۱- ابوبکر الصديق ﷺ، ۲- حضرت عمر الفاروق ﷺ، ۳- حضرت عثمان بن عفان ﷺ، ۴- حضرت علي بن ابي طالب ﷺ، ۵- طلحة بن عبيد الله ﷺ، ۶- الزبير بن العوام ﷺ، ۷- سعد بن ابي وقاص ﷺ، ۸- سعيد بن زيد ﷺ، ۹- عبد الرحمٰن بن عوف ﷺ، ۱۰- حضرت ابو عبيدة بن الجراح ﷺ چي د دغه أمت امين دی.

**شرح**- مطلب دا دی چي نبي ﷺ دغو لسو کسانو ته د جنت زېری ورکړی دی او جنتيان يې بللي دي[۱].

نو موږ هم د ايمان او تصديق له مخي دوی جنتيان بولو په دغو لسو کسانو کي څلور خلفاء راشدين رضی الله عنهم دي د دوی په اړوند لږ د مخه څه بيان تېر سو چي دوی د دغه امت خير او أفضل دي او أفضليت يې د دوی د خلافت پر ترتيب دی وروسته بيا دوی ته په فضيلت کي نژدې پاته شپږ کسان دي د دغو لسو کسانو په اړوند د هر يوه جدا جدا فضائل هم په احاديثو کي راغلي دي لکه څنګه چي امام طحاوي رحمه الله د حضرت ابو عبيده ﷺ يوه فضيلت ته اشاره کړې ده چي دی د دغه أمت أمين دی[۲].

حضرت ابوبکر ﷺ، حضرت عمر ﷺ او حضرت عثمان ﷺ ته د جنت زېری په بل حديث سره هم ثابت دی وګورئ صحيح البخاري (۳۶۹۳) ومسلم (۲۴۰۳). د دغو لسو کسانو ترڅنګ نورو صحابه کرامو رضی الله عنهم ته هم نبي ﷺ د جنت شاهدي ورکړې ده لکه ثابت بن قيس ﷺ. صحيح البخاري (۴۸۴۶) ومسلم (۱۱۹) او حضرت حسن ﷺ او حضرت حسين ﷺ، الترمذي (۳۷۶۸) او هغه صحابه کرام رضی الله عنهم چي (بيعة الرضوان) ته حاضر

[۱] ابوداؤد (۴۶۴۹) والترمذي (۳۷۴۷).
[۲] صحيح البخاري (۳۷۴۴).

سوي وه[۱].

امام طحاوي رحمه الله يو ازي لس كسان ځكه ذكر كړي دي چي دوی ته يو ځای په يوه وخت كي د جنت زيری وركول سوی دی، نو موږ هر هغه څوك جنتي بولو چي هغه نبي ﷺ جنتي بللی وي موږ د خپله ځانه څخه د يو معلوم شخص په باره كي نه د جنتي فيصله كوو او نه د دوزخي بلكي موږ داسي شاهدي وركوو چي مؤمنان جنتيان دي او كافران دوزخيان دي[۲].

## له نفاق څخه د پاكوالي علامه

**۹۶:- وَمَنْ أَحْسَنَ الْقَوْلَ فِي أَصْحَابِ النَّبِيِّ ﷺ وَأَزْوَاجِهِ الطَّاهِرَاتِ مِنْ كُلِّ دَنَسٍ وَذُرِّيَّاتِهِ الْمُقَدَّسِينَ مِنْ كُلِّ رِجْسٍ فَقَدْ بَرِئَ مِنَ النِّفَاقِ.**

ژباړه: هر هغه څوك چي د نبي ﷺ د صحابه كرامو په باره كي او د ده د بيبيانو په باره كي چي د هر ډول ناپاكيو څخه پاكي دي او د ده د اولادونو په باره كي چي د هر ډول عيبونو څخه پاك دي ښه خبري وكړي نو يقيناً دغه كس د نفاق څخه پاك دی.

**شرح**- مطلب دا دی چي د نفاق څخه هغه څوك پاك دی چي د صحابه كرامو رضی الله عنهم او د نبي ﷺ د أزواجو طاهراتو او د ده د پاكو اولادونو په باره كي ښه نظر ولري د دوی سره د محبت له مخي يې مدحه كوي فضائل يې بيانوي

---

[۱] ابو داؤد (۴۶۵۳) والترمذي (۳۸۶۰) او داسي نور صحابه كرام رضی الله عنهم.

[۲] شرح العقائد (۱۱۷) مخ.

مرتبې يې پېژني او د دوی د یادولو په وخت کي ترضي (رضی الله عنهم) وايي. ځکه چي د دوی سره بغض درلودل او طعن وربانديویل د منافقينو کار دی اول ځل يې اساس دوی ايښی دی تر دوی وروسته بيا أهل التشيع او خوارجو د دوی بار پر اوږو اخيستی دی همدغه مسلک سلفيانو او وهابيانو هم خپل کړی دی تفصيل يې په (۹۳) عقيده کي وګورئ.

د نبيﷺ بيبيانو مبارکانو ته الله تعالی په قرآن کريم کي امتياز ورکړی دی او أمهات المؤمنين يې بللي دي د دوی لپاره همدغه منقبت بس دی، الله تعالی داسي فرمايلي دي:

۱:- ﴿ يَٰنِسَآءَ ٱلنَّبِيِّ لَسۡتُنَّ كَأَحَدٖ مِّنَ ٱلنِّسَآءِ ﴾. [الأحزاب: ٣٢].

ژباړه: ای د نبيﷺ ښځو تاسي د نورو ښځو د ټولګی په شان نه یاست (ستاسو مراتب ډېر لوړ دي).

۲:- ﴿ وَأَزۡوَٰجُهُۥٓ أُمَّهَٰتُهُمۡ ﴾. [الأحزاب: ۶].

ژباړه: او د نبيﷺ ښځي (په تعظيم او تحريم کي) د مؤمنانو مورګاني دي.

همدا شان نبيﷺ هم خلک د خپل أهل بيت سره محبت کولو ته په ډېرو حديثونو کي ترغيب کړي دي او پر دوی باندي يې د طعنونو څخه منعه کړي دي خو دلته د بېلګي په ډول دوه حديثونه وګورئ:

۱:- نبيﷺ په يو حديث کي فرمايلي دي: زه ستاسو څخه په داسي حال کي تلونکی يم چي تاسو ته دوه درانه شيان پرېږدم اول د الله ﷻ کتاب دی چي په هغه کي نور او هدايت دی نو تاسي هغه ښه مضبوط ونيسۍ او دوهم زما أهل بيت دي.

(أُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي، أُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي، أُذَكِّرُكُمُ اللهَ فِي أَهْلِ بَيْتِي).

يعني- زه د خپل أهل بيت په باره کي تاسي د الله ﷻ څخه وېروم (چي تاسو يې د حقوقو خيال وساتئ) نبي ﷺ د تاکيد لپاره دغه خبره درې ځله کړې ده[1].

۲:- نبي ﷺ د يو حديث په آخر کي داسي فرمايلي دي: (وَأَحِبُّوا أَهْلَ بَيْتِي بِحُبِّي).

يعني- تاسو زما سره د محبت پر بنياد زما د اهل بيت سره محبت کوئ[2].

أَللّٰهُمَّ ثَبِّتْنَا عَلَى حُبِّكَ وَحُبِّ نَبِيِّكَ وَحُبِّ أَصْحَابِهِ وَأَهْلِ بَيْتِهِ أَجْمَعِيْنَ.آمين.

# د نبي ﷺ مبارکي بيبياني

د نبي ﷺ ټولي هغه بيبياني چي ده واده ورسره کړی دی يوولس (۱۱) دي چي نومونه يې په لاندي ډول دي:

۱:حضرت ام المؤمنين خديجة بنت خويلد رضي الله عنها، ۲: حضرت ام المؤمنين سودة بنت زمعة رضي الله عنها، ۳: حضرت ام المؤمنين عائشة بنت ابي بکر رضي الله عنها، ۴: حضرت ام المؤمنين حفصة بنت عمر الفاروق رضي الله عنها، ۵: حضرت ام المؤمنين ام سلمة بنت ابي أمية رضي الله عنها، ۶: حضرت ام المؤمنين ام حبيبة بنت ابي سفيان رضي الله عنها، ۷: حضرت ام المؤمنين زينب بنت جحش رضي الله عنها، ۸: حضرت ام المؤمنين زينب بنت خزيمة رضي الله عنها، ۹: حضرت ام المؤمنين ميمونة بنت الحارث رضي الله عنها، ۱۰: حضرت ام المؤمنين جويرية بنت الحارث رضي الله عنها، ۱۱: حضرت ام المؤمنين صفية بنت حيی رضي الله عنها[3].

له دوی څخه دوې (حضرت خديجه او حضرت زينب بنت خزيمه رضي الله عنهما د

---

[1] صحيح مسلم (۶۲۲۵).

[2] الترمذي (۳۷۸۹).

[3] شرح الفقه الاکبر (۱۸۷) مخ.

نبي ﷺ په ژوند کي وفات سوي دي او پاته (۹) ټولي د نبي ﷺ د وفات پر مهال ژوندۍ وې، دوی ټولي په دې کي سره شريکاني دي چي د نبي ﷺ ييبياني دي او دوی ته هغسي فضيلت سته چي نورو ښځو ته نسته او دوی أُمهات المؤمنين دي خو په دوی کي أفضلي حضرت خديجه او حضرت عائشه رضي الله عنهما دي ځکه چي دوی ته هغه سي فضائل ثابت دي چي نورو أمهات المؤمنين ته نسته حضرت خديجې رضي الله عنها ته نبي ﷺ په جنت کي د داسي خوني زېرى ورکړى دى چي له داسي ملغلري څخه به وي چي منځ يې خالي وي او هيڅ آواز او مشقت به پکښي نه وي[۱].

همدا شان نبي ﷺ فرمايلي دي: (وَخَيْرُ نِسَائِهَا خَدِيجَةُ)

يعني- د دغه اُمت د ښځو خير او أفضله خديجه رضي الله عنها ده[۲].

همدا شان د حضرت عائشې رضي الله عنها په اړوند نبي ﷺ فرمايلي دي:

(وَإِنَّ فَضْلَ عَائِشَةَ عَلَى النِّسَاءِ كَفَضْلِ الثَّرِيدِ عَلَى سَائِرِ الطَّعَامِ).

يعني - يقيناً د عائشې رضي الله عنها فضيلت د دې أمت پر نورو ښځو داسي دى لکه د ښوروا فضيلت پر نور طعام)[۳].

حضرت عمرو بن العاص رضي الله عنه ويلي دي چي ما نبي ﷺ ته و ويل:

(أَيُّ النَّاسِ أَحَبُّ إِلَيْكَ قَالَ عَائِشَةُ). يعني- په خلکو کي کوم يو درته ډېر محبوب دى نبي ﷺ و فرمايل: عائشه رضي الله عنها[۴].

نو په دې کي شک نسته چي په أمهات المؤمنين کي أفضلي خديجه او

---

[۱] صحيح البخاري (۳۸۱۹).

[۲] صحيح البخاري (۳۸۱۵) و مسلم (۲۴۳۰).

[۳] صحيح البخاري (۳۴۱۱) و مسلم (۲۴۳۰).

[۴] صحيح البخاري (۳۶۶۲) و مسلم (۲۳۸۴).

عائشه رضي الله عنها دي پاته سوه دا خبره چي په دوی دوو کي کومه يوه أفضله ده ځينو علماء کرامو ويلي دي چي ام المؤمنين عائشه رضي الله عنها أفضله ده او ځينو علماء کرامو بيا ويلي دي چي ام المؤمنين خديجه رضي الله عنها أفضله ده، حافظ ابن حجر رحمه الله همدغه قول ته ترجيح ورکړې ده. والعلم عندالله تعالی[1].

## د نبي ﷺ مبارک اولادونه

د نبي ﷺ خپل صلبي اولادونه درې زامن او څلور لوڼي وې د زامنو نومونه يې په دا ډول دي:

اول- حضرت قاسم، دوهم- حضرت عبدالله چي د طيب او طاهر په نومونو هم يادېږي، دريم: حضرت ابراهيم. دوی ټول د نبي ﷺ په ژوند کي ماشومان وفات سوي دي او د نبي ﷺ د لوڼو نومونه په لاندي ډول دي:

اوله- حضرت فاطمه رضي الله عنها، دوهمه- حضرت رقيه رضي الله عنها، دريمه- حضرت زينب رضي الله عنها، څلورمه- حضرت ام کلثوم رضي الله عنها، دوی ټولي لوی سوې او بيا واده سوي دي د حضرت فاطمې رضي الله عنها ماسوی دوی هم ټولي د نبي ﷺ په ژوند کي وفات سوي دي. او د نبي ﷺ د اولادونو سلسله دحضرت فاطمې رضي الله عنها څخه ماسوی د بلي لور څخه نه ده پاته سوې د نبي ﷺ شريف نسل يوازي د حضرت فاطمې رضي الله عنها د زامنو حضرت حسن رضي الله عنه او حضرت حسين رضي الله عنه څخه نشر سوی دی[2].

او د نبي ﷺ ټول اولادونه د حضرت خديجې رضي الله عنها څخه ؤ يو حضرت ابراهيم د

---

[1] فتح الباري (۷) جلد (۱۷۵) مخ.

[2] شرح الفقه الأکبر (۱۸۴) مخ الی (۱۸۷).

هغه مبارک د وینزي ماريې قبطيې ﵂ څخه ؤ[1].

دا خو د نبي ﷺ صلبي اولادونه وه د حضرت فاطمې ﵂ اولاد حضرت حسن ﵁ او حضرت حسين ﵁ او کوم شريف نسل چي له دوی څخه نشر سوی دی ټول د نبي ﷺ اولاد دي. د حضرت فاطمې ﵂ او حضرت حسن ﵁ او حضرت حسين ﵁ ګڼ شمېر مناقب او فضائل په احاديثو کي راغلي دي خو دلته يې ځکه نه ليکم چي په خلګو کي مشهور دي.

## د أمت د علماؤ احترام واجب دی

**۹۷:-** وَعُلَمَاءُ السَّلَفِ مِنَ السَّابِقِيْنَ وَمَنْ بَعْدَهُمْ مِنَ التَّابِعِيْنَ أَهْلُ الْخَيْرِ وَالْأَثَرِ وَأَهْلُ الْفِقْهِ وَالنَّظَرِ لَايُذْكَرُوْنَ إِلَّا بِالْجَمِيْلِ وَمَنْ ذَكَرَهُمْ بِسُوْءٍ فَهُوَ عَلَى غَيْرِ السَّبِيْلِ.

ژباړه: د سلفو يعني صحابه کرامو رضی الله عنهم او د دوی د پېروانو علماء د خير او أثر خاوندان دي (يعني د نبي ﷺ د آثارو پيروان دي) او د فقه او نظر خاوندان دي د دوی يادونه نه کېږي مګر په نېکي سره کوم کس چي دوی په بدي او بې ادبي سره ياد کړي نو هغه کس د مسلمانانو د لاري څخه بغير پر باطله لار دی.

**شرح-** مطلب دا دی چي د امت امامان فقهاء او نور علماء کرام د صالح عمل خاوندان او د نبي ﷺ د آثارو کلک پيروان وه همدا شان د فقه او نظر خاوندان وه د ټول امت په اتفاق دوی پر هدايت وه الله تعالی په ګڼ شمېر آيتونو کي دوی

[1] فتح الباري (۷) جلد (۱۷۲) مخ.

ستايلي دي د بېلګې په ډول دوه آيتونه وګورئ:

۱: - ﴿يَرْفَعِ اللّٰهُ الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا مِنْكُمْ ۙ وَالَّذِيْنَ اُوْتُوا الْعِلْمَ دَرَجٰتٍ ؕ﴾.

[المجادلة: ۱۱].

ژباړه: الله ﷻ به ستاسو د جملې څخه هغو کسانو ته چې ايمان يې راوړی دی او په خاص ډول بيا هغو کسانو ته چې علم ورکول سوی دی درجې او مرتبې اوچتې کړي.

۲: - ﴿اِنَّمَا يَخْشَى اللّٰهَ مِنْ عِبَادِهِ الْعُلَمٰٓؤُا ؕ﴾. [فاطر: ۲۸].

ژباړه: يقيناً د الله تعالىٰ له بندګانو څخه پوهنده علماء د الله ﷻ څخه بېرېږي.

همدا شان د علم او علماؤ په فضيلت کې ګڼ شمېر حديثونه هم راغلي دي چې په خلګو کې مشهور دي نو د سلفو د علماؤ احترام واجب دی ځکه چې د حق علماء د انبياؤ عليهم السلام وارثان دي او دين مقدس اسلام چې الٰهی علوم دي د همدوی لخوا موږ ته را رسېدلی دی قرآن کريم نبوي احاديث د قرآن کريم تفسير د احاديثو شرحه دا ټول د دوی په ذريعه سره موږ ته را رسېدلي دي په خاص طور بيا تر صحابه کرامو رضی الله عنهم را وروسته د فقهاؤ او مجتهدينو لکه څلور مشهور امامان پر أمت باندي لوی احسان دی ځکه چې دوی د کتاب او سنت څخه احکام را ايستلي او امت ته يې وړاندي کړي دي نو د امت د علماؤ بايد مرتبې وپېژندل سي د صحابه کرامو رضی الله عنهم د علماؤ خپله مرتبه ده تر دوی وروسته بيا په امت کي د فقهاؤ او مجتهدينو بله مرتبه ده د حضراتو مفسرينو او د حديثو د ناقلينو او شارحينو بله مرتبه ده د دوی ترمنځ هم هر عالم ته جدا مرتبه سته د دوی ټولو په اړوند د مؤمنانو طريقه دا ده چې د دوی د علم دين او ايمان په خاطر د دوی سره محبت لري او په نېکي سره يې يادوي، او که

چيري يو ځوک را پاڅېږي د امت پر علماؤانتقادونه کوي طعنونه ورباندي وايي لکه: وهابيانو او سلفيانو چي دغه کار خپل کړی دی دوی يوازي خپل ځانونه پر حق بولي نور امت ټول پر باطل بولي د امت پر فقهاؤ او امامانو طعنونه وايي حتّٰی پر صحابه کرامو رضی الله عنهم هم طعنونه وايي نو دغه کسان بېله شکه پر دين بې اعتماده دي ځکه چي دين د همدغو علماء کرامو لخوا موږ ته را رسېدلی دی نو د امت پر علماؤ بې اعتمادي پر دين بې اعتمادي ده او پر صحابه کرامو او د سلفو پر نورو علماؤ انتقاد په حقيقت کي پر نبي ﷺ انتقاد دی (نعوذبالله) ښکاره خبره ده چي دا د مؤمنانو لاره نه ده کوم کسان چي د مؤمنانو لاره پرېږدي هغه به ضرور دوزخ ته ورځي لکه څنګه چي الله تعالی فرمايلي دي:

﴿ وَمَنْ يُّشَاقِقِ الرَّسُوْلَ مِنْۢ بَعْدِ مَا تَبَيَّنَ لَهُ الْهُدٰى وَيَتَّبِعْ غَيْرَ سَبِيْلِ الْمُؤْمِنِيْنَ نُوَلِّهٖ مَا تَوَلّٰى وَنُصْلِهٖ جَهَنَّمَ ۖ وَسَآءَتْ مَصِيْرًا ﴾. [النساء: ۱۱۵].

ژباړه: او هغه څوک چي تردې وروسته چي ده ته سمه لاره ښکاره سوه د رسول ﷺ مخالفت کوي او د مؤمنانو د لاري څخه په غير د بلي لاري پيروي کوي نو به دی موږ هغه خواته وګرځوو چي دی ورګرځېدلی دی او دوزخ ته به يې ورداخل کړو او (دا دوزخ) بد ځای د ورتلو دی.

﴿ رَبَّنَا اغْفِرْ لَنَا وَلِاِخْوَانِنَا الَّذِيْنَ سَبَقُوْنَا بِالْاِيْمَانِ وَلَا تَجْعَلْ فِيْ قُلُوْبِنَا غِلًّا لِّلَّذِيْنَ اٰمَنُوْا رَبَّنَآ اِنَّكَ رَءُوْفٌ رَّحِيْمٌ ﴾. [الحشر: ۱۰].

# هیڅ یو ولي د نبي مرتبې ته نه سي رسېدای

۹۸:- وَلَانُفَضِّلُ أَحَدًا مِّنَ الْأَوْلِيَاءِ عَلَىٰ أَحَدٍ مِنَ الْأَنْبِيَاءِ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ وَنَقُوْلُ نَبِيٌّ وَاحِدٌ أَفْضَلُ مِنْ جَمِيْعِ الْأَوْلِيَاءِ.

ژباړه: موږ هیڅ یو ولي ته پر هیڅ یو نبي فضیلت نه ثابتوو او موږ وایو چي یو نبي د جهان تر ټولو اولیاؤ أفضل دی.

**شرح**- مطلب دا دی چي هیڅ ولي د یو نبي درجې ته نه سي رسېدای د ټول جهان تر اولیاؤ یو نبي افضل دی ځکه چي انبیاء عليهم السلام د دې ترڅنګ چي په دوی کي د ټولو اولیاؤ کمالات سته د هر قسم ګناهونو څخه معصوم دي د خاتمې د وېري څخه په امن کي دی په وحیو او د ملک په حضور سره عزت ورکول سوی دی د احکامو په تبلیغ او خلګو ته په هدایت کولو امر کړل سوي دي (دا ټول هغه امتیازات دي چي الله تعالی یوازي انبیاؤ عليهم السلام ته ورکړي دي هیڅ یو ولي ته دغه امتیازات نسته) نو دا چي د کرامیه ډلي د ځینو کسانو څخه نقل راغلی دی چي دا جائزه ده چي ولي تر نبي افضل سي دا بېله شکه کفر او ګمراهي ده[1].

الله تعالی د انبیاؤ عليهم السلام په باره کي داسي فرمایلي دي:

﴿وَكُلًّا فَضَّلْنَا عَلَى الْعٰلَمِيْنَ ﴾. [الأنعام: ۸۶].

ژباړه: او (له دغو انبیاؤ عليهم السلام څخه) هر یوه ته مو (د خپلو خپلو زمانو) پر عالمونو باندي فضیلت ورکړی ؤ.

همدا شان الله تعالی فرمایلي دي:

---

[1] شرح العقائد (۱۱۸) مخ.

﴿ وَاجْتَبَيْنٰهُمْ وَهَدَيْنٰهُمْ اِلٰى صِرَاطٍ مُّسْتَقِيْمٍ ۝ ﴾. [الأنعام: ۸۷].

ژباړه: او دا ټول انبياء مو غوره کړي وه او د برابري لاري هدايت مو ورته کړی وو.

نو په دې کي شک نسته چي انبياء عليهم السلام په ټوله مخلوق کي بهتره او غوره کسان دي نور کسان چي يو مقام ته رسېږي يو ازنی لاره يې د نبي ﷺ اتباع ده د هر چا چي د نبي ﷺ اتباع ډېرېږي په هغه اندازه يې ولايت قوي کېږي نو دا خبره هيڅ امکان نه لري چي يو ولي دي د نبي درجې ته ورسېږي. د ولي په اړوند مستقل بحث په (۶۵) عقيده کي تېر سوی دی هلته يې مطالعه کړئ.

شارح ابن ابی العز او عبدالرحمٰن بن ناصر البراک د شيخ ابن تيميه په پيروي پر ځينو صوفيهٔ لکه شيخ ابن العربي او د ده ملګري ځکه د کفر فيصله کړې ده چي دوی ويلي دي چي ولايت تر نبوت أفضل دی او نور يې هم داسي خبري کړي دي چي هغه د شريعت په خلاف دي[1].

او نورو معتدلو علماؤ بيا د دوی دغه فيصله نه ده منلې او ويلي يې دي چي دغه کسان د شيخ ابن العربي د ځينو عبارتونو په مراد پوه سوي نه دي او ځيني بيا هغه سي خبري ورته منسوبې کړي دي چي هغه د دښمنانو لخوا د دسيسې په ډول د ده په کتابونو کي داخلي کړل سوي دي. ملا علي قاري رحمة الله عليه ويلي دي- د ځينو صوفيهٔ دا قول چي ولايت تر نبوت أفضل دی معنٰی يې دا ده چي د نبي ولايت د ده تر نبوت أفضل دی (دا يې معنٰی نه ده چي د ولي ولايت د نبي تر نبوت افضل دی ترڅو دا باطله نتيجه ورکړي چي ولي تر نبي افضل دی) او د شيخ ابن العربي څخه چي د دغي موضوع په اړوند نوري داسي خبري را نقل

[1] وګوري شرح العقيدة الطحاوية لابن ابي العز (۴۹۱) مخ، وشرح العقيدة الطحاوية لعبدالرحمن (۳۹۰) مخ.

سوي دي چي هغه د مسلمانانو د عقيدې په خلاف دي (فحسن الظن به انه من المفتريات عليه المنسوبات اليه).

يعني- نو پر ده باندي ښه گمان دا دی چي دا د هغو خبرو څخه دي چي پر ده يې افتراء سوې ده (په ده پوري تړل سوي دي) او ده ته منسوبي سوي دي (په حقيقت كي د ده نه دي)[1].

شيخ عبدالوهاب شعراني رحمه الله په (اليواقيت والجواهر) الجزء الأول كي د شيخ ابن العربي ډېره ښه دفاع كړې ده اول ځل يې د ده عقائد را نقل كړي دي چي په هغو كي هيڅ يوه بده عقيده نسته وروسته يې د ده څه احوال ذكر كړي دي او دا خبره يې ثابته كړې ده چي د ده په كتابونو كي ټوله هغه شيان چي د شريعت د ظاهر او د جمهورو علماؤ د عقائدو په خلاف دي هغه د دښمنانو لخوا د دسيسې په ډول د ده په كتابونو كي داخل كړل سوي دي وروسته يې د هغو لويو علماؤ يادونه كړې ده چي پر ده يې ثناء ويلې ده او د ده كتابونه يې قبول كړي دي وروسته يې د ده د ځينو مشكلو عبارتونو تأويل كړی دی چي په هغو كي د ولايت او نبوت په اړوند ذكر سوې مسئله هم شامله ده او وروسته يې د صوفيه كرامو له طرفه په دې كار كي عذر بيان كړی دی چي دوی ځيني داسي عبارتونه ويلي دي چي په هغو داسي يو څوک نه پوهېږي چي د دوی په مسلک كي داخل نه وي.

شيخ جلال الدين السيوطي رحمه الله هم د شيخ ابن العربي په دفاع كي يو كتاب ليكلی دی نوم يې دی (تنبيه الغبي في تبرئة ابن العربي) والله اعلم.

---

[1] شرح الفقه الاكبر (۲۱۱) مخ.

# د اولياء كرامو كرامتونه حق دي

**۹۹:-** وَنُؤْمِنُ بِمَاجَاءَ مِنْ كَرَامَاتِهِمْ وَصَحَّ عَنِ الثِّقَاتِ مِنْ رِوَايَاتِهِمْ.

ژباړه: موږ پر هغه څه ايمان لرو چي (په كتاب او سنت كي) د اولياء كرامو د كرامتونو څخه راغلي دي او چي د ثقه او اعتمادي راويانو څخه (په دغه باره كي) د دوی روايتونه ثابت سوي دي.

**شرح-** مطلب دا دی چي د اولياء كرامو هغه كرامتونه چي په كتاب او سنت كي راغلي دي پر هغو باندي زموږ ايمان دی همدا شان هغه كرامتونه چي د اعتمادي راويانو په روايت سره رانقل سوي دي پر هغو باندي هم زموږ ايمان دی.

اوس هم كېدای سي چي د يو ولي پر لاس كرامت ښكاره سي د ولي په اړوند بحث په (۶۵) عقيده كي وګورئ. نو لكه څنګه چي د انبياؤ عليهم السلام څخه د معجزو ښكاره كېدل حق دی همدا شان د اولياءالله څخه هم د كرامتونو ښكاره كېدل حق دی خو دا ټوله د الله تعالیٰ تر قدرت او ارادې لاندي دي د ولي كرامت نسبت هغه نبي ته چي دی يې امتي دی د هغه نبي معجزه ده. كرامت هغه د عادت په خلاف كار ته ويل كېږي چي الله تعالیٰ يې د ولي په لاس په داسي حال كي ښكاره كړی چي د نبوت دعویٰ يې نه وي كړې. او هغه د عادت په خلاف كارونه چي الله تعالیٰ د انبياؤ عليهم السلام په لاسونو باندي ښكاره كړي دي هغو ته معجزې ويل كېږي چي د قرآن كريم په اصطلاح كي په بينات آيات او براهينو سره تعبير سوي دي. اما هغه د عادت په خلاف كار چي د كافر منافق او فاسق

په لاس ښکاره سي هغه ته کرامت نه بلکي استدراج ويل کېږي.

هغه کافر چي د خدايي دعوىٰ وکړي کېداى سي چي د ده په لاس ځيني داسي د عادت څخه وتلي کارونه ښکاره سي چي د ده د حکم سره موافق وي لکه څنګه چي به فرعون د نيل سند ته د بهېدلو امر وکړ نو هغه به هم د ده د حکم سره موافق وبهېدى او لکه دجال چي د صحيحو احاديثو مطابق د ده په لاس به هم ځيني داسي د عادت څخه وتلي کارونه ښکاره کېږي چي هغه به د ده د حکم سره موافق وي، اما هغه کافر چي په دروغو سره د نبوت دعوىٰ وکړي د هغه په لاس د عادت څخه وتلى يو داسي شى نه سي ښکاره کېداى چي هغه د ده د حکم سره موافق وي ځکه چي په دغسي صورت کي به بيا د نبي د پېژندلو دروازه بنده سي اما هغه کس چي د خدايي دعوه وکړي او پر لاس يې د عادت څخه وتلي داسي شيان هم ښکاره سي چي د ده د حکم سره موافق وي بيا هم دغه کار د الله تعالىٰ د پېژندلو دروازه نه بندوي ځکه چي هر عاقل پوهېږي چي دغه کس مخلوق دى مخلوق خو خداى نه سي کېداى[1].

د اولياء کرامو ځيني کرامتونه داسي دي چي په قرآن کريم کي راغلي دي د مثال په ډول:

۱- اصحاب کهف تر (۳۰۹) کالو پوري ويده پاته کېدل او دغسي ډېره مده بېله اوبو او طعامه ژوند کول.

۲- د حضرت مريم رضي الله عنها بېله خاونده د ماشوم پيدا کېدل.

۳- همدا شان حضرت مريم رضي الله عنها ته بې موسمه د ميوو راتلل. او داسي نور.

همدا شان د اولياء کرامو ځيني کرامتونه په صحيحو حديثونو سره هم ثابت دي د مثال په ډول:

---

[1] د ډېر تفصيل لپاره وګورئ شرح العقائد (۱۰۵) مخ، او شرح الفقه الاکبر (۱۳۰) مخ.

۱:- د حضرت عمر ﷜ په لیک سره د نیل سند بهېدل[۱].

۲:- حضرت عمر ﷜ په مدینه منوره کي پر منبر باندي خپل لښکر په نهاوند کي ولیدی چي د مدینې منورې څخه (۵۰۰) فرسخه لیري دی او دښمن یې ولیدی چي د غره شاته یې کمین ورته نیولی وو نو یې د لښکر امیر (ساریه) ته د منبر څخه ور ږغ کړه (یا سارية الجبل الجبل) یعني- ای ساریه! په غره کي و اوسئ.

حضرت عمر ﷜ په دغه قول سره خپل لښکر ته آګاهي ورکړه چي د غره شاته دښمن کمین نیولی دی د لښکر امیر (ساریه) هم د حضرت عمر ﷜ آواز په نهاوند کي واورېدی او عمل یې په وکړ نتیجه یې دا سوه چي الله تعالی دښمن مات کړ[۲].

۳:- حضرت خالد بن الولید ﷜ زهر وخښل او هیڅ ضرر یې ورته نه ورساوه[۳].

۴:- د حارث لور ویلي دي زما په الله ﷻ قسم دی چي ما تر حضرت خبیب ﷜ خیر (غوره) بندي هیڅکله نه دی لیدلی زما په الله ﷻ قسم دی چي ما دی یوه ورځ ولیدی چي د انګورو خوشه یې په لاس کي وه او خوراک یې څني کاوه په داسي حال کي چي دی په قید کي ؤ او په مکه مکرمه کي هیڅ مېوه نه وه[۴].

۵:- همدا شان په ذکر سوي حدیث کي راغلي دي چي کله د قریشو کفار خبر سوه چي حضرت عاصم ﷜ شهید سوی دی نو یې یو څوک د دې لپاره ور

---

[۱] البداية والنهاية ۷/ ۱۱۴.

[۲] رواه ابونعيم فى دلائل النبوة برقم (۵۲۵- ۲۵۶- ۲۵۷- ۱۵۸).

[۳] ابویعلی (۷۱۸۶) وابو نعیم فی الدلائل (۳۶۸).

[۴] صحيح البخاري اول جلد (۴۲۸) مخ. رقم الحديث (۳۰۴۵).

ولېږی چي د حضرت عاصم رضي الله عنه د مبارک بدن څخه يو شی لکه سر دوی ته راوړل سي ترڅو په يقيني ډول معلومه سي چي حضرت عاصم رضي الله عنه قتل کړل سوی دی حضرت عاصم رضي الله عنه د بدر په ورځ د دوی د مشرانو څخه يو کس وژلی ؤ کله چي د دوی سړی حضرت عاصم رضي الله عنه ته ورغلی نو الله تعالیٰ د حضرت عاصم رضي الله عنه د ساتني لپاره پرده باندي د سايه کونکي وريځي په شان غالبوزي ودرولې نو دوی دا قدرت پيدا نه کړ چي د ده د مبارک بدن څخه يو شی پرې کړي. دا د يو ولي کرامت دی د ده تر وفات وروسته.

۶:- حضرت انس رضي الله عنه ويلي دي چي د نبي ﷺ د اصحابو رضی الله عنهم څخه دوه کسان (عبادبن بشر رضي الله عنه او اسيد بن حضير رضي الله عنه) د نبي ﷺ د مجلس څخه په يوه تاريکه شپه کي په داسي حال کي را ووتل چي د دوو څراغانو په شان رڼاوي ورسره وې چي د دوی په مخ کي يې رڼا کوله کله چي دوی سره جلا سوه نو بيا د هر يوه سره يو نور وو ترڅو چي خپل کور ته ورسېدل[1].

دا خو د بېلګي په ډول د اولياء کرامو څو هغه کرامتونه بيان سوه چي په قرآن کريم او صحيحو احاديثو کي راغلي دي پر دغسي کرامتونو باندي ايمان فرض دی همدا شان د هغو کرامتونو منل هم ضروري دی چي د اولياء کرامو څخه د اعتمادي راويانو په ذريعه رانقل سوي دي انکاري يې ګمراهي ده د اولياء کرامو څخه بې شمېره کرامتونه رانقل سوي دي تفصيل يې د تاريخ په کتابونو او هغو کتابونو کي وګورئ چي مستقل د اولياء کرامو په کرامتونو کي ليکل سوي دي.

---

[1] صحيح البخاري اول جلد (۵۱۴) مخ، رقم الحديث (۳۶۳۹).

# د قيامت پر علامو باندي ايمان فرض دی

**۱۰۰:- وَنُؤْمِنُ بِأَشْرَاطِ السَّاعَةِ مِنْهَا خُرُوجُ الدَّجَّالِ وَنُزُوْلُ عِيْسَى ابْنِ مَرْيَمَ (عَلَيْهِ السَّلَامُ) مِنَ السَّمَاءِ وَنُؤْمِنُ بِطُلُوْعِ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَخُرُوجِ دَآبَّةِ الْأَرْضِ مِنْ مَوْضِعِهَا.**

ژباړه: موږ د قيامت پر علامو باندي ايمان لرو چي ځيني يې د دجال راوتل دي او د آسمان څخه د عيسٰی علیه‌السلام راکښته کېدل دي او همدا شان موږ د مغرب له طرفه د لمر پر راختلو او د دابة الارض د خپله ځايه څخه پر راوتلو ايمان لرو.

**شرح-** مطلب دا دی چي موږ د قيامت پر ټولو هغو علامو باندي ايمان لرو چي په قرآن کريم او نبوي احاديثو کي راغلي دي د قيامت علامې ډېري دي نبي ﷺ په ګڼ شمېر حديثونو کي بيان کړي دي خو امام طحاوي رحمه‌الله عليه دغه څلور ځکه ذکر کړي دي چي دا ډېر لوی امور او د خلګو د عادت څخه بالکل وتلي دي. دجال په لغت کي لوی درواغجن او د حق او باطل ګډوډ کونکي ته ويل کېږي دلته له دجال څخه مراد هغه خاص کافر دی چي نبي ﷺ په خپلو متواترو احاديثو سره خپل امت ته وروپېژندلی دی د دجال راوتل د قيامت د لويو علامو څخه دي الله تعالی به د بندګانو د ازموينت لپاره د هغه په لاس ډېر حيرانونکي شيان جاري کړي او د خدايي دعوه به وکړي نو له همدغي وجهي څخه د دجال فتنه به ډېره لويه فتنه وي.

نبي ﷺ په يوه حديث کي فرمايلي دي چي دجال به يو قوم ته ورسي او دعوت به ورکړي نو به دوی ايمان ورباندي راوړي او تصديق به يې وکړي نو به دی آسمان ته امر وکړي هغه به باران و اوروي او ځمکي ته به امر وکړي هغه به

نباتات شنه کړي.

نو به د دغو خلګو حیوانات ښه چاغ او ماړه سي او بیا به بل قوم ته ورسي او دعوت به ورکړي خو دا قوم به یې دعوت ور رد کړي نو به پر دوی وچ کالي راسي او هیڅ مال به ورسره نه وي او د یوې خرابي سره به تېرېږي هغې ته به و وایي چي ته دي خپلې ټولي خزانې را وباسه هغه به خپلي ټولي خزانې بهر راوباسي او دا خزانې به د عسلو د مچمچیو په شان په ده پسې وي بیا به یو ځوان سړی را وبولي د توري په وهلو سره به یې دوې ټوټې کړي چي دغه دوې ټوټې به د غشي د ویشتلو په اندازه سره لیري وي وروسته به دغه قتل کړل سوی سړی را وبولي نو به دی هم ورته راسي مخ به یې تازه وي او خندا به کوي[1].

په دغه حدیث کي دا هم راغلي دي چي دجال د شام او عراق په منځ کي راوزي راسته او چپه طرفته به فساد کوي په ځمکه کي د ده د استوګني مده څلوېښت ورځي ده اوله ورځ به یې د کال غوندي، دوهمه ورځ به یې د میاشتي غوندي او دریمه د اونۍ غوندي لویي وي او پاته نوري ورځي به د عادي ورځو په شان وي.

نبي ﷺ په یو بل حدیث کي فرمایلي دي: دجال به په داسي حال کي راووزي چي د ده سره به اوبه او اور وي هغه شی چي خلک یې اوبهویني هغه اور دی سوځل کوي او هغه شی چي خلک یې اور ویني هغه یخي او خوږې اوبه دي نو که چیري له تاسي څخه یو څوک دغه زمانه ونیسي نو دي په هغه شي کي ولوېږي چي دی یې اور ویني ځکه چي هغه خوږې او پاکي اوبه دي[2].

همدا شان نبي ﷺ یوه ورځ د خلګو په منځ کي دجال ذکر کړ نو یې داسي

---

[1] صحیح مسلم، دوهم جلد (۴۰۰) مخ، رقم الحدیث (۷۳۷۳).

[2] صحیح مسلم (۷۳۷۰).

وفرمایل:

إِنَّ اللهَ لَيْسَ بِأَعْوَرَ أَلَا إِنَّ الْمَسِيحَ الدَّجَّالَ أَعْوَرُ الْعَيْنِ الْيُمْنَى كَأَنَّ عَيْنَهُ عِنَبَةٌ طَافِيَةٌ.

يعني- يقيناً الله تعالى ړوند نه دی آگاه و اوسئ چي دجال په راسته ستر گه ړوند دی ستر گه يې د هغې انگور دانې په شان ده چي په خوشه کي تر نورو دانو دباندي راوتلې وي[۱].

او نبيﷺ په يو بل حديث کي داسي فرمايلي دي: هر نبي خپل قوم د ړانده دجال څخه وېرولی دی اگاه و اوسئ يقيناً دجال ړوند دی او يقيناً ستاسي رب جَلَّ جَلَالُهُ ړوند نه دی او د ده د دوو ستر گو په منځ کي (کافر) ليکل سوی دی[۲].

د آسمان څخه د عيسیٰ عليه السلام راکښته کېدل هم په صحيحو احاديثو ثبوت لري خو دلته يو حديث وگورئ. نبيﷺ فرمايلي دي: زما په هغه ذات قسم دی چي زما نفس د ده په (بلاکيفه) يد کښی دی يقيناً نژدې ده چي په تاسي کي به عيسیٰ عليه السلام عادل حاکم راکښته سي د نصرانيانو صليب به مات کړي د خنزير د وژلو امر به وکړي جزيه به پورته کړي (خلگ به اسلام راوړي که چا اسلام رانه وړی هغه به و وژني) او مال به ډېر سي تر داسي اندازې چي هيڅوک به يې نه قبلوي[۳].

په صحيحو احاديثو کي راغلي دي چي د عيسیٰ عليه السلام کار دا هم دی چي په (باب لد) نومي ځای کي به کافر دجال و وژني[۴].

---

[۱] صحيح البخاري (۳۴۳۹).
[۲] صحيح البخاري (۷۱۳۱) ومسلم (۲۹۳۳).
[۳] صحيح البخاري (۲۲۲۲) و مسلم (۱۵۵).
[۴] صحيح مسلم (۷۳۷۳).

او د مغرب څخه لمر راختلو ته په لاندي آيت کي اشاره سوې ده الله تعالی داسي فرمايلي دي:

﴿ يَوْمَ يَأْتِيْ بَعْضُ اٰيٰتِ رَبِّكَ لَا يَنْفَعُ نَفْسًا اِيْمَانُهَا لَمْ تَكُنْ اٰمَنَتْ مِنْ قَبْلُ اَوْ كَسَبَتْ فِيْٓ اِيْمَانِهَا خَيْرًا ﴾. [الانعام: ۱۵۸].

ژباړه: په هغه ورځ چي ستا د رب (د قدرت) ځيني علامې راسي (لمر د مغرب څخه را وخېژي) نو داسي هيڅ نفس ته به د ده ايمان راوړل څه ګټه ونه رسوي چي تردې وړاندي يې نه ايمان راوړی وي او نه يې په خپل ايمان کي د خير کسب کړی وي.

مطلب دا دی چي په دغه وخت کي د توبې دروازه بندېږي. د دغه آيت شريف تفسير په لاندي حديث کي راغلی دی نبي ﷺ فرمايلي دي: قيامت به رانه سي ترڅو چي لمر د مغرب څخه را خېژي نو کله چي (را وخېژي او) خلک يې و ويني نو هغه خلک به ټول ايمان راوړي چي د ځمکي پر مخ باندي وي نو دا به هغه وخت وي چي هيچا ته به د ايمان راوړل ګټه ونه رسوي چي پخوا يې ايمان نه وي راوړی (يعني نبي ﷺ د حديث په آخر کي ذکر سوی آيت تلاوت کړ)[1].

او د دابة الارض په اړوند الله تعالی داسي فرمايلي دي:

﴿ وَاِذَا وَقَعَ الْقَوْلُ عَلَيْهِمْ اَخْرَجْنَا لَهُمْ دَآبَّةً مِّنَ الْاَرْضِ تُكَلِّمُهُمْ اَنَّ النَّاسَ كَانُوْا بِاٰيٰتِنَا لَا يُوْقِنُوْنَ ﴾. [النمل: ۸۲].

ژباړه: او کله چي په کفارو باندي د عذاب خبره واقع سي (قيامت ورته رانژدې سي) نو موږ به دوی (خلکو) ته د ځمکي څخه داسي يوه دابة (ژوندی خوځېدونکی تلونکی) را وباسو چي د دوی سره به خبري کوي چي يقيناً خلک

---

[1] صحيح البخاري (۴۶۳۵) و مسلم (۳۹۶).

وه چي زموږ (د الله ﷻ) په آيتونو باندي يې يقين نه کاوه.

همدا شان نبيﷺ فرمايلي دي: (إِنَّ أَوَّلَ الْآيَاتِ خُرُوجًا طُلُوعُ الشَّمْسِ مِنْ مَغْرِبِهَا وَخُرُوجُ الدَّابَّةِ عَلَى النَّاسِ ضُحًى وَأَيُّهُمَا مَاكَانَتْ قَبْلَ صَاحِبَتِهَا فَالْأُخْرَى عَلَى إِثْرِهَا قَرِيبٌ)[1].

يعني- يقيناً د قيامت له لويو علامو څخه د ظهور د حيثه اول د مغرب څخه د لمر راختل دي او د څاښت په وخت کي په خلکو د دابة الارض راوتل دی نو هره يوه چي په دغو دواړو کي په خپلي ملګري علامي باندي دمخه سوه نو بله ملګري يې ورپسي نژدې ده[2].

حضرت حذيفة بن أسيد ﷺ ويلي دي چي نبيﷺ موږ ته په داسي حال کي راغلی چي موږ مذاکره (يو د بل سره خبري) کولې نو نبيﷺ وفرمايل تاسي د څه شي په اړوند خبري کوئ صحابه کرامو رضی الله عنهم ورته و ويل موږ د قيامت په اړوند خبري کوو نبيﷺ ورته وفرمايل يقيناً قيامت به قائم نه سي ترڅو چي تاسي تر قيامت دمخه لس (۱۰) علامې وينئ وروسته نبيﷺ دغه لس علامې په دا ډول بيان کړې:

۱- د خان (دود) ۲- دجال، ۳- دآبة الارض، ۴- مغرب څخه د لمر راختل- ۵- د آسمان څخه د عيسٰی عليه السلام راکښته کېدل، ۶- ياجوج او ماجوج، ۷- په مشرق کي خسف (په مځکه کي غائبېدل، ۸- په مغرب کي خسف، ۹- په جزيرة العرب کي خسف، ۱۰- اور دی چي د يمن څخه راوزي خلګ محشر ته

---

[1] صحيح مسلم (۲۹۴۱).

[2] د دابة الارض په اړوند تفصيلي معلومات په تفاسيرو کي وګورئ لکه: تفسير ابن کثير دريم جلد (۶۸۳) مخ او تفسير القرطبي (۷) جلد (۲۱۰) مخ.

ورټولوي[1].

د قيامت د رانژدې کېدو علامې نوري هم سته چي په ګڼ شمېر حديثونو کي راغلي دي د قيامت علامې ځيني غټې دي لکه څنګه چي په مخکني حديث کي تاسو ولوستلي او ځيني بيا کوچنی دي په کوچنيو کي بيا ځيني تېري سوي دي او ځيني يې وروسته را رواني دي د دې ټولو تفصيل د تفاسيرو او حديثو په کتابونو او هغو کتابونو کي وګورئ چي مستقل د قيامت په علاماتو کي ليکل سوي دي.

## د کاهن او عراف خبري د منلو نه دي

**۱۰۱:- وَلَا نُصَدِّقُ كَاهِنًا وَلَا عَرَّافًا وَلَامَنْ يَدَّعِي شَيْئًا بِخِلَافِ الْكِتَابِ وَالسُّنَّةِ وَإِجْمَاعِ الْأُمَّةِ.**

ژباړه: موږ د هيڅ يو کاهن عراف او کوډګر تصديق نه کوو (خبري يې نه منو) او نه د هغه چا تصديق کوو چي هغه د يو داسي شي دعوه کوي چي هغه د کتاب، سنت او د امت د اجماع په خلاف وي.

**شرح**- کاهن هغه سړی دی چي د راتلونکو موجوداتو په اړوند خلګو ته خبر ورکوي او دا دعوه کوي چي دی په پټو شيانو خبر دی. عراف بيا هغه کاهن دی چي د څو خاصو مقدماتو تر ترتيب وروسته خلګو ته د غلا سوي ورک سوي يا داسي بل شی د ځای په اړوند معلومات ورکوي او يا دا دعوه کوي چي ده ته پيری سته هغه يې د راتلونکو موجوداتو په اړوند خبروي.

[1] صحيح مسلم (۲۹۰۱).

رمال او منجم هم تر کاهن لاندي دي رمال هغه څوک دی چې د خطونو يا ډبرو په استعمال سره د علم غيب دعوه کوي او منجم هغه څوک دی چې د ستورو په راختلو او لوېدلو سره د علم غيب دعوه کوي او ستورو ته په عالم کې تاثير ثابتوي. دا ټوله د شريعت له مخې مذموم دي پر دغو کسانو او هغه چا باندي چې د دوی تصديق کوي د کفر فيصله سوې ده[1].

حضراتو فقهاؤ پر دغو کسانو باندي د کفر فيصله ځکه کړې ده چې الله تعالیٰ فرمايلي دي:

﴿قُلْ لَّا يَعْلَمُ مَنْ فِي السَّمٰوٰتِ وَالْاَرْضِ الْغَيْبَ اِلَّا اللّٰهُ﴾.[النمل: ۶۵].

ژباړه: ای پيغمبره! و وايه چې هغه کسان کوم چې په آسمانونو او ځمکو کي دي (ټول) په غيبو باندي نه پوهېږي مګر الله ﷻ (ورباندي پوهېږي او بس).

دغسي آيتونه نور هم ډېر دي، نو د ذکر سوو کسانو دعوه د دغسي آيتونو سره معارضه ده.

همدا شان نبي ﷺ فرمايلي دي: (مَنْ أَتَىٰ كَاهِنًا فَصَدَّقَهُ بِمَا يَقُوْلُ فَقَدْ كَفَرَ بِمَا أُنْزِلَ عَلَىٰ مُحَمَّدٍ)[2].

ژباړه: هغه کس چې کاهن ته ورسي او تصديق يې وکړي په هغه څه سره چې دی يې وايي نو دغه کس په هغه څه سره کافر سو چې پر نبي ﷺ نازل کړل سوي دي.

د کاهنانو لپاره دا بس ده چې الله تعالیٰ دوی ډېر دروغجنان بللي دي دا سي يې فرمايلي دي:

---

[1] ردالمحتار دريم جلد (۲۹۷) مخ.
[2] ابوداؤد (۳۹۰۴)، والترمذي (۱۳۵)، وابن ماجه (۶۳۹)، واحمد (۲)، (۴۲۹) وغيرهم.

﴿ هَلۡ أُنَبِّئُكُمۡ عَلَىٰ مَن تَنَزَّلُ ٱلشَّيَٰطِينُ ۝ تَنَزَّلُ عَلَىٰ كُلِّ أَفَّاكٍ أَثِيمٍ ۝ يُلۡقُونَ ٱلسَّمۡعَ وَأَكۡثَرُهُمۡ كَٰذِبُونَ ۝ ﴾.[الشعراء: ۲۲۱-۲۲۳].

ژباړه: آيا موږ تاسو ته په هغه چا باندي خبر درکړو چي شيطانان ورباندي راکښته کېږي شيطانان په هر ډېر دروغجن او ډېر ګنهکار باندي ورکښته کېږي (چي هغه کاهنان دي) او دغه دروغجنان (شيطانانو ته) غوږ ږدي او د دوی اکثريت (د اقوالو د حيثه) دروغجنان دي اکثره خبري يې دروغ دي.

همدا شان په صحيح حديث کي راغلي دي چي خلکو د نبي ﷺ څخه د کاهنانو په اړوند سوال وکړ (چي د دوی خبري د اعتماد وړ دي که نه) نبي ﷺ ورته وفرمايل کاهنان هيڅ شی نه دي (يعني خبري يې د اعتماد وړ نه دي) خلکو و ويل: ای د الله تعالی رسوله! دوی يو وخت د يو داسي شي په اړوند خبر ورکوي چي هغه رښتيا وي نبي ﷺ وفرمايل دغه کلمه د حق څخه ده جني (پېری) يې د ملائکو څخه په تلوار را اخلي بيا يې د خپل دوست (چي کاهن دی) په غوږ کي داسي وراچوي داسي آواز ورته کوي لکه څنګه چي چرګ خپلو ملګرو ته آواز کوي:

(فَيَخْلِطُونَ فِيهَا أَكْثَرَ مِنْ مِائَةِ كَذْبَةٍ)، يعني- نو بيا دغه کاهنان له خپله ځانه دغه د حق په کلمه کي تر سلو ډېر دروغ ګډ کړي[1].

مطلب دا دی چي کاهنان لوی دروغجنان او د شيطانانو پيروان دي کوم مال چي دوی ته ورکول کېږي د امت په اجماع حرام دی دا چي دوی په استقلالي ډول د خپلو ځانو لپاره د علم غيب دعوه کوي او يا دا دعوه کوي چي موږ ته پېريان د پټو شيانو معلومات راوړي ځکه چي هغوی ته علم غيب سته او يا په

---

[1] صحيح البخاري (۶۲۱۳) و مسلم (۵۸۱۷).

ستورو سره د علم غیب دعوه کوي او ستورو ته تاثیر ثابتوي نو دا خلګ بېله شکه کافران دي او کوم کسان چې دغو کاهنانو ته ورځي او تصدیق یې کوي (خبري یې مني) هغه هم کافران دي. اما هغه د غیبو خبري چې انبیاؤ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ کړي دي هغه خو د الله تعالی په اعلام (خبرولو) سره دي، یعني په ښکاره وحي سره دي دا د دوی لپاره معجزه ده او کومي د غیبو خبري چې اولیاء کرامو کړی دی هغه هم د الله تعالی په اطلاع (خبرولو) یعني په الهام سره دي او دا د دوی لپاره کرامت دی دا خبره هم یاد وساتئ چې د اولیاء کرامو کشف د انبیاؤ عَلَيْهِمُ السَّلَامُ تر کشف په رتبه کي کم دی. او که چیري یو څوک د راتلونکو شیانو نسبت یوې عادي علامې ته وکړي په دې معنٰی چې الله تعالٰی دغه فلانی شی د فلاني شي لپاره علامه ګرځولې ده د مثال په ډول یو کس په راتلونکي کي د باران، واوري او بادونو د را الوتلو نسبت د ستورو حرکت ته په دې معنٰی وکړي چې الله تعالٰی د ستورو ځني خاص حرکتونه د دغو کارونو لپاره علامې ګرځولي دي د الله تعالٰی عادت داسي جاري دی چې د دغي علامې تر پیدا کولو وروسته دغه کارونه کوي او دا هم کېدای سي چې الله تعالٰی د یو کار علامه پیدا کړي او هغه کار ونه کړي یعني د دغه کس دا عقیده وي چې د ټولو شیانو خالق الله تعالٰی دی ستوري یې د ځینو حوادثو لپاره علامه ګرځولې ده نو بیا دغه کس په دغه خبره سره نه کافر کېږي خو بیا هم ځینو علماء کرامو ویلي دي چې دغه خبره یې ښه نه ده باید ځیني منعه کړل سي[1].

[1] د دې مسئلې تفصیل په (مجموعة رسائل ابن عابدین) الرسالة (سل الحسام الهندي) او ردالمحتار (۳) جلد (۲۹۷) مخ کي وګورئ.

# موږ د سلفو صالحینو طریقه حق بولو

**۱۰۲:- وَنَرَى الْجَمَاعَةَ حَقًّا وَصَوَابًا وَالْفُرْقَةَ زَيْغًا وَعَذَابًا.**

ژباړه: هغه څه چي مسلمانانو اتفاق ورباندي کړی دی هغه موږ حق او صواب بولو له دوی څخه مخالفت او جلا کېدل بې لاري او عذاب بولو.

**شرح-** مطلب دا دی چي د مسلمانانو لوی جماعت پر کومه لاره باندي تللی دی هغه لاره موږ حق او صواب ګڼو له دغي لاري څخه جلا کېدل ګمراهي او عذاب بولو لکه څنګه چي نبيﷺ فرمايلي دي: (مَنْ فَارَقَ الْجَمَاعَةَ قِيْدَ شِبْرٍ فَقَدْ خَلَعَ رِبْقَةَ الْإِسْلَامِ مِنْ عُنُقِهِ). يعني هغه کس چي د مسلمانانو د جماعت څخه د يوې لوېشتي په اندازه ليري سي نو يې د خپلي غاړي څخه د اسلام کړی ايسته کړه[1].

د دې عقيدې تفصيل په (۷۳) عقيده کي وګورئ خو دلته به دا شی ور بالا کړم چي اختلاف په دوه ډوله دی:

اول:- د فقهاؤ او مجتهدينو اختلاف دی دوی چي په ځينو فروعي مسائلو کي اختلاف کړی دی هغه بالکل حق دی حتّی په ځينو روايتونو کي رحمت بلل سوی دی ځکه چي د دوی اختلاف د دليل پر بناء او حق ته د رسېدو لپاره ؤ او دوی هم د اختلاف اهل وه ځکه چي دوی د فقاهت او اجتهاد خاوندان وه څلورو مشهورو امامانو رحمهم الله چي په ځينو فروعي مسائلو کي کوم اختلاف کړی دی دا د هغه اختلاف فرعه دی چي په صحابه کرامو رضی الله عنهم کي موجود ؤ نو د حضراتو فقهاؤ او مجتهدينو اختلاف بېله شکه حق دی.

---

[1] ابوداؤد (۴۷۵۸) و احمد ۵، (۱۸۰).

دوهم:- د نااهله او بې علمه کسانو اختلاف دی یعنې هغه کسان چې فقهاء او مجتهدین نه وي لکه: معتزله، اهل التشيع، خوارج او تش په نامه اهل حدیث او سلفیان او نوري داسي ګمراه ډلي، امام طحاوي رحمه الله د همدغسي ډلو اختلاف زیغ (ګمراهي) بللې ده ځکه چې د دوی اختلاف پر ضد او تعصب باندي بناء دی دوی د امت تر امامانو رحمهم الله خپل ځانونه اوچت بولي همدغه وجه ده چې دوی د امامانو رحمهم الله تقلید حرام یا شرک بولي حال دا چې دوی په ټوله امت کي نااهله او بې علمه کسان دي دوی بې له اهلیته د خپلو نفسي غوښتنو سره سم د قرآن کریم او احادیثو څخه احکام را اخلي دوی په قطعي ډول خپل ځانونه پر حق بولي او د حق خلګ په قطعي ډول پر باطل بولي همدغه وجه ده چې دوی د امت په اتفاق ګمراهان دي د دغي مسئلې تفصیل زموږ په کتاب (زبدة التحقیق فی الاجتهاد والتقلید) (۱۳۰) مخ کي وګورئ.

## د الله تعالی دین په آسمان او ځمکه کي یو دی

**۱۰۳:- وَ دِيْنُ اللهِ فِي السَّمَاءِ وَالْأَرْضِ وَاحِدٌ وَهُوَ دِيْنُ الْإِسْلَامِ كَمَا قَالَ اللهُ تَعَالٰى - ﴿وَمَنْ يَّبْتَغِ غَيْرَ الْاِسْلَامِ دِيْنًا فَلَنْ يُّقْبَلَ مِنْهُ﴾.** [آل عمران: ۸۵]. وَقَالَ تَعَالٰى - ﴿وَرَضِيْتُ لَكُمُ الْاِسْلَامَ دِيْنًا﴾. [المائدة: ۳].

ژباړه: د الله تعالی دین په آسمان او ځمکه کي یو دی چې هغه د اسلام دین دی لکه څنګه چې الله تعالی فرمایلي دي: او هغه څوک چې د اسلام څخه په غیر بل دین غواړي نو هیڅکله به له ده څخه قبول نه کړل سي) همدا شان الله تعالی فرمایلي دي: او اسلام مي ستاسو لپاره د دین په حیث غوره کړ.

همدا شان الله تعالی فرمايلي دي: ﴿إِنَّ الدِّيْنَ عِنْدَ اللهِ الْإِسْلَامُ﴾.

[ال عمران: ۱۹].

ژباړه: بې شکه د الله ﷻ په نزد غوره دين اسلام دی.

**شرح**- د دين الاسلام حقيقت الله تعالی ته انقياد (غاړه ايښودل) او يوازي د الله تعالی عبادت او طاعت دی همدغه د ټولو ملائکو انبياؤ عليهم السلام او نورو مؤمنانو دين دی ټولو رسولانو عليهم السلام خلکو ته اسلام راوړی دی ځکه چي هر رسول خلګ يوازي د الله تعالی عبادت ته دعوت کړي دي په دې باره کي ګڼ شمېر آيتونه راغلي دي خو کله چي الله تعالی محمد ﷺ نبي کړ نو بيا اسلام يوازي هغه شريعت سو چي محمد ﷺ راوړی دی هر هغه څوک چي د نبي ﷺ پر شريعت باندي ايمان نه لري هغه پر اسلام باندي نه دی نو يهود او نصارٰی که څه هم خپل ځانونه انبياؤ عليهم السلام او د الله تعالی کتابونو تورات او انجيل ته منسوبوي خو بيا هم مسلمانان نه دي ځکه چي دوی د الله تعالی په کتابونو کي تحريف کړی دی بدلون يې په کي راوستلی دی انبياء عليهم السلام يې قتل کړي دي نور يې هم لوی لوی کفري جرمونه کړي دي په دې باره کي صريح آيتونه راغلي دي د دې ټولو سره سره يې د نبي ﷺ د رسالت څخه هم انکار کړی دی د يو چا د کفر لپاره يوازي دغه هم کفايت کوي چي د نبي ﷺ رسالت نه مني نو که چيري يو کس و وايي چي يهود او نصارٰی هم پر صحيح دين دي دغه کس بېله شکه کافر دی دا خبره مي ځکه وکړه چي په اوسنۍ زمانه کي ځيني خلګ وحدة الاديان (د ټولو دينونو يو والي) ته دعوت کوي او دا عقيده لري چي يهود، نصارٰی او مسلمانان ټوله پر صحيح دين دي نو دوی بايد سره يو سي پخپل منځ کي اتحاد سره وکړي د دغي عقيدې خلګ بېله شکه کافران دي ځکه چي د دوی دغه عقيده د صريحو آيتونو سره معارضه ده.

# د اسلام دين يوه ميانه لاره ده

**۱۰۴:- وَهُوَ بَيْنَ الْغُلُوِّ وَالتَّقْصِيْرِ وَبَيْنَ التَّشْبِيْهِ وَالتَّعْطِيْلِ وَبَيْنَ الْجَبْرِ وَالْقَدْرِ وَبَيْنَ الْأَمْنِ وَالْإِيَاسِ.**

ژباړه: دغه د اسلام دين د تجاوز او كوتاهي په منځ كي دى او د تشبيه او تعطيل په منځ كي دى او د جبر او قدر په منځ كي دى او د امن او نااميدى په منځ كي دى.

**شرح**- د متن د مفرداتو تعريفونه:

١- (غلو) تر شرعي حد تجاوز كول.

٢- (تقصير) په شرعي احكامو كي كوتاهي كول.

٣- (تشبيه) الله تعالىٰ په صفاتو كي د مخلوق سره مشابه ګرځول. لكه څنګه چي د مشبهه ډلي دغه مسلک دى.

۴- (تعطيل) د الله تعالىٰ څخه د ده صفات نفي كول. لكه څنګه چي د جهميه او معتزله ډلي دغه مسلک دى.

۵- (جبر) بنده ګان پخپلو كارونو كي مجبور ګڼل. لكه څنګه چي د جبريه ډلي دغه مسلک دى.

۶- (قدر) د الله تعالىٰ د تقدير څخه انكار كول او بنده د خپلو افعالو خالق بلل. دا هم د معتزله ډلي مسلک دى له هم دغي وجهي څخه دوى ته قدريه ويل كيږي.

٧- (امن) د الله تعالىٰ د عذاب څخه ځان په امن كي ګڼل. لكه څنګه چي د

مرجئه ډلي دغه مسلک دی.

۸- (ایاس) د الله تعالی د رحمت څخه نااميده کېدل. لکه څنګه چي د خوارجو او معتزلهؤ دغه مسلک دی، دوی وايي چي يو څوک کبيره ګناه وکړي هغه ته به ضرور الله تعالی عذاب ورکوي او کله چي دوزخ ته داخل سي بيا هيڅکله ورڅخه راوتلای نه سي د دوی دغه فاسده عقيده ګنهګاره مؤمنان د الله تعالی د رحمت څخه نااميده کوي.

مطلب دا دی چي دغه صفات ټول د اسلام له نظره مذموم او مردود دي اسلام د دغو صفاتو په منځ کي يوه داسي مستقيمه او برابره لاره ده چي هيڅ کوږوالی پکښې نسته نوري لاري ټولي يو طرفته کږې دي. اسلام د غلو او تقصير په منځ کي دی په دې معنٰی چي په اسلام کي نه تر حد تجاوز سته لکه څنګه چي نصرانيانو کړی دی عيسٰی عليه السلام يې د الله جل جلاله زوی بللی دی (معاذالله) او نه په اسلام کي تر حد کوتاهي سته لکه څنګه چي يهودو دغه کار کړی دی دوی عيسٰی عليه السلام ولدالزنا بللی دی (معاذالله) مسلمانان وايي چي عيسٰی عليه السلام د الله تعالی بنده او د الله تعالی رسول دی.

او اسلام د تشبيه او تعطيل په منځ کي دی په دې معنٰی چي اسلام د الله تعالی صفات د مخلوق د صفاتو سره مشابه نه بولي او نه د الله تعالی صفات نفي کوي بلکي الله تعالی ته د ده صفات په همغه ډول ثابت بولي لکه څنګه چي د ده د شان سره لائق وي. تفصيل يې په (۲) عقيده کي وګورئ.

او اسلام د جبر او قدر په منځ کي دی په دې معنٰی چي په اسلام کي نه جبر سته او نه قدر اهل سنت والجماعت ټوله شيان د الله جل جلاله په اراده تقدير او خلق سره بولي خو بنده ته هم اختيار او د کسب قدرت ثابت بولي. تفصيل يې په (۷) عقيده کي وګورئ.

او اسلام د امن او اياس په منځ کي دی په دې معنٰی چي نه په اسلام کي د الله تعالٰی د عذاب څخه بې پروا کېدل سته او نه د الله تعالٰی د رحمت څخه نا امیده کېدل سته بلکي اسلام دا وايي چي بنده به د خوف او رجاء په منځ کي وي يعني بنده به د الله تعالٰی د عذاب څخه وېرېږي او هم به د الله تعالٰی رحمت ته امید لري. تفصیل یې په (۶۰) عقیده کي وګورئ. (هوالله الهادی الی سواء السبیل).

## د دې کتاب ټوله عقائد زموږ دین او زموږ عقیده ده

**۱۰۵: – فَهٰذَا دِيْنُنَا وَاعْتِقَادُنَا ظَاهِرًا وَبَاطِنًا وَنَحْنُ بُرَاءُ إِلَى اللهِ تَعَالٰى مِنْ كُلِّ مَنْ خَالَفَ الَّذِيْ ذَكَرْنَاهُ وَبَيَّنَّاهُ.**

ژباړه: همدغه د کتاب د شروع څخه مسائل بیا تر دې ځایه پوري زموږ د اهل سنت والجماعت دین دی او په ظاهر او باطن کي زموږ عقیده ده او موږ الله تعالٰی ته د هر هغه چا څخه بېزاره یو چي د هغه څه مخالفت یې کړی وي چي موږ ذکر او بیان کړه.

**شرح** – مطلب دا دی چي په دغه کتاب کي ذکر سوي عقائد زموږ د اهل سنت والجماعت داسي دین دی چي په هغه سره موږ د الله تعالٰی طاعت او عبادت کوو په زړونو سره عقیده وربانديلرو په ژبو سره اقرار په کوو او په افعالو سره یې تصدیق کوو هر هغه مبتدع چي د دغو عقائدو مخالفت کوي موږ الله تعالٰی ته د هغه څخه بېزاري غواړو ورڅخه لیري کېږو او دښمن یې بولو ځکه چي دا عقائد ټوله د قرآن کریم او د نبيﷺ د احادیثو څخه را اخیستل سوي دي نو د دغو عقائدو څخه مخالفت د کتاب او سنت څخه مخالف دی هر څوک چي د

کتاب یا سنت څخه مخالفت کوي ګمراه دی بېزاري او لیري والی ورڅخه ضروري دی.

## په آخر کي پر ایمان باندي د ثابت پاته کېدو دعاء

وَنَسْأَلُ اللهَ تَعَالَى أَنْ يُثَبِّتَنَا عَلَيْهِ وَيَخْتِمَ لَنَا بِهِ وَيَعْصِمَنَا مِنَ الْأَهْوَاءِ الْمُخْتَلِفَةِ وَالْآرَاءِ الْمُتَفَرِّقَةِ وَالْمَذَاهِبِ الرَّدِيَّةِ كَالْمُشَبِّهَةِ وَالْجَهْمِيَّةِ وَالْجَبْرِيَّةِ وَالْقَدَرِيَّةِ وَغَيْرِهِمْ مِمَّنْ خَالَفَ السُّنَّةَ وَالْجَمَاعَةَ وَاتَّبَعَ الْبِدْعَةَ وَالضَّلَالَةَ وَنَحْنُ مِنْهُمْ بُرَآءُ وَهُمْ عِنْدَنَا ضُلَّالٌ وَأَرْدِيَاءُ- وَاللهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ وَإِلَيْهِ الْمَرْجِعُ وَالْمَآبُ.

ژباړه: موږ د الله تعالی څخه دا سوال کوو چي پر همدغه دین او اعتقاد مو ثابت او دائم ولري او پر دغه دین او اعتقاد زموږ خاتمه وګرځوي او د مختلفو خواهشاتو او متفرقو مفکورو او خرابو مذهبونو څخه موږ وساتي خراب او غلط مذهبونه لکه: د مشبهه، جهمیه، جبریه، قدریه او له دوی څخه ماسوٰی د نورو هغو کسانو مذهبونه چي د نبيﷺ د سنت او د صحابه کرامو رضی الله عنهم د طریقې مخالفت کړی وي او د بدعت او ضلالت پیروي یې کړې وي.

موږ د دغسي باطلو ډلو څخه بېزاره یو او دوی زموږ په نزد ګمراهان او خراب خلګ دي. الله تعالی په صواب باندي ښه عالم دی او خاص الله ﷻ ته رجوع او بیرته ګرځېدل دي.

**شرح**- امام طحاوي رحمه الله خپل کلام پر ذکر سوي دعاء باندي ځکه ختم کړ چي دا یو مهم امر دی بنده دې ته محتاج دی چي الله تعالی هدایت ورته وکړي او پر هدایت او ایمان یې ثابت او دائم ولري او د فاسدو عقائدو او غلطو لارو څخه یې را وګرځوي همدغه وجه ده چي الله تعالی موږ امر کړی یو چي په هر

لمانځه کي به داسي وايو:

﴿ اِهۡدِنَا الصِّرَاطَ الۡمُسۡتَقِيۡمَ ۝ صِرَاطَ الَّذِيۡنَ اَنۡعَمۡتَ عَلَيۡهِمۡ غَيۡرِ الۡمَغۡضُوۡبِ عَلَيۡهِمۡ وَلَا الضَّآلِّيۡنَ ۝ ﴾. [الفاتحة: ۶، ۷].

ژباړه: ای الله ﷻ! موږ ته سمه لاره وښیه، د هغو کسانو لاره چي تا ورباندي انعام کړی دی نه (د هغو بدو کسانو لاره چي) پر هغو باندي غضب کړل سوی او نه (د هغو بدو کسانو لاره چي) ګمراهان دي.

(فَنَسۡأَلُ اللهَ أَنۡ يُّثَبِّتَنَا عَلَى الۡإِسۡلَامِ وَالۡإِيۡمَانِ وَالۡإِعۡتِقَادِ الۡحَقِّ وَيَعۡصِمَنَا مِنۡ جَمِيۡعِ الضَّلَالَاتِ وَالۡفِتَنِ مَاظَهَرَ مِنۡهَا وَمَابَطَنَ). آمين ثم آمين.

## د ګمراه ډلو اړوند لنډ معلومات

کله چي امام طحاوي رحمه الله په ذکر سوي دعاء کي د څو ګمراه ډلو یادونه وکړه نو زه غواړم چي د دغو ډلو په باره کي په مختصر ډول څه ولیکم. نبي ﷺ په مشهور حدیث کي فرمایلي دي: چي زما امت به (په اصولو او عقائدو کي) په درو اویا ډلو باندي و ویشل سي دوی ټوله (د بد اعتقاد له کبله) دوزخ ته د داخلېدو لائق دي مګر یوه ډله چي هغه به د دوزخ څخه خلاصه وي، صحابه کرامو رضی الله عنهم سوال وکړ دغه یوه ډله څوک دي نبي ﷺ وفرمایل دا هغه ډله ده چي زما او زما د صحابه کرامو رضی الله عنهم په لاره باندي روانه وي[1].

هغه ډله چي د نبي ﷺ او صحابه کرامو په لاره باندي روانه وي هغه اهل سنت والجماعت دي همدغه ډله نبي ﷺ پر هدایت بللې ده په اوسنۍ زمانه کي اهل سنت والجماعت د څلورو مشهورو مذاهبو پیروان دي (وبس). هر مسلمان

[1] الترمذي (۲۶۴۱) والحاکم ۱/۱۲۸، والطبراني فی الاوسط ۸/۲۲.

عاقل په دې خبره پوهېږي چي د نبيﷺ په دغه حديث کي په ګمراه او بدو ډلو سره مراد هغه فقهاء نه دي چي دوی په ځينو فروعي مسائلو کي اختلاف سره کړی دی او د دين په اصولو او عقائدو کي سره يو دي ځکه چي د دوی اختلاف خو حق دی د خطاء په صورت کي هم اجر ورکول کېږي د دې موضوع په اړوند په (۱۰۲) عقيده کي بيان تېر سوی دی. بلکي د نبيﷺ مراد هغه ګمراه ډلي دي چي دوی د خپلو نفسي خواهشاتو پر بناء د ځينو شبهاتو له کبله د اهل سنت والجماعت څخه د دين په اصولو او عقائدو کي جلا سوي وي مثال يې همهغه ډلي دي چي امام طحاويرحمه الله يې په دعاء کي ياد ونه کړې ده[1].

نو لکه څنګه چي نبيﷺ پېش ګويي کړې ده هم هغسي په دې امت کي ګمراه ډلي پيدا سوي چي د اهل سنت والجماعت سره په اصولو او عقائدو کي اختلاف لري دا خو يقيني نه ده معلومه چي د دغو ګمراه ډلو شمېر پوره سوی دی که نه لېکن ملا علي القاريرحمه الله د مواقف په حواله ليکلي دي چي د ګمراهانو بنيادي ډلي اووه دي:

۱: معتزله ډله چي دوی بيا په خپل ځان کي (۲۰) ډلي سوي دي.

۲: شيعه ډله چي دوی بيا (۲۲) ډلي سوي دي.

۳: خوارج چي دوی هم (۲۰) ډلي سوي دي.

۴: مرجئه ډله دوی (۵) ډلي سوي دي.

۵: نجاريه ډله دوی درې ډلي سوي دي.

۶: جبريه ډله دوی دغه يوه ډله ده.

۷: مشبهه يا مجسمه ډله دا هم يوه ډله ده.

دا (۷۲) ډلي سوي دا ټولي ډلي د فاسدو عقائدو له کبله په دوزخ کښې دي

[1] د لازياتو معلوماتو لپاره وګورئ (الفرق بين الفرق) (۱۴) مخ.

يوازي يوه ډله د الله تعالی له عذاب څخه خلاصه ده چي هغه اهل سنت والجماعت دي، يعني اهل السنت والجماعت ته د فاسدو عقائدو له كبله عذاب نه ورکول کېږي ځکه چي د دوی ټوله عقائد صحيح دي[1].

په دې امت کي چي نوري داسي ګمراه ډلي پيدا کېږي چي عقائد يې د اهل سنت والجماعت څخه جلا وي هغه به ضرور د دغو ګمراه ډلو سره په څه ناڅه فاسدو عقائدو کي شريکي وي د مثال په ډول تش په نامه اهل حديث او سلفيان يوه ګمراه ډله ده دوی په ځينو عقائدو کي لکه مسلمانانو ته د شرک نسبت کول. د خوارجو سره شريکان دي او په ځينو عقائدو کي بيا لکه الله تعالی ته جسميت ثابتول د الله تعالی صفات د مخلوق د صفاتو سره مشابه بلل. د مشبهه ډلي سره شريکان دي.

د ذکر سوو ګمراه ډلو په اړوند بشپړ معلومات او د دوی عقائد په (الفرق بين الفرق) او (الملل والنحل) کي په تفصيل سره ذکر سوي دي هلته يې مطالعه کړئ.

## د بدعت مسئله

امام طحاوي رحمه الله په ذکر سوي دعاء کي د بدعت يادونه هم کړې ده نو له همدغي وجهي څخه زه غواړم چي د بدعت په اړوند هم يو څه وليکم، نبي ﷺ په ګڼ شمېر حديثونو کي د بدعت څخه منعه کړې ده او ضلالت يې بللی دی خو دلته د مثال په ډول يو حديث شريف وګورئ نبي ﷺ په يوه حديث کي داسي فرمايلي دي:

---

[1] مرقاة اول جلد (۲۴۸) مخ.

(فَإِنَّ خَيْرَ الْحَدِيْثِ كِتَابُ اللهِ وَخَيْرَ الْهَدْيِ هَدْيُ مُحَمَّدٍ وَشَرَّ الْأُمُوْرِ مُحْدَثَاتُهَا وَكُلَّ بِدْعَةٍ ضَلَالَةٌ)[1].

ژباړه: يقيناً په خبرو کي بهتره د الله تعالی کتاب دی او په ښو طريقو او سيرتونو کي بهتره د نبيﷺ طريقه او سيرت دی او په کارونو کي ډېر بد هغه دي چي په دين کي نوي پيدا سوي وي (يعني بدعتونه) او هر بدعت ګمراهي ده.

بدعت په لغت کي هر هغه نوي شي ته ويل کېږي چي د مخه يې مثال نه وي، او د شريعت په اصطلاح کي هغه نوي کار ته ويل کېږي چي د نبيﷺ د سنت مخالف وي يعني چي په دين کي يوه داسي نوې عقيده يا نوی کار را وايستل سي چي د دين د اصولو سره په ټکر کي وي او عبادت وبلل سي. په طريقه محمديه (۳۱) مخ کي د بدعت شرعي معنیٰ داسي بيان سوې ده: (هو الزيادة فی الدين او النقصان منه الحادثان بعد الصحابة بغير اذن من الشارع لاقولا ولافعلا لاصريحا ولااشارة).

يعني- بدعت د شريعت په اصطلاح کي په دين کي زيادت يا تر دين نقصان دی داسي زيادت او نقصان چي د صحابه کرامو رضی الله عنهم تر زمانې وروسته پيدا سوي وي او د شارع عليه السلام له خوا يې هيڅ اجازه نه وي نه قولي نه فعلي او نه صريحي او نه په اشاره سره.

نو نبيﷺ چي په ذکر سوي حديث کي امت د بدعت څخه وېرولی دی او ضلالت يې بللی دی هغه هم دغه په شرعي معنیٰ سره بدعت دی لکه څنګه چي ملا علي القاري رحمة الله عليه د ذکر سوي حديث په شرحه کي ليکلي دي:

---

[1] صحيح مسلم (۸٦٧).

(ای کل بدعة سيئة ضلالة). يعني هر سيئه بدعت ضلالت دی[۱].

سيئه بدعت همهغه په شرعي معنٰی سره بدعت دی چي د مخه يې ذکر وسو.

دغه بدعت په عقيده کي هم کېدای سي لکه د ګمراه ډلو فاسد عقائد دا ډېر خطرناکه بدعت دی حتٰی تر کفر پوري هم رسېدای سي او دغه سيئه بدعت په عمل کي هم کېدای سي هر هغه عمل چي په دين کي نوی پيدا کړل سي او په شريعت کي يې هيڅ اصل نه وي هغه ته عملي بدعت ويل کېږي کوم کس چي په دغه عملي بدعت اخته وي هغه فاسق دی.

اما هغه نوي شيان چي خلګو د دنيوي ژوند لپاره را ايستلی دی لکه: موټر، طياره، تليفون، نوې اسلحې او داسي نور او يا هغه شيان چي خلګو په دين کي نوي را ايستلي وي او په شريعت کي يو اصل ولري د شريعت د اصولو مخالف نه وي لکه موذن خانه ، ديني مدرسې او داسي نور دغسي شيان بدعت دي خو په لغوي معنٰی سره، نه په شرعي معنٰی سره نو نبيﷺ د دغسي شيانو څخه نه منعه کړې ده او نه يې ضلالت بللی دی، ځکه چي نبيﷺ فرمايلي دي: (مَنْ أَحْدَثَ فِي أَمْرِنَا هٰذَا مَالَيْسَ فِيْهِ فَهُوَرَدٌّ)[۲].

ژباړه: کوم کس چي زموږ په دغه دين کي يو داسي شی نوی پيدا کړي چي هغه په دغه دين کي نه وي (يعني د شريعت مخالف وي) نو هغه شی مردود دی.

له دغه حديث څخه په ښکاره ډول معلومېږي چي سيئه او مردود بدعت هغه دی چي يو کس په دين کي يو داسي شی نوی پيدا کړي چي هغه د شريعت

---

[۱] مرقاة اول جلد (۲۱۶) مخ.
[۲] صحيح البخاري (۲۶۹۷).

مخالف وي. نو دا حديث د مخكني حديث (وكل بدعة ضلالة) لپاره تفسير دی نو په هغه حديث كي هم د بدعت څخه دغه سيئه او مردود بدعت مراد دی چي په دغه حديث كي ذكر سوی دی له دغه حديث څخه دا هم معلومېږي چي هغه نوي شيان چي خلگو د دنيوي ژوند لپاره را ايستلي دي او هغه شيان چي خلگو په دين كي نوي را ايستلي وي او د شريعت مخالف نه وي هغه سيئه او مردود بدعات نه دي.

همدا شان نبي ﷺ فرمايلي دي: (مَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً حَسَنَةً فَلَهُ أَجْرُهَا وَأَجْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا بَعْدَهُ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أُجُورِهِمْ شَيْءٌ- وَمَنْ سَنَّ فِي الْإِسْلَامِ سُنَّةً سَيِّئَةً كَانَ عَلَيْهِ وِزْرُهَا وَ وِزْرُ مَنْ عَمِلَ بِهَا مِنْ بَعْدِهِ مِنْ غَيْرِ أَنْ يَنْقُصَ مِنْ أَوْزَارِهِمْ شَيْءٌ)[1].

ژباړه: كوم كس چي په اسلام كي نېكه او ښه طريقه شروع كړي (كه څه هم د دغي طريقې ښه والی په نص سره ثابت نه وي بلكي په استنباط سره ثابت وي، دليل الفالحين اول جلد (۳۷۹) مخ). نو د دغي طريقې اجر او ثواب ده لره دی او د هغه چا د اجر مثل هم ورته سته چي ترده وروسته يې په دغه طريقه عمل كړی وي بېله دې چي د عمل كوونكو د ثوابونو څخه څه شی كم سي او كوم كس چي بيا په اسلام كي بده طريقه شروع كړي نو د دغي طريقې گناه پرده باندي ده او د هغه چا د گناه مثل همورباندي سته چي ترده وروسته يې په دغه طريقه عمل كړی وي بېله دې چي د عمل كونكو د گناهونو څخه څه شی كم سي.

امام نووي رحمه الله د دغه حديث په شرحه كي داسي ليكلي دي:

وفي هذا الحديث تخصيص قوله (صلى الله عليه وسلم) (كل محدثة بدعة وكل بدعة

[1] صحيح مسلم (۲۳۵۱).

ضلالة) وان المراد به المحدثات الباطلة والبدع المذمومة[1].

يعني- کله چي له دغه حديث څخه دا ښکاره ثابته سوه چي ځيني نوي کارونه نېک او ښه کېدای سي نو په دغه حديث کي د نبيﷺ د دې قول چي هر نوی کار بدعت دی او هر بدعت ضلالت دی. تخصيص دی د تخصيص معنٰی دا ده چي د نبيﷺ دغه قول پر خپله عامه معنٰی باندي نه دی پاته ترڅو هر بدعت ضلالت سي بلکي مراد ورڅخه هغه نوي کارونه دي چي باطل وي او هغه بدعتونه دي چي مذموم او بد وي يعني د شريعت په خلاف وي.

## په بدعت کي حسنه (ښه) بدعت سته

دا خبره له خپله ځانه نه کوم چي په بدعت کي حسنه بدعت سته د دې لپاره ډېر دلائل سته خو دلته د بېلګي په ډول يو څو وګورئ:

**اول دليل**:- همهغه د مسلم شريف روايت دی چي موږ لږ دمخه ذکر کړ په هغه روايت کي راغلي دي چي کوم کس په اسلام کي ښه طريقه شروع کړي نو يې ثواب د ده دی او د هغه چا د ثواب مثل هم ورکول کېږي چي تر ده وروسته يې په دغه طريقه عمل کړی وي. امام احمد، بزار، طبراني او ابن ماجه، همدغه حديث ته ورته روايتونه راوړي دي المحدث الفقيه عبدالله الصديق د دغو حديثونو تر ذکر کولو وروسته داسي ويلي دي، له دغو احاديثو څخه په ښکاره ډول معلومېږي چي په بدعت کي هم حسنه سته او هم سيئه- حسنه هغه بدعت دی چي د شريعت د اصولو سره موافق وي دغه حسنه بدعت که څه هم د ده د شخص په اعتبار نوی پيدا دی لېکن د نوعي په اعتبار مشروع دی ځکه چي

[1] صحيح مسلم اول جلد (۳۲۷) مخ.

دغه بدعت د شريعت په يوه قاعده يا د يو آيت يا حديث په عموم کي داخل دی له همدغي وجهي څخه حسنه ورته ويل کېږي او کوم کس چي د دغسي بدعت اساس کښېږدي هغه ته يې تر وفات وروسته هم ثواب جاري دی.

او سيئه بيا هغه بدعت دی چي د شريعت د اصولو سره مخالف وي همدغه بدعت مذموم او ضلالت دی[۱].

**دوهم دليل:** - کله چي حضرت عمر ﷺ په صلاة التراويح کي خلک پر يوه قاري ابي بن کعب ﷺ باندي راټول کړه يعني دی يې ور امام کړ او بله شپه را ووتی خلک يې وليدل چي په يوه قاري پسي لمونځ کوي نو يې داسي وفرمايل: (نِعْمَ الْبِدْعَةُ هٰذِهِ) يعني دا ښه بدعت دی[۲].

د حضرت عمر ﷺ له دغه قول څخه ښکاره معلومېږي چي په بدعت کي ښه بدعت سته.

**دريم دليل:** - کله چي حضرت ابوبکر ﷺ زيد بن ثابت ﷺ ته امر وکړ چي قرآن کريم جمعه کړي نو زيد بن ثابت ﷺ ورته و ويل تاسي څنګه داسي کار کوئ چي هغه نبي ﷺ نه دی کړی، حضرت ابوبکر ﷺ ورته وفرمايل: (هُوَ وَاللهِ خَيْرٌ) يعني په الله جل جلاله قسم دی چي دغه کار خير دی[۳].

د حضرت ابوبکر ﷺ له دغه قول څخه هم ښکاره معلومېږي چي په بدعتونو کي ښه او خير بدعت سته.

**څلورم دليل:** - نبي ﷺ فرمايلي دي: (إِنَّ اللهَ لَا يَجْمَعُ أُمَّتِي عَلَى ضَلَالَةٍ). الترمذي (۲۱۶۷).

---

[۱] محق التقول (۲۴۲) مخ.

[۲] صحيح البخاري اول جلد (۲۶۹) مخ.

[۳] صحيح البخاري دوهم جلد (۷۴۵) مخ.

ژباړه: يقيناً الله تعالی زما امت پر گمراهي باندي نه را ټولوي.

او د حضرت عبدالله بن مسعود ﷛ څخه داسي نقل راغلی دی: (مَارَآهُ الْمُسْلِمُونَ حَسَنًا فَهُوَ عِنْدَاللهِ حَسَنٌ). يعني- هغه شی چي مسلمانان يې ښه وبولي هغه د الله تعالی په نزد ښه دی[1].

له دغسي حديثونو څخه هم دا ښکاره معلومېږي چي ځيني داسي بدعتونه سته چي هغه ضلالت نه بلکي د الله تعالی په نزد ښه دي. اوس نو د هغو بې مذهبه او بې علمه کسانو خبره خوشي افسانه ده چي دوی وايي په بدعت کي حسنه بدعت نسته هر بدعت ضلالت دی.

## د بدعت د تقسيم اړوند د څو علماء کرامو اقوال

۱:- امام شافعي ﷫ ويلي دي: البدعة بدعتان محمودة ومذمومة فماوافق السنة فهو محمود وماخالفها فمذموم.

يعني- بدعت په دوه ډوله دی ښه او بد کوم بدعت چي د سنت سره موافق وي هغه ښه دی او کوم بدعت چي د سنت سره مخالف وي هغه بد دی[2].

۲:- حافظ ابن حجر ﷫ د حضرت عمر ﷛ د دې قول (نِعْمَ الْبِدْعَةُ هٰذِهٖ) په شرحه کي داسي ليکلي دي: (والتحقيق أنها ان كانت مما تندرج تحت مستحسن فی الشرع فهی حسنة وان كانت مما تندرج تحت مستقبح فی الشرع فهی مستقبحة والا فهی

---

[1] مرقاة اول جلد (۲۱۷) مخ.
[2] رواه ابونعيم فی الحلية ۹/ ۱۱۳.

من قسم المباح وقد تنقسم الى الاحكام الخمسة)[۱].

ژباړه: تحقيق دا دی که چيري دغه بدعت په دا ډول وو چې تر يو داسي شي لاندي کېدی چې هغه په شريعت کي ښه ؤ نو دغه بدعت ښه دی او که چيري په دا ډول بدعت وو چي تر يو داسي شي لاندي کېدی چي هغه په شريعت کي بد وو نو دغه بدعت بد دی او که چيري دغسي يو ډول هم نه وو نو بيا د مباح د قسمه څخه دی او بدعت پنځه احکامو ته هم وېشل کېږي.

۳:- قاضي أبوبکر ابن العربي رحمة الله عليه د نبي ﷺ د دې قول (إِيَّاكُمْ وَمُحْدَثَاتِ الْأُمُوْرِ) په شرحه کي ليکلي دي: يقيناً محدث يعني بدعت په دوه ډوله دی يو هغه سي بدعت دی چي د شهوت او ارادې پر مقتضٰی کېږي او په شريعت کي هيڅ اصل نه لري دا بدعت په قطعي ډول باطل دی او بل بيا هغه سي بدعت دی چي يو نظير او مثال پر بل نظير او مثال باندي چي په شريعت کي ثابت وي حمل کړل سي دغسي بدعت د خلفاؤ رضی الله عنهم او امامانو رحمة الله عليهم سنت دی. يعني دا ښه بدعت دی[۲].

۴:- امام نووي رحمة الله عليه په (تهذيب الاسماء واللغات) کي داسي ليکلي دي.

البدعة إحداث مالم يکن فی عهد رسول الله ﷺ وهي منقسمة إلى حسنة وقبيحة[۳].

ژباړه: بدعت د داسي يو شي پيدا کول دي چي د نبي ﷺ په زمانه کي نه ؤ دغه بدعت ښه او بد ته تقسمېږي.

۵:- امام ابن الأثير رحمة الله عليه ويلي دي: بدعت په دوه ډله دی يو د هدايت بدعت

---

[۱] فتح الباري (۴) جلد (۳۲۱) مخ.
[۲] عارضة الاحوذي/ ۱۰- ۱۴۶، ۱۴۷.
[۳] محق التقول (۲۱۸) مخ.

او بل د ضلالت بدعت دی، هغه بدعت چې هغه د الله تعالی او د الله تعالی د رسولﷺ د امر په خلاف وي هغه مذموم او باطل بدعت دی او هغه بدعت چې هغه د یو داسي شي تر عموم لاندي وي چې هغه الله تعالی ښه بللی وي الله تعالی یا د الله تعالی رسولﷺ خلګ ورته ترغیب کړي وي دغسي بدعت ممدوح او ښه دی(۱).

په بدعت کي تقسیم یوه ښکاره او روښانه خبره ده انکار یې حماقت دی ځکه چې مسلمانانو په دین کي د دین د حفاظت او ترقي لپاره ډېر داسي نوي شیان را ایستلي دي چې د نبيﷺ په زمانه کي نه وه د مثال په ډول:

۱- مدرسې جوړول، ۲- دننه په مدرسو کي درجې جوړول، ۳- موذن خانې جوړول، ۴- د کتابونو تصنیف کول، ۵- د ګمراه ډلو د رد لپاره دلائل تنظیمول. اوس به نو پر دغسي شیانو څوک د سیئه بدعت فیصله وکړي زه خو فکر نه کوم چې یو عاقل انسان به دغه جرئت وکړي.

## د بدعت اقسام

حضراتو فقهاؤ ویلي دي چې بدعت پنځه قسمه دی:

۱- واجب، ۲- حرام، ۳: مندوب، ۴- مکروه، ۵- مباح.

د دغو اقسامو د پېژندلو طریقه دا ده چې بدعت د شریعت پر اصولو او قواعدو باندي عرض کړل سي که چیري د ایجاب تر قواعدو لاندي کېدی واجب دی که د تحریم تر قواعدو لاندي کېدی حرام دی که د مندوب تر قواعدو لاندي کېدی مندوب دی که د مکروه تر قواعدو لاندي کېدی مکروه دی او که د مباح تر قواعدو لاندي کېدی مباح دی.

(۱) النهایة اول جلد (۱۱۲) مخ.

**د واجب بدعت مثال**- د قرآن کريم او نبوي احاديثو د فهم لپاره علم صرف او علم نحو زده کول. او پر ګمراه ډلو باندي رد کول، او د فقهې او عقائدو اصول ليکل.

**د حرام بدعت مثال**- د ګمراه ډلو لکه قدريه، جبريه او داسي نورو مذاهب.

**د مندوب بدعت مثال**- مدرسې او موذن خانې جوړول او هر هغه د خير کار چي د نبي ﷺ تر زمانې وروسته خلګو شروع کړی وي.

**د مکروه بدعت مثال**- مساجد ښايسته کول دغه کار د امام شافعي رحمة الله عليه پر مذهب باندي مکروه دی اما احناف يې مباح بولي.

**د مباح بدعت مثال**- د ژوند په چارو کي نوي شيان د شريعت په چوکاټ کي استعمالول.

د بدعت تقسيم دغو پنځو اقسامو ته په لاندي کتابونو کي زما تر نظر تېر سوی دی.

۱: فتح الباري (۴) جلد (۳۲۱) مخ. ۲: ارشاد الساري (۴) جلد (۱۲۰) مخ. ۳: شرح صحيح مسلم للنووي رحمة الله عليه صحيح مسلم اول جلد (۲۸۵) مخ. ۴: مرقاة اول جلد (۲۱۶) مخ. ۵: اشعة اللمعات اول جلد (۱۳۵) مخ. ۶: ردالمحتار اول جلد (۳۷۶) مخ. ۷: (طريقه محمديه) اول جزء (۳۰) مخ. ۸: (محق التقول) (۲۱۸) مخ. الحاوي للفتاوی[۱] (۲۰۲) مخ، ۹: الفتاوی الحديثية (۲۰۳) مخ.

## سوال او جواب

**سوال**:- لږ د مخه په حديث شريف کي دا خبره تېره سوه چي هر بدعت ضلالت دی نو بيا څرنګه حضراتو فقهاؤ په بدعت کي واجب مندوب او مباح پيدا کړي دي.

**جواب**: د بدعت د مسئلې په شروع کې مو دا خبره ثابته کړه چې په هغه حديث کې له بدعت څخه مراد سيئه بدعت دی يعني هغه بدعت چې د شريعت د اصولو مخالف وي دغه ډول بدعت ته شرعي بدعت ويل کېږي دغه بدعت د نبيﷺ د قول سره مطابق سراسر ضلالت دی هيڅ يو عالم په دغه بدعت کې حسنه بدعت نه پيدا کوي او نه يې واجب مندوب او مباح ته تقسيموي اما کوم بدعت چې حضراتو فقهاؤ حسنه او سيئه بدعت ته تقسيم کړی دی يا يې واجب مندوب او مباح پکښې پيدا کړی دی هغه شرعي بدعت نه بلکې لغوي بدعت دی لغوي بدعت تر شرعي بدعت عام دی ځکه چې بدعت په لغت کې هر هغه نوي شي ته ويل کېږي چې دمخه يې مثال نه وي له دغه عام بدعت څخه نه نبيﷺ منعه کړې ده او نه يې ضلالت بللی دی[1].

مطلب دا دی چې حضراتو فقهاؤ کوم شي ته واجب يا حسنه بدعت ويلی دی هغه ضرور په شريعت کې يو اصل لري ښکاره يا پټ کوم نوی شی چې په شريعت کې اصل ولري هغه شرعي بدعت نه دی، حافظ ابن رجب حنبلي رحمه الله د نبيﷺ د دې قول (كل بدعة ضلالة) په شرحه کې داسې ليکلي دي: (والمراد بالبدعة ما أحدث مما لاأصل له فى الشريعة يدل عليه فاماماكان له أصل من الشرع يدل عليه فليس ببدعة شرعا وان كان بدعة لغة).

**يعني**- په حديث کې د بدعت څخه مراد په دين کې هغه نوی پيدا سوی شی دی چې په شريعت کې ورته هيڅ يو داسې اصل نه وي چې دلالت ورباندې وکړي اما هغه نوی شی چې د شريعت څخه يو داسې اصل ورته وي چې دلالت

[1] طريقه محمديه/ اول جزء (۲۹) مخ، احسن الكلام فى البدعة والسنة (۲۰۵) مخ.

وربانديكوي هغه شرعي بدعت نه دى كه څه هم لغوي بدعت دى[1].

همدا شان يې ځو كرښي وروسته په دغه صفحه كي داسي عبارت ليكلى دى:

(واماما وقع فى كلام السلف من استحسان بعض البدع فانما ذلك فى البدع اللغوية لاالشرعية).

يعني- اما هغه څه چي د سلفو په كلام كي راغلي دي چي ځيني بدعتونه يې ښه بللي دي هغه په لغوي بدعتونه كي دي نه په شرعي بدعتونو كي.

وروسته حافظ ابن رجب رحمة الله عليه د لغوي بدعتونو ځو هغه مثالونه ذكر كړي دي چي صحابه كرامو رضى الله عنهم ښه بللي دي او عمل يې په كړى دى[2].

نو هغه نوي شيان چي سلفو صالحينو او فقهاؤ ښه بدعتونه بللي دي هغه يوازي په لغوي معنٰى سره بدعتونه دي په حقيقت كي بدعتونه نه دي ځكه چي دا ټوله په شريعت كي اصل لري له همدغي وجهي ځخه ځيني علماء كرام لكه امام رباني رحمة الله عليه پر دغسي شيانو باندي د بدعت اطلاق نه كوي بدعت يې نه بولي بلكي په سنت كي يې داخل بولي امام رباني رحمة الله عليه پخپل مكتوبات اول جلد (۱۸۶) مكتوب كي ليكلي دي: ماته په هيڅ بدعت كي حسن او نورانيت نه معلومېږي. د امام رباني رحمة الله عليه دغه خبره وهابيانو اخيستې ده او د دې لپاره يې دليل ګرځولې ده چي په بدعت كي حسنه بدعت نسته د دوى دغه استدلال غلط دى ځكه چي د امام رباني د ذكر سوي خبري په شرحه كي د مكتوبات محشي داسي ليكلي دي د امام رباني رحمة الله عليه دا قول چي په بدعت كي حسن نسته د مخكنيو علماء كرامو د دې قول سره چي بدعت يې حسنه او سيئه بدعت

---

[1] جامع العلوم والحكم (۳۱۰) مخ.

[2] د تفصيل لپاره وګورئ جامع العلوم والحكم (۳۱۰) مخ الى (۳۱۳).

ته تقسيم کړی دی مخالف نه دی ځکه چي هغه بدعت چي علماء کرام یې حسنه بولي یعني چي په شریعت کي اصل لري هغه امام رباني رحمة الله علیه په سنت کي داخل بولي نو دغسي کار د ده په آند هم ښېله شکه مشروع دی د دوی ترمنځ یوازي دا فرق سته چي مخکني علماء کرام د لغوي بدعت اطلاق ورباندي کوي او امام رباني رحمة الله علیه یې د سره بدعت نه بولي د دې خبري د تفصیل لپاره د ذکر سوي مکتوب پر هامش باندي لیکل سوې حاشیه وګورئ. د محشي جواب مي ځکه رانقل کړ چي د یو کتاب محشي تر ډېر غور او څېړني وروسته د کتاب د تشریح په اړوند یو څه لیکي که نه نو زما په فکر کي یو بل جواب ؤ چي هغه ماته ښه ښکاریدی. (وَاللهُ أَعْلَمُ بِالصَّوَابِ).

## هر هغه فعل چي نبي ﷺ نه وي کړی وهابیان یې بدعت بولي

لږ دمخه تاسو د امت د لویو علماؤ او فقهاؤ دا خبره ولوستله چي په دین کي هغه نوی شی چي هغه د شرعي اصولو مخالف وي مردود او سیئه بدعت دی نبي ﷺ همدغه بدعت ضلالت بللی دی، او هغه نوی شی چي هغه د شرعي اصولو مخالف نه وي په شریعت کي یو اصل ولري که څه هم پټ اصل وي دغسي شی سیئه بدعت نه بلکي حسنه بدعت دی د بدعت اطلاق یوازي د لغوي معنٰی په اعتبار ورباندي کېږي په دغه خبره کي هیڅ یو اعتمادي عالم اختلاف نه لري لېکن په امت کي ځیني بې علمه او بې مذهبه کسان سته چي په بدعت کي حسنه بدعت نه مني دوی وایي هر هغه فعل چي نبي ﷺ نه وي کړی وروسته خلګو پیدا کړی وي هغه سیئه بدعت دی که څه هم صحابه کرامو رضی الله عنهم پیدا کړي وي دغه بې ادبه خلګ چي د خوارجو له نسل څخه دي صحابه کرامو رضی الله عنهم ته هم د بدعت او ضلالت نسبت کوي په دوی کي

معتدل كسان داسي وايي كوم فعل چي نبيﷺ او صحابه كرامو نه وي كړی هغه بدعت او ضلالت دی نور يې نو دې ته نه ګوري چي دغه فعل د شريعت تر اصولو لاندي دی كه نه دغه بې علمه او بې مذهبه خلګ د بدعت كلمه خورا ډېره استعمالوي حتٰی يو داسي شی چي هغه د دوی د طبيعت په خلاف وي هغه ته هم بدعت وايي پر كوم شي باندي چي دوی د بدعت فيصله وكړي عمده دليل يې دا وي چي دا كار نبيﷺ نه دی كړی يا دا كار نه نبيﷺ كړی دی او نه سلفو صالحينو كړی دی د دوی دغه استدلال سراسر غلط دی ځكه چي دا يوه داسي خبره ده چي دوی علم نه وربانديلري دا علم دوی ته د كومه ځايه حاصل سو چي دغه فلانی كار په سلفو صالحينو كي هيچا نه دی كړی آيا د سلفو صالحينو په ټولو كارونو دوی خبر دي دا چي دوی د يو شي په اړوند علم نه لري دا ورڅخه نه لازمېږي چي دغه شی په واقع كي هم نسته او بله خبره دا ده چي نبيﷺ يو كار نه وي كړی پرېښی يې وي دا د دې دليل نه سي كېدای چي دغه كار حرام دی ځكه چي د نبيﷺ ترک (د يو كار پرېښودل) يوازي د تحريم له وجهي نه دی بلكي د نورو وجوهو احتمال هم لري اوس د مثال په ډول يو څو وګورئ:

۱:- كېدای سي چي نبيﷺ يو كار له دې وېري څخه پرې ايښی وي چي د ده پر امت به فرض كړل سي لكه څنګه چي يې صلاة التراويح په جماعت سره پرې ايښي دي[۱].

همدا شان عائشې رضي الله عنها ويلي دي: (يقيناً نبيﷺ داسي ؤ چي يو عمل به يې په داسي حال كي پرېښو وی چي د ده به خوښه وه چي دغه عمل وكړي خو له دې وجهي به يې پرېښووی چي خلګ به عمل په وكړي نو به وربانديفرض كړل

[۱]صحيح البخاري (١١٢٩).

سي[۱].

۲:- کېدای سي چي نبيﷺ یو شی د خپل عادت او طبیعت له مخي پرېږ ایښی وي.

خالد بن الولید رضي الله عنه ویلي دي چي نبيﷺ ته بریان سوی ضب (سمساره) راوړل سوه نو نبيﷺ د خوراک لپاره خپل مبارک لاس ور اوږد کړ (د یو چا له طرفه) ورته و ویل سوه چي دا سمساره ده نو نبيﷺ خپل مبارک لاس ځني را ایسته کړ حضرت خالد رضي الله عنه ورته و ویل آیا دغه ضب حرام دی نبيﷺ ورته وفرمایل: (لَا وَلَكِنَّهُ لَا يَكُونُ بِأَرْضِ قَوْمِي فَأَجِدُنِي أَعَافُهُ).

یعني- نه (حرام نه دی) لېکن زما د قوم په ځمکه کي نسته نو زه یې د خپل طبیعت له مخي بد بولم[۲].

۳:- کېدای سي چي نبيﷺ یو شی له دې وېري څخه پرېږ ایښی وي چي د ځینو صحابه کرامو په زړونو کي به تغیر راسي لکه څنګه چي یې د کعبې شریفي نړول او د ابراهیم علیه السلام پر اساس باندي بیرته جوړول پرېږ ایښي دي[۳].

۴:- کېدای سي چي نبيﷺ ځیني کارونه له دې وجهي څخه پرېږ ایښي وي چي مباح وي کول او نه کول یې یو شان وي دا خبره به هیڅ یو عاقل ونه کړي چي نبيﷺ ټول له مباح کارونه کړي دي نو کوم شی چي یې پرېږ ایښی دی هغه حرام دی.

د ذکر سوي بیان څخه دا ښکاره معلومېږي چي کوم شی چي نبيﷺ پرېږ ایښی وي کېدای سي چي هغه مباح مستحب یا مسنون وي نو دا خبره ثابته سوه

---

(۱) صحیح البخاري (۱۱۲۸).
(۲) صحیح البخاري (۵۴۰۰).
(۳) صحیح البخاري (۱۵۸۳).

چي د نبيﷺ ترک (د يو کار پرېښوول) د دغه کار پر حراموالي باندي دلالت نه کوي. شيخ عبدالله الصديق رحمه الله ويلي دي:

(والترك وحده إن لم يصحبه نص على ان المتروك محضور لايكون حجة في ذلك بل غايته ان يفيد أن ترك ذلك الفعل مشروع و أماأن ذلك الفعل المتروك يكون محظورا فهذا لايستفاد من الترك وحده وإنما يستفادمن دليل يدل عليه)[1].

يعني- دا چي نبيﷺ يو کار نه وي کړی پرې ايښی يې وي يا سلفو صالحينو يو کار نه وي کړی پرې ايښی يې وي که چيري د دغو پرېښوولو سره داسي يو دليل نه وو ملگرى چي د پرېښول سوى شي حرام والى په ثابت سي نو يوازي دغه پرېښوول د پرېښوول سوي شي پر حرام والي حجت نه دى بلکي د دغو پرېښوولو نهايي اثر دا دى چي دا خبره ورڅخه معلومه سي چي د دغه پرېښوول سوي فعل پرېښوول مشروع دي اما دا چي دغه پرېښوول سوى فعل حرام يا مکروه دى دا يوازي د پرېښوولو څخه نه را اخيستل کېږي د يو شي حرام والى يوازي له يو داسي دليل څخه را اخيستل کېږي چي هغه د دغه شي پر حرام والي دلالت کوي[2].

اوس نو دا خبره ښه روښانه ثابته سوه چي د بې مذهبه خلگو دا وينا چي فلانى کار ځکه بدعت دى چي نه نبيﷺ کړى دى او نه سلفو صالحينو کړى دى سراسر غلطه ده حقه خبره دا ده چي خلگو کوم کار په دين کي نوى را ايستلى وي هغه بايد د شريعت له اصولو سره وکتل سي که چيري ورسره مخالف ؤ نو

---

[1] محق التقول (۲۵۴) مخ.
[2] د دې موضوع تفصيل په (محق التقول) (۲۵۰) مخ کي تر (۲۵۶) مخ پوري وگورئ.

دغه کار بېله شکه سیئه بدعت او ضلالت دی او که چیري ورسره مخالف نه ؤ د شریعت د اصولو څخه تر یو اصل لاندي کېدی نو بیا دغه کار حسنه بدعت دی که څه هم په سلفو صالحینو کي نه وي، دا خبره هم یاد وساتئ چي پر یو کار باندي دا فیصله کول چي دا د شرعي اصولو په خلاف دی د هر بې علمه او ناپوه سړي کار نه دی دا فیصله به هغه څوک کوي چي د شریعت په اصولو ښه پوه وي کوم کس چي د شریعت په اصولو نه پوهېږي هغه به دا فیصله څرنګه وکړي چي دغه فلانی کار د شرعي اصولو په خلاف دی، نو په دغه فیصله کي به د امت د لویو علماؤ اقوالو ته رجوع کېږي (هُوَ اللهُ الْمُوَفِّقُ) .

هٰذَا آخِرُ مَاأَرَدْتُ إِيْرَادَهُ فِيْ شَرْحِ الْعَقِيْدَةِ الطَّحَاوِيَّةِ وَلِلّٰهِ الْحَمْدُ وَالْمِنَّةُ وَصَلَّى اللهُ وَسَلَّمَ وَبَارَكَ عَلٰى نَبِيِّنَا مُحَمَّدٍ خَيْرِ الْبَرِيَّةِ وَعَلٰى آلِهِ وَأَصْحَابِهِ وَعَلٰى مَنْ تَبِعَهُمْ بِإِحْسَانٍ إِلٰى يَوْمِ الْقِيَامَةِ.

خادم الأحادیث النبویة مولوي محمد (محمدي) کان الله له، وقت الفراغ یوم الجمعة تاسع رمضان المبارک سنه ۱۴۳۶ هـ ق

# د شرحي مراجع


۱: القرآن الكريم

۲: صحيح البخاري للامام ابي عبدالله محمد بن اسماعيل البخاري رحمه الله.

۳: صحيح مسلم للامام ابي الحسين مسلم بن الحجاج القشيري رحمه الله.

۴: سنن ابي داؤد للامام الحافظ ابي داؤد سليمان السجستاني رحمه الله.

۵: سنن نسائي للامام الحافظ ابن عبدالرحمن النسائي رحمه الله.

٦: جامع الترمذي للامام الحافظ ابي عيسیٰ الترمذي رحمه الله.

۷: سنن ابن ماجه للامام الحافظ ابي عبدالله بن ماجه القزويني رحمه الله.

۸: مسند الامام المجتهد المحدث ابي عبدالله احمد بن حنبل رحمه الله.

۹: المستدرك على الصحيحين للامام الحافظ ابي عبدالله الحاكم النيسابوري رحمه الله.

۱۰: مجمع الزوائد للحافظ نورالدين علي بن ابي بكر الهيثمي رحمه الله.

۱۱: كنزل العمال/ للعلامة علاءالدين على المتقى بن حسام الدين الهندي البرهان فوري رحمه الله.

۱۲: المعاجم/ للامام الطبراني رحمه الله.

۱۳: مشكوة المصابيح للامام ولي الدين الخطيب التبريزي رحمه الله.

۱۴: عمدة القاري شرح صحيح البخاري للامام العلامة بدرالدين ابي محمد محمود العيني رحمه الله.

۱۵: فتح الباري شرح صحيح البخاري للامام الحافظ احمد بن علي بن حجر العسقلاني رحمه الله.

۱٦: ارشاد السارى شرح صحيح البخاري لأبي العباس أحمد القسطلاني رحمه الله.

۱۷: شرح ابن بطال/ للعلامة علي بن خلف بن عبدالملك بن بطال البكري القرطبي رحمه الله.

۱۸: شرح الكرماني/ للامام شمس الدين محمد بن يوسف الكرماني رحمه الله.

۱۹: فيض الباري للمحدث الكبيرالفقيه محمد انور كشميري رحمه الله.

۲۰: تكملة فتح الملهم بشرح صحيح الامام مسلم تأليف محمد تقي العثماني رحمه الله.

۲۱: شرح صحيح مسلم للامام النووي رحمه الله.

۲۲: معارف السنن شرح جامع الترمذي تأليف الشيخ محمد يوسف البنوري رحمه الله.

۲۳: مرقاة المفاتيح شرح مشكوة المصابيح للمحدث الشهير علي بن سلطان القاري رحمه الله.

۲۴: اشعة اللمعات تأليف شيخ عبدالحق محدث دهلوي رحمه الله.

۲۵: تفسيرالجلالين للامامين الهمامين جلال الدين المحلي وجلال الدين السيوطي رحمهما الله .

۲۶: تفسير القرآن الكريم لمولانا محمودحسن والعلامة شبيراحمد العثماني رحمهما الله .

۲۷: روح المعاني للعلامة الألوسي البغدادي رحمه الله.

۲۸: الجامع لاحكام القرآن لأبي عبدالله محمد بن احمد القرطبي رحمه الله.

۲۹: انوار التنزيل واسرار التأويل للامام القاضي ناصرالدين البيضاوي رحمه الله.

۳۰: تفسير النسفي تأليف أبي البركات عبدالله بن أحمد بن محمود النسفي رحمه الله.

۳۱: تفسير القرآن العظيم للامام الحافظ أبي الفداء اسماعيل بن كثير رحمه الله.

۳۲: رد المحتار علي الدرالمختار للعلامة الفقيه ابن عابدين رحمه الله.

۳۳: حاشية الطحطاوي على الدرالمختار تأليف العلامة السيدأحمدالطحطاوي الحنفي رحمه الله.

۳۴: الأشباه والنظائر تأليف العلامة زين الدين بن ابراهيم بن نجيم رحمه الله.

۳۵: شرح الحموي علي الأشباه والنظائر للعلامة أحمد بن محمد الحموي المصري رحمه الله.

۳۶: فتح باب العناية للامام الفقيه الملا علي القاري رحمه الله.

۳۷: مجموعة رسائل العلامة الملا علي القاري رحمه الله.

۳۸: مجموعة رسائل ابن عابدين رحمه الله.

۳۹: مجموعة رسائل اللكنوي للشيخ المحدث محمد عبدالحى اللكنوي رحمه الله.

۴۰: شرح مختصرالطحاوي للامام ابي بكرالرازي الجصاص رحمه الله.

۴۱: الفتاوى الحديثية تأليف شيخ الاسلام احمدبن محمدبن علي بن حجر الهيتمي رحمه الله.

۴۲: الحاوي للفتاوى- للامام السيوطي رحمه الله.

۴۳: دليل الفالحين- تأليف محمد بن علان الصديقي الشافعي رحمه الله.

۴۴: جامع العلوم والحكم- تأليف الامام الحافظ ابن رجب الحنبلي رحمه الله.

۴۵: النهاية- للامام مجدالدين أبى السعادات ابن الأثير رحمه الله.

۴۶: التذكرة- للامام الحافظ ابي عبدالله محمد بن احمد القرطبي رحمه الله.

۴۷: ارشاد الساري الى مناسك الملا علي القاري رحمه الله.

۴۸: طريقه محمديه- تأليف المولوي محمد بن بيرعلي المعروف ببر كلى رحمه الله.

۴۹: شرح الصدور- تأليف جلال الدين عبدالرحمٰن السيوطي رحمه الله.

۵۰: الرفع والتكميل- للامام أبي الحسنات محمد عبدالحي اللكنوي رحمه الله.

۵۱: تاريخ الخلفاء للامام جلال الدين عبدالرحمٰن السيوطي رحمة الله عليه.
۵۲: شفاءالسقام- تأليف الامام تقي الدين السبكي الشافعي رحمة الله عليه.
۵۳: الملل والنحل للامام أبي الفتح محمد بن عبدالكريم الشهرستاني رحمة الله عليه.
۵۴: الفرق بين الفرق- تأليف الامام عبدالقاهر بن طاهر بن محمد البغدادي رحمة الله عليه.
۵۵: شرح كتاب الفقه الأكبر- للامام الملا علي القاري الحنفي رحمة الله عليه.
۵٦: شرح العقائد- للعلامة سعدالملة والدين التفتازاني رحمة الله عليه.
۵۷: الخيالي على شرح العقائد النسفية- لمولانا الخيالي رحمة الله عليه.
۵۸: النبراس علي شرح العقائد- لمولانا الحافظ محمد عبدالعزيز رحمة الله عليه.
۵۹: المسامرة- لكمال الدين محمد بن محمد بن ابي بكر بن علي بن ابي شريف رحمة الله عليه.
٦۰: المعتمد فى المعتقد- لمولانا ابي عبدالله فضل الله التوربشتى رحمة الله عليه.
٦۱: شرح العقيدة الطحاوية- تأليف علي بن علي بن محمد بن ابي العز رحمة الله عليه.
٦۲: شرح العقيدة الطحاوية-تأليف العلامة الفقيه المحقق عبدالغني الغنيمي الميداني الحنفي رحمة الله عليه.
٦۳: شرح العقيدة الطحاوية- تأليف فضيلة الشيخ عبدالرحمٰن بن ناصر البراك رحمة الله عليه.
٦۴: مقالات الكوثري- للشيخ محمدزاهد الكوثري رحمة الله عليه.
٦۵: تأنيب الخطيب- ايضاً للشيخ محمد زاهد الكوثري رحمة الله عليه.
٦٦: محق التقول- ايضاً للشيخ محمد زاهد الكوثري رحمة الله عليه.
٦۷: كلمة علمية هادية فى البدعة وأحكامها- تأليف وهبى سليمان غاوجي رحمة الله عليه.
٦۸: حول التوسل والاستغاثة- للعالم العابد الفقيه المحدث محمد عابد السندي رحمة الله عليه.
٦۹: جلاء الأفهام- لابن القيم الجوزية رحمة الله عليه.
۷۰: البصائر- لمولانا حمدلله جان الداجوي رحمة الله عليه.
۷۱: المهند علي المفند- تأليف مولانا خليل احمد صاحب سهارنپوري رحمة الله عليه.
۷۲: اليواقيت والجواهر- تأليف الشيخ عبدالوهاب بن أحمد بن علي الشعراني الحنفي رحمة الله عليه.
۷۳: التفسير الكبير/ للامام الهمام المناظر الكبير الفخر الرازي رحمة الله عليه.
۷۴: تفسير المظهري/ للقاضى ثناءالله فاني فتي رحمة الله عليه.
۷۵: صفوة التفاسير- تأليف العلامة محمد علي الصابوني رحمة الله عليه.
۷٦: تفسير عزيزي/ للامام المفسر المحدث عبدالعزيز بن الامام ولي الله الدهلوي رحمة الله عليه.
۷۷: الفتاوى الخيرية- لشيخ الاسلام والمسلمين مولانا خيرالدين الرملي رحمة الله عليه.

۷۸: فتاوى حقانية/ للشيخ مولانا عبدالحق صاحب رحمة الله عليه.

۷۹: رياض الصالحين- تأليف الامام أبي زكريا يحيٰى بن شرف النووي رحمة الله عليه.

۸۰: حجة الله البالغة- للامام المحدث الكبيرشاه ولي الله الدهلوي رحمة الله عليه.

۸۱: الكوثر البخاري- تأليف العارف بالله المفسر المحدث محمد شريف الله مولويانوي رحمة الله عليه.

۸۲: نورالانوار- لمولانا الحافظ احمد بن ابي سعيد رحمة الله عليه.

۸۳: الزواجر عن اقتراف الكبائر- تأليف أبي العباس احمد بن محمد بن علي ابن حجر المكي رحمة الله عليه.

۸۴: اساس التقديس فى علم الكلام- للامام الهمام المناظر الكبير فخرالدين الرازي رحمة الله عليه.

۸۵: شرح معاني الآثار- للامام ابي جعفراحمد بن محمد المصري الطحاوي رحمة الله عليه.

۸٦: اعلاء السنن- للمحدث العلامة مولانا ظفراحمد العثماني رحمة الله عليه.

پائی